بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الذى أنزل على عبده الكتاب ولم يجعل لـه عوجـا قيمـا لينذربأسـا شـديدا مـن لدنــه ويبشـرالمؤمنين الـذين يعملـون الصـالحات أن لـهم أجـرا حسـنا مـاكثين فيـه أبدا وينذرالذين قالوا اتخذ الله ولدا.

والحمد لله الذى أنزل القرآن الذى يهدى للتـى هـى أقـوم ويبشـرالمؤمنين الـذين يعملـون الصـالحات أن لـهـم أجرا كبيرا.

والحمد لله الذى هدانا لهذا وما كنا لنهتدى لـولا أن هدانا الله.

والحمـد لله الـذى أنـزل القـرآن بيانـا للنـاس وهـدى وموعظة للمتقين.

والحمـد لله الـذى أنـزل الكتـاب بـالحق ليثبـت الـذين أمنوا وهدى وبشرىٰ للمسلمين.

والحمد لله الذى أنزل القرآن بصـائر للنـاس وهـدى ورحمة لقوم يوقنون.

و الحمد لله الذى علم القرآن و يسره للذكر ونور به قلوب العارفين.

والحمد لله الذى أنـزل قرآنـا عربيـا غيـر ذى عوج لعلهم يتقون.
والحمد لله الذى أنـزل كتابـا أحكمت آياتـه ثـم فصلت من لدن حكيم خبير.
والحمد لله الـذى يرفـع بهٰـذا الكتـاب أقوامـا ويضع به آخرين.
والحمد لله الذى أنـزل الكتـاب الذى لاريب فيـه هدى للمتقين. وهو كتاب الله فيه نبأ ماقبلنا وخبر ما بعدنا وحكم مابيننا. وهو الفصل ليس بالهزل، من تركه قصمه الله ومن ابتغى الهدىٰ فى غيره أضله الله. وهو حبل الله المتين وهو الذكر الحكيم وهو الصراط المستقيم؛ هو الذى لاتزيغ به الأهواء ولاتلتبس به الألسنة ولايشبع منه العلماء ولايخلق عن كثرة الرد ولا تنقضى عجائبه. هو الذى لم تنته الجن إذا سمعته حتى قالوا: إنا سمعنا قرآنا عجبا يهدى إلى الرشد فاٰمنا به.
هوالذى من قال به صدق ومن عمل به أجر ومن حكم به عدل ومن دعا إليه هدى إلى صراط مستقيم.
والصلاة والسلام على رسوله النبى الأمى سيد ولد آدم محمد بن عبد الله خاتم الأنبياء والمرسلين.
الذى أرسله الله كافة للناس بشيرا ونذيرا وشاهدا ومبشرا ونذيرا وداعيا إلى الله بإذنه وسراجا منيرا وحرزا للأميين، عبده ورسوله الذى سماه المتوكل ليس بفظ ولاغليظ ولاسخاب فى الأسواق، ولايدفع السيئة بالسيئة ولكن يعفو ويغفر، ولم يقبضه الله حتى أقام به الملة العوجاء بأن قالوا: لاإله إلا الله، وفتح بها أعينا عميا وأذانا صما وقلوبا غلفا. والذى أنزل عليه الكتاب ليخرج

الناس من الظلمات إلى النور بإذن ربهم إلى صراط العزيز الحميد.

والذى أرسله الله بالهدى ودين الحق ليظهره على الدين كله ولوكره المشركون.

والذى نُزل عليه الكتاب تبيانالكل شئ وهدى ورحمة و بشرىٰ للمسلمين.

والذى هو محمد فى الأرض وأحمد فى السماء، الماحى الذى يمحو الله به الكفر، والحاشر الذى يحشر الناس على قدميه، والعاقب الذى ليس بعده نبى.

نبى التوبة ونبى الرحمة. أجود الناس صدرا، و أصدق الناس لهجة وألينهم عريكة وأكرمهم عشيرة. من رءاه بديهة هابه ومن خالطه معرفة أحبه.

يقول ناعتهُ: لم أرقبله ولا بعده مثله. الرحمة المهداة، أحسن الناس، و أجود الناس، وأشجع الناس، وأشد الناس حياء، كثيرالصمت، يكثرالذكرويقل اللغو ويطيل الصلاة ويقصرالخطبة،ولايأنف أن يمشى مع الأرملة و المسكين فيقضى لهما الحاجة. يصل الرحم ويصدق الحديث ويحمل الكل ويكسب المعدوم ويقرى الضيف ويعين على نوائب الحق، خلقه القرآن وهمه رضى الرحمن.

والذى لم يكن بخيلا ولاكذوبا ولاجبانا ولافاحشا ولا متفحشا ولالعانا ولاسبابا، أكثر حياء من العذراء فى خدرها. صلى الله عليه وسلم.

وعلى آله الطيبين الطاهرين الذين يجب علينا مودتهم ومحبتهم ونتوسل إلى الله تعالى بمودتهم ومحبتهم.

وعلى أصحابه الذين رضى الله عنهم إذ يبايعونه تحت الشجرة والذين أخرجوا من ديارهم و أموالهم يبتغون فضلا من الله ورضوانا وينصرون الله ورسوله.
والذين تبوءوا الدار والإيمان من قبلهم؛ والذين يؤثرون على أنفسم ولوكان بهم خصاصة. والذين هم السابقون الأولون من المهاجرين والأنصار.
أولئك أصحاب محمد صلى الله عليه وسلم كانوا أفضل هذه الأمة، أبرها قلوبا وأعمقها علما وأقلها تكلفا، إختارهم الله لصحبة نبيه ولإقامة دينه، وكانوا على هدى مستقيم. والذين اتبعوهم بإحسان رضى الله عنهم ورضوا عنه.

سپیڅلی قرآن

قرآن کریم د الله سبحانه وتعالی سپیڅلی کتاب او د هغه جل جلاله کلام دی، د هغه جل جلاله فعلي، ثبوتي صفت دی، چې د جبرائیل علیه السلام په واسطه په محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم نازل شوی دی.

قرآن کریم د هدایت کتاب دی، لارښوونه ده، رڼا ده، د انسانانو، پیریانو او ټولې نړۍ لپاره د نېکمرغه ژوند، نظام او قانون دی، د ښېګړې او فضلیت کتاب دی، د انصاف او عدالت کتاب دی، د عزت او عظمت کتاب دی، د سیاست او سعادت کتاب دی، د علم او حکمت کتاب دی، د حکومت او رعیت کتاب دی، د فصاحت او بلاغت کتاب دی، د کرامت او رحمت کتاب دی، د ادب او تهذیب کتاب دی.

انسان ته کرامت او عزت وربښي، ننګ او غیرت ورزده کوي، پت او عفت یې ساتي، مروئت او عزیمت ور زده کوي، ښه اخلاق، سپیڅلتیا، همت، استغناء، خاکساري، انسانیت، شرافت، شجاعت، قناعت، لیاقت، دیانت، نخوت او درایت ورښیي، له بې وزلو سره مرسته کوي، د

غمجن او اند یښمن اوښکې وچوي او ډاډ ورکوي، د ظلم مخنیوی کوي، مظلوم ته خپل حق سپاري او غچ یې اخلي، د بدلون، اووښتون او سمون لپاره انسان پاڅون، یون، ښندنې او جهاد ته هڅوي، قرآن د تل لپاره له دې ځمکې څخه کفر، شرک، ظلم، فساد، تېری، حق تلفي، بې انصافي هر ډول ورانکاري او بد کاري او ټول ناوړه کارونه او خویونه ورکوي.

انسان د شیطان، نفس، طاغوت او د انسان له غلامۍ ازادوي، حریت وربښي او یوائې د یو عادل، رحمن، رحیم، رؤف، کریم، حلیم، غفور، تواب، شاکر، غني، وهاب، مجیب، مستعان، هادي او د ټولو کره او پوره صفتونو مالک او حقدار الله سبحانه وتعالی بنده یې جوړوي. انسان له هر ډول سپکاوي، خوارۍ، ذلت او بې لارۍ څخه ژغوري، د ورورولۍ او نصرت، مینې او محبت، سولې او امنیت، تېرېدنې، بښنې او خدمت درس ورکوي. او انسان د انسانیت لوړې او هسکې څوکې ته رسوي.

قرآن کریم انسان ته علم او حلم ورزده کوي، صبر او ریښتینولي وربښيي، عدل او احسان ورزده کوي، عفو او تواضع ورزده کوي، ورتیا او سپېڅلتیا وربښيي، د ژوند دسمون، سوکالۍ او خوشحالۍ لارې چارې وربه ګوته کوي او د هر ډول دنیوي او اخروي نېکمرغیو ضمانت ورکوي...

قـرآن لـه علمونـو او حکمتونـو ډکـه ډک دی، کـه څوک يې ټول عمر پـه ژور فکـر او تـدبر تـلاوت او مطالعـه وکـړي، نـو هـر ځل بـه پکـې نـوي علمونـه او نـوي حکمتونـه ومومي او هر ځل به ورته د انـد ، فهـم، ادراک او پـوهې نـوې دروازې بېرتـه شـي. قـرآن دليـل او حجـت دی، فراسـت او بصـيرت دی، ديـن او شـريعت دی، هـدايت او معرفـت دی، حقيقت او درايت دی.

قرآن کـريم د عـرب او عجـم، تـور او سـپين، نارينـه او ښځينه، ختيز او لوېديز، شمال او جنـوب ټـولې نـړۍ لپـاره دی، دکومې ځانګړې ژبې، قوم، قبيلې، خېل، رنګ او نسل لپاره نه دی راغلی، د کوم ځانګړي وخت او زمـانې لپـاره نـه دی، د کوم خاص وطـن، طرف او سـيمې لپـاره نـه دی. د هـر وخت، هر ځای او هر چا لپاره راغلی دی.

قرآن کريم نړيوال کتاب دی، د نړۍ نېکمرغي د دې پـه منلـو، پـه دې عمـل کولـو او د دې پـه بشـپړ نفـاذ او پلـي کولو کې نغښتې ده. او ټوله بدمرغي له دې سپېڅلي کتـاب نه په سر غړونه کې ده.

د نړۍ د ټولو ستونزو حل په همدې سپېڅلي قرآن کې دی. او دا ځکـه چـې دا د کائـناتو او موجوداتـو د خـالق، مالک، مدبر، قيوم او لارښوونکي الله تعالی کتاب دی.

سپېڅلی قرآن په اسماني کتابونو کې یوائینی کتاب دی، چې د نزول له پیله تر اوسه (۱۴۴۱) څلوار لس سوه او یو څلوېښت(۱) کلونو کې له هر ډول لاسوهنې، ګوتوهنې، تحریف، تبدیل او تغییر نه ژغورل شوی دی او تر قیامته به همداسې پاتې شي. ځکه، چې د دې د ساتلو ذمه خپله الله سبحانه وتعالی کړې ده.

(اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَ اِنَّا لَهٗ لَحٰفِظُوْنَ)[2]

"مونږ بې شکه د پند کتاب نازل کړی دی او بې شکه همدا مونږ یې ساتونکي یوو".

نورو اسماني کتابونو: تورات، انجیل او زبور کې خلکو ګوتې وهلې دي او ځینې عبارتونه یې پکې حذف کړي، زیات کړي، بدل کړي او تحریف کړي دي؛ حتی چې لیکونکي یې هم معلوم دي، د مثال په توګه: انجیل په څلور ډوله دی او د هر انجیل لیکونکی معلوم دی.

خو یوائې قرآن دی، چې د نزول له ورځې تر اوسه پکې هیڅ تغیر او بدلون نه دی راغلی او دا حقیقت د اسلام مخالفین هم مني.

(لا يَاْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَينِ يدَيهِ وَ لا مِنْ خَلْفِه تَنْزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ)[3]

---

۱ - اوس د دې کرښو د لیکلو په وخت کې (۱۴۲۸) هجري سپوږمیز کال دی او له هجرت نه مخکې د نبوت (۱۳) مکي کلونه چې ورسره جمع شي نو (۱۴۴۱) کلونه ترې جوړېږي.

[2] - سورة الحجر: ۹ .

[3] - سورة حم السجده: ۴۲

"باطل ورته نه له مخکې او نه وروسته راتلی شي د حکمت د څښتن او ستایل شوي ذات نازلول دي".

قرآن کریم یوائینی هغه اسماني کتاب دی، چې د بې شمېره حافظانو په سینو کې بې له کوم بدلون ساتل شوی او مسلمانان يې په ډېرې مينې، لولي، یادوي او ځان پرې پوهوي.

راځئ چې د دې سپېڅلي کتاب د پېژندلو لپاره خپله همدا کتاب وپوښتوو، چې دا څه شی دی؟ د چا له پلوه راغلی؟ چا راوړی؟ په چا نازل شوی؟ په کومه ژبه نازل شوی؟ کله نازل شوی؟ د څه لپاره راغلی؟ او له مونږ نه څه غوښتنې لري؟....

د دې ټولو پوښتنو ځواب مونږ ته خپله قرآن کریم راکوي:

دا څه شی او څرنګه دی؟

قرآن کریم ځواب راکوي:

(كِتٰبٌ اُحْكِمَتْ اٰياتُهُ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَّدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ) [1]

"دا داسې کتاب دی، چې آیاتونه یې پیاوړي دي، بیا د حکمت له څښتن او د ښه خبردار ذات له لوري بیل بیل بیان شوي دي".

---

[1] - سورة هود: ۱

(وَ هٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرك) [۱]
"او دا د برکت والا کتاب دی چې مونږ نازل کړی دی ".
(اِنَّهُ لَقُرْاٰنٌ كَرِيمٌ فِىْ كِتٰبٍ مَّكْنُوْنٍ لَّا يمَسُّهُ اِلا الْمُطَهَّرُوْنَ) [۲] "
دا بې شکه عزتمند قرآن دی، په محفوظ کتاب کې دی یوائې پاکان لاس وروړي".
(بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ فِىْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ) [۳]
"بلکې دا د لوی شان والا قرآن دی په ساتل شوې دړې کې دی".
(ذٰلِكَ الْكِتٰبُ لَا رَيْبَ فِيْهِ) [۴]
"دا کتاب دی چې هیڅ شک پکې نشته".
(تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ وَ قُرْاٰنٍ مُّبِيْنٍ) [۵]
"دا د کتاب او د څرګند قرآن آیاتونه دي".
(تِلْكَ اٰيٰتُ الْقُرْاٰنِ وَ كِتَابٍ مُّبِيْنٍ) [۶]
"دا د قرآن او د څرګند کتاب آیاتونه دي".
(تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ) [۷]
"دا د حکمت والا د کتاب آیاتونه دي".
(اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ وَّ قُرْاٰنٌ مُّبِيْنٌ) [۸]

---

[۱]- سورة الانعام : ۱۵۵
[۲]- سورة الواقعه : ۷۷-۷۹
[۳]- سورة البروج : ۲۱- ۲۲
[٤]- سورة البقرة : ۲
[٥]- سورة الحجر:۱
[٦]- سورة النمل:۱
[۷]- سورة لقمان : ۲
[۸]- سورة یس : ٦۹

"دا يوائې پند او څرګند قرآن دی".
(كِتٰبٌ فُصِّلَتْ اٰيٰتُه) [1]
دا داسې کتاب دی چې آياتونه يې بېل بېل بيان شوي دي".
(وَاِنَّهُ فِىْ اُمِّ الْكِتٰبِ لَدَيْنَا لَعَلِىٌّ حَكِيْمٌ) [2]
"او دا له مونږ سره د کتاب په بنسټ کې خامخا ډېر پورته او د حکمت والا دی".
(اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْىٌ يُّوْحٰى) [3]
"دا يوائې وحې ده چې کېږي".
(اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ) [4]
"دا د ټولو خلکو لپاره نصيحت دی".
(اِنَّ هٰذِه تَذْكِرَةٌ) [5]
"دابې شکه يو نصيحت دی".
(اِنَّهَا تَذْكِرَةٌ فَمَنْ شَآءَ ذَكَرَهْ فِىْ صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ مَّرْفُوْعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ بِاَيْدِىْ سَفَرَةٍ كِرَامٍ بَرَرَةٍ) [6]
دا پند دی نو د چا چې خوښه شي يادوی يې، په عزتمندو پاڼو کې دی، چې پورته او پاکې شوې دي، د عزتمندو نېکانو ملائکو په لاس کې دي".
(وَ هٰذَا ذِكْرٌ مُّبٰرَكٌ) [1]

[1]- سورة حم السجده : ۳
[2]- سورة الزخرف : ۴
[3]- سورة النجم : ۴
[4]- سورة التکوير : ۲۷
[5]- سورة الدهر : ۲۹
[6]- سورة عبس : ۱۱- ۱٦

"او دا د برکت والا نصیحت دی".
(اِنَّهُ لَقَوْلٌ فَصْلٌ وَّ مَا هُوَ بِالْهَزْلِ) [۲]
"او دا بې شکه فیصله کوونکې وینا ده او ټوکې نه دي".

دا قرآن د چا له لوري راغلی دی؟

قرآن کریم ځواب راکوي چې:
(تَنْزِيْلًا مِّمَّنْ خَلَقَ الْاَرْضَ وَ السَّمٰوٰتِ الْعُلٰى) [۳]
"د هغه چا له لوري لیږل دي چې ځمکه او هسک اسمانونه یې پیدا کړي دي".
(وَ اِنَّهُ لَتَنْزِيْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ) [٤]
"او دا بې شکه د ټولو مخلوقاتو د رب لیږل دي".
(وَ اِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْاٰنَ مِنْ لَّدُنْ حَكِيْمٍ عَلِيْمٍ) [۵]
"او تاته بې شکه د حکمت دخښتن او د ډېر پوه ذات له لوري قرآن درکول کېږي".
(تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ) [٦]
"د غالب او د حکمت دخښتن له لوري د کتاب نازلول دي".

---

[۱] - سورة الانبیاء : ۵۰
[۲] - سورة الطارق : ۱۳-۱۴
[۳] - سورة طه : ۴
[٤] - سورة الشعراء : ۱۹۲
[٥] - سورة النمل : ٦
[٦] - سورة الزمر : ۱

(تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ) [۱]

"د غالب او ډېر پوه الله له لوري د کتاب نازلول دي".

(تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) [۲]

"د ډېر زيات مهربان او خورا زيات لوروونکي ذات له لوري نازلول دي".

(تَنْزِيْلٌ مِّنْ حَكِيْمٍ حَمِيْدٍ) [۳]

"د حکمت دخښتن او ستايل شوي ذات له لوري نازلول دي".

(تَنْزِيْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ) [۴]

"د ټولو عالميانو د رب له لوري رالېږل دي".

او الله تعالی فرمايي:

(اِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ تَنْزِيْلًا) [۵]

"مونږ بې شکه په تا پړاوپه پړاو قرآن نازل کړی دی".

(وَ قُرْاٰنًا فَرَقْنٰهُ لِتَقْرَاَهُ عَلَى النَّاسِ عَلٰى مُكْثٍ وَّ نَزَّلْنٰهُ تَنْزِيْلًا) [۶]

"او مونږ قرآن د دې لپاره بېل بېل کړی دی چې په خلکو يې په درنګ ولولې او په ترتيب مو نازل کړی دی".

(اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ اَنْزَلَ عَلٰى عَبْدِهِ الْكِتٰبَ وَ لَمْ يَجْعَلْ لَّهُ عِوَجًا) [۷]

---

[۱] - سورة المؤمن: ۲

[۲] - سورة حم السجده: ۲

[۳] - سورة حم السجده: ۴۲

[۴] - سورة الواقعه: ۸۰

[۵] - سورة الدهر: ۲۳

[۶] - سورة الاسراء: ۱۰۶

[۷] - سورة الکهف: ۱

"پوره کره ستاینې هغه الله لپاره دي چې په خپل بنده یې کتاب نازل کړی او کوږ کړی یې نه دی".
(اَلرَّحْمٰنُ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ) [۱]
"ډېر زیات مهربان الله قرآن ښوولی دی".

دا قرآن چا راوړی دی؟

قرآن کریم ځواب راکوي چې:
(قُلْ نَزَّلَهُ رُوْحُ الْقُدُسِ مِنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ) [۲]
" ورته ووایه چې دا قرآن د پاکې روح (جبریل) ستا د رب له لوري په حقه راوړی دی".
(نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ الْاَمِيْنُ) [۳]
"دا امانتدار روح (جبرائیل) راوړی دی".
(عَلَّمَه شَدِيدُ الْقُوٰى) [۴]
"پیغمبر ته د سخت قوت څښتن (جبریل) ورزده کړی دی".
(قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيْلَ فَاِنَّه نَزَّلَه عَلٰى قَلْبِكَ بِاِذْنِ اللّٰهِ) [۵]
"ورته ووایه: څوک چې د جبرائیل دښمن وي، نو هغه خو د الله په حکم ستا په زړه قرآن نازل کړی دی".

---

[۱] - سورة الرحمن: ۱-۲
[۲] - سورة النحل: ۱۰۲
[۳] - سورة الشعراء: ۱۹۳
[۴] - سورة النجم: ۵
[۵] - سورة البقرة: ۹۷

دا قرآن په چا نازل شوی دی؟

قرآن کریم ځواب راکوي چې:
(اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَنْزَلَ عَلٰی عَبْدِهِ الْکِتٰبَ) [۱]
" کره پوره ستاینې هغه الله لپاره دي، چې په خپل بنده یې کتاب نازل کړی دی".
(تَبٰرَكَ الَّذِیْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰی عَبْدِهٖ لِیَکُوْنَ لِلْعٰلَمِیْنَ نَذِیْرًا) [۲]
"هغه ذات د برکت څښتن دی، چې په خپل بنده یې د دې لپاره بیلوونکی کتاب نازل کړی دی، چې د ټولو خلکو لپاره وېروونکی شي".

دا بنده څوک دی؟

قرآن کریم ځواب راکوي:

(وَ اٰمَنُوْا بِمَا نُزِّلَ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ هُوَ الْحَقُّ) [۳]
"او په هغه کتاب یې ایمان راوړی وي، چې په محمد نازل شوی دی او دا حق دی".

---

[۱]- سورة الکهف : ۱
[۲]- سورة الفرقان : ۱
[۳]- سورة محمد : ۲

بیا نو خپل دې بنده ته ځای په ځای فرمايي:

(اِنَّا اَنْزَلْنَا اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ) [۱]

"مونږ بې شکه تاته په حقه کتاب نازل کړی دی".

(كِتٰبٌ اُنْزِلَ اِلَيْكَ فَلَا يَكُنْ فِىْ صَدْرِكَ حَرَجٌ مِّنْهُ) [۲]

"دا داسې کتاب دی، چې تاته نازل شوی دی، نو ستا په سينه کې دې له دې څخه تنګي رانه شي".

(وَ الَّذِىْ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ الْحَقُّ وَ لٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ) [۳]

"او ستا د رب له لوري چې تاته کوم کتاب نازل شوی دی دا حق دی؛ خو زيات خلک ايمان نه راوړي".

(وَ اَنْزَلْنَا اِلَيْكَ الذِّكْرَ) [۴]

"او مونږ تاته نصيحت نازل کړی دی".

(اِنَّا اَنْزَلْنَا اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ) [۵]

"مونږ بې شکه تاته په ريښتيا کتاب نازل کړی دی".

(اَوْحَيْنَا اِلَيْكَ هٰذَا الْقُرْاٰنَ) [۶]

"مونږ د دې قرآن وحې تاته کړې ده".

---

[۱] - سورة النساء : ۱۰۵

[۲] - سورة الاعراف : ۲

[۳] - سورة الرعد : ۱

[۴] - سورة النحل : ۴۴

[۵] - سورة الزمر : ۲

[۶] - سورة يوسف : ۳

دا قرآن په کومه ژبه نازل شوی دی؟

که قرآن کریم وپوښتو، چې ته په کومه ژبه نازل شوی یې؟، نو ځواب راکوي چې:

(بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِيْنٍ) [۱]

" په څرګندې عربي ژبې ".

(وَّ هٰذَا لِسَانٌ عَرَبِیٌّ مُّبِيْنٌ) [۲]

" او دا څرګنده عربي ژبه ده ".

(قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِیْ عِوَجٍ) [۳]

" په عربي ژبه قرآن، چې بې کږلیچه دی".

(كِتٰبٌ فُصِّلَتْ اٰيٰتُه قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ) [۴]

"داسې کتاب دی، چې آیاتونه یې بیل بیل بیان شوي دي، په عربي ژبه لوستل شوی او د هغو خلکو لپاره دی، چې پوهېږي".

(اِنَّا جَعَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا) [۵]

"مونږ بې شکه قرآن په عربي ژبه ګرځولی دی".

(وَ هٰذَا كِتٰبٌ مُّصَدِّقٌ لِّسَانًا عَرَبِيًّا) [۶]

[۱] - سورة الشعراء: ۱۹۵

[۲] - سورة النحل: ۱۰۳

[۳] - سورة الزمر: ۲۸

[۴] - سورة حم سجده: ۳

[۵] - سورة الزخرف: ۳

[۶] - سورة الاحقاف: ۱۲

"او دا کتاب دی (د مخکنیو کتابونو) تصدیق کوونکی دی په عربي ژبه دی".

(إِنَّا أَنْزَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا) ١

"مونږ بې شکه دا قرآن په عربي ژبه نازل کړی دی".

(وَ كَذٰلِكَ أَنْزَلْنٰهُ حُكْمًا عَرَبِيًّا) ٢

"همدارنګه مونږ دا قرآن په عربي ژبه فیصله کوونکی نازل کړی دی".

دا قرآن کله نازل شوی دی؟

خیله ځواب راکوي چې:

(إِنَّا أَنْزَلْنٰهُ فِىْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ) ٣

"مونږ بې شکه دا قران د برکت په شپه کې نازل کړی دی".

(إِنَّا أَنْزَلْنٰهُ فِىْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ) ٤

"مونږ بې شکه دا قرآن د قدر په شپه کې نازل کړی دی".

که ویې پوښتو، چې په کومه میاشت کې؟

نو ځواب راکوي چې:

(شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِىْ أُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ) ٥

---

[1] - سورة یوسف : ۲

[2] - سورة الرعد : ۳۷

[3] - سورة الدخان : ۳

[4] - سورة القدر : ۱

[5] - سورة البقره : ۱۸۵

"د رمضـان میاشت هغـه میاشـت ده، چې قـرآن پکـې نـازل شوی دی".

دا قرآن د څه لپاره راغلی دی؟

قرآن ځواب راکوي چې:
(هُدًی لِّلْمُتَّقِیْنَ) [1]

" د پرهېزګارانو لپاره لارښوونه ده".
(هُدًی لِّلنَّاسِ) [2]

" د ټولو خلکو لپاره لارښوونه ده".
(هٰذَا بَیَانٌ لِّلنَّاسِ وَ هُدًی وَّ مَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِیْنَ) [3]

"داقـران د خلکـو لپـاره بیـا ن دی او د پرهېزګـارانو لپـاره لارښوونه او نصیحت دی".
(اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ یَهْدِیْ لِلَّتِیْ هِیَ اَقْوَمُ وَ یُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِیْنَ الَّذِیْنَ یَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ اَجْرًا کَبِیْرًا) [4]

"دا قرآن بې شکه هغې لارې ته هدایت کوي، چې ډېره سمه ده او هغو مؤمنانو تـه، چې نېک عملونـه کـوي د دې زېری ورکوي، چې د هغوی لپاره بې شکه لویه بدله ده".
(اِنَّا اَنْزَلْنَا اِلَیْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَیْنَ النَّاسِ بِمَا اَرٰىكَ اللّٰهُ) [1]

---

[1] - سورة البقره : ۲

[2] - سورة البقره : ۱۸۵

[3] - سورة ال عمران: ۱۳۸

[4] - سورة الاسراء : ۹

"مونږ بې شکه تاته د دې لپاره په ریښتیا کتاب نازل کړی دی، چې د خلکو په منځ کې په هغو حکمونو پرېکړې وکړې، چې الله درښوولي دي".

(لِتُنْذِرَبِهِ وَذِكْرَى لِلْمُؤْمِنِيْنَ) [2]

" د دې لپاره، چې ته پرې خلک (دالله له عذابه) وویروې او د مؤمنانو لپاره پند دی "

(كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ اِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ بِاِذْنِ رَبِّهِمْ اِلٰى صِرَاطِ الْعَزِيْزِ الْحَمِيْدِ) [3]

"دا قران یو کتاب دی، تاته مونږ د دې لپاره نازل کړی دی، چې خلک د هغوی د رب په حکم له تیارو نه رڼا او د غالب او ستایل شوي ذات لارې ته را اوباسې".

(هٰذَا بَلٰغٌ لِّلنَّاسِ وَ لِيُنْذَرُوْا بِه وَ لِيَعْلَمُوْا اَنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّ لِيَذَّكَّرَ اُولُوا الْاَلْبَابِ) [4]

"دا قران خلکو ته رسول دي او د دې لپاره، چې پرې ووېرول شي او د دې لپاره، چې وپوهېږي چې هغه الله یو معبود دی او د دې لپاره چې عقلمند خلک پند واخلي".

(وَ اَنْزَلْنَا اِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ وَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ) [5]

---

[1] - سورة النساء : ۱۰۵
[2] - سورة الاعراف : ۲
[3] - سورة ابراهيم : ۱
[4] - سورة ابراهيم : ۵۲
[5] - سورة النحل : ۴۴

"او مونږ تاته د دې لپاره د نصيحت کتاب درلېږلی دی، چې خلکو ته هغه احکام څرګند کړې، چې دوی ته راغلي دي او د دې لپاره، چې فکر وکړي".
(وَ مَا اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ اِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ الَّذِى اخْتَلَفُوْا فِيْهِ وَ هُدًى وَّ رَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ) [1]

"او مونږ يوائې د دې لپاره په تا کتاب نازل کړی دی، چې دوی ته هغه څه څرګند کړې، چې دوی پکې اختلاف کړی دی او مؤمنانو خلکو لپاره لارښوونه او رحمت دی".
(قُلْ نَزَّلَهُ رُوْحُ الْقُدُسِ مِنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ لِيُثَبِّتَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ هُدًى وَّ بُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ) [2]

"ورته ووايه، چې دا قرآن ستا د رب له لوري د پاکۍ روح (جبريل) د دې لپاره په حقه نازل کړی دی، چې مؤمنان غښتلي کړي او مسلمانانو لپاره لارښوونه او زېری دی".
(وَ نُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَّ رَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَ لَا يَزِيْدُ الظّٰلِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا) [3]

"او مونږ هغه قرآن نازلوو، چې مؤمنانو لپاره شفاء او رحمت دی او ظالمانو لپاره يوائې تاوان زياتوي".
(وَ لَقَدْ صَرَّفْنَا لِلنَّاسِ فِىْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ فَاَبٰى اَكْثَرُ النَّاسِ اِلَّا كُفُوْرًا) [4]

---

[1] - سورة النحل : ٦۴
[2] - سورة النحل : ۱۰۲
[3] - سورة الاسراء : ۸۲
[4] - سورة الاسراء : ۸۹

"او مونږ بې شکه په دې قرآن کې هر مثال بيان کړی دی؛ خو زياتو خلکو يوائې ناشکري وکړه".

(قَيِّمًا لِّيُنْذِرَ بَاْسًا شَدِيْدًا مِّنْ لَّدُنْهُ وَ يُبَشِّرَ الْمُؤْمِنِيْنَ الَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ الصّٰلِحٰتِ اَنَّ لَهُمْ اَجْرًا حَسَنًا مَّاكِثِيْنَ فِيْهِ اَبَدًا وَّ يُنْذِرَ الَّذِيْنَ قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا) [1]

"(دا قرآن) غښتلی کتاب دی او د دې لپاره دی، چې د الله له لوري له سخت عذابه خلک ووېروي او هغو مؤمنانو ته، چې نېک عملونه يې کړي دي، زېری ورکړي، چې د هغوی لپاره ښه بدله ده، تل به پکې ميشته وي او د دې لپاره، چې هغه خلک ووېروي، چې ويلي يې دي: الله زوی نيولی دی".

(تَبٰرَكَ الَّذِىْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهِ لِيَكُوْنَ لِلْعٰلَمِيْنَ نَذِيْرًا) [2]

"هغه ذات د برکت څښتن دی، چې په خپل بنده يې توپير کوونکی کتاب د دې لپاره نازل کړی دی، چې د ټولو خلکو لپاره وېروونکی شي".

(هُدًى وَّ بُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ) [3]

"د مؤمنانو لپاره لارښوونه او زېری دی".

(وَ اِنَّهُ لَهُدًى وَّ رَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ) [4]

"او دا قران بې شکه د مؤمنانو لپاره هدايت او رحمت دی".

(هُدًى وَّ رَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِيْنَ) [5]

---

[1] - سورة الكهف: ۲-۴

[2] - سورة الفرقان: ۱

[3] - سورة النمل: ۲

[4] - سورة النمل: ۷۷

[5] - سورة لقمان: ۳

"د نېکانو لپاره هدايت او رحمت دى".

(اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ) [۱]

"دا قران د ټولو خلكو لپاره يواځې نصيحت دى".

(لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ) [۲]

"د دې لپاره، چې پند واخلي".

(لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ) [۳]

"د دې لپاره، چې ځانونه وژغوري".

(قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هُدًى وَّ شِفَآءٌ) [٤]

"ورته ووايه،چې دا قران د مؤمنانو لپاره هدايت او شفاء ده".

(لِّيُنْذِرَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا وَ بُشْرٰى لِلْمُحْسِنِيْنَ) [٥]

"د دې لپاره دى، چې ظالمان ووېروي او د نېكانو لپاره زېرى دى".

(يَهْدِىْ اِلَى الْحَقِّ وَ اِلٰى طَرِيْقٍ مُّسْتَقِيْمٍ) [٦]

"حق او سمې لارې ته لارښوونه كوي".

(يَّهْدِىْ اِلَى الرُّشْدِ) [۷]

"سمې لارې ته هدايت كوي".

(فَذَكِّرْ بِالْقُرْاٰنِ مَنْ يَّخَافُ وَعِيْدِ) [۱]

---

[۱] - سورة التكوير : ۲۷

[۲] - سورة الزمر : ۲۷

[۳] - سورة الزمر : ۲۸

[٤] - سورة حم السجده : ۴۴

[٥] - سورة الاحقاف : ۱۲

[٦] - سورة الاحقاف : ۳۰

[۷] - سورة الجن : ۲

"نو په قرآن هغه چاته نصیحت وکړه، چې زما له وېرولو وېرېږي".
قرآن کریم د اسلامي تشریع لومړنی مصدر دی او نبوي احادیث یې تفسیر او تشریع ده، د قرآن او سنت ترمنځ هیڅ تعارض او ټکر نشته؛ خو چې په علمي بنسټونو پرتله او وڅېړل شي.

قرآن له مونږ څه غوښتنې لري؟

قرآن مونږ ته ددې پوښتنې ځواب داسې راکوي، چې الله تعالی فرمايي:
(وَ هٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ فَاتَّبِعُوْهُ وَ اتَّقُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ) [۲]
"او دا کتاب دی، چې مونږ نازل کړی دی، نو د دې لپاره، چې رحم درباندې وشي، دې پسې لاړ شئ او ځانونه وژغورئ".
(اِتَّبِعُوْا مَا اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ) [۳]
"هغه کتاب پسې لاړ شئ، چې تاسو ته ستاسو د رب له لوري نازل شوی دی".

---

[۱] - سورة ق : ۴۵
[۲] - سورة الانعام : ۱۵۵
[۳] - سورة الاعراف : ۳

(يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ وَ الْكِتٰبِ الَّذِىْ نَزَّلَ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَ الْكِتٰبِ الَّذِىْ اَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ وَ مَنْ يَّكْفُرْ بِاللّٰهِ وَ مَلٰئِكَتِهٖ وَ كُتُبِهٖ وَ رُسُلِهٖ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا بَعِيْدًا) [1]

"اې مؤمنانو! په الله، د هغه په پېغمبر او په هغه کتاب ایمان راوړئ، چې په خپل پېغمبر یې نازل کړی دی او په هغه کتاب، چې مخکې یې نازل کړی دی او چا چې په الله، د هغه په ملائکو، د هغه په کتابونو، د هغه په پېغمبرانو او د قیامت په ورځ کفر وکړ، نو هغه بې شکه بې لارې شو".

قرآن له مونږ نه دا غوښتنې لري، چې ایمان پرې راوړو او تابعداري یې وکړو. په دې ایمان راوړلو او تابعدارۍ کې اوس ټول اسلام داخل دی، د قرآن یو یو آیت ګوره او غوښتنې یې پوره کوه.

خو تر ټولو مخکې باید د دې کتاب علم لاس ته راوړو او ځان پرې وپوهوو.

الله تعالی فرمایي:

(لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَ يُزَكِّيْهِمْ وَ يُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَ الْحِكْمَةَ وَ اِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِىْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ) [2]

"الله بې شکه په مؤمنانو هغه وخت احسان کړی دی، چې د هغوی له منځه یې په هغوی کې پېغمبر ولېږه، چې په هغوی د هغه آیاتونه لولي، پاکوي یې او کتاب او علم ورزده کوي

[1] - سورة النساء: ۱۳۶

[2] - سورة ال عمران: ۱۶۴

او دوی له دې مخکې بې شکه خامخا په څرګنده بې لارۍ کې وو".

نو تر ټولو دمخه باید په قرآن ځان پوه کړو، ژباړه او معاني يې زده کړو، عام او خاص، مطلق او مقيد، خفي او مشکل او... نور علوم يې زده کړو او که خپله مو نه وي زده، نو چې د چا زده وي، له هغه نه پوښتنه وکړو او غوږ ورته کېږدو.

بيا پکې ژور فکر او تدبر وکړو:

(اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ وَ لَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِاللّٰهِ لَوَجَدُوْا فِيْهِ اخْتِلَافًا كَثِيْرًا) [1]

" آيا دوی په قرآن کې غور او فکر نه کوي؟ او که دا له الله نه پرته د بل چا له لوري وای، نو ډېر اختلاف به يې پکې موندلی ؤ".

(اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ اَمْ عَلٰى قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا) [2]

" نو آيا دوی په قرآن کې غور او فکر نه کوي؟ او که په زړونو يې قلفونه دي؟ ".

(وَ لَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ) [3]

" او مونږ بې شکه قرآن د پند او نصيحت لپاره اسان کړی دی، نو آيا څوک پند اخيستونکی شته؟ ".

---

[1] - سورة النساء : ۸۲

[2] - سورة محمد : ۲۴

[3] - سورة القمر : ۴۰/۳۲/۲۲/۱۷

که چا قرآن زده نه کړ، عمل يې پرې ونه کړ، تلاوت يې ونه کړ، غور او فکر يې پکې ونه کړ، نو د قيامت په ورځ به پېغمبر صلی الله عليه وسلم الله تعالی ته له هغه څخه داسې شکايت کوي:

(وَ قَالَ الرَّسُوْلُ يٰرَبِّ اِنَّ قَوْمِی اتَّخَذُوْا هٰذَا الْقُرْاٰنَ مَهْجُوْرًا) [۱]

" او پېغمبر به ووايي: ای زما ربه! زما قوم دا قرآن پرې ايښی وُ".

قرآن د بشريت د لارښوونې،سمون، سوکالۍ، خوشحالۍ، امنيت، ودانۍ او هر ډول نېکمرغۍ لپاره يوه بشپړه کړنلاره ده؛ خو کاش چې نړيوال او په ځانګړې توګه مسلمانان ترې بې غوره نه وای او د ژوند په هر ګوټ او هر اړخ کې يې بشپړ پلی وای.

قرآن د الله تعالی کتاب دی

په دې کې هيڅ شک نشته، چې قرآن کريم د الله سبحانه وتعالی کتاب دی. هغه اعجاز، فصاحت، بلاغت او کمال چې په قرآن کې دی، دا د بنده د وس خبره نه ده. او دا هغه چا ته ښه جوتېږي، چې د عربي ژبې د علومو له تمکن

---

[۱]- سورة الفرقان : ۳۰

سره سره په ژور غور او فکر د قرآن مطالعه وکړي او بیا بیا یې وکړي.
دا چې پیغمبر نالوستی او ناشاعر ؤ، په دې کې هم مونږ ته دا حکمت ښکاري، چې که لوستی او شاعر وای، نوخلکو به څه ناڅه شک کاوه، چې دا کتاب د لوستي شاعر څه ادبي شاهکار دی.
اګر چې دا به هم سمه نه وه؛ خو د نالوستي ناشاعر او د لوستي شاعر ترمنځ توپیر او د شک لامل جوت دی.
د عربو لوستو شاعرانو، ادیبانو، لیکوالانو او علماؤ ونه شو کولی، چې د قرآن مقابله وکړي، نو د نالوستي ناشاعر نه خو بېخي لرې ده.
قرآن د نزول په وخت کې د عربو ټولو ادیبانو، شاعرانو، لیکوالانو او علماؤ ته داسې تحدي او ننګونه ورکوي:
(اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ قُلْ فَاْتُوْا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهٖ مُفْتَرَيٰتٍ وَّ ادْعُوْا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ) [1]
" آیا دوی وایي، چې دا قرآن یې له ځانه جوړ کړی دی؟ ورته ووایه: که تاسو ریښتیني یئ؛ له الله پرته مو چې څومره وس وي، ټول راوغواړئ او د دې غوندې لس جوړ شوي سورتونه راوړئ".
او ورته فرمایي:

---

[1]- سورة هود: ۱۳

(وَ اِنْ كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّنْ مِّثْلِهٖ وَ ادْعُوْا شُهَدَآءَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا وَ لَنْ تَفْعَلُوْا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْ وَ قُوْدُهَا النَّاسُ وَ الْحِجَارَةُ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ)[1]

"او که تاسو د هغه کتاب په هکله په شک کې یئ، چې مونږ په خپل بنده نازل کړی دی، نو که ریښتیني یئ، له الله پرته خپل ټول ګواهان راوغواړئ او د دې غوندې یو سورت راوړئ. او که دا کار مو ونه کړ - او هیڅکله یې نه شئ کولی- نو له هغه اور ځانونه وژغورئ، چې خس یې خلک او تیږې دي او د کافرانو لپاره تیار شوی دی".

(اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ قُلْ فَاْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِّثْلِهٖ وَ ادْعُوْا مَنِ اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ).[2]

" آیا دوی وايي، چې دا قرآن یې له ځانه جوړ کړی دی؟ ورته ووایه: که ریښتیني یئ نو له الله پرته مو چې څومره وس وي، ټول راوغواړئ او د دې غوندې یو سورت راوړئ".

او فرمايي:

(اَمْ يَقُوْلُوْنَ تَقَوَّلَهٗ بَلْ لَّا يُؤْمِنُوْنَ فَلْيَاْتُوْا بِحَدِيْثٍ مِّثْلِهٖ اِنْ كَانُوْا صٰدِقِيْنَ)[3]

" آیا دوی وايي، چې دا قرآن یې له ځانه جوړ کړی دی؟! بلکې دوی ایمان نه راوړي؛ که دوی ریښتیني وي، نو د دې په څېر یوه خبره دې راوړي".

[1]- سورة البقره: ۲۳-۲۴

[2]- سورة یونس : ۳۸

[3]- سورة الطور: ۳۳-۳۴

نو څرګنده ده، چې نه لس سورتونه، نه یو سورت، نه یو آیت او نه یوه خبره راوړی شي.

(قُلْ لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْاِنْسُ وَ الْجِنُّ عَلٰی اَنْ يَّاْتُوْا بِمِثْلِ هٰذَا الْقُرْاٰنِ لَا يَاْتُوْنَ بِمِثْلِهٖ وَ لَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيْرًا).[1]

"ورته ووایه: که خامخا انسانان او پېریان سره راټول شي، چې د دې قرآن غوندې کتاب راوړي، نو اګر که ځینې د ځینو ملاتړ هم شي؛ د دې غوندې کتاب نه شي راوړی".

حقیقت دا دی، چې د قرآن ژورو ته هغه څوک ورښکته کېدی شي، چې د قرآن د ژبې (عربي) ژورو ته ورښکته شوی وي.

څومره چې د یو چا پوهه په عربي ژبه کې بایېزه وي؛ همغومره به یې په قرآن پوهه بایېزه وي او څومره چې د عربي ژبې په بنسټونو او آدابو کې ننوځي؛ همغومره به یې په قرآن پوهه زیاتېږي. دا سمه ده، چې د قرآن له ژباړې د قرآن احکام او لارښوونې زده کېدی شي؛ خو د قرآن خواږه یوائې هغه څوک څکلی شي، چې د قرآن ژبه یې ښه زده وي. ځکه هغه تعبیر، چې په عربي کېدی شي؛ په بلې ژبې هغسې نه شي کېدی. څوک چې د عربي ژبې د تعبیرونو او بنسټونو له پېژندو وروسته په ژور نظر د قرآن مطالعه وکړي، نو په دې کې به د شک هیڅ ځای پاتې نه شي او پوخ

---

[1] - سورة الاسراء: ۸۸

باور به يې راشي، چې دا قرآن د الله تعالی کتاب دی او د الله تعالی په مخلوق کې هيڅوک ورسره سيالي نه شي کولی.

هغه محمد بن عبد الله صلی الله عليه وسلم، چې له پېغمبرۍ نه مخکې لا رسول الله نه ؤ او د جاهليت زمانه وه، له وړوکتوبه په ښو خويونو مشهور ؤ او بيا د ځوانۍ په وخت کې په عفت، رېښتينولۍ او امانت پېژندل شوی ؤ او سرسختو مخالفينو يې هم له رېښتينولۍ او امانتدارۍ څخه انکار نه شو کولی؛ څرنګه په نابيره او ناڅاپي توګه دومره لوی دروغ ويلی شي، چې د پېغمبرۍ دعوه وکړي؟! دا ډېره لرې برېښي، چې يو څوک دې په انسان دروغ نه تړي او هغه دې (العياذ بالله) په الله تعالی دروغ وتړي؟!.

بيا د هغه د ژوند هره شېبه دهغه په رېښتينولۍ لوی دليل دی.. د هغه تواضع، خاکساري، عبادت، عفت، صدق، امانت، ښندنې، ايثار، عدالت، شرافت او د صورت او سيرت هر اړخ د دې ګواهي ورکوي، چې هغه رېښتينی او پتمن ؤ.

د هغه په ټول ژوند کې هغه داسې يوه خبره نه ده کړې، چې هغه دې دروغ وخېژي. که دا فرض کړو، چې (العياذ بالله) هغه په دروغو د پېغمبرۍ دعوه کړې وه او هغه له ځانه قرآن جوړ کړی دی، نو د دې مطلب به دا ؤ، چې هغه (العياذ بالله)

يو دروغجن، ځان غوښتونکی او متکبر انسان ؤ. نو آيا ځان غوښتونکی، دروغجن او متکبر انسان به خپل دنيوي ژوند جوړ وي او که ړنګوي؟ هغه ته قريشو وويل، چې دغه دين پرېږده؛ پاچا به دې کړو، تر ټولو ښايسته ښځې او تر ټولو زيات مال به درکړو... که دنيوي ژوند او پاچايي يې غوښتی او ريښتينی پېغمبر نه وای، نو همدا يې بس وو، ورسره منلي به يې وو؛ ولې به يې په شعب ابي طالب کې دبند يزونوله کبله دوه کاله د ستونزو، ولږو او کړاوونو شپې او ورځې تېرولې؟! ولې به يې په طائف کې د کاڼو ګوزارونه، وينې، ټپونه او بدې ردې زغملې؟!.

که هغه دروغجن وای، نو هرومرو به يې دنيوي ژوند جوړاوه، ولې به يې په خپل ځان او تر قيامته په خپل آل او کهول زکاتونه او خيراتونه حرامول؟ که هغه دروغجن وای، نو ولې به يې د شپې په تيارو کې داسې اوږده لمونځونه کول، چې پښې يې پکې پړسېدلې؟ ولې به يې روژې نيولې؟ ولې به يې په دومره ډېرو اذکارو،عبادتونو او دعاؤ خپل ځان ستړی کاوه، چې د ژوند په هر اړخ کې قدم په قدم د هر کار لپاره يې جلا دعاوې او اذکار ويل او صحابه ؤ ته يې هم د ويلو حکم کاوه؟!.

قرآن کريم ټول په دې څرګند دلالت کوي او هيڅ د شک ځای نه پرېږدي، چې دا د الله سبحانه وتعالی کتاب دی او پېغمبر

صلى الله عليه وسلم د الله تعالى ريښتونی پېغمبر دی؛ خو د ببلګې په توګه به د قرآن کريم ځينې هغه عبارتونه او آياتونه وګورو، چې که (العياذ بالله) پېغمبر دروغجن وای، نو د ځان په هکله يو دروغجن، متکبر او ځان غوښتونکی شخص داسې خبرې هيڅکله نه کوي.

زيد رضي الله عنه او د هغه د ښځې زينب رضي الله عنها ترمنځ ناغېږي وه؛ کله چې خبره طلاقو ته ورسېده، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم زيد ته وفرمايل، چې مه يې طلاقوه او ويې ساته؛ خو په زړه کې يې دا وه، چې که هغه يې طلاقه کړي، نو زه به يې په نکاح واخلم. خو دا خبره يې پټوله ، نه يې ښکاره کوله او وېرېده، چې خلک به وايي: د خپل مُتَبَنّا (زوی بللي) ښځه يې په نکاح کړه.

خو الله تعالى د هغه د زړه خبره راښکاره کړه او ويې فرمايل:

(وَ اِذْ تَقُوْلُ لِلَّذِىْ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ اَنْعَمْتَ عَلَيْـهِ اَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَ اتَّقِ اللّٰهَ وَ تُخْفِىْ فِىْ نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِ يْـهِ وَ تَخْشَى النَّاسَ وَ اللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشٰـهُ).[1]

"او کله چې تا هغه چا ته ويل، چې الله تعالى پرې انعام کړی دی او تا هم ورسره ښېګړه کړې ده، چې خپله ښځه دې وساته او له الله ووېرېږه. او په زړه کې دې هغه څه پټول، چې

[1] - سورة الاحزاب: ۳۷

الله يې راڅرګندوونکی دی او له خلکو وېرېدې، حال دا چې الله د دې ډېر وړ دی، چې ورڅخه ووېرېږې".

که پیغمبر دا قرآن له ځانه جوړ کړی وای؛ دا خبره یې هیڅکله نه راښکاره کوله. له دې نه معلومېږي، چې دا د الله تعالی کتاب دی او د پیغمبر د خوښې په خلاف یې د هغه د زړه پټ راز راڅرګند کړ.

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم د عربو له مشهور سردار او مالدار عتبه بن شیبه سره ناست ؤ، خبرې یې ورسره کولې او دا هیله یې وه، چې هغه اسلام راوړي، په دې کې ړوند صحابي: عبد الله بن ام مکتوم رضي الله عنه راغی او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې څه خبره کول غوښتل؛ خو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته پام وانه ړاوه، د هغه مشهور سردار او مالدار سره یې خبرو ته دوام ورکړ، له عبد الله بن ام مکتوم رضي الله عنه نه یې مخ واړاوه او تنده یې تروه کړه. الله تعالی ته دا کار ښه ونه برېښېده او د سورت عبس دا آیاتونه یې نازل کړل:

(عَبَسَ وَ تَوَلّٰى اَنْ جَآءَهُ الْاَعْمٰى وَ مَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّهُ يَزَّكّٰى اَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنْفَعَهُ الذِّكْرٰى اَمَّا مَنِ اسْتَغْنٰى فَاَنْتَ لَهُ تَصَدّٰى وَ مَا عَلَيْكَ اَلَّا يَزَّكّٰى وَ اَمَّا مَنْ جَآءَكَ يَسْعٰى وَ هُوَ يَخْشٰى فَاَنْتَ عَنْهُ تَلَهّٰى).[1]

[1]- سورة عبس: ۱ -۱۰

"(پېغمبر) له دې املـه تندده تـروه کـړه او مـخ يـې واړاوه، چې روند ورته راغی، او ته څه خبر يې، کېدی شي، چې دا روند ځان پاک کړي يا پند واخلي، نو نصيحت ورته ګټه ورسوي. او څوک چې بې پروا دی؛ ته هغه ته توجه کوې او هغه چې ځان نه پاکوي، نو په تا يې څه ګونا نشته؛ خو څوک چې تا ته راغی، هڅه کوي او هغه وېرېږي، نو ته له هغه بې غوره کېږې؟!.

دا يو ډول عتاب، نيوکه او رټنه ده. که دا قرآن پېغمبر له ځانه جوړ کړی وای، نو د ځان په هکله يې داسې سخت الفاظ نه ويل. خو دا د الله تعالی کتاب دی او پېغمبر د ټولو انسانانو د لارښوونې لپاره رالېږل شوی دی، نو ځکه دې ړانده ته په توجه نه ورکولو الله تعالی دا تاديبي آياتونه نازل کړل.

له دې وروسته به چې هر کله رسول الله صلی الله عليه وسلم عبدالله بن ام مکتوم وليد، نو ورته وبه يې فرمايل:

"مَرْحَبًا بِمَنْ عَاتَبَنِي فِيهِ رَبِّي".(۱)

"هغه چا ته هر کلی وايم، چې د هغه په هکله زه خپل رب رټلی يم".

---

۱ - تفسيرالقرطبي.

څرګنده شوه، چې قرآن د پېغمبر د خپل خواهش خبرې نه دي، بلکه دا د الله تعالی کتاب دی، نو ځکه د پېغمبر د خواهش خلاف هم نازلېږي.

همدارنګه الله تعالی خپل پېغمبر ته په موجودو ښځو سربېره د نورو لار بندوي او ورته فرمايي:

(لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ مِنْ بَعْدُ وَ لَا اَنْ تَبَدلَ بِهِنَّ مِنْ اَزْوَاجٍ وَّ لَوْ اَعْجَبَكَ حُسْنُهُنَّ).[1]

"اګر که ستا يې ښايست ډېر هم خوښ شي؛ خو له دې وروسته درته نورې ښځې روا نه دي او دا هم درته روانه دي، چې په دوی کې څه پرېږدې او نورې يې په بدل کې وکړې؟"

که (العياذ بالله) پېغمبر دروغجن وای او د نفس له غوښتنو پسې تللی، نو په ځان يې د ښکلو ښځو کولو لاره نه بندوله، پخوانيو پاچايانو او ځينو نورو په سوونو ښځې کړې دي. نو معلومه شوه، چې دا قرآن د الله تعالی کتاب دی او په خپل پېغمبر هم بنديزونه لګوي.

همدارنګه الله تعالی خپل پېغمبر ته فرمايي:

(وَ كَذٰلِكَ اَوْحَيْنَا اِلَيْكَ رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا مَا كُنْتَ تَدْرِىْ مَا الْكِتٰبُ وَ لَا الْاِيْمَانُ).[2]

"او مونږ همداسې په خپل حکم تاته د روح وحې وکړه، ته نه په دې پوهېدې، چې کتاب څه شی دی او نه په دې پوهېدې، چې ايمان څه شی دی؟"

---

[1]- سورة الاحزاب: ۵۲

[2]- سورة الشورى: ۵۲

او فرمايي:

(وَ وَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى وَ وَجَدَكَ عَآئِلًا فَاَغْنٰى) [۱]

"او ته يې بې لارې ومونډلې، نو سمه لار يې دروښوده او بې وزلى يې ومونډلې، نو غني يې کړې".

له دې درې واړو آيا تونو نه هم په ډاګه څرګنديږي او عقل دا پرېکړه کوي، چې که د پېغمبرۍ دعوه دروغ واى او هغه (العياذ بالله) يو ځان غوښتونکى دروغجن واى او دا قرآن يې له ځانه جوړ کړى واى، نو د ځان په هکله يې دا الفاظ هيڅکله نه ويل چې: ته نه په دې پوهېدې، چې کتاب څه شى دى او نه په دې پوهېدې، چې ايمان څه شى دى او ته يې بې لارې ومونډلې.

نو څرګنده شوه، چې قرآن پېغمبر له ځانه نه دى ويلى او دا د الله تعالى کتاب دى. همدارنګه رسول الله صلى الله عليه وسلم يوې بي بي کره ګبينى (شهد) خوړلى ؤ، نورو ورته پلمه جوړه کړه او ورته ويې ويل، چې ستا له خولې د بد بويه بوټي (مغافيرو) (اينجې) بوى ځي. هغه په ځان ګبينى بند کړ، الله تعالى وحې راولېږله:

(يٰاَيُّهَا النَّبِىُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ تَبْتَغِىْ مَرْضَاتَ اَزْوَاجِكَ). [۲]

[۱] - سورة الضحى: ۷-۸

[۲] - سورة التحريم: ۱

"ای پېغمبره! ولې هغه څه حراموې، چې الله درته حلال کړي دي؟ ایا د خپلو ښځو رضا لټوې؟ "
له دې نه هم څرګنده شوه، چې دا قرآن هغه له ځانه نه دی جوړ کړی، که نه؛ خپل ځان ته یې داسې د عتاب خبره نه کوله. دا د الله تعالی کتاب دی، نو ځکه یې خپل پېغمبر ته عتاب راولېږه، چې داسې مه کوه.

قرآن او ساینس

د یو شي حقیقت ته په څرګندو دلیلونو او مشاهدې رسېدل "ساینس" بلل کېږي. د ساینس علم دوه اړخونه لري؛ یو د ساینس د عالم او ساینسپوه نظر دی او بل مشاهده ده. کله کله یو ساینسپوه د یو شي په هکله یو نظر ورکړي؛ خو هغه کله سم او صحیح وخېژي او کله مشاهدې ته له رسېدو نه وروسته ناسم او غلط ثابت شي.
د قرآن او ساینس د مشاهدې ترمنځ کله هم توپیر او تصادم نه دی موندل شوی. او له نظر سره چې کله د قرآن ټکر راغلی، نو بیا له مشاهدې وروسته د قرآن خبره ثابته شوې ده. له دې نه هم معلومېږي، چې دا قرآن د الله سبحانه وتعالی ریښتونی کتاب دی. او دا ځکه، چې دا کائنات او موجودات او دا مختلف عناصر الله تعالی پیدا کړي دي، په

دي کې، چې کوم فطرت دی؛ دا پکې الله تعالی ایښی دی او الله تعالی هیڅکله د خپل ایښودلي او پنځولي فطرت په خلاف کتاب نه رالیږي.

ساینس چې څومره پرمختګ کوي؛ همغومره د قرآن او اسلام تصدیق کوي. دا چې الله تعالی فرمايي، چې قیامت کې به د انسان پښې لاسونه او پوستکی خبرې کوي؛ مخکې څه ناڅه قاصر او نیمګړي عقل ته ګرانه بریښېده، خو اوس چې د ټیپ ریکارډ نوی فیته، د ویډیو او کمپیوټر نوې نوې پټې او حافظې او سي ډي ګانې خبرې کوي، انځورونه ښيي... نو بالکل عقل دا خبره تسلیموي، چې پوستکي، لاسونه، پښې او یا نور غړي دې هم خبرې وکړي.

الله تعالی فرمايي:

(اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰى اَفْوَاهِهِمْ وَ تُكَلِّمُنَا اَيْدِيْهِمْ وَ تَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ).[1]

"نن مونږ د دوی په خولو مهر لګوو؛ د دوی لاسونه به له مونږ سره خبرې کوي او پښې به یې د هغه څه ګواهي کوي، چې دوی کول".

او فرمايي:

(حَتّٰى اِذَا مَا جَآءُوْهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَ اَبْصَارُهُمْ وَ جُلُوْدُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ وَ قَالُوْا لِجُلُوْدِهِمْ لِمَ شَهِدْتُّمْ عَلَيْنَا قَالُوْا اَنْطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِىْ اَنْطَقَ كُلَّ شَىْءٍ).[2]

---

[1] - سورة یس : ٦٥

[2] - سورة حم السجده: ۲۰-۲۱

"تردې چې کله اور ته راشي، نو په دوی به خپل غوږونه، سترګې او پوستکي د هغو کارونو ګواهي وکړي، چې دوی به کول. او دوی به خپلو پوستکو ته وواييي: ولې مو په مونږ ګواهي وکړه؟ هغوی به وواييي: مونږ هغه الله په خبرو راوستوو، چې هر شی یې په خبرو راوستی دی".

تر نولسمې (۱۹) پیړۍ پورې د ساینسدانانو دا نظر ؤ، چې "ذره" جزء لا یتجزیٰ دی، معنی دا چې زره نوره نه وړېږي او په څو برخو نه وېشل کېږي، دا د وړوکوالي اخري برید دی. د هیچا په وس کې دا نه وه، چې په مشاهدې ذره تجزیه کړي او ویې ښیي، چې ذره نوره هم وړه کېدای شي. خو دا نظر له قرآن سره په ټکرکې ؤ. او هغه دا، چې الله تعالی فرمايي:

(وَ مَا يَعْزُبُ عَنْ رَّبِّكَ مِنْ مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِى الْاَرْضِ وَ لَا فِى السَّمَآءِ وَلَا اَصْغَرَمِنْ ذٰلِكَ وَلَا اَكْبَرَاِلَّا فِىْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ).[1]

"او ستا له رب څخه په ځمکه او اسمان کې د ذرې په اندازه څه نه پټېږي او نه له ذرې ووړ شته او نه لوی؛ مګر په څرګند کتاب کې شته".

دلته "ولا اصغر من ذلک" "او نه له دې ذرې وړوکی" په دې دلالت کوي، چې ذره جزء لا یتجزیٰ نه دی، بلکه نوره هم وړېدی شي.

[1] - سورة یونس: ٦١

نو دا عبارت د ساينسدانانو له دې نظر سره په ټکر کې ؤ، چې ذره نوره نه وړېږي.
خو کله چې د نولسمې پېړۍ ساينسدانان مشاهدې ته ورسېدل، نو د پخوانيو ساينسدانانو نظر غلط ثابت شو او د قرآن خبره سمه وختله.
د نولسمې پېړۍ ساينسدانان دې مشاهدې ته ورسېدل، چې هره ذره په درې برخو وېشل کېږي او درې برخې لري:
۱ - اليکټرون.
۲ - نيوټرون.
۳ - پروټون.
او اوس لا دا اجزاوې نورې هم وېشي.
نو رسول الله صلی الله عليه وسلم نه ساينسدان ؤ او نه هغه سره په اوسنيو وسائلو پوره لابراتوار (ليبارټري) ؤ، چې ګنې دا يې معلومه کړې وه، چې ذره نوره هم وړېږي. اوس نو له دې هم څرګنده شوه، چې قرآن د الله تعالی کتاب دی. ذره الله تعالی پيدا کړې ده او همغه جل جلاله ذرې ته اجزاوې ورکړې دي، نو ځکه يې دا آيت په قرآن کې راولېږه.
همدارنګه دا يو ثابت حقيقت دی، چې فضا او هوا کې چې څومره هسکېږې، اکسيجن کمېږي او ساتنګېږي. او دا انسان ته هغه وخت معلومه شوه، چې خلا ته پورته شو. خو قرآن کريم څوارلس سوه کاله مخکې فرمايلي چې:

(وَ مَنْ يُّرِدْ اَنْ يُّضِلَّهُ يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقًا حَرَجًا كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِى السَّمَآءِ).[۱]

"او په چا چې (الله) اراده وکړي، چې بې لارې يې کړي، نو سينه يې داسې تنګه او سخته کړي لکه چې پورته د اسمان لورته په سختۍ پورته کېږي".

رسول الله صلی الله عليه وسلم ته خو د دې معلومات نه ؤ، چې خلا کې څوک پورته ځي، نو اکسيجن کمېږي او سينه تنګېږي. نو معلومه شوه، چې دا د الله کتاب دی او الله تعالی خپله پورته اکسيجن کم کړی او بيا ختم کړی دی، نو ځکه يې وفرمايل:

(كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِى السَّمَآءِ).

اګر چې قرآن د لارښوونې کتاب دی او کوم ساينسي کتاب نه دی، خو په قرآن کې ډېر داسې آياتونه شته، چې د کائناتو داسې حقيقتونو ته اشارې کوي، چې څوارلس پېړۍ وروسته علمي څېړنو ثابت کړل. قرآن کې د هر علم لور ته اشارې شوې دي، په ساينسي ثبوت د قرآن ريښتينولۍ لپاره همدا بس ده، چې تر اوسه د پېړيو په تېرېدو سره په قرآن کې داسې کومه خبره نشته، چې هغه دې له ساينسي ثابتو علمي څېړنو سره په ټکر کې وي.

قرآن په ډېرو خوږو او اسانه عبارتونو او تعبيرونو د جاهليت د وخت انسان سمې لارې ته رابولي او د نېکمرغۍ او

---

[۱] - سورة الانعام: ۱۲۵

بریالیتوب احکام او مسائل ورزده کوي او علمي حقیقتونو ته یوائحې بلیغې اشارې کوي. که چېرته د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې قرآن او پېغمبر د رادیو، تلوېزون، موټر، الوتکې، پرمختللیو تلسکوبونو، کمپیوټر او نورو... په هکله خبرې کړې وای، نو دا به د دې سبب جوړ شوی ؤ، چې د هغه وخت ډېرو وګړو به قرآن او پېغمبر دروغجن ګڼلي وو او دا به د هغوی او د ایمان راوړلو ترمنځ خنډ جوړ شوی ؤ.

خو قرآن یوائحې په اشارو بسنه وکړه او راتلونکیو پوهانو لپاره یې د څېړنو او هڅو لارې پرانستې پرېښودې. د ساري په توګه قرآن وایي:

(وَ اَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ فِيْهِ بَاْسٌ شَدِيْدٌ وَّ مَنَافِعُ لِلنَّاسِ). [1]

"مونږ اوسپنه پیدا کړې ده، چې په دې کې سخت جنګ او د خلکو لپاره ګټې دي".

دلته الله تعالی په همدومره اشارې کولو بسنه وکړه، چې اوسپنې کې سخت جنګ او د خلکو لپاره ګټې دي. اوس مونږ ګورو، چې د ساینس او صنعت څېړنو د جنګ او نورو ګټو څومره پرمختللي ډولونه له اوسپنې را ایستي دي. اوسپنه د ساینسي او صعنتي ترقۍ د ملا تیر دی.

---

[1] - سورة الحدید: ۲۵

قرآن وايي :

(اِنَّ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ وَ اخْتِلَافِ اللَيْلِ وَ النَّهَارِ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِی الْاَلْبَابِ).[1]

"د اسمانونو او ځمکې په پيداوښت او د شپې او ورځې په بدلون کې خامخا د هوښيارانو لپاره نښې دي".

قرآن په همدې اشارې بسنه وکړه او هوښياران د مطالعې او څېړنې له لارې دغه نښې او معجزې په مختلفو عصرونو کې راباسي .

خپله قرآن د دغو هوښيارانو په هکله وايي :

(.... وَ يَتَفَكَّرُوْنَ فِیْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا).[2]

" ..... هغه خلک، چې د اسمانونو او ځمکې په پيداوښت کې سوچ کوي او وايي: ای زمونږ ربه! تا دا عبث نه دي پيدا کړي".

او الله تعالی امر کوي چې :

(قُلِ انْظُرُوْا مَا ذَا فِی السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ...).[3]

" ورته ووايه! وګورئ، چې په اسمانونو او ځمکې کې څه دي؟!..."

او الله تعالی فرمايي :

(وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَ اَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِیَ وَ اَنْبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ شَیْءٍ مَّوْزُوْنٍ).[1]

[1]- سورة ال عمران : ۱۹۰
[2]- سورة ال عمران : ۱۹۱
[3]- سورة يونس : ۱۰۱

" مونږ ځمکه غځولې ده، غرونه مو پکې ایښي دي او لـه هـر شي مو پکې په کچ برابر راشنه کړي دي".

سبحان الله! په ځمکې کې د زرغونو تناسب ته وګورئ، چې څومره په کچ او مقدار برابر دي !!!، که د ټولو بزګرانـو سـوچ یوې خواته لاړ شي او هـر شـی مـوزون ونـه کـړي؛ څـومره نـا انډولي به پیدا شي ؟، که الله تعـالی کومـه زرغونـه لـه کچـه وباسي؛ څومره ستونزې به پیدا شي؟!....

او قرآن وايي :

(اَللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ اُنْثٰى وَ مَا تَغِيْضُ الْاَرْحَامُ وَ مَا تَزْدَادُ وَ كُلُّ شَیْءٍ عِنْدَهُ بِمِقْدَارٍ). [٢]

"هره ښځینه چې په خپلې ګېډې کې څه باروي او رحمونه چې څه کموي او څه زیاتوي؛ الله یې پېژني او هر څه له هغـه سره په یو ځانګړي کچ دي".

کـه د هـر ژوي د پیداوښـت مرحلـې او د هـر شـي ځـانګړی مقدار، اندازه او کچ راوسـپړل او وڅېـړل شـي، نـو د دې آیـت معنـی بـه ډېـره څرګنـده او د الله تعـالی د قـدرت نښـو تـه بـه انسان ګوته په غـاښ شـي . د رحمونـو لـه همـدې عمـل ژوي منځ ته راځي او د هر شي له ځانګړي کـچ څخـه دا نـړۍ ودانـه ده.

او قرآن وايي :

---

[١] - سورة الحجر: ١٩

[٢] - سورة الرعد: ٨

(وَ فِی الْاَرْضِ اٰیٰتٌ لِّلْمُوْقِنِیْنَ وَ فِیْ اَنْفُسِکُمْ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ).[1]

" په ځمکې او ستاسو په خپلو ځانونو کې د باور کوونکیو لپاره نښې دي، نو آیا تاسو نه وینئ؟"

دغه د ځمکې او زمونږ د ځانونو نښې د علم د څېړنو په پایلو کې ورځ تر بلې راڅرګندېږي.

قرآن وایي:

(فَلْیَنْظُرِ الْاِنْسَانُ مِمَّ خُلِقَ خُلِقَ مِنْ مَّآءٍ دَافِقٍ یَّخْرُجُ مِنْ بَیْنِ الصُّلْبِ وَ التَّرَآئِبِ).[2]

"انسان دې وګوري، چې له څه شي پیدا شوی دی؟ له توپ وهونکو اوبو څخه پیدا شوی دی، چې د ملا او سینو له منځه را اوځي".

د انسان د پیداوښت دغه پړاوونه د علم په څېړنو کې حیرانوونکیو پوړیو ته رسېدلي دي، چې قدم په قدم د قرآن تصدیق کوي.

قرآن وایي:

(وَّ الْخَیْلَ وَالْبِغَالَ وَ الْحَمِیْرَ لِتَرْکَبُوْهَا وَ زِیْنَةً وَ یَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ).[3]

" اسونه، کچرې او خره یې د دې لپاره پیدا کړي دي، چې پرې سپاره شئ او ښکلا ده. او هغه څه پیدا کوي، چې تاسو پرې نه پوهېږئ".

[1] - سورة الذاريات: ۲۰-۲۱
[2] - سورة الطارق: ۵-۷
[3] - سورة النحل: ۸

اوس نو د (وَ يَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ) مصداق د الله تعالی په کائناتو او د علم او صنعت په پرمختیا کې وګورئ، چې له بایسکل او موټر نه واخله تر اورکاډي او پرمختللیو الوتکو پورې څومره نوي نوي شیان پیدا شوي او دا لړۍ لا روانه ده!!!...

او قرآن وايي:

(سَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ فَتَعْرِفُوْنَهَا).[1]

"الله به تاسو ته خپلې نښې دروښيي، نو تاسو به يې وپېژنئ".

اوس وګورئ، چې د علم او ساينس له ترقۍ سره د الله تعالی د قدرت نښې څومره راښکاره شوي او راښکاره کېږي؟!!!....

قرآن وايي:

(اَلَمْ تَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِى السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِى الْاَرْضِ وَ اَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَّ بَاطِنَةً وَ مِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِى اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّ لَا هُدًى وَّ لَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ).[2]

" آيا تاسو نه دي ليدلي، چې څه په اسمانونو او ځمکې کې دي؛ الله تاسو ته تابع کړي دي او په تاسو يې خپل ښکاره او پټ نعمتونه بشپړ کړي دي؟ له خلکو ځينې داسې دي، چې د الله په هکله بې له کومې پوهې، بې له لارښوونې او بې له څرګند کتاب او دليل جګړې او بحثونه کوي".

---

[1] - سورة النمل: ۹۳

[2] - سورة لقمان: ۲۰

اوس وګورئ، چې انسان د علم په مټ د ځمکې او فضا له تسخیره څومره ګټې اخلي؟! او د قرآن د دې آیت ریښتینولي څومره جوتېږي؟!!!....

قرآن وايي :

(اِنَّ فِىْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ وَ اخْتِلَافِ الَّيْلِ وَ النَّهَارِ وَ الْفُلْكِ الَّتِىْ تَجْرِىْ فِى الْبَحْرِ بِمَا يَنْفَعُ النَّاسَ وَ مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ مَّآءٍ فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَ بَثَّ فِيْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ وَّ تَصْرِيْفِ الرِّيٰحِ وَ السَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَآءِ وَ الْاَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ).[1]

"د اسمانونو او ځمکې په پیداوښت کې، د شپې او ورځې په بدلون کې، په هغې بېړۍ کې، چې له هغو توکیو سره په دریاب کې روانه وي، چې خلکو ته ګټې رسوي، په هغو اوبو کې، چې الله له پاسه راښکته کړې دي او ځمکه يې پرې له مړینې وروسته ژوندۍ کړې ده او هر ډول ژوي یې پکې خپاره کړي دي، د بادونو په چلولو او په هغو ورېځو کې هرومرو د هغو خلکو لپاره نښې دي، چې له عقل نه کار اخلي".

په دې ټولو کې له عقل نه کار اخیستل یو بې ساحله سمندر دی، چې هر ډول سوچ کول، د علم او ساینس په مټ څېړل، سپړل او راپه څټ کول... پکې داخل دي .

همدارنګه الله تعالی فرمايي :

---

[1]- سورة البقرة : ۱۶۴

(اِذَا زُلْزِلَتِ الْاَرْضُ زِلْزَالَهَا وَ اَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا وَ قَالَ الْاِنْسَانُ مَا لَهَا يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ اَخْبَارَهَا بِاَنَّ رَبَّكَ اَوْحٰى لَهَا).[۱]

"هغه وخت د پام وړ دی، چې ځمکه به سخته وجړکېږي، ځمکه به خپل درانده بارونه را اوباسي او انسان به ووايي، چې په دې څه شوي دي؟! په دغه ورځ به ځمکه خپل خبرونه څرګندوي، اودا ځکه چې ستا رب ورته حکم کړی دی".

له دې څرګنده شوه، چې په دې ځمکې کې الله تعالی ډېر درانده بارونه زېرمه کړي دي او يو وخت به داسې راشي، چې د زلزلو له کبله به را اوځي، انسان به ورته حيران وي او ډېر پټ معلومات به يې راڅرګند شي، دا اوس چې له ځمکې تېل، ګازونه او نور معادن را اوځي دا يې بېلګې دي او د ځمکې درانده لا ډېر دي.

او الله تعالی فرمايي:

(وَ اَلْقٰى فِى الْاَرْضِ رَوَاسِىَ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ).[۲]

"په ځمکې کې يې د دې لپاره غرونه ايښي دي، چې په تاسو ونه لړزېږي".

او فرمايي:

(سُبْحٰنَ الَّذِىْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنْبِتُ الْاَرْضُ وَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَ مِمَّا لَا يَعْلَمُوْنَ).[۳]

---

[۱] - سورة الزلزال: ۱ - ۵
[۲] - سورة لقمان: ۱۰
[۳] - سورة يس: ۳٦

"هغه ذات پاک دی، چې ټولې جوړې یې پیدا کړې دي، چې ځمکه یې زرغونوي، د دوی له ځانونو او لـه هغـو، چې دوی پرې نه پوهېږي".

له دې څرګندېږي، چې انسـان، نبـات او ډېـر شـیان جوړې جوړې دي، چې رڼـا او تیـاره، نـر او ښـځه، مثبـت او منفـي، تریخ او خوږ، تریو او پیکه او داسې نورې ډېرې جوړې دي، چې انسان یې لا ژورو ته نه دی ورښکته شوی.

همدارنګه فرمایي:

(اَوَ لَمْ یَرَ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ کَانَتَـا رَتْقًـا فَفَتَقْنٰـهُمَـا وَ جَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ کُلَّ شَیْءٍ حَیٍّ اَفَلَا یُؤْمِنُوْنَ).[1]

" آیا کافران خبر نه دي، چې اسمانونه او ځمکه نښتي وو، نو مونږ پرانستل او هر ژوندی مو لـه اوبـو پیـدا کـړی دی؟، نـو آیا دوی ایمان نه راوړي؟".

او فرمایي:

(ثُمَّ اسْتَوٰی اِلَی السَّمَآءِ وَ هِیَ دُخَانٌ).[2]

"بیا یې اسمان ته تکل وکړ او هغه لوګی ؤ".

او فرمایي:

(سَنُرِیْهِمْ اٰیٰتِنَا فِی الْاٰفَاقِ وَ فِیْ اَنْفُسِهِمْ حَتّٰی یَتَبَیَّنَ لَهُمْ اَنَّـهُ الْحَقُّ اَوَ لَمْ یَکْفِ بِرَبِّكَ اَنَّـهُ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ شَهِیْدٌ).[3]

---

[1] - سورة الانبیاء: ۳۰

[2] - سورة فصلت: ۱۱

[3] - سورة فصلت: ۵۳

"مونږ به ډېر زر دوی ته د ځمکې او اسمان په غاړو او د دوی په ځانونو کې خپلې نښې وروښیو، تردې چې دوی ته څرګنده شي، چې هغه حق دی. آیا ستا د رب په هکله دا بس نه ده، چې هغه په هرشي ګواه دی (اوهیڅ ترې پنا نه دي)؟".

او قرآن وایي:

(اَفَلَا يَنْظُرُوْنَ اِلَى الْاِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ وَ اِلَى السَّمَآءِ كَيْفَ رُفِعَتْ وَ اِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ وَ اِلَى الْاَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ).[1]

" آیا دوی اوښانو ته نه ګوري، چې څرنګه پیدا شوي دي؟ او اسمان ته نه ګوري، چې څرنګه پورته شوی دی؟ او غرونو ته نه ګوري، چې څرنګه ودرول شوي دي؟ او ځمکې ته نه ګوري، چې څرنګه ویره شوې ده؟".

که د علم په مټ دا یو یو وڅېړل او وسپړل شي، نو عقل به ورته ګوته په غاښ شي.

دا او داسې نور ګڼ آیاتونه د قرآن هغه بلیغې اشارې دي، چې انسان ته د پلټنو او څېړنو دروازې پرانیزي او هڅوي یې...

دا یوه خبره باید له یاده ونه باسو، چې د هر چا دعوه او خبره باید په پټو سترګو او بې دلیله ونه منو، ډېر ځله یو ساینس پوه یو نظر وړاندې کوي او یوه دعوه کوي؛ خو هغه بیا ناسمه خېژي.

---

[1]- سورة الغاشیه: ۱۷-۲۰

که انسان د قرآن په هر آیت کې ژور سوچ وکړي، نو د الله تعالی په قدرت به پوخ باور وکړي او له وېرې به یې ورپړدېږي.

الله تعالی فرمايي:

(لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَاَيْتَهُ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ).[1]

"که دا قرآن مونږ په کوم غره نازل کړی وای، نو هرومرو به دې د الله له وېرې عاجزي کوونکی او ټوټه ټوټه لیدلی ؤ".

خو انسان ډېر سخت زړی او ناپوه دی، ځکه چې بیا هم سرغړونې کوي !!!.

قرآن او مخکني کتابونه

مخکني اسماني کتابونه: تورات، انجیل او زبور د قرآن تصدیق کوي او په هغو کې ځای په ځای د قرآن او اخري پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم تصدیق او ریښتینولي راغلې ده، چې منصفین یې مني او عنادیان ترې انکار کوي.

الله تعالی فرمايي:

(وَ اِنَّه لَفِيْ زُبُرِ الْاَوَّلِيْنَ).[2]

---

[1] - سورة الحشر: ۲۱

[2] - سورة الشعراء: ۱۹۶

"او دا قرآن په مخکنيو کتابونو کې ياد شوی دی".
په مخکنيو کتابونو کې د قرآن او رسول الله صلی الله عليه وسلم په هکله نصوص راغلي دي، نو ځکه الله تعالی فرمايي:
(فَاِنْ كُنْتَ فِىْ شَكٍّ مِّمَّا اَنْزَلْنَا اِلَيْكَ فَسْئَلِ الَّذِيْنَ يَقْرَءُوْنَ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكَ).[1]
"که د هغه کتاب په هکله شک کې يې، چې مونږ تاته نازل کړی دی، نو هغه خلک وپوښته، چې له تا مخکې کتاب لولي".
او فرمايي:
(اَوَ لَمْ يَكُنْ لَّهُمْ اٰيَةً اَنْ يَّعْلَمَهُ عُلَمٰٓؤُا بَنِىْ اِسْرَآءِيْلَ)[2]
" ايا دوی لپاره دا يوه نښه نه ده، چې د بني اسرائيلو عالمان دا وپېژني؟".
او فرمايي :
(وَ الَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْلَمُوْنَ اَنَّهُ مُنَزَّلٌ مِّنْ رَّبِّكَ بِالْحَقِّ)[3]
" او هغه خلک، چې مونږ کتاب ورکړی دی په دې پوهېږي، چې دا قرآن ستا د رب له پلوه په رېښتيا نازل شوی دی".
د ځينو حق پرستو نصرانيانو په هکله داسې راځي:
کله چې هغوی قرآن واورېد او په دې وپوهېدل، چې دا هغه کتاب دی، چې په مخکنيو کتابونو او انجيل کې يې د

[1]- سورةيونس : ۹۴
[2]- سورة الشعراء : ۱۹۷
[3]- سورة الانعام : ۱۱۴.

ریښــتینولۍ یادونه شــوې ده او حــق ورتــه څرګنــد شــو، نــو ایمان یې راوړ او له سترګو یې اوښکې وڅڅېدې.

الله تعالی د هغوی په هکله فرمایي:

(وَ لَتَجِدَنَّ اَقْرَبَهُمْ مَّوَدَّةً لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ قَالُوْا اِنَّا نَصٰرٰى ذٰلِكَ بِاَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيْسِيْنَ وَ رُهْبَانًا وَّ اَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ وَ اِذَا سَمِعُوْا مَا اُنْزِلَ اِلَى الرَّسُوْلِ تَرٰى اَعْيُنَهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اٰمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ). [1]

"لــه مؤمنــانو سره پــه دوســتۍ کې بــه ډېر نــږدې هغــه خلک ومومې، چې ویــل یې: مــونږ نصرانیان یــو. دا لــه دې کبلــه، چې له دوی څخه ځینې پوهان او عابدان دي او دوی لویي نه کوي، کله چې دوی هغــه قــرآن واوري، چې پیغمبــر تــه نــازل شوی دی، نو له دې کبله، چې حق یې پېژندلی؛ تــه بــه یې وینې، چې لــه ســترګو یې اوښــکې څاڅي؛ وایي: ای زمــونږ ربه! مونږ ایمان راوړی، نو له ګواهانو سره مو ولیکه".

د محمــد رســول الله صــلی الله علیــه وســلم یادونــه هــم پــه مخکنیو کتابونو کې راغلې ده.

الله تعالی فرمایي:

(اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِیَّ الْاُمِّیَّ الَّذِیْ يَجِدُوْنَهُ مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ فِی التَّوْرٰىةِ وَ الْاِنْجِيْلِ يَاْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ وَ يَنْهٰهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ يُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبٰتِ وَ يُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبٰٓئِثَ...). [2]

---

[1] - سورة المائده : ۸۲ – ۸۳

[2] - سورة الاعراف : ۱۵۷

"هغه خلک چې د هغه نالوستي پېغمبر تابعداري کوي، چې له دوی سره په تورات او انجیل کې یې لیکلی مومي، دوی ته په نېکیو امر کوي، له بدیو یې منع کوي، پاک شیان ورته حلالوي او ناولي ورباندې حراموي..."

نو څرګنده شوه، چې د محمد صلی الله علیه وسلم او د قرآن یادونه په تورات او انجیل کې راغلې ده؛ خو د یهودو او نصرانیانو علماء یې په ګوتوهنې پټوي. په (برنابا) انجیل کې دمحمد صلی الله علیه وسلم مبارک نوم ښه جوت یادشوی دی او په نورو کې هم شته.

همدارنګه قرآن هم د مخکنیو هغو اسماني کتابونو تصدیق کوي، چې ګوتوهنې پکې نه وي شوې، په قرآن کریم کې ځای په ځای مخکني نازل شوي کتابونه ریښتینې ګڼل شوي دي. الله تعالی بني اسرائیلو ته فرمایي:

(وَ اٰمِنُوْا بِمَا اَنْزَلْتُ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُوْنُوْا اَوَّلَ كَافِرٍ بِهٖ وَ لَا تَشْتَرُوْا بِاٰيٰتِىْ ثَمَنًا قَلِيْلًا وَّاِيَّاىَ فَاتَّقُوْنِ).[1]

"او په هغه کتاب ایمان راوړئ، چې ما نازل کړی دی او د هغه کتاب ریښتینی ګڼونکی دی، چې له تاسو سره دی او تاسو په دې قرآن لومړني انکار کوونکي مه جوړېږئ، زما په آیاتونو ناڅیزه پیسې مه اخلئ او یوازې له ما وویرېږئ".

---

[1] - سورة البقره : ۴۱

او فرمايي:

(وَ لَمَّا جَآءَهُمْ كِتٰبٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ وَ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ يَسْتَفْتِحُوْنَ عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَلَمَّا جَآءَهُمْ مَّا عَرَفُوْا كَفَرُوْا بِهٖ فَلَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ).[1]

"او دوی به مخکې (د قرآن او پېغمبر په راتلو) په کافرانو فتحه غوښتله؛ خو کله چې دوی ته د الله له لوري کتاب راغی او د هغه کتاب تصديق کوونکی دی، چې له دوی سره دی، او کله چې دوی ته هغه قرآن او اسلام راغی، چې دوی وپېژنده؛ انکار یې ترې وکړ، نو په کافرانو د الله لعنت دی".

او فرمايي:

(وَ اِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا بِمَا اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا نُؤْمِنُ بِمَا اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَ يَكْفُرُوْنَ بِمَا وَرَآءَهٗ وَ هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَهُمْ قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُوْنَ اَنْبِيَآءَ اللّٰهِ مِنْ قَبْلُ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ).[2]

"او کله چې دوی ته وويل شي؛ په هغه کتاب ايمان راوړئ، چې الله نازل کړی دی، نو وايي: مونږ په هغه کتاب ايمان راوړو، چې په مونږ نازل شوی دی او په هغه کتاب کفر کوي، چې له هغه وروسته راغلی دی، حال دا چې دا حق کتاب دی او د هغه کتاب رېښتيا ګڼونکی دی، چې له دوی سره دی. ورته ووايه: که مؤمنان وئ، نو بيا مو له دې مخکې ولې پېغمبران وژل؟".

---

[1] - سورة البقره: ۸۹

[2] - سورة البقره: ۹۱

او فرمايي:
(وَ اَنْزَلْنَـا اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِـالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَـا بَيْنَ يَدَيْـهِ مِـنَ الْكِتٰـبِ وَ مُهَيْمِنًا عَلَيْهِ).[1]

" مونږ تاته په ريښتيا کتاب درلېږلی دی؛ د هغه کتاب تصديق کوونکی دی، چې له دې مخکې راغلی دی او د هغه ساتونکی، ګواه، څارونکی او امانتدار دی".

قرآن مسلمانانو ته حکم کوي، چې په ټولو نازل شويو کتابونو ايمان راوړئ او اهل کتابو ته هم دا ووايئ.

لکه چې فرمايي:
(قُلْ يٰاَهْلَ الْكِتٰبِ هَلْ تَنْقِمُوْنَ مِنَّـا اِلَّا اَنْ اٰمَنَّـا بِـاللّٰهِ وَ مَـا اُنْزِلَ اِلَيْنَـا وَمَا اُنْزِلَ مِنْ قَبْلُ وَاَنَّ اَكْثَرَكُمْ فٰسِقُوْنَ).[2]

"ورته ووايه: ای کتابيانو! تاسو له مونږ يوائې دا بده ګڼئ، چې مونږ په الله ايمان راوړی دی، په هغه کتاب مو ايمان راوړی دی، چې مونږ ته راغلی دی او په هغه مو هم ايمان راوړی دی، چې مخکې راغلی دی. او ستاسو زيات خلک بد کاران دي".

او فرمايي:
(نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ بِـالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَـا بَيْنَ يَدَيْـهِ وَ اَنْزَلَ التَّوْرٰىـةَ وَ الْاِنْجِيْلَ مِنْ قَبْلُ).[3]

[1] - سورة المائده: ٤٨
[2] - سورة المائده: ٥٩
[3] - سورة آل عمران: ٣-٤

"په تا يې په ريښتيا او په ترتيب کتاب نازل کړی دی، چې له دې د مخکې کتابونو ريښتيا ګڼونکی دی او له دې مخکې يې تورات او انجيل نازل کړي دي".

او الله تعالی فرمايي:

(قُلْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَ مَا اُنْزِلَ عَلَيْنَا وَ مَا اُنْزِلَ عَلٰى اِبْرٰهِيْمَ وَ اِسْمٰعِيْلَ وَ اِسْحٰقَ وَ يَعْقُوْبَ وَ الْاَسْبَاطِ وَ مَا اُوْتِىَ مُوْسٰى وَ عِيْسٰى وَ النَّبِيُّوْنَ مِنْ رَّبِّهِمْ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ وَ نَحْنُ لَهُ مُسْلِمُوْنَ).[1]

"ورته ووايه: مونږ په هغه کتاب هم ايمان راوړی دی، چې په مونږ نازل شوی دی؛ په هغو کتابونو هم، چې په ابراهيم، اسماعيل، اسحاق، يعقوب او د هغوی په اولادونو نازل شوي دي او په هغه کتاب هم، چې موسی، عيسی او نورو پيغمبرانو ته ورکول شوي وو، مونږ په هغوی کې د هيچا ترمنځ توپير نه کوو او مونږ يواځې الله ته غاړه ايښودونکي يو".

همدارنګه الله تعالی د تورات، انجيل او قرآن په هکله فرمايي:

(وَ لَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا التَّوْرٰىةَ وَ الْاِنْجِيْلَ وَ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ مِّنْ رَّبِّهِمْ لَاَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ وَ مِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ مِنْهُمْ اُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ وَ كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُوْنَ).[2]

"که دوی تورات، انجيل او په هغه کتاب عمل کړی وای، چې دوی ته نازل شوی دی، نو دوی به له پاسه او له خپلو

---

[1] - سورة آل عمران: ۸٤

[2] - سورة المائده: ٦٦

پښــو لانــدې نعمتونــه خــوړلي وای، لــه دوی نــه یــوه ډلــه منځلارې ده او زیات یې ډېر ناوړه عملونه کوي".

او فرمايي:

(قُلْ يٰاَهْلَ الْكِتٰبِ لَسْتُمْ عَلٰى شَىْءٍ حَتّٰى تُقِيْمُوا التَّوْرٰىةَ وَ الْاِنْجِيْلَ وَ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ)[1].

"ورته ووايه! ای کتابيانو! تاسو تر هغه پـه هيـڅ سمه لار نـه يئ، تر څو چې تورات، انجيل او هغه کتاب عملي نـه کـړئ، چې تاسو ته د خپل رب له لوري نازل شوی دی".

نواسماني کتابونه ټول يودبل تصديق کوي.

د قرآن کريم د تلاوت آداب

قـرآن کـريم د الله تعـالی کتــاب دی، نــو دا ســپېڅلی کتاب بايد له بشپړو آدابو، احترام او درنښت سره ولوستل شي، معناوې يې زده شي، احکـام يـې عملـي شي او سـاتنه يې وشي.

هر مسلمان او مسلمانه چې قـرآن کـريم لـولي، نـو بـايـد چـې عقيده يې له هر ډول کفـر، شـرک، خرافـاتو او نـاوړه ګروهـو پاکه وي، تلاوت يې د ثـواب پـه نيت وکړي او کـوم دنيـوي غرض پکې ونه لري، پـه تـلاوت يـې لـه چـا مـزدوري او کـوم دنيوي بدل ونـه غـواړي، لـه ريـا بايـد پـاک وي او پـه داسـې

[1] - سورة المائده: ٦٨

پاک نیت او پاملرنې یې ولولي، لکه چې الله تعالی وینې، باید په پاک ځای کې ولوستل شي او له جنابت او حیض نه پاک وي، اودس کول ورته ښه دي؛ خو اړین نه دي. خو که مصحف کې تلاوت کوي، نو بې اودسه ورته لاس وروړل ناسم دي.

د قرآن کریم لوستل باید په عاجزۍ، توجه او بشپړ غور وي. څوک چې د قرآن کریم په معنی پوهېږي؛ باید معنی ته یې هم پام وکړي.

مصحف (قرآن کریم) ته په لاس وروړلو کې د علماؤ اختلاف دی؛ ځینې ورته بشپړه پاکي او اودس اړین بولي او ځینې اودس اړین نه بولي. دا اختلاف د دې آیت په مراد کې دی چې الله تعالی فرمایي:

(اِنَّهُ لَقُرْاٰنٌ كَرِيْمٌ فِيْ كِتٰبٍ مَّكْنُوْنٍ لَّا يَمَسُّهُ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ). [1]

"دا بې شکه عزتمند قرآن دی، په ساتل شوي کتاب کې دی، چې له پاکانو پرته هیڅوک لاس نه ور وړي".

نو آیا "لا یمسه" کې دا "مس" حقیقي دی او که مجازي؟ او دا ضمیر وحې ته راجع دی؟ که لوح محفوظ ته؟ او که دغه کتابي شکل مصحف ته؟ او له " المطهرون" نه مراد ملائک دي؟ که پرهېزګاران؟ او که له بې اودسۍ او چټلۍ نه پاک خلک؟. او "لایمسه" خبر د نهې په معنا دی او که نه؟.

[1] - سورة الواقعة : ۷۷-۷۹

اکثره فقهاء او علماء وايي، چې قرآن ته بې اودسه لاس وروړل ناروا دي. هغوی وايي، چې دا خبر د نهې په معنی دی . او ضمير او مطهرون ټولو ته شامل دی .

او په دې حديث هم استدلال کوي: عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي :

"لا يَمَسَّ الْقُرْآنَ إِلَّا طَاهِرٌ". (۱)

" قرآن ته به يوائې پاک انسان لاس وروړي".

همدارنګه مسائل الامام احمد کې اسحاق المروزي وايي :

"قلت (لأحمد): هل يقرء الرجل على غير وضوء؟ قال: نعم ولكن لا يقرأ فى المصحف مالم يتوضأ. قال إسحاق كما قال، لماصح قول النبى عليه السلام: (لا يَمَسَّ الْقُرْآنَ إِلَّا طَاهِرٌ) وكذلك فعل أصحاب النبى صلى الله عليه وسلم والتابعين". (۲)

"ما امام احمد ته وويل: آيا يو څوک بې اودسه قرآن لوستی شي؟ هغه وويل : هو؛ خو په مصحف (کتابي شکل قرآن) کې به يې تر هغه نه لولي، ترڅو يې چې اودس نه وي کړی. اسحاق بن راهويه هم همداسې ويلي دي، ځکه چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه صحيح قول راغلی دی چې:

" قرآن ته به يوائې پاک انسان لاس وروړي".

---

۱ - رواه البيهقي والطبراني والدارقطني وابن عساکر ومالک عن عمرو بن حزم. واحتج به احمد وصححه اسحاق بن راهويه واحمد والحاکم والذهبي و روی عن عثمان بن ابي العاص وحکيم بن حزام مثله.

۲ مسائل الامام احمد: ۵.

همدارنګه له صحابه کرامو رضي الله عنهم نه ډېر روايتونه صحيح ثابت دي، چې هغوی بې اودسه قرآن ته لاس نه وروړ. بېلګه يې دا لاندې روايت دی:

عَنْ مَصْعَبْ بْنِ سعد بن أبي وقاص أنه قال: كنت أمسك المصحف على سعد بن أبي وقاص فاحتككت، فقال سعد: لعلك مسست ذكرك؟ قال: فقلت: نعم. فقال: قم فتوضأ. فقمت فتوضأت ثم رجعت. (۱)

د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه زوی: مصعب وايي: ما (خپل پلار) سعد بن ابي وقاص ته قرآن کريم نيولی ؤ؛ ځان مې وګراوه، سعد راته وويل: کېدی شي، چې خپل ذکر (د تشو ميتيازو ځای) (ګلدادخان) ته دې لاس وروړی وي؟ ما ورته وويل: هو. هغه وويل: پاڅه اودس وکړه. زه پاڅېدم اودس مې وکړ او بيا راستون شوم.

د مرفوع حديث په استدلال په (مس الذکر) (د تشو ميتازو غړي ته لاس وروړلو) باندې اودس ماتېږي، نو ځکه سعد رضي الله عنه خپل زوی ته د اودس کولو وويل. خو شرط يې دا دی، چې پرده پرې نه وي، که د پردې له پاسه لاس وروړي بيا يې اودس نه ماتېږي . په دې هکله ددوه ډوله حديثونو ترمنځ جمع اوتوفيق محدثينوپه همدې ډول کړی دی .

په بل روايت کې داسې راځي:

---

۱ رواه مالک والبيهقي وصححه الالباني.

عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ كُنَّا مَعَ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ فِي سَفَرٍ فَقَضَى حَاجَتَهُ فَقُلْنَا لَهُ: تَوَضَّأْ حَتَّى نَسْأَلَكَ عَنْ آيَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ. فَقَالَ: سَلُونِي إِنِّي لَسْتُ أَمَسُّهُ. فَقَرَأَ عَلَيْنَا مَا أَرَدْنَا. [۱]

له علقمه نه روایت دی، هغه وایي: مونږ په یو سفر کې له سلمان فارسی سره وو، هغه اودسماتی وکړ؛ مونږ ورته وویل: اودس وکړه، چې مونږ درڅخه د قران د یو ایة په هکله پوښتنه وکړو. هغه وویل: تاسو له ما پوښتنه وکړئ؛ زه خو قران ته لاس نه وروړم (چې اودس وکړم)؛ مونږ چې څه غوښتل هغه یې مونږ ته ولوست.

له دې دواړو روایتونو نه هم معلومه شوه، چې صحابه کرامو د قران کریم د لوستلو لپاره اودس کول اړین بلل. او د صحابه و فهم زمونږ په فهم مقدم دی، چې لا نورو دلیلونو ته استناد هم ورسره وي او د کوم نص مخالفت هم پکې نه وي.

همدارنګه د عمر رضي الله عنه د اسلام په کیسه کې راځي، چې کله یې د قرآن پاڼو ته د لاس وروړلو اراده وکړه، نو خپلې خور ورته وویل: لاړ شه غسل وکړه او بیا راشه قران په لاس کې واخله.

ځینې نور علماء وایي، چې قرآن ته بې اودسه لاس وروړل روا دي او هغوی دا وایي چې له "کتاب" نه مراد لوح محفوظ

---

۱ - رواه الدارقطنی و الحاکم وقال: هذا حدیث صحیح علی شرط الشیخین و لم یخرجاه.

دی، له "المطهرون" نه مراد ملائک دي، له طهارت نه مراد معنوي طهارت دی او دا خبر د نهې په معنا نه دی.
مخکني د عبد الله بن عمر او عمر رضي الله عنهما دواړه حديثونه ضعيف ګڼي او په دې حديث هم دليل نيسي چې:
" المؤمن لاينجس"(۱).
"مؤمن نه پليتيږي".
خو ماته ځواکمنه او احوطه دا ښکاري، چې بايد بې اودسه قرآن ته له لاس وروړلو نه ځان وژغورل شي. او دا ځکه، چې اصل په معانيو کې عموم، اطلاق، شموليت، کليت او اشتراک دی او له دې څخه د ايستلو لپاره دليل ته اړتيا ده.
"لايمسه الا المطهرون" کې ټول ظاهري او معنوي پاکان داخل دي او د دې آيت له اشارة النص او اقتضاء النص نه هم دا جوتيږي، چې بايد قرآن ته په پاکۍ لاس وروړل شي. او دا هغه وخت چې خبر د نهې په معنی ونه ګڼو. خو که د دليلونو ټول اطراف راټول کړو، نو دا جوتيږي، چې دا خبر د نهې په معنی دی او د همدې معنی او د اشارت او اقتضاء له کبله د مخکنيو حديثونو ضعف هم له منځه ځي او استدلال پرې صحيح کيږي.
سره له دې چې "لا يمس القران الا طاهر" حديث امام احمد، اسحاق بن راهويه، حاکم او الباني صحيح ګڼلی دی. خو

---

۱ متفق عليه.

زما د پلټنې او څېړنې له مخې حسن او د استدلال قابل دی.
د "المؤمن لا ینجس" ځواب دا دی، چې دا هغه وخت رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوهریره رضي الله عنه ته ویلي وو، چې هغه پټ په پټه د غسل کولو لپاره تللی ؤ او ګومان یې کړی ؤ، چې جنب باید له پیغمبر یا مؤمنانو سره ناسته او خبرې هم ونه کړي. که نه نو مؤمن چې کله بې اودسه وي لمونځ کول ورته روا نه دي او په دې حدیث استدلال ناسم دی، نو قرآن (مصحف) ته په لاس وروړلو کې هم په دې حدیث استدلال ناسم دی. او په پوخ، کڅوړې او بل پاک شي باندې په نیولو کې هیڅوک اودس اړین نه بولي.
د قرآن کریم د لوستلو بل ادب دا دی، چې د لوستلو په پیل کې باید "اَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ" یا "اَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، مِنْ هَمْزِهِ وَنَفْخِهِ وَنَفْثِه" ولوستل شي. او د توبې له سورت پرته د نورو ټولو سورتونو په پیل کې هم "بسم الله الرحمن الرحیم" ولوستل شي. خو که د سورت له منځه کله تلاوت کېږي، نو د تعوذ لوستل اړین دي او تسمیه لوستل ښه دي؛ خو اړین نه دي.
همدارنګه سنت طریقه دا ده، چې د جنت، نعمت او رحمت آیت ولولي، نو الله تعالی نه دې یې وغواړي، که د عذاب او دوزخ آیت ولولي، نو الله تعالی نه دې پنا وغواړي. او کله چې د سجدې آیت ولوستل شي، نو باید سجده وشي. چې

په قرآن کريم کې د تلاوت ټولې سجدې (۱۵) پنځلس دي او زمونږ په چاپي مصحفونو کې ورسره نښه او حاشيه کې سجده ليکل شوي دي.

څوک چې قرآن کريم ياد لري يا يې څه برخه ياده لري او يا يې لوستلی شي، نو په مسلمان او مسلمانې بايد د شواروز ځلريشت ساعته داسې تېر نه شي، چې په هغو کې د تلاوت لپاره وخت ونه باسي. د شپې او ورځې په هر وخت کې تلاوت کولی شي؛ خو د شپې په تهجدو کې او بيا د شپې په وروستنۍ برخه کې په لمانځه کې د قرآن لوستل زيات ثواب لري. همدارنګه د ګهيځ (سهار) د لمانځه پسې او روژې کې د قرآن لوستل او تلاوت کول زيات اجر او ثواب لري.

همدارنګه د قرآن کريم لوستل بايد په ګړ ګړ نه وي، بلکه په ارام ولوستل شي، چې هر توری په خپل مخرج کې له خپل صفت سره ولوستل شي.

الله تعالی فرمايي:

(وَ رَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا).[1]

" او قرآن په پياوړيو، ښو او ښکاره لوستلو ولوله".

نو دغه "ترتيل" په زر زر او ګړ ګړ لوستلو نه کېږي.

---

[1]- سورة المزمل: ٤

په تدبر لوستل

قرآن کریم باید په بشپړې پاملرنې او تدبر ولوستل شي، په معناؤ کې یې فکر او احکامو ته یې پاملرنه وشي، د مکلفیت او مسئولیت په احساس ولوستل شي، د قرآن کریم غوښتنې په پام کې ونیول شي، د خپل ژوند هره شېبه، هره پوړۍ او هر پړاو د قرآن کریم احکامو باندې وړاندې او ورسره پرتله شي، چې څومره سمون ورسره خوري او کومې نېمګړتیاوې لري؟ د خپل کور، کهول، کلي، ولس، هېواد او امت وګړي، چاپېریال او ګرده نړۍ باید د لوستلو په پایلو کې د سپېڅلي قرآن په تله وتلل شي او بیا د الله سبحانه وتعالی په وړاندې خپلو دندو ته بشپړ پام وکړي، د قرآن کریم په اعجاز، سپېڅلتیا، خوږلنۍ او د الله تعالی د کلام په حیث د قرآن کریم په هر لفظ، هرې کلمې، هرې جملې، هر آیت او هر مطلب کې په تدبر او سوچ تلاوت کول تر ټولو اړین او د پام وړ ادب او غوښتنه ده.

د قرآن کریم په ټولو خوږ و او خوند همغه څوک پوهېږي، چې په بشپړ تدبر او پاملرنې یې تلاوت وکړي، د معناؤ د سمندر ژورو ته یې ورښکته شي او هر ګوټ، هر کونج، هر لوري او اړخ کې یې خپل اند وځغلوي.

الله سبحانه وتعالى فرمايي :

" أَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْآنَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِاللهِ لَوَجَدُوْا فِيْهِ اخْتِلَافًا كَثِيْراً " [١]

" نو آيا دوی په قرآن کې سوچ نه کوي؟ اوکه دا له الله پرته دبل چا له پلوه وای نو دوی به پکې ډېر اختلاف موندلی ؤ ".

اوفرمايي :

" أَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَي قُلُوْبٍ أَقْفَالُهَا " [٢]

" نو آيا دوی په قرآن کې سوچ نه کوي ؟ اوکه په زړونو يې قلفونه دي؟ ".

اوفرمايي :

" كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِيَدَّبَّرُوا آَيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُلُوا الْأَلْبَاب " [٣]

" داقرآن دبرکت والا کتاب دی، مونږ تاته ددې لپاره نازل کړی دی، چې دوی يې په آياتونوکې سوچ وکړي او ددې لپاره چې هوښياران پرې پند واخلي".

د تلاوت ځينې نور آداب

لکه مخکې مو چې وويل، تلاوت يوائې په ګړګر لوستل نه دي بلکې د قرآن کريم د لوستلو لپاره آداب او

---

[١] - سورة النساء: ٨٢

[٢] - سورة محمد: ٢٤

[٣] - سورة ص:٢٩.

احکام دي، له هغو سره سم باید ولوستل شي، چې ځینې یې تېر شول او ځینې یې دا دي:

عَنِ الْبَرَاءِ بنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "حَسِّنُوْا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ، فَإِنَّ الصَّوْتَ الْحَسَنَ يَزِيدُ الْقُرْآنَ حُسْنًا". (۱)

له براء بن عازب رضي الله عنه نه روایت دی هغه وایي، چې ما له رسول الله صل الله علیه وسلم نه اورېدلي دي، چې فرمایل یې: "قرآن په خپلو غږونو ښکلی کړئ، ځکه چې ښکلی غږ د قرآن ښکلا نوره هم زیاتوي".

په بل حدیث کې داسې راځي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَا أَذِنَ اللَّهُ لِشَيْءٍ مَا أَذِنَ لِنَبِيٍّ يَتَغَنَّى بِالْقُرْآنِ". (۲)

له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: " الله تعالی هیڅ شي ته داسې غوږ نه دی ایښی لکه هغه پیغمبر ته یې چې ایښی دی، چې په ښکلي غږ قرآن لولي".

معنی دا چې الله تعالی د قرآن ښه لوستل ډېر خوښوي.

په بل حدیث کې داسې راځي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قال: قال النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا أَذِنَ اللَّهُ لِشَيْءٍ مَا أَذِنَ لِنَبِيٍّ حسن الصوت بِالْقُرْآنِ يَجْهَرُ بِهِ". (۳)

---

۱ - رواه الدارمي والحاكم.

۲ - رواه البخاري ومسلم واحمد.

۳ - رواه البخاري ومسلم وابوداود والنسائي.

له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: " الله هیڅ شي ته داسې غوږ نه دی ایښی لکه هغه پیغمبر ته یې چې ایښی دی، چې قرآن په ښکلي او لوړ غږ لولي".
نو له دې، چې یو څوک په ګړ ګړ قرآن کریم ولولي، نه پکې د تجوید خیال ساتي، نه یې د نورو آدابو خیال ساتي، د ثواب په ځای ګونا زیاتوي او یوائې ډېر لوستل یې مقصد وي؛ دا ترې ښه ده چې له هغې لږ ولولي خو په تجوید او آدابو یې ولولي.

د قرآن کریم نور فضیلتونه

د قرآن کریم ډېر زیات فضیلتونه دي او بیان یې د انسان له وسه دباندې دی، د مخکنیو بحثونو په ترڅ کې څه تېر شول او ځینې نور یې داسې په ګوته کوو:

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْمَاهِرُ بِالْقُرْآنِ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ وَالَّذِي يَقْرَأُهُ وَيَتَتَعْتَعُ فِيهِ وَهُوَ عَلَيْهِ شَاقٌّ فَلَهُ أَجْرَانِ». (۱)

له عائشې رضي الله عنها نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: " د قرآن په لوستلو کې ډېر برلاسی به لیکونکو، غزتمنو نېکانو ملائکو سره وي او

---

۱ رواه البخاري ومسلم.

څوک چې قرآن لولي، پکې نښلي او پرې سخت وي، نو هغه لپاره دوه بدلې دي".
معنی دا چې د قرآن کره لوستونکی ډېره لوړه مرتبه لري او هغه څوک، چې ښه يې نه شي لوستی او پکې بند بند کېږي نو هغه لپاره دوه بدلې دي: يوه د لوستلو او بله د سختۍ.
په حديث کې داسې راځي:
عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا حَسَدَ إِلَّا عَلَى اثْنَتَيْنِ: رَجُلٌ آتَاهُ اللهُ الْقُرْآنَ فَهُوَ يَقُومُ بِهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ، وَرَجُلٌ آتَاهُ اللهُ مَالًا، فَهُوَ يُنْفِقُ مِنْهُ آنَاءَ اللَّيْلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ". (۱)
له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: "له دوه کارونو پرته په نورو کې ارمان کول نشته: يو دا چې الله تعالی چا ته قرآن ورزده کړی وي او هغه يې د شپې او ورځې په لمونځونو کې لولي او تلاوت يې کوي. او بل هغه سړی، چې الله تعالی ورته مال ورکړی وي او هغه ترې شپه او ورځ په ښو کارونو کې لګښتونه کوي".
معنی دا چې يو څوک دا ارمان وکړي، چې کاشکې ما ته هم الله تعالی دغسې قرآن رازده کړی وای او تلاوت مې کولی. او دغسې مال يې راکړی وای، چې په ښو کارونو کې مې لګولی.

۱ - رواه البخاري ومسلم.

حسد کينې ته ويل کېږي او کينه کول ډېر ناوړه خوی دی.
خو حسد په دوه ډوله دی: يو دا چې څوک د يو چا خوشحالي او نعمت وګوري او دا ووايي، چې کاشکې د هغه دا خوشحالي له منځه لاړه شي او ماته راکول شي. دا ناروا حسد دی او لويه ګونا ده. بل ډول حسد دا دی، چې د چا خوشحالي او نعمت وګوري، نو ووايي، چې په ده دې الله تعالى دا پېرزو کړي او ماته دې هم راکړي، يا يې زړه کې راتېر شي، چې کاشکې ما هم همداسې درلودی. دا ډول حسد روا دی او دې ته " غِبطه" ويل کېږي. نو له همدې کبله يې ما په ارمان کولو تعبير وکړ.

په بل حديث کې د قرآن کريم په فضيلت کې داسې راځي:

عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ».(١)

له عثمان بن عفان رضى الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: " په تاسو کې هغه څوک غوره دی، چې قرآن يې زده کړ او نورو ته يې هم وښود".

په بل حديث کې داسې راځي:

عَن أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ إِذَا رَجَعَ إِلَى أَهْلِهِ، أَنْ يَجِدَ فِيْهِ ثَلَاثَ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ؟

---

١ - رواه البخاري.

قُلْنَا: نَعَمْ. قَالَ: فَثَلَاثُ آيَاتٍ يَقْرَأُ بِهِنَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ، خَيْرٌ لَهُ مِنْ ثَلَاثِ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ".(١)

له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی، هغه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: " آيا ستاسو يو څوک دا خوښوي، چې کله خپل کور ته ستون شي، نو درې بلاربې لويې څربې اوښې پکې ومومي؟" مونږ وويل: هو. هغه وفرمايل: " په تاسو کې چې يو څوک په لمانځه کې درې آياتونه ولولي؛ دا ورته له درې بلاربو لويو څربو اوښو نه غوره دي".

په بل حديث کې داسې راغي:

عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: قَال رسولُ الله صلى الله عليه وَسَلَّمَ: "مَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ مَثَلُ الأُتْرُجَّةِ، رِيحُهَا طَيِّبٌ وَطَعْمُهَا طَيِّبٌ، وَمَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِي لا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ مَثَلُ التَّمْرَةِ لا رِيحَ لَهَا وَطَعْمُهَا حُلْوٌ، وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي لا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الْحَنْظَلَةِ لَيْسَ لَهَا رِيحٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِي يقرأ القرآنَ مثل الريحانة ريحها طيب وطعمها مُرٌّ ".(٢)

له ابو موسی رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: "هغه مؤمن چې قرآن لولي؛ مثال يې د هغه ترنج يا چکوترې غوندې دی، چې هم يې بوی ښه دی او هم خوند. او هغه مؤمن چې قرآن نه لولي؛ مثال يې د خورما غوندې دی، چې بوی نه لري او خوند يې

١ - رواه مسلم وابن ماجه واحمد والبزار والبخاري فی القراءة خلف الامام والبيهقي فی شعب الايمان.

٢ - رواه البخاري ومسلم.

خوږ دی. او هغه منافق چې قرآن نه لولي مثال يې د مړغونې غوندې دی، چې بوی نه لري او خوند يې تريخ دی . او هغه منافق چې قرآن لولي؛ مثال يې د کشمالي غوندې دی، چې بوی يې ښه او خوند يې تريخ دی".

په بل حديث کې د قرآن د ښوونې او تلاوت په هکله داسې راځي :

عَنْ عُقْبَةَ بْن عَامِرٍ قَالَ: خَرَجَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ فِي الصُّفَّةِ فَقَالَ: " أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنْ يَغْدُوَ كُلَّ يَوْمٍ إِلَى بُطْحَانَ أَوِ الْعَقِيقِ فَيَأْتِيَ بِنَاقَتَيْنِ كَوْمَاوَيْنِ زَهْرَاوَيْنِ فِيْ غَيْرِإِثْمٍ وَلَاقَطْعِ رَحِمٍ ؟ " قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ! كُلُّنَا يُحِبُّ ذَلِكَ، قَالَ: " أَفَلَا يَغْدُو أَحَدُكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَيَتَعَلَم آيَتَيْنِ مِنْ كِتَابِ اللهِ خَيْرٌ لَهُ مِنْ نَاقَتَيْنِ، وَثَلَاثٌ خَيْرٌ لَهُ مِنْ ثَلَاثٍ، وَأَرْبَعٌ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَرْبَعٍ، وَ مِنْ أَعْدَادِهِنّ مِنَ الْإِبِلِ".(۱)

له عقبه بن عامر رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي، چې موږ صُفې (نبوي جومات سره نښتې چوترې) کې وو، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم راوواته، نو ويې فرمايل:

" په تاسو کې څوک دا خوښوي، چې هر سهار شېلې يا عقيق (ځايونو) ته لاړ شي او دوه د لويو بوکانونو والا ښکلې اوښې راولي؛ خو نه يې په ګونا (حرامې) ګټلې وي او نه د خپلوۍ په شلولو؟ ". موږ وويل : ای د الله پېغمبره! موږ ټول دا خوښوو. هغه وفرمايل : " نو آيا په تاسو کې څوک په سهار کې جومات ته نه ځي، چې د الله د کتاب دوه

۱ - رواه مسلم وابوداود واحمد.

آیاتونه یا نورو ته وښيءَ او یا یې ولولي، نو دا ورته له دوه اوښو غوره دي او درې آیاتونه له درې اوښو غوره دي، څلور له څلورو غوره دي او په همدې شمېر چې هر څومره آیاتونه وي؛ له همغومره اوښانو نه غوره دي".

په بل حدیث کې داسې راځي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللَّهِ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ، وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ، إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمْ السَّكِينَةُ، وَغَشِيَتْهُمْ الرَّحْمَةُ، وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ، وَذَكَرَهُمُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ فِيمَنْ عِنْدَهُ، وَمَنْ بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ، لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ ". (۱)

له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی هغه وایي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "د الله له کورونو (جوماتونو) نه چې په کوم کور کې څه وګړي راټول شي، د الله تعالی کتاب لولي او په خپلو منځو کې پرې ځانونه پوهوي، نو په هغوی داډ راښکته کېږي، لورېنه پرې خپرېږي، ملائک پرې راټولېږي او الله تعالی یې په هغو ملائکو کې یادوي، چې له هغه جل جلاله سره دي. او څوک چې عمل سست کړي؛ نسب یې نه شي تېزولی".

مطلب دا چې که څوک په نېکو اعمالو نه کولو له خیر او ثواب نه محروم شي، نو نسب ورته هیڅ ګټه نه رسوي.

په بل حدیث کې د قرآن کریم فضیلت داسې څرګندېږي:

---

۱ - رواه مسلم والترمذي وابوداود وابن ماجه واحمد والبزار والطبراني والبيهقي في شعب الايمان وابن حبان.

عَنْ عُمَر بن الخطاب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللَّهَ يَرْفَعُ بِهَذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا، وَيَضَعُ بِهِ آخَرِينَ". (۱)

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: " د دې کتاب (قرآن) له کبله الله تعالی ډېر قومونه لوړوي او نور ډېر پرې ټيټوي".

معنی دا چې کومو خلکو دا قرآن زده کړ، نورو ته يې ښوده، عمل يې پرې کاوه، د قانون، شريعت او د ژوند د کړنلارې په توګه يې پلی (نافذ) کړی ؤ، نو الله تعالی يې د همدې قرآن له کبله لوړوي او عزت ورکوي. او چا چې شا ته وغورځاوه او د قرآن د غوښتنو په خلاف روان ؤ، نو الله تعالی هغوی خواروي او سپکوي. لکه چې مونږ يې خپلو واقعيتونو او د تاريخ په اوږدو کې ګورو.

په بل حديث کې داسې راځي:

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُوْ لُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ: إِقْرَأْ، وَارْتَقِ، وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا، فَإِنَّ مَنْزِلَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَؤُهَا". (۲)

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: "(قيامت کې به) د قرآن خاوند ته ويل کېږي: لوله او پورته ځه، او داسې کره

---

۱ - رواه مسلم وابن ماجه واحمد والبزار والبيهقي فى السنن وابو عوانة والطبري.

۲ - رواه الترمذي وابوداود واحمد والنسائي وابن ابي شيبة وابن حبا ن.

يې لوله لکه دنيا کې دې چې کره لوسته، ځکه چې ستا مرتبه او کور هغه آخري آيت سره دی، چې ته يې لولې".
سبحان الله! چې څوک په خوند او تجويد قرآن لولي او په همدې حالت کې پورته لوړېږي او هسکېږي، نو د هغه چا مرتبه او کور به څومره لوړوي، چې ټول قرآن يې ياد وي او عمل يې پرې کړی وي؟!!!.
د هغه چا په حال افسوس دی، چې د هغه په زړه او حافظې کې د قرآن هيڅ برخه نه وي. د همداسې چا په هکله په حديث کې داسې راځي :
عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ الَّذِي لَيْسَ فِي جَوْفِهِ مِنَ الْقُرْآنِ شَيْءٌ كَالْبَيْتِ الْخَرِبِ ".(۱)
له عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي : "هغه څوک چې د هغه په درونې (زړه او حافظې) کې د قرآن هيڅ برخه نه وي؛ هغه د ړنګ کور د کنډر او کنډوالې غوندې دی".
د قرآن کريم د يو يو حرف د لوستلو په فضيلت کې بل حديث داسې راغلی دی :
عَنْ عَبْدِاللَّهِ بْنِ مسعود قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلم: "من قرأ حرفًا من كتاب الله فله به حسنة، والحسنة بعشر

۱ - رواه الترمذي والدارمي واحمد والحاكم والطبراني والبيهقي فى شعب الايمان.

أمثالها، لا أقول: (الم) حرف، ولكن: ألف حرف، ولام حرف ، وميم حرف".(۱)

له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : "چا چې د الله له کتاب (قرآن) نه يو حرف ولوست، نو د هغه لپاره د دغه حرف له کبله يوه نېکي ګڼل کېږي او يوه نېکي يو په لسه ګڼل کېږي؛ زه دا نه وايم، چې (الم) يو حرف دی، بلکې الف يو حرف دی، لام بل حرف دی او ميم بل حرف دی".

سبحان الله! الله تعالی په خپلو بندګانو څومره لوروونکی دی! په څومره اسانه کار څومره لويې بدلې ورکوي! د هغه چا په حال افسوس دی، چې د الله تعالی له دې لويو پېرزوينو څخه محروم وي.

د قرآن کريم تر ټولو ښه تلاوت په لمانځه کې دی او بيا تر ټولو ښه د شپې په تهجدو کې دی، چې له هر ډول ريا نه پاک او له الله تعالی سره د اړيکو د جوړولو وخت دی، په حديث کې داسې راغلي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " تَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ فَاقْرأوهُ، فَإِنَّ مَثَلَ الْقُرْآنِ لِمَنْ تَعَلَّمَ فَقَرَأَ وَقَامَ بِهِ كَمَثَلِ جِرَابٍ مَحْشُوٍّ مِسْكًا يَفُوحُ رِيحُهُ كُلَّ مَكَانٍ، وَمَثَلُ مَنْ تَعَلَّمَهُ فَرَقَدَ وَهُوَ فِي جَوْفِهِ كَمَثَلِ جِرَابٍ، أُوكِيَ عَلَى مِسْكٍ ".(۲)

---

۱ - رواه الترمذي والدارمي والبخاري فی التاريخ والحاکم والبيهقي فی شعب الايمان والطبراني وعبد الرزاق.

۲ - رواه الترمذي والنسايي وابن ماجه وابن حبان والحاکم والبيهقي فی شعب الايمان وابن خزيمة والبزار.

له ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "قرآن زده کړئ او ویې لولئ ځکه، چې چا قرآن زده کړ، ویې لوسته او د لوستو لپاره یې د شپې راپاڅېد او په لمانځه ودرېد، د هغه مثال د هغې کڅوړې غوندې دی، چې له مښکو ډکه وي او بوی یې هرې خواته درومي. او چا چې قرآن زده کړ، قرآن یې یاد ؤ او وېده شو (تهجدو ته راپانه څېد)؛ د هغه مثال د هغه ګوډي غوندې دی، چې له مښکو نه ډک وي، خو خوله یې کلکه تړلې وي".

د قرآن کریم ډېرې غوښتنې دي او یوه یې دا هم ده، چې مسلمان د شپې راپاڅېږي، د الله تعالی د رضا لپاره خوږ خوب پرېږدي، په تهجدو ودرېږي او د الله تعالی له کتاب (قرآن کریم) نه پکې څه ولولي.

د ختم برید

په دې کې شک نشته، چې قرآن کریم څومره ډېر ولوستل شي او څومره ډېر ختمونه یې و شي، نو همغومره یې اجرونه او ثوابونه هم ډېر دي؛ خو د هر عمل لپاره اخلاص او اتباع اړین شرطونه دي، چې یو عمل به یوازې د الله تعالی د رضا لپاره وي او د پیغمبر په لار ښوونه به وي.

زمونږ د زماني دا رواجي ختمونه په اسلام کې نشته، چې خلک راټولوه اوختمونه پرې کوه.

له خپلو آدابو سره پخپله دقرآن کريم تلاوت اړين اودثواب کاردی؛ خو تلاوت او د قرآن کريم ختم له درې ورځو نه په کمو کې ناسم دی. په حديث کې داسې راځي :

عن عبد الله بن عمرو أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لم يفقه من قرأالقرآن فى أقل من ثلاث".(۱)

له عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما نه روايت دی، چې رسو الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: "چا چې له درې ورځو او شپو نه په کمو کې قرآن کريم ولوست، نو هغه نه دی پوهېدلی (ناپوهه دی)".

نو څرګنده شوه، چې د قرآن کريم د لوستلو او ختمولو لپاره تر ټولو کمه موده درې ورځې يا درې شواروزه دي؛ له دې په کمو کې ختمول يې د ناپوهانو کار دی. او دا ځکه چې د قرآن کريم تلاوت يوازې دا نه دی، چې په ګړ ګړ يې ولولې. بلکې د قرآن کريم کره لوستل، معنا ته يې فکر کول ـ که پرې پوهېده ـ او په ادب لوستل مطلوب دي، او له درې ورځو په کمو کې دا کار نه شي کېدی. نو هغه خلک چې د (شبينې) په نامه په يوه شپه کې قرآن کريم ختموي؛ دا د ناپوهانو کار دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لارښوونې نه سر غړونه ده.

---

۱ - رواه الترمذي و ابوداود و الدارمي و ابن ماجه و احمد و الطيالسي.

په بل حديث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "ليس منا من لم يتغن بالقرآن".(۱)

له ابوهريره رضى الله عنه نه روايت دى، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "چا چې قرآن په ښکلي غږ و نه لوست؛ هغه له مونږ څخه نه دى".

د ښکلي غږ مطلب دا نه دى، چې هر څوک دې د قاري برکت الله او قاري عبدالباسط غوندې ولولي؛ خو هر څوک بايد له خپل وس سره سم په تجويد او کره غږ او شوق قرآن کريم ولولي. همدارنګه د غږ را ښکل هم ښکلا ده؛ خو بې بريده نه.

په حديث کې داسې راځي:

عن قتادة قال: "سئل أنس كيف كان قراءة النبى صلى الله عليه وسلم؟ فقال: كانت مداً مداً ثم قرأ بسم الله الرحمن الرحيم يمد ببسم الله و يمد بالرحمن و يمد بالرحيم". (۲)

له قتاده رضي الله عنه نه روايت دى، چې له انس رضي الله عنه نه پوښتنه وشوه، چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم قرائت څرنګه ؤ؟؛ هغه وويل: "د هغه قرائت را ښکلى ؤ. بيا يې بسم الله الرحمن الرحيم ولوستله، نو په (بسم الله) به يې هم غږ اوږداوه، په (الرحمن) به يې هم اوږداوه او په (الرحيم) به يې هم را ښکود.

---

۱ - رواه البخاري.

۲ - رواه البخاري.

له غږ راښکودلو نه مطلب دا نه دی، چې بې ځایه به یې اوږده اوږده مدونه کول، بلکې په ګړ ګړ او زر زر به یې نه لوست، ښه په ارام او راښکلي اوږد، ښکلي غږ به یې لوست.

په قرآن خوړل کول

د قرآن په تلاوت خوړل کول او اجر اخیستل ناروا دي.
دا رواجي ختمونه او بیا پرې خوراکونه کول او پیسې اخیستل په اسلام کې نشته. په یو حدیث کې داسې راځي:
عن عمران بن حصين أنه مر على قاص يقرأ ثم يسأل؛ فاسترجع ثم قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: "من قرأ القرآن فليسأل الله به فإنه سيجئ أقوام يقرأون القرآن يسألون به الناس". (۱)
عمران بن حصین رضی الله عنه په یو کیسه بول او واعظ تېر شو، چې قرآن یې لوسته او بیا یې له خلکو نه سوال کاوه. نوعمران " انالله وانا الیه راجعون " وویل او بیا یې وویل: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اور بدلي دي، چې فرمایل یې:
"چا چې قرآن ولوست، نو الله تعالی نه دې پرې څه و غواړي، ځکه، داسې خلک به راشي چې قرآن به لولي او له خلکو نه به پرې سوال کوي".

---

۱ - رواه الترمذي و احمد و الطبراني فی الکبیر و البیهقی فی شعب الایمان.

په بل حديث کې داسې راځي :

عن بريدة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "من قرأ القرآن يتأكل به الناس جاء يوم القيامة ووجهه عظم ليس عليه لحم" (۱)

له بريده رضی الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: "چا چې قرآن ولوست او له خلکو نه يې پرې خوراک کاوه او غوښته، نو د قيامت په ورځ به راشي او مخ به يې هډوکی وي، غوښه به پرې نه وي".

زمونږ په وګړو کې چې کوم رواجي ختمونه دي، چې ملايان او طالبان راټول کړي او بيا يوه يوه يا دوه دوه سيپارې ورکړي؛ څوک يې ولولي او څوک نه . دا خو که خوړل پرې وشي او که نه، ناروا عمل او بدعت دی، په دې خلک د قرآن له لوستلو غافله شوي دي. هر څوک بايد پخپله د قرآن تلاوت د تل لپاره وکړي .

خو د قرآن په لوستلو بدل اخيستل او خوراک کول ناروا دي. او تدريس اوتعليم کولوباندې يې اجر او تنخا اخيستلو کې اختلاف دی؛ دامام ابوحنيفه ،عبد الله بن شقيق، اسود بن ثعلبه، ابراهيم نخعي، عبد الله بن يزيد ، قاضي شريح اوحسن بن حيي رحمهم الله په مذهب ناروا او د امام مالک، امام شافعي، امام احمد رحمهم الله او د ځينو نورو په مذهب

---

۱ - رواه البيهقي فی شعب الايمان و فی الباب احاديث اخری اخرجها احمد و البزار و ابويعلی و ابو عبيد فی فضائل القران.

روا دي . خو که رواهم شي؛ لږ تر لږه له مروئت خلاف هرومرو دي او د تېرو او لاندې حديثونو او نصوصو نه يې ناروا والی معلومېږي، چې ځينې يې ضعيف دي؛ خو په ټوله کې د حسن له درجې ښکته نه دي او احوطه هم همدا ده .

انبياؤ عليهم السلام به د اسلام په رسولو او تعليم څه اجر او مزدوري نه اخيسته، نوح عليه السلام خپل قوم ته ويلي وو :

"وَمَاأَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍإِنْ أَجْرِيَ إِلَّاعَلَى رَبِّ الْعَالَمِيْن" [1]

(زه له تاسو د دې دين په رسولو کومه بدله نه غواړم؛ زما بدله يوازې په الله ده).

"لاأَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مَالًا". [2]

(زه له تاسو د دې دين په رسولو کوم مال نه غواړم).

"فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَمَاسَأَلْتُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ " [3]

(که تاسو سرغړونه وکړه، نو ما له تاسو په دې دين کومه بدله نه ده غوښتې).

هود عليه السلام هم عاديانو ته ويلي وو :

"وَمَاأَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍإِنْ أَجْرِيَ إِلَّاعَلَى رَبِّ الْعَالَمِيْن". [4]

(زه له تاسو د دې دين په رسولو کومه بدله نه غواړم، زما بدله يوازې په الله ده).

صالح عليه السلام هم ثموديانو ته ويلي وو:

"وَمَاأَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍإِنْ أَجْرِيَ إِلَّاعَلَى رَبِّ الْعَالَمِيْن". [1]

---

[1] - سورة الشعراء : ۱۰۹

[2] - سورة هود: ۲۹

[3] - سورة يونس: ۷۲

[4] - سورة الشعراء: ۱۲۷

(زه له تاسو ددې دين په رسولو کومه بدله نه غواړم، زما بدله يوازې په الله ده).

لوط عليه السلام هم خپل قوم ته ويلي وو :

"وَمَاأَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍإِنْ أَجْرِيَ إِلَّاعَلَى رَبِّ الْعَالَمِيْن". [2]

(زه له تاسو ددې دين په رسولو کومه بدله نه غواړم، زما بدله يوازې په الله ده).

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته الله تعالى فرمايي :

"قُلْ لَاأَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ". [3]

(ورته ووايه چې زه ددين اوقرآن په رسولو له تاسوکومه بدله نه غواړم).

"قُلْ مَاسَأَلْتُكُمْ مِنْ أَجْرٍ فَهُوَلَكُمْ إِنْ أَجْرِى إِلَّا عَلَى اللهِ". [4]

(ورته ووايه : کـه مالـه تاسوکومه بدلـه غوښتې وي، نوهغـه دې ستاسو وي، زما بدله يوازې په الله ده).

په يو روايت کې داسې راځي :

عن أبى بن كعب قال: "كنت أختلف إلى رجل مكفوف أقرئه القرآن فكنت إذا أقرئته دعالى بطعام فأكلت منه. فحاك فى نفسى منه شئ فأتيت رسول الله صلى الله عليه وسلم فأخبرته فقلت: يا رسول الله! إنى آتى فلان بن فلان فأقرئه القرآن فيدعولي بطعام لاأأكل مثله فى المدينة. فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن كان ذلك الطعام طعامه و طعام أهله الذي يأكلون فكل، و إن كان طعاما يتّحفك به فلاتأ كل. قال! فأتيته نحوا مماكنت آتيه فلما فرغ

---

[1] - سورة الشعراء: ۱۴۵

[2] - سورة الشعراء: ۱۶۴

[3] - سورة الانعام : ۹۰ فرقان :۵۷ ص: ۸۶ .

[4] - سورة سبا:۴۷

قال: ياجارية ! هلمي طعام أُخي. فقلت له: أهذا طعامك و طعام أهلك الذي تأ كل ويأ كلون؟ فقال: لاولكنى أتحفك به. قال: فإن رسول الله صلى الله عليه وسلم قدنهاني عنه". (۱)

له ابی بن کعب رضی الله عنه نه روايت دی هغه وايي: زه يو رانده سړي ته ورتلم اوقرآن مې ورته لوسته، کله به مې چې قرآن ورته ولوست، نو خواږه به يې راته راوغوښتل او تري وبه مې خوړل، زما په زړه کې په دې هکله شک پيدا شو؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته لاړم او په دې خبرې مې خبر کړ. ورته ومې ويل: ای د الله پېغمبره ! زه د فلاني زوی فلاني ته ورځم، قرآن ور زده کوم، هغه راته داسې خواږه را غواړي، چې په مدينې کې زه د هغې په څېر خواږه نه خورم. رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمايل: "که دا خواږه د هغه او د هغه د کهول داسې خواږه وي، چې هغوی يې خوري، نو ويې خوره او که داسې خواږه وي، چې تا ته يې ډالۍ کوي، نو مه يې خوره" هغه وايي: زه بيا هغه ته په همغه وخت ورغلم، چې مخکې پکې ورتلم. کله چې هغه د قرآن له زده کړې فارغ شو، نو ويې ويل: وانجلۍ! زما د ورور خواږه راوړه. ما ورته وويل: آيا دا ستا او ستا د کهول هغه خواږه دي، چې ته او هغوی يې خورئ؟ هغه وويل: نه بلکې دا تاسو ته ډالۍ در کوم. ابی ورته وويل: (نو بيا يې

---

۱ - رواه ابن ابي شيبة و الاثرم فی سننه و ذکره الشوکانی فی النيل و القاسم بن سلام في فضائل القران.

نه خورم) ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم زه ترې منع کړی یم".

د دې حدیث معنی داده، چې که د یوملمه په توګه یې ورته عادي خواړه راوړل، نو دا د قرآن د لوستلو په بدل کې نه دي او ودې یې خوري؛ خو که د قرآن د لوستلو په بدل کې ورته ځانګړي خواړه تیار کړي، نو دا بیا د قرآن د لوستلو په بدل کې دي او خوړل یې ناروا دي.

په بل حدیث کې داسې راځي :

عن عبادة بن الصامت رضی الله عنه قال: "کان رسول الله صلی الله علیه وسلم إذا قدم علیه مهاجر دفعه إلی رجل منایعلمه القرآن فدفع إِلَیَّ رجلا فکنت أُقرئه القرآن؛ فأهدی إلیَّ قوسا فأُخبر بذلك النبیُّ صلی الله علیه وسلم فقال: "جمرة بین کتفیك تقلد تها"(۱)

له عباده بن صامت رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به چې کله کوم نوی مهاجر راغی، نو له مونږ څخه یو چا ته به یې وسپاره، چې قرآن ور زده کړي . ماته یې هم یو سړی را وسپاره؛ ما به قرآن ور زده کاوه، نو هغه راته یوه لیندۍ را ډالۍ کړه. نبی کریم صلی الله علیه وسلم چې کله په دې خبر شو؛ ویې فرمایل : "دا لیندۍ ستا د ولو په منځ کې یوه سکروټه ده، چې تا په غاړه کړې ده".

۱ - رواه ابوداود و احمد والحاکم وصححه و البیهقی فی السنن و الشاشي فی مسنده.

سلف صالحینو رضی الله عنهم ورحمهم الله به د قرآن په لوستلو، تدریس او لمانځه بدل اخیستل بد ګڼل.

په یو روایت کې داسې راځي:

"أمر مصعب بن الزبير عبدالله بن معقل أن يصلى بالناس فى شهر رمضان فلما أفطر، أرسل اليه بخمسمائة درهم و حلة فردها و قال: "ما كنت لآخذ على القرآن أجرا".(۱)

مصعب بن الزبیر عبدالله بن معقل ته امر وکړ، چې د رمضان په میاشت کې خلکو ته لمونځ ور کړي. کله چې اختر شو، نو پنځه سوه درهمه او یوه جوړه جامې یې ورته راولیږلې، هغه بېرته ورستنې کړې او ویې ویل: "زه د قرآن په لوستلو بدل او مزدوري نه اخلم".

د قرآن حافظ په قرآن پوه او د قرآن لوستونکی باید له خلکو بې پروا او مستغني وي. قرآن یو پیاوړی او د عزت کتاب دی نو پرې ګروهمن، عالم او لوستونکی هم باید پتمن، مستغني او له خلکو بې پروا وي.

په یو حدیث کې داسې راځي:

عن سعيد بن أبى سعيد قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "ليس منا من لم يتغن بالقرآن" قال أبو عبيد: قوله: (من لم يتغن) التغنى هو الإستغناء والتعفف عن مسألة الناس واستئكالهم بالقرآن وأن يكون فى نفسه بحمله القرآن غنيا وإن كان من المال معدما". (۲)

---

۱ - اخرجه سعيد بن منصور و ابن ابي شيبة و قاسم بن سلام فى فضائل القران.

۲ - اخرجه ابوعوانة فى مسنده و القاسم بن سلام فى فضائل القران.

د ابوسعید له زوی: سعید نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: "چا چې په قرآن ځان غني ونه ګانه نو هغه له مونږ څخه نه دی".

ابو عبید وایي: د "من لم یتغن" معنی دا ده، چې تغني استغناء او له خلکو څخه د سوال کولو او په قرآن له خوراک کولو نه ځان ژغورلو ته ویل کېږي .او دې ته ویل کېږي، چې که مال ورسره نه وي؛ هم د قرآن د زده کړې او علم له کبله باید په خپل زړه کې ځان غني وګڼي ".

(یتغن) (ښکلي غږباندې ویلو) ته هم ویل کېږي لکه مخکې چې تېر شول اودابوعبید دامعنی هم علماؤ ترې اخیستې ده، نودواړه سمې دي .

څوک چې په قران اجر اخیستل روا ګڼي، هغوي د بخاري او نورو په هغه رویت دلیل نیسي، چې څه صحابه کرام په سفر کې وو؛ د یو کلي خلکو مېلمستیا ورنه کړه؛ بیا د کلیوالو یوکس څه شي وچیچه؛ صحابه و په دې شرط دم کړ، چې څه مېږې یې ورکړې او بیا چې کله مدینې ته راغلل او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې کیسه وکړه، نو هغه ورته و فرمایل: " اِنّ اَحَقّ مَا اَخَذْتُمْ عَلَیْهِ اَجْرًا کِتَابُ الله ".

" بې شکه ډېر حقدار، چې تاسو پرې اجر اخیستی؛ د الله کتاب دی ".

په دې روايت تړولو تلاوتونو، تعليم ..... باندې اجر اخيستل روا ګڼل ناسم دي. يو دا چې دا خاص واقعه وه،د هغه کلي والاو مېلمستيا نه وه ورکړې، چې د صحابه و حق و او دايې ورته ويلي هم وو؛ دا ځکه درڅخه اخلو، چې مونږ ته مو ډوډۍ رانه کړه، بله دا چې دا د قران په لوستلو نه بلکه د ناروغ په عافيت وه، په نورو دمونو او تلاوت له رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه و نه دا هيڅ نه ده ثابته،چې هغوی دې پرې اجر اخيستى وي او دکانداري دې يې ترې جوړه کړې وي. په تلاوت خو ټول علماء اجر اخيستل نا روا بولي. شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله په (احاديث القصاص) کې د مذکور حديث په معنا کې وايي.

فلهذا فسّر اكثر العلماء الحديث بهذا، لا باخْذ الاجر على نفس التلاوة، فان هذا لَا يجوز بالاِجماع، وفي المعلم نزاع.

(له دې حديث نه اکثرو محدثينو همدا معنى اخيستې، چې دا د عافيت په بدل کې وه، د تلاوت په بدل کې د اجر اخيستل نه وو، ځکه ؛ په دې د علماو اجماع ده،چې دقران په تلاوت اجر اخيستل نارودي او په تعليم کې اختلاف دی).

بله داده،فقهي قاعده داده، چې کله د (محرم) (حراموونکي) او (مبيح) (حلالوونکي) ترمنځ تعارض راشي، نو (محرم) مخکې ګڼل کېږي، نو دلته هم د حرام

ګڼلو دليلونه مقدم دي. بله داده، چې د اجر نه اخيستل ډېره د احتياط خبره ده او هيڅوک د اجر اخيستل اړين نه بولي.
په يو حديث کې داسې راځي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: " دع ما يريبك إلي ما لا يريبك ".[1]
" څه دې چې په شک کې غورځوي؛ هغه څه ته يې پرېږده، چې په شک کې دې نه غورځوي ".
نو په قران اجر اخيستل شکي اونه اخيستل بې شکه خبره ده. همدارنګه بله قاعده داده،چې: ﴿ وما تردد بين السنة والبدعة فترکه اولى﴾. ﴿ کوم کار چې د سنت او بدعت ترمنځ شکي شو، نو پرېښودل يې غوره دي﴾.
په بل حديث کې داسې راځي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: " الْحَلاَلُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ وَبَيْنَهُمَا مُشَبَّهَاتٌ لاَ يَعْلَمُهَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ فَمَنِ اتَّقَى الْمُشَبَّهَاتِ؛ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ ، وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ كَرَاعٍ يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى يُوشِكُ أَنْ يُوَاقِعَهُ ".[2]
" حلال څرګند دي، حرام څرګند دي او ددې دواړو ترمنځ شکي شيان او کارونه دي، چې ډېر خلک پرې نه پوهېږي؛ چاچې له شکي کارونو ځان وساته، نو هغه بې شکه خپل دين او پت له ککړتيا څخه وژغورل. او چا چې شکي

۱ - رواه الترمذي والنسائي واحمد وابن حبان والحاکم والبيهقي والبزار والطيالسي والطبراني والدارمي و ابويعلي.و عبدالرزاق وابن الاعرابي في معجمه.
۲ - رواه البخاري ومسلم و وأبوداود والترمذي والنسائي وابن ماجة وأحمد وابن حبان والبيهقي والطبراني والدارمي وأبوعوانة وابن أبي شيبة والطحاوي وابن عساکر.

کارونه وکړل؛ هغه دهغه شپون په څېر دی، چې د ساتل شوي ځای او کښت په خواکې خپله رمه پیایي؛ نږدې ده، چې رمه یې پکې ورګډه شي ".

نو په قران اجر اخیستل که فرضا حرام نه شي؛ لږ تر لږه شکي خو خامخا دي. او ددې حدیث مطابق یې پرېښودل غوره دي.

د دې ټولو دلیلونو په رڼا کې دا ویلی شو، چې په قران هر ډول اجر اخیستل پرېښودل په کار دي.

د ډېرو جهر

کله چې دوه یا ډېر کسان وي او ټول تلاوت کوي، نو باید په پټه اوسري یې وکړي؛ په دې وخت کې په لوړ غږ لوستل د ګډوډۍ لامل او د قرآن کریم د تلاوت له آدابو مخالفت دی، ځکه چې کله په لوړ غږ قرآن کریم لوستل کېږي او څوک یې اوري نو باید غوږ ورته کېدي او چپ شي.

الله تعالی فرمایي:

(وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهُ وَاَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ) [1]

۱- سورة الأعراف: ۲۰۴

" او کله چې قرآن لوستل کېږي، نو غوږ ورته کېدئ او چپ شئ، ښايي چې لورېنې در باندې وشي ".

نو څرګنده شوه، چې کله قرآن کريم په لوړغږ لوستل کېږي، نو بايد غوږ ورته کېدو او چپ شو. همدا غوږ ايښودل او چپ کېدل ددې لامل جوړېږي، چې مونږ د الله تعالى د لورېنو وړ ګرځېږو، او که غوږ مو کې نه ښود، نو بيا مو ګونا وکړه.

په دغه اوسنيو رواجي بدعي ختمونو کې، چې ټول په جهر لګيا وي او شور زوږ يې جوړ کړی وي دا ناروا دي.

همدارنګه چې څوک په دې پوهېږي، چې زما په لوړ غږ څوک له خوبه وځي، يا ورته څوک غوږ نه ږدي، يا څوک تلاوت يا مطالعه کوي او يا نور لاملونه وي، نو بيا په لوړ غږ تلاوت ګونا او د ثواب پر ځای د عذاب لامل جوړېږي.

په لوړ غږ تلاوت يوائې هغه وخت ښه دی، چې چا ته ترې زيان اوکړاو نه جوړېږي. په حديث کې داسې راځي:

عن ابن عمر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " إن المصلى يناجي ربه فلينظر ما ذا يناجيه به؟ ولا يجهر بعضكم على بعض بالقرآن". (۱)

له عبدالله بن عمر رضى الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: " لمونځ کوونکی له

۱ - رواه احمد و البزار و النسائی و الطبراني فی الکبيرو الاوسط و ابن خزيمة و البيهقی فی شعب الايمان والربيع بن حبيب فی مسنده و ابن ابی شيبة و عبدالرزاق.

خپل رب سره په راز کې وي، نو ودې ګوري، چې څرنګه راز ورسره کوي؟ او تاسو په خپلو منځو کې يو تر بله قرآن په زوره مه لولئ".

په دې حديث کې دوه مسالې څرګندې شوې:

۱) دا چې څوک په لمانځه ولاړ وي، نو هغه داسې دی لکه چې له الله تعالی سره راز کې پټې خبرې کوي، نو دا فکر دې وکړي، چې له الله تعالی سره څه ډول او په کومو آدابو راز او خبرې وکړي؟.

۲) دا چې دوه يا څو کسان په داسې ځای کې وي، چې سره يوځای وي يا يودبل غږ اوري، نو په زوره دې قرآن نه لولي، ځکه چې د قرآن له آدابو څخه دا هم ده، چې اوريدونکی به ورته غوږ نيسي او چې ټول يې په زوره لولي، نو دا ګډوډي او له آدابو څخه سرغړونه ده.

په عامو حالا تو کې چې پورتني لاملونه نه وي، نو بيا جهر او پټ دواړه روا دی؛ خو د پټ لوستلو ثواب زيات دی.

په يو حديث کې داسې راځي:

عن عقبة بن عا مرقال: "قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: " الجاهربالقرآن كالجاهربالصدقه والمسر بالقرآن كالمسر بالصدقه".(۱)

له عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: " په لوړ غږ د قرآن کريم

---

۱ - رواه الترمذي و ابوداود و النسائي و رواه الحاكم عن معاذ بن جبل.

لوستونکی دهغه چا غوندې دی، چې خیرات ښکاره ورکوي. او د قرآن پټ لوستونکی د هغه چا په څېر دی، چې پټ په پټه خیرات ورکوي".

نودا څرګنده ده، چې پټ په پټه خیرات ورکول زیات ثواب لري او ریا پکې نه وي، نو تلاوت هم همداسې دی.

په بل حدیث کې داسې راځي:

عن أبي هريرة عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: "سبعة يظلهم الله فى ظله يوم لاظل إلاظله: إمام عادل و شاب نشأ فى عبادة الله و رجل معلق قبله فى المساجد و رجلان تحابا فى الله إجتمعا عليه و تفرقا عليه ورجل دعته امرأة ذات منصب وجمال فقال:إنى أخاف الله ورجل تصدق بصدقة فأ خفاها حتى لاتعلم شماله ما تنقق يمينه و رجل ذكر الله خاليا ففاضت عيناه".(۱)

له ابو هريره رضی الله عنه نه روایت دی، چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

"اوه کسان دي، چې الله تعالی یې په هغه ورځ د خپل سیوري لاندې کېنوي، چې د هغه له سیوري پرته به هیڅ سیوری نه وي:

۱) یو عادل خلیفه دی.

۲) بل هغه ځوان دی، چې د الله تعالی په عبادت کې را لوی شوی وي.

۳) بل هغه سړی دی، چې زړه یې په جوماتونو پورې تړلی وي.

۱ - رواه البخاري و مسلم.

۴) بل هغه دوه کسان دي، چې د الله لپاره یې یو تر بله مینه کړې وي، په همدې مینې یو ځای شوي او په همدې سره جلا شوي وي.
۵) بل هغه سړی دی، چې د لوی شرف او ښکلا والا ښځې ځان ته راوباله او هغه وویل: زه له الله نه ویریږم.
۶) بل هغه څوک دی، چې کوم خیرات یې ورکړ او داسې پټ یې ورکړ، چې ښي لاس یې کوم شی ور کاوه، نو کیڼ لاس پرې خبر نه شو.
۷) بل هغه څوک دی، چې په یوائې او ګوښي ځای کې یې الله یاد کړ او له سترګو یې اوښکې وڅڅېدې".

په بل حدیث کې داسې راځي:

عن أبي ذر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:
" ثلاثة يحبهم الله و ثلاثة يبغضهم الله، فأماالذين يحبهم الله فرجل أتى قوما فسألهم بالله ولم يسألهم لقرابة بينه و بينهم فمنعوه فتخلف رجل بأعيانهم فأعطاه سرا لا يعلم بعطيته إلا الله والذى أعطاه. وقوم ساروا ليلتهم حتى إذا كان النوم أحب إليهم مما يعدل به فوضعوا رءوسهم فقام يتملقنى ويتلو آياتي. و رجل فى سرية فلقى العدو فهزموا فأقبل بصدره حتى يقتل أو يفتح له. والثلاثة الذين يبغضهم الله: الشيخ الزاني و الفقيرالمختال و الغنى الظلوم". (۱)

له ابوذر رضی الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

۱ - رواه الترمذي و النسائي و احمد و ابن حبان و ابن خزيمة و الحاكم.

"درې کسان دي، چې الله يې خوښوي او درې نور داسې دي چې د الله بد راځي. هغه کسان، چې الله يې خوښوي دا دي:

۱) يو هغه څوک، چې کله څه خلکو ته کوم کس راشي او څه ترې وغواړي؛ خو د الله په نامه يې وغواړي، د کومې داسې خپلوۍ په نوم يې و نه غواړي، چې د هغوی ترمنځ وي؛ خو خلک هيڅ ور نه کړي، نو يو سړی له خلکو ګوښې شي او داسې پټ ورته څه ور کړي، چې الله او دغه چا ته يې چې ورکړي، له دې دواړو پرته هيڅوک پرې خبر نه شي. (نو يو دغه ورکوونکی شخص شو).

۲) بل هغه څوک دی، چې کله څه خلک د شپې په سفر کې روان وي او داسې وخت راشي، چې خوب ورته له هر هغه څه غوره شي، چې ور سره انډول کېدی شي، نو سرونه کېدي (ويده شي) او هغه يو کس پاڅېږي، ما ته زاري او خوشامندې کوي او آياتونه مې لولي.

۳) بل هغه څوک دی، چې د مجاهدينو په يو ټولګي کې وي او له دښمن سره مخ شي، ملګري يې ماتې وخوري او دی دښمن ته سينه ور مخ کړي او تر هغه ور سره وجنګېږي، چې يا و وژل شي او يا فتح و مومي.

او هغه درې کسان، چې الله تعالی يې نه خوښوي او بد يې راځي دا دي:

۱) يو بوډا زنا کار يا د واده والا زنا کار.

۲) بل کبر جن فقیر (بې وزلی).
۳) بل ظالم مالدار.
د ابوذر او ابوهریره رضی الله عنهما دا دواړه حدیثونه مونږ ددې لپاره راوړل، چې مخکې د عقبه بن عامر په حدیث کې دا راغلي وو، چې (په لوړ غږ د قرآن لوستونکی د ښکاره خیرات ور کوونکي غوندې دی او پټ قرآن لوستونکی د پټ خیرات ور کونکي په څېر دی) هلته دا معلومه نه شوه، چې ښکاره خیرات ورکوونکی غوره دی، که پټ؟، نو ددې دواړو حدیثونو په مټ هغه ابهام لرې شو او څرګنده شوه، چې د پټ خیرات ورکوونکی ډېر غوره دی. نو کله چې د پټ خیرات ور کوونکی ډېر غوره دی او د پټ قرآن لوستونکی د پټ خیرات ورکوونکي غوندې دی، نو ثابته شوه، چې په پټه د قرآن لوستل ډېر غوره دي".
د همدې دواړو حدیثونو په رڼا کې ددې آیة تفسیر هم څرګند شو، چې الله تعالی فرمايي:
(إِنْ تُبْدُوا الصَّدَقَاتِ فَنِعِمَّا هِيَ وَإِنْ تُخْفُوهَا وَتُؤْتُوهَا الْفُقَرَاءَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمْ وَيُكَفِّرُ عَنْكُمْ مِنْ سَيِّئَاتِكُمْ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ) [1]
"که خیراتونه څرګندوئ، نو دا ښه ده او که پټوئ يې او بې وزلو ته يې ورکوئ، نو دا تاسو لپاره ډېره غوره ده، له تاسو

[1]- سورة البقرة: ۲۷۱

به ستاسو ګوناوې لرې کړي. او تاسو چې څه کوئ الله پرې ډېر ښه خبر دی".

نو ښکاره او پټ خیرات ورکول دواړه روا دي؛ خو په پټه یې فضلیت زیات دی. همدارنګه چې موانع او مخکني یاد شوي لاملونه نه وي، نو پټ او ښکاره د قرآن لوستل دواړه روا دي؛ خو په پټه یې فضلیت زیات دی، لکه چې دلیلونه یې مخکې تېر شول.

د الله تعالی په یادولو او د قرآن کریم په لوستلو او اورېدلو زړونه نرمېږي، رنېږي، رغېږي او ایمان پیاوړی کېږي.

الله تعالی فرمایي:

(إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ) [1]

"مؤمنان یواځې هغه خلک دي، چې کله الله یادشي، نو زړونه یې نرم شي او کله چې پرې د الله آیاتونه ولوستل شي، ایمان یې زیات کړي او په خپل رب ځانونه سپاري".

د دښمن ځمکې ته د قرآن کریم وړل

د اسلام د دښمنانو ځمکې ته د قرآن کریم وړل ناروا دي، او دا ځکه چې که د هغوی لاس ته ورشي، نو سپکاوی یې کوي.

[1] - سورة الانفال: ۲

په حديث کې په دې هکله داسې راځي:
عن ابن عمر قال: "نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم أن يسافر بالقرآن إلى أرض العدو". (۱)
له عبدالله بن عمررضي الله عنهما نه روايت دی هغه وايي: "رسول الله صلى الله عليه وسلم له دې نه منع کړې ده، چې د دښمن ځمکې ته له قرآن سره سفر وشي".
دارالحرب او د دښمن ځمکې ته که د قرآن کريم کومه نسخه يا نسخې يوړل شي، نو دا خطر لري، چې کېدی شي د دښمن لاس ته ور شي او هغوی يې توهين او سپکاوی وکړي.
خو که سل په سلو کې دا ډاډ ؤ، چې هغوی ته لاس ته نه ورځي، نو بيا خير دی او دا له ځينو نورو روايا تو نه معلومېږي.
مونږ چې کله د ګوانتانامو په امريکايي زندان کې وو، نو د امريکا پوځ مونږ هر يو ته يوه يوه نسخه قرآن کريم راکړ، ځينو بنديانو په دې پاسني حديث استدلال کاوه او ويل يې چې دا بېرته ورکوو او نه يې اخلو.
بيا ما ورته وويل چې په دې حديث ستاسو استدلال ناسم دی او دا ځکه، چې مونږ نه دي را وړي، دا خو امريکايانو خپله را وړي دي او مونږ ته يې راکړل، اوس له مونږ سره هم خوندي دي او هم محترم، که بېرته يې امريکايانو ته

۱ - رواه البخاري و مسلم.

ورکوو، نو دا احتمال شته، بلکې زمونږ باور دی، چې سپکاوی یې کوي. نو اوس یې بېرته ورکول ناروا دي، بلکه دا ده چې مونږ پکې تلاوتونه کوو، یادوو یې، درسونه او ترجمې یې کوو... نو ولې له دې خیره ځانونه محروم کړو؟ او قرآن کریم هغو دښمنانو ته ورانديږ کړو، چې زمونږ په مخکې یې سپکاوی کوي، نو پسې شا خو یې هرو مرو کوي.

نو که داسې شرائط او حالات راغلل؛ بیا یې له ځان سره ساتل ضروري او ورکول یې ناسم دي.

سپېڅلی کتاب

په دې کې هیڅ شک نشته، چې قرآن کریم ډېر محترم، د قدر او درناوي وړ، سپېڅلی، لوی او درون کتاب دی. څرنګه به د احترام وړ نه وي؟! دا خو د الله تعالی کتاب دی، تر ټولو اخري کتاب دی، له هر ډول بدلون، تحریف او لاسوهنې څخه ساتل شوی او خوندي کتاب او د الله تعالی کلام دی.

نو ددې احترام په مونږ فرض دی، سپکاوی کفر دی او درناوی یې د ایمان نښه ده. نو ځکه یې باید احترام وکړو او لوی یې وګڼو.

الله تعالی فرمايي:

(وَمَنْ يُعَظِّمْ حُرُمَاتِ اللَّهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَهُ عِنْدَ رَبِّهِ) [۱]

"او چا چې د الله محترم لوی وګڼل، نو دا د هغه لپاره د هغه له رب سره غوره ده".

(حرمات الله) کې هغه شيان او احکام ټول داخل دي، چې هغه محترم او د درناوي وړ دي.

امام بغوي رحمه الله وايي:

" قال الليث: حرمات الله: ما لا يحل إنتهاكها ".

"ليث رحمه الله وايي: (حرمات الله) ټول هغه څه دي، چې سپکاوی يې روانه دی".

جلالين هم همدا معنی کړې ده، علامه بيضاوي او نورو مفسرينو هم همدا معنی ترې اخيستې ده.

قاسمي رحمه الله وايي:

"الحرمات: جمع حرمة وهو ما لا يحل هتكه بل يحترم شرعا".

(حرمات) د (حرمة) جمع ده او دا هر هغه څه ته ويل کېږي، چې سپکاوی يې روا نه دی، بلکه په شريعت کې د هغه احترام کېږي.

نو (حرمات) کې ټول محترم شيان او د الله تعالی احکام داخل دي؛ دا ډېر عام او شامل لفظ دی، چې په ترڅ کې يې ډېر شيان پراته دي.

---

[۱]- سورة الحج: ۳۰

او د الله سبحانه و تعالی کتاب : قرآن کریم پکې ډېر محتـرم او د درناوي وړ دی .
د الله تعالی حرمات او شعائر ډېر دي او د هر یو د احترام خپلې لارې دي، هر څه چې احترام ګڼل کېږي او شریعت کې حرام نه وي؛ هغه احترام یې په کار دی . او کوم کار چې سپکاوی ګڼل کېږي؛ له هغو ځان ژغورل اړین دي .
د قرآن کریم احترام دا دی، چې پوخ ایمان او عقیده پرې ولرې، زده یې کړې، یاد یې کړې، تلاوت یې کوې، ترجمه او تفسیر یې زده کړې، تل یې په آیاتونو کې فکر کوې، په احکامو او اوامرو یې عمل کوې، له پولو او بریدونو یې نه تېرېږې، له الله تعالی پرته له هیچا پرې کومه بدله اومزدوري نه غواړې اونه اخلې او له سر غړونو یې ځان ساتې .
همدارنګه درس او تدریس یې کول، لیکل او چاپول یې، ساتل او وېشل یې، بلنه ورته ورکول..... دا ټول په احترام کې داخل دي. همدارنګه پوخ ور کول، دسمالونو او کڅوړو کې نغښتل، په اوداسه لاس ور وړل، ښکلول یې، په اوچت او د احترام په ځای کې یې ایښودل... دا ټول یې په احترام کې داخل دي .

همدارنګه په سپکه ورته کتل او بې احترامي یې ناروا او کفر دی. د پاسه پرې د څه شي او بل کتاب ایښودل ناوړه دي.

تکیه پرې لګول یا یې سرلاندې ایښودل او ناپاک ځای ته وړل ناروا دي.

دا او داسې نور ټول هغه کارونه، چې ناوړه وي؛ هغه قرآن سره کول ناروا دي او باید ځان ترې وژغورل شي. قرآن کریم خو د الله تعالی کتاب دی، چې الله تعالی له هر ډول بدلون څخه ژغورلی دی.

د الله تعالی د نورو کتابونو لکه: تورات، انجیل او زبور هم احترام کول فرض دي. اګر چې له قرآن پرته په دې نورو درې واړو کتابونو کې ګوتوهنې شوې دي، تحریف او بدلون پکې شوی دی... خو داسې آیاتونه هم پکې شته، چې په هغو کې بدلون نه دی شوی، نو د همغو له کبله یې احترام په کار دی.

مونږ په ټولو ایمان لرو، احترام یې کوو او سپکاوی ورته حرام ګڼو، په کومو کې چې تحریف نه دی شوی؛ د همغو له کبله یې مونږ باید احترام وکړو، اګر چې دا کتابونه د قرآن په راتګ منسوخ شوي دي؛ خو عمل پرې منسوخ دی احترام یې منسوخ نه دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم به ددې کتابونو احترام کاوه. په یو حدیث کې داسې راځي:

عن ابن عمر قال: "أتى نفر من يهود فدعوا رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى القف فأ تا هم في بيت المدراس، فقالوا: يا أبا القاسم ! إن رجلا منا زنى بإمرأة فاحكم بينهم، فوضعوا لرسول الله صلى الله عليه وسلم و سادة فجلس عليها ثم قال: إئتوني بالتوراة، فأتي بها، فنزع الوسادة من تحته ووضع التوراة عليها و قال: آمنت بك و بمن أنزلك..." (۱)

له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی هغه وايي: د یهودو څه کسان راغلل او رسول الله صلی الله علیه وسلم یې د " قُف " وادي ته وروغوښت، هغه دهغوی د تدریس ځای ته ورغی، یهودو وویل: ای دقاسم پلاره ! زمونږ یوسړي له یوې ښځې سره زنا کړې ده، نو ته ددوی تر منځ پرېکړه وکړه. هغوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو بالخت کېښود؛ هغه پرې کېناست، بیا یې وفرمایل: ماته تورات راوړئ، تورات راوړل شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم له ځان لاندې بالخت لرې کړ، تورات یې پرې کېښود او ویې فرمایل: " مایه تا اوپه هغه چا ایمان راوړی دی، چې ته یې نازل کړی یې."

دابوداودشرحې: " عون المعبود " کې داسې راځي:

" والظاهر: أنه صلى الله عليه وسلم وضع التوراة على الوسادة تكريمالها ويؤيده قوله صلى الله عليه وسلم:

" آمنت بك وبمن أنزلك ".

"له دې روایت نه دا څرګندېږي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د تورات داحترام لپاره هغه په بالخت کېښود. اودا

۱ - رواه ابوداود.

معنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې وینا لا پخېږي، چې (تورات) ته یې وفرمایل: " ما په تا او په هغه چا ایمان راوړی دی چې ته یې نازل کړی یې".
رسول الله صلی الله علیه وسلم د منسوخ شوي او ګوتوهل شوي تورات احترام کاوه؛ نو قرآن کریم خو خامخا د احترام او درناوي وړ دی. مونږ یې باید احترام وکړو، په ځمکه او نا مناسب ځای کې یې کې نه ږدو، په راخیستلو او ایښودلو کې یې په احترام او درناوي واخلو او کېدو، نور هر ډول احترام او درناوی یې وکړو او له سپکاوي یې په کلکه ځانونه وساتو. د (شعائرالله او حرمات الله) له تعظیم اودعکرمه رضي الله عنه له یو روایت نه د قرآن کریم ښکلول هم ثابتېږي
په یو روایت کې داسې راځي:

عن ابن أبی ملیکة أن عکرمة بن أبي جهل "كَانَ يَضَعُ الْمصحفَ عَلَى وَجْهِهِ وَيَقُوْلُ: كِتَابُ رَبِّىْ كِتَابُ رَبِّىْ". (۱)

د ابو ملیکه عبیدالله له زوی عبدالله نه روایت دی، چې د ابوجهل زوی عکرمه رضی الله عنه به قرآن کریم په خپل مخ ایښوده او ویل به یې:
(زما د رب کتاب دی، زما د رب کتاب دی).

۱ - رواه الدارمي و الحاکم و البیهقی فی شعب الایمان وابن المبارک في الجهاد.

احترام داسې يوه پراخه او سر وره موضوع ده، چې شريعت مونږ ته د هر هغه کار کولو حکم کوي، چې هغه احترام ګڼل کېږي .
او اسلامي شريعت کې دا ثابته ده، چې ښکلول احترام دی لکه دحجراسود ښکلول يا د احترام لپاره دچا لاس يا تندی ښکلول مشروع دي ، نودالله تعالى کتاب (قرآن کريم) خو ددې ډېر وړدی، چې د احترام لپاره ښکل شي .
همدارنګه بې احترامي او سپکاوی هم يوه پراخه او سروره موضوع ده، هر هغه کار چې سپکاوی ګڼل کېږي؛ هغه د قرآن کريم په مقابل او د الله تعالى د حرماتو او شعائرو په مقابل کې کول ناروا دي.

په اُمِّيْ پېغمبر نازل شوی کتاب

" اُمِّيْ" کې " ام" مور ته ويل کېږي او (ي) پکې د نسبت ده، نو " امي" مور ته منسوب، مورني او مور غاړي ته ويل کېږي او د عربي محاوره او اصطلاح کې امي هغه چا ته ويل کېږي چې ليک لوست يې نه وي زده؛ مونږ يې (نا لوستی) بولو. د " امي" معنا (نالوستی) ده. مور ته له دې کبله منسوب شوی دی، چې لکه مور نه زېږېدلی چې په ليک لوست نه پوهېږي (امي) هم په هماغه فطرت پاتې او نا

لوستی وي. هر امي جاهل نه وي. رسول الله صلی الله علیه وسلم ته امي ویل شوي دي او هغه ته الله تعالی داسې علم ورکړی ؤ، چې نړۍ پرې روښانه شوه . لسان العرب د " امي" معنا داسې کوي :

" و الأمي: الذى لایکتب قال الزجاج: الأمي الذي على خلقة الأم لم يتعلم الكتاب فهو على جبلته " ١

" امی هغه چاته ویل کېږي، چې لیکل نه شي کولی زجاج وایي: امي هغه چا ته ویل کېږي، چې له موره پیداوښت باندې پاتې وي او لیکل یې نه وي زده کړي، نو هغه په خپل پیداوښت پاتې وي ".

بیا وایي :

" قَالَ أَبُوْ إِسْحَاق: مَعْنَى الْأُمِّيِّ: المَنْسُوْبِ إِلَى مَا عَلَيْهِ جَبَلَتْهُ أُمَّهُ أَىْ لَايَكْتُبُ فَهُوَ فِىْ أَنَّهُ لَا يَكْتُبُ أُمِّيٌّ".

" ابو اسحاق ویلي دي : د امي معنی دا ده: هغه پیداوښت ته منسوب، چې مور یې پرې زېږولی دی . معنی دا چې لیکل نه شي کولی، نو له دې کبله، چې لیکل نه شي کولی، امي بلل کېږي " .

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هم له همدې کبله " امي " ویل شوي دي، چې نا لوستی ؤ.

الله تعالی فرمایي :

" الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ " ١

---

١ - لسان العرب: ۱۲ / ۳۴.

"(مؤمنان) هغه څوک دي، چې په هغه استازي ایمان راوړي، چې نا لوستی پېغمبر دی، او له ځانونو سره یې په تورات او انجیل کې لیکل شوی مومي".

او فرمایي:

" فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ الَّذِي يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَكَلِمَاتِهِ وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ " ٢

" په الله او د هغه په هغه استازي ایمان راوړئ، چې نا لوستی پېغمبر دی، په الله او د هغه په خبرو باور کوي او تاسو د هغه تابعداري وکړئ، چې سمه لار و مومئ".

همدارنګه په احادیثو کې هم رسول الله صلی الله علیه وسلم ته امي ویل شوي دي. لکه چې په یو حدیث کې داسې راځي:

علي رضی الله عنه وویل:

"وَ الَّذِیْ فَلَقَ الْحَبَّةَ وَبَرَأَ النَّسَمَةَ إِنَّهُ لَعَهْدُ النَّبِيِّ الاُ مِّيِّ صلی الله علیه وسلم إِلَیَّ أَنْ لایُحِبُّنِیْ إِلا مُؤْمِنٌ وَلا یُبْغِضُنِیْ إِلا مُنَافِقٌ " ٣

" په هغه ذات لوړه کوم، چې دانه یې چولې او نفس یې پیدا کړی دی؛ نا لوستي پېغمبر صلی الله علیه وسلم زما په هکله را ته فرمایلي دي، چې یوازې مؤمن له ما سره مینه کوي او یوازې منافق را سره کینه کوي".

په بل حدیث کې راځي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو رضی الله عنهم ته داسې درود ښوولی ؤ:

---

١ - سورة الاعراف: ١٥٧.

٢ - سورة الاعراف: ١٥٨.

٣ - رواه مسلم و ابن ماجة و البزار و ابن حبان و النسائی و ابو یعلی.

" اللهم صَلِّ عَلى مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ... تراخره " ۱
" ای الله! په نا لوستي پېغمبر محمد باندې لورېنې وکړه... ".
په بل حديث کې راځي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دري ځل و فرمايل:
" أَنَا مُحَمَّدٌ النَّبِيُّ الْأُمِّيُّ وَ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ " ۲
" زه نا لوستی پېغمبر محمد يم او له ما وروسته بل پېغمبر نشته".

د همدې امي معنی خپله په قرآن کريم کې داسې راغلې ده:
الله تعالی خپل اخري پېغمبر محمد صلی الله علیه وسلم ته فرمايي:
" وَمَا كُنْتَ تَتْلُو مِنْ قَبْلِهِ مِنْ كِتَابٍ وَلَا تَخُطُّهُ بِيَمِينِكَ إِذًا لَارْتَابَ الْمُبْطِلُونَ " ۳
" تا له قرآن څخه مخکې نه کوم کتاب لوستی شو او نه دې په خپل ښي لاس ليکلی شو، که داسې وای، نو بيا به باطل پرستو يکې شکونه پيدا کول ".

په دې کې د الله تعالی ډېر لوی حکمت ؤ، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته يې ليک اولوست نه ؤ ورښوولی، او دا ځکه چې يو نالوستی نه شي کولی، چې يو عادي کتاب له ځانه وليکي يا يې جوړ کړي، نو د قرآن کريم غوندې فصيح، بليغ، جامع او معجز کتاب به څرنګه له ځانه را جوړ

۱ - رواه احمد و ابوداود و ابن خزيمة و الدار قطني و البيهقي فی السنن و المعرفة و الحاکم.
۲ - رواه احمد.
۳ - سورة العنكبوت: ۴۸.

کړي، چې د عربو فصحاء او بلغاء ورته حيران وو او په اعجاز يې اعتراف کاوه!.

نو امي نا لوستي ته ويل کېږي او کله کله نا لوستی له لوستي نه ډېر پوه، هوښيار او عالم وي . پخوا ډېر داسې علماء تېر شوي دي، چې نالوستي وو. لوستل او ليکل د علم له فنونو او ډولونو څخه يو فن او يو ډول دی او علم يوائې په ليک او لوست کې منحصر او محدود نه دی .

په بل حديث کې د امي ژباړه خپله رسول الله صلی الله عليه وسلم داسې کوي :

عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم أَنَّهُ قَالَ:
" إِنَّا أُمَّةٌ أُمِّيَّةٌ لَا نَكْتُبُ وَ لَا نَحْسِبُ، الشَّهْرُ هَكَذَا وَ هَكَذَا يَعْنِى مَرَّةً تِسْعًا وَ عِشْرِيْنَ وَ مَرَّةً ثَلَاثِيْنَ " [۱]

عبد الله بن عمر رضی الله عنهما نه روايت دی هغه له پېغمبرصلی الله عليه وسلم نه روايت کوي، چې هغه فرمايلي دي :

"مونږ نا لوستي خلک يو نه ليکل کولی شو او نه حساب؛ مياشت کله داسې وي او کله داسې". مقصد دا چې کله نهه ويشت او کله دېرش ورځې وي .

بل روايت کې راځي، چې د لاسونو په ګوتو يې د نهه ويشتو او دېرشو اشاره وکړه .

دلته د " امة امية " (نا لوستی امت) معنی داسې وشوه چې :

---

۱ - رواه البخاري و مسلم و ابوداود و النسائي و احمد.

" لَا نَكْتُبُ وَ لَا نَحْسِبُ " (نه ليکل کولی شو او نه حساب).

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم نا لوستی ؤ؛ خو نا پوهه نه ؤ، بلکه د علم، پوهې او حکمت هغه سرچینه، معدن او لمر ؤ، چې د جهالت تربمی پرې رڼا شوې او نړۍ ته داسې لاربنود او روزونکی شو، چې د خبرو، کړو وړو، خویونو او سیرت په نقل، تفسیر، تشریح، احکامو او مسائلو یې د اسلامي امت داسې کتابتونونه ډک دي، چې په نورو امتونو کې یې ساری نه لیدل کېږي. او دا سلسله لا روانه ده... ځینو اوسنیو د امي له کلمې نه د جاهل او عامي معنی اخیستې ، د جمعې د سورت په مخکنې آیة یې دلیل نیولی دی او بیا د قرآن کریم د ترجمې او تفسیر کولو اجازه عوامو ته هم ور کوي، خو دا بېخي ناسمه ده .

د قرآن کریم د تفسیراوترجمې په هکله زمونږ دعصر او زمونږ دسیمې دشاوخوا ځینو علماؤ دافراط او تفریط لاره نیولې ده. ځینې دومره افراط کوي، چې د قرآن کریم د ساده ژباړې د اورېدلواوکولو لپاره هم په څوارلسو علومو عبور او حصول شرط ګڼي. او ځینې نور بیا دومره تفریط کې واقع شوي دي، چې هغو عوامو او جاهلانو ته هم د قرآن کریم د ترجمې د درسونو کولو اجازه ورکوي، چې د ځینو علماؤ د تفسیر په درسونو کې یې ګډون کړی وي او نور د عربي ژبې د اړینو بنسټونو او ضوابطو په هکله هیڅ معلومات نه لري.

عوام که د تفسیر په درسونو کې ګډون وکړي، ورته کېني، غوږ ورته کېدي او په احکامو يې ځان وپوهوي، دا کېدی شي او بايد چې همداسې وکړي؛ خو ددې معنی دا نه ده، چې هغوي دې بيا نورو ته د تفسير درسونه ورکوي.

له هرې ژبې نه چې بلې ژبې ته څوک ژباړه او ترجمه کوي؛ بايد د دواړو ژبو په قواعدو او ژبدود پوه وي او د دواړو ژبو اړين بنسټونه ور معلوم وي؛ که داسې نه وي، نو هرو مرو به ناسمه ژباړه کوي.

بيا د قرآن کريم د ژباړې او تفسير په هکله خو ډېر احتياط په کار دی. يو عام شخص دا کولی شي، چې د فاتحې د سورت، لمانځه، څو لنډو سورتونو او يا د کوم آية يا آياتونو ژباړه ښه زده او ياده کړي، خو د ټول قرآن ژباړه او بيا نورو ته تدريس کول هيڅکله نه شي کولی.

مونږ ډېر داسې عوام بلکې ځينې ملانماګان ليدلي دي، چې هغوی د ځينو مشهورو يا نا مشهورو علماؤ په درسونو کې ګډون کړی او بيا نورو عوامو ته په جوماتونو کې د قرآن کريم د ترجمې او تفسير درسونه ورکوي او په ډېرو ځايونو کې ناسمه او غلطه ترجمه کوي؛ تر دې چې په ځينو ځايونو کې ځان کفر ته باسي او عوام هم بې لارې کوي.

د قرآن کريم د ترجمې او تفسير لپاره که د څوارلسو علومو زده کړه ضروري نه وي، نو لږ تر لږه د صرف، نحوې،

معـانيو، اصـول تفسـير، د حـديثو او فقهـې اصـول او اړيـن مصطلحات او فرائض هغه اړين علـوم دي، چې ددې لـه زده کړې پرته بايد هيڅوک دا جرات ونه کړي، چې د قرآن کـريم د ترجمې او تفسير د تدريس په مسـند کېني، ځان دې کـار لپـاره وتـاکي او نـورو تـه يـې درسـونه ور کـړي اويا تفسـير وليکي.

دا يـوه عجيبـه او د پـام وړ خبـره ده، چې يـو څـوک کلمـه او کلام ونه پېژني، مفـرد او مرکب و نـه پېژنـي، اسم، فعـل او حرف و نه پېژني، معـرب او مبنـي ونـه پېژنـي، مبتـدا او خبـر ونه پېژني، فاعل او مفعـول ونـه پېژنـي، صـفت او موصـوف ونه پېژنـي، مضـاف او مضـاف اليـه ونـه پېژنـي، موصـول او صـله ونـه پېژنـي، مرفوعـات، منصـوبات، مجـرورات او مجزومات ونه پېژني، توابع ونه پېژني، عامل او معمول ونـه پېژنـي، منصـرف او غيـر منصـرف و نـه پېژنـي، د اعـراب اصناف و نه پېژني، د حروفو معاني ونه پېژني،.... ماضي او مضـارع، امـر او نهـې ونـه پېژنـي، معلـوم او مجهـول ونـه پېژني، اثبات او نفې ونه پېژني، لازم او متعدي ونه پېژنـي، غـائب مخاطـب او مـتکلم ونـه پېژنـي، مـذکر او مؤنـث ونـه پېژني، مفرد، مثنى او جمع ونـه پېژني، مشـتق او جامـد ونـه پېژنـي، مصـدر ونـه پېژنـي، اسـم فاعـل او اسـم مفعـول ونـه پېژني، اسم تفضيل، اسم زمـان، اسم مکـان او اسم آلـه ونـه

پېژني، صحيح او معتل، مضاعف او مهموز، مجرد او مزيد فيه ونه پېژني، استفهام او تمني ونه پېژني، ذکر او حذف ونه پېژني، ظاهر او مضمر ونه پېژني، نداء انشاء او خبر ونه پېژني، تشبيه او استعاره ونه پېژني، وصل او فصل ونه پېژني، حقيقت او مجاز ونه پېژني، مطلق او مقيد ونه پېژني، صريح او کنايه ونه پېژني، عام او خاص ونه پېژني، ظاهر او خفي ونه پېژني، نص او مشکل ونه پېژني، مُفسَّر او مجمَل ونه پېژني، محکم او متشابه ونه پېژني، عبارة النص، اشارة النص، دلالة النص او اقتضاء النص ونه پېژني، د بيان ډولونه ونه پېژني، حلال او حرام ونه پېژني، شروط او ارکان ونه پېژني، رخصت او عزيمت ونه پېژني، منطوق او مفهوم ونه پېژني، د حديثو مرفوع، موقوف او مقطوع ونه پېژني، صحيح او ضعيف ونه پېژني، متواتر، مشهور، عزيز او غريب ونه پېژني، د قبول او رد اسباب ونه پېژني، توافق او تعارض ونه پېژني، ناسخ او منسوخ ونه پېژني، تحقيق او ترجيح ونه پېژني، روايت او درايت ونه پېژني، قياس او اجماع ونه پېژني.... فرايضو او مواريثو کې اسباب او موانع ونه پېژني، ذوی الفروض، عَصَبه او ذوی الارحام ونه پېژني، سهام ونه پېژني، عَول، تصحيح، تخارُج او رد ونه پېژني، حُجب او مناسخه ونه پېژني، تماثُل، تداخُل، توافق او تبايُن ونه پېژني.....

هغه څرنګه د قرآن کریم سمه ترجمه او تفسیر کولی شي؟! څرنګه ترې د احکامو استنباط کولی شي ؟!...

له امام شافعي رحمه الله نه یوروایت داسې راغلی دی: قَالَ الشَّافِعِيُّ: " لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ أَنْ يُفْتِيَ فِي دِينِ اللَّهِ إِلَّا رَجُلًا عَارِفًابِكِتَابِ اللَّهِ: بِنَاسِخِهِ وَمَنْسُوخِهِ، وَبِمُحْكَمِهِ وَمُتَشَابِهِهِ، وَتَأْوِيلِهِ وَتَنْزِيلِهِ، وَمَكِّيِّهِ وَمَدَنِيِّهِ، وَمَا أُرِيدَ بِهِ، وَفِيمَا أُنْزِلَ، ثُمَّ يَكُونُ بَعْدَ ذَلِكَ بَصِيرًا بِحَدِيثِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَبِالنَّاسِخِ وَالْمَنْسُوخِ، وَيَعْرِفُ مِنَ الْحَدِيثِ مِثْلَ مَا عَرَفَ مِنَ الْقُرْآنِ، وَيَكُونُ بَصِيرًا بِاللُّغَةِ، بَصِيرًا بِالشِّعْرِ، وَمَا يَحْتَاجُ إِلَيْهِ لِلْعِلْمِ وَالْقُرْآنِ، وَيَسْتَعْمِلُ مَعَ هَذَا الْإِنْصَافَ، وَقِلَّةَ الْكَلَامِ، وَيَكُونُ بَعْدَ هَذَا مُشْرِفًا عَلَى اخْتِلَافِ أَهْلِ الْأَمْصَارِ، وَيَكُونُ لَهُ قَرِيحَةٌ بَعْدَ هَذَا، فَإِذَا كَانَ هَذَا هَكَذَا فَلَهُ أَنْ يَتَكَلَّمَ وَيُفْتِيَ فِي الْحَلَالِ وَالْحَرَامِ، وَإِذَا لَمْ يَكُنْ هَكَذَا فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَتَكَلَّمَ فِي الْعِلْمِ وَلَا يُفْتِي". [1]

امام شافعي رحمه الله وايي: " هيڅوا ته دا روا نه دي، چې د الله تعالی په دين کې فتوې ورکړي، يوازې هغه چا ته روا دي، چې د الله تعالی په کتاب پوه وي، ناسخ او منسوخ يې وپېژني، محکم او متشابه يې وپېژني، تفسير او ژغورل يې وپېژني، مکي او مدني يې وپېژني، دا يې وپېژني چې مراد يې څه دی؟ په څه کې نازل شوی دی؟ بيا له دې وروسته د رسول الله صلی الله عليه وسلم په حديثو پوه وي، ناسخ او منسوخ يې پېژني او په حديثو کې هم هغه علوم وپېژني، چې په قرآن کې يې پېژندلي وي . همدارنګه بايد په عربي ژبې ښه پوه وي، د عربي په شعر بشپړ خبر وي او د علم او

---

۱ - الفقيه والمتفقه.

قرآن لپاره، چې کومو علومو ته اړتیا وي؛ په هغو ښه پوه وي، له دې ټولو سره له انصاف نه کار واخلي، لږې خبرې وکړي او له دې ټولو وروسته د مختلفو سیمو د علماؤ په اختلاف خبر وي، له دې وروسته ښه استعداد ولري. که همداسې ؤ، نو بیا ورته روا دي، چې د دین په هکله خبرې وکړي او په حلالو او حرامو کې فتوې ورکړي او که داسې نه ؤ، نو بیا ورته روا نه دي، چې د علم په هکله خبرې وکړي او فتوې ورکړي".

د عربي ژبې او شریعت اړین بنسټونه پېژندل هغه ضروري علوم دي، چې له بشپړې زده کړې پرته یې د قرآن کریم ترجمه او تفسیر کول ناسم دي. د بیلګې او ساري په توګه: د عربي ژبې د حروفو هر حرف ګڼې معناوې لري، یوائې (لام) په عربي کې دوه ویشت (۲۲) معناوې لري، نو هغه څوک چې د حروفو معناوې نه پېژني، څرنګه کولی شي، چې د قرآن کریم له کوم حرف نه کومه معنا واخلي؟! او څرنګه ترجمه او تفسیر وکړي ؟! هغه به په قرآن کریم کې د عربو په محاوره د مستعملو کلماتو څرنګه او کومې معناوې کوي؟!

زمونږ دزمانې ځینې هغه ژباړونکي اوتفسیرکوونکي، چې دعربي ژبې قواعد نه پېژني، ددې عبارت ناسمه ژباړه کوي چې:

﴿وَاِنْ كَانُوْامِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلَالٍ مُّبِيْن﴾ [۱]
هغوی د ﴿و ان كـانوا﴾ ژبـاړه ﴿اګركـه وو دوي﴾ بانـدې كـوي، حال داچې دا ﴿اِن﴾ دلته شرطيه نه بلكه ﴿له مثقل نه مخفف﴾ شوی دی، په معنی د﴿اِنهـم كـانوا﴾ يـا ﴿قـدكانوا﴾ ﴿دوی بې شـكه وو﴾. اودا وروسـته د﴿تاكيـد لـه لام﴾ نـه څرګنـدېږي. دېرملانماګـا ن پـه دې كـې خطـا كـېږي اوددې مثالونـه ډېـر زيات دي، چې دعربي ژبې پـه قواعـدو دنـاپوهی لـه كبلـه ناسمې ژباړې او تفسيرونه كوي.
پـه عربـي ژبـې كـې اعـراب او صـرفي بدلونونـه هغـه اړيـن بنستونه دي، چې معناوې ور پورې تړلې دي او په لږ بدلون يكې د معنی لوی توپير او بدلون رائحي. نو هغه څوک، چې په دې بدلون او توپير نه پوهېږي؛ څرنګه كېدی شي، چې د قـرآن كـريم ژبـاړونكی او مفسـر جـوړ شـي؟! كـه څـوک دا ووايي، چې صحابه كرام او د قـرآن د نـزول د عهـد عـرب خو هغه خلک وو، چې دا زمونږ متداول او مـروج كتابونـه يـې نـه وو لوستي، نو هغوی څرنګه په قـرآن كـريم پوهـېدل؟!. ددې ځواب دا دی، چې د هغه وخت او زمان عرب په عقيـدې كـې جاهلان وو؛ خو په عربي ژبې كې يې پـوره مهـارت درلـود. سالم فطرت، سالم چاپېريال، د عربي ژبـې د سـالم او فطـري

---
[۱]- سورة ال عمران: ۱۶۴ جمعه: ۲

ژبدود سره پخې اړيکې او د سالمې عربي ژبې د فصاحت او بلاغت عروج ... هغه لاملونه وو، چې د هغه وخت په عقيدې کې جاهل عرب د عربي ژبې عالمان وو. د هغه وخت اعراب او بدويان (کوچيان) د عربي ژبې په صحت، فصاحت او بلاغت کې دومره مشهور وو، چې حضري (د کليو او ښارونو) وګړو به د عربي ژبې دسمې زده کړې او نورو د پت، عزت، ننګ، غيرت، عزيمت ... د معنوي ژوند د سمون او روزنې لپاره خپل واړه ماشومان باندو او کوچيانو ته ورلېږل. له همدې امله رسول الله صلى الله عليه وسلم هم په ماشومتوب کې د بنو سعد د قبيلې حليمې سعديې ته ورکول شوی ؤ، چې هم يې تی ورکاوه او هم يې هلته په فصيحې عربي ژبې او مناسب چاپېريال کې روزنه وشوه. دعربي ژبې قواعد دهمغوعربي کوچيانودسالمې محاورې په بنسټ جوړشوي او ايښودل شوي دي.

نو قرآن کريم د همغو په عقيدې کې جاهلو او په عربي ژبې کې د ماهرو عربو په فصيحې محاورې نازل شوی دی.

الله تعالى فرمايي:

" إِنَّا أَنزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ " ۱

" مونږ بې شکه ددې لپاره دا قرآن په عربي ژبې نازل کړی دی، چې وپوهېږئ ".

" إِنَّا جَعَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ " ۱

۱ سورة يوسف: ۲.

" مونږ بې شکه قرآن په عربي ژبې ګرځولی دی؛ ښايي چې وپوهیږئ ".
" قُرآنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِي عِوَجٍ " ۲
" په عربي ژبې قرآن، چې بې کږلیچه دی ".
" بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُبِينٍ " ۳
" په ځرګندې عربي ژبې ".

نو جوته شوه، چې قرآن کریم په ځرګندې عربي ژبې نازل شوی دی. او دا ځرګنده عربي ژبه د قرآن د نزول د وخت د جاهلو عربو ژبه وه. له همدې امله د اسلام لوی لوی مفسرین، محدثین، فقهاء اولغویان (د ژبې ماهرین) چې کله د قرآن لغوي تفسیر کوي یاد کوم لغت معنی کوي، یا د صرفي او نحوي قواعدو لپاره کوم مثال راوړي، یا بل کوم عربي استدلال او استنباط وړاندې کوي، نو د عربو د جاهلیت او اسلام د دواړو زمانو د شاعرانو اشعار، متلونه او محاورې په دلیل کې وړاندې کوي.

مونږ وینو، چې د اسلامي کتابتون ګڼ او په ډول ډول کتابونه د امرؤالقیس، طَرَفَة بن العبد، تَأَبّطَ شَراً، شنفري، عروه، مُهلَهل، حارث بن حَلزه، عَنتره، نابغه ذُبیاني، ابوذُؤیب الهذلي، بِشْر بن ابی حازم، خَداش، عتبه،

---

۱ سورة الزخرف: ۳.
۲ سورة الزمر: ۲۸.
۳ سورة الشعراء: ۱۹۵.

اعشی، حُطیئه، زُهیر، لبید، اُمَیّة بن ابی الصلت، جریر، اخطل، فَرَزْدَق، لیلی الاَخْیَلِیّة، خَنْساء، هُزَیله، حَسّان بن ثابت، عبدالله بن رواحه، جمیل، قیس ملوح، قیس ذریح، مُتَنَبّي، رؤبَه، بَشّار، ابونواس، ابوالعتاهیه، ابن المُعتز، ابوالعلاء، ابوتمام، دَعْبل خُزاعي، بختري، ابن رومي، ابوفِراس حمداني... او نورو له اشعارو، د کوچیانو له محاورو او متلونو څخه ډک دي.

هغه په عقیدې کې جاهل عرب، چې قرآن د هغوی په زمانه کې نازل شوی دی، په عربي ژبه دومره پوهېدل، چې د ژبې په ټولو اړخونو عالمان وو او د عربي ژبې د قواعدو: صرف، نحوې، معانیو او د لغت ټول وروستني کتابونه د همغو مخکنیو عربو د لرغونې ژبې د استعمال په استناد جوړ شوي او تدوین شوي دي. دوی کوم نوی بدلون منځ ته نه دی راوړی، بلکه د مخکنیو د فطري روغې ژبې د غږونو او محاورو د اورېدو په بنسټ یې هماغه مخکني قواعد او ضوابط په کتابونو کې ثبت کړي دي.

وروسته له نورې نړۍ سره د ګډون او د نورو ټولنیزو او سیاسي لاملونو له کبله د عربو ژبه هم روغه پاتې نه شوه، نو ځکه اوس عرب او عجم ټول دې ته اړتیا لري، چې د عربي ژبې له مدونو کتابونو څخه ګټه واخلي، زده یې کړي او بیا پرې ژباړې، لیکنې او څېړنې وکړي.

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم " امي " ؤ؛ خو نا پوهه نه ؤ، نا لوستی ؤ؛ خو الله تعالی هغه علم ور کړی ؤ، چې ګرده نړۍ پرې روښانه شوه .

الله تعالی فرمايي :

" وَأَنزَلَ اللَّهُ عَلَيْكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ وَكَانَ فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ عَظِيمًا " ۱

" او په تا يې كتاب او علم نازل كړ او هغه څه يې در زده كړل، چې ته پرې نه پوهېدې او په تا د الله لويه پېرزوينه وشوه ".

نو الله تعالی د خپلې پېرزوينې له مخې د خپلو بندګانو د لار ښوونې لپاره هر پېغمبر ته علم وركوي او ددې اخري امت اخري نا لوستي پېغمبر ته يې هم علم ور كړی ؤ او دا دنده يې ور سپارلې وه، چې خپل امت وپوهوي .

الله تعالی فرمايي :

" كَمَا أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولًا مِنْكُمْ يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُمْ مَا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ"۲

" لكه څرنګه مو چې په تاسو كې له تاسو څخه پېغمبر لېږلی دی، چې په تاسو زمونږ آياتونه لولي، پاكوي مو، كتاب او علم در زده كوي او هغه څه در ښيي، چې تاسو پرې نه پوهېدئ".

---

۱ - سورة النساء: ۱۱۳

۲ - سورة البقرة: ۱۵۱

او فرمايي:

" لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولًا مِنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ " ۱

" الله هغه وخت په مؤمنانو احسان وکړ، چې د دوی له ځانونو (جنس) څخه يې په دوی کې پيغمبر ولېږه، چې د هغه آياتونه پرې لولي، پاکوي يې او کتاب او علم (سنت) ور زده کوي، دوی بې شکه له دې مخکې په څرګندې بې لارۍ کې وو ".

د جمعې د سورت په دې آية کې هم فرمايي:

" هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ " ۲

" الله هغه ذات دی، چې په نا لوستو کې يې له همدوی نه پيغمبر لېږلی دی، چې د هغه آياتونه پرې لولي، پاکوي يې او کتاب او علم ور زده کوي. دوی له دې مخکې بې شکه په څرګندې بې لارۍ کې وو ".

نو پيغمبر نا لوستی؛ خو ستر عالم ؤ. او د هغه وخت د عربو اکثريت نا لوستي وو. په عقيدې، ايمان او دين کې جاهلان وو؛ خو په عربي ژبې پوهېدل. قرآن د همغو جاهلو عربو په فصيحې محاورې نازل شوی دی، چې هغوی په عربي ژبې د پوهې له امله پرې پوره پوهېدل.

---

۱ - سورة ال عمران: ۱۶۴

۲ - سورة الجمعة: ۲

راځئ چې د څو بېلګو په وړاندې کولو سره دا جوته کړو، چې د قرآن کریم له نزول سره نږدې دجاهلیت عرب په عربي ژبې او عربي قرآن څومره پوهېدل؟! د عربو شپانه، کوچیان او بدویان په عربي ژبې د پوهې له کبله د قرآن په مفاهیمو او باریکیو ډېر ښه پوهېدل.
کله چې الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې مامور کړ، چې د مکې مشرکان او نور عرب د الله تعالی توحید ته را وبلي او رسول الله صلی الله علیه وسلم توحید ته بلنه پیل کړه او دا خبره خپره شوه، نو د قریشو لوی لوی مشران او ملکان لکه: ابوجهل بن هشام، عاص بن وائل، اسود بن المطلب، اسود بن عبدیغوث، عتبه، شیبه، ابوسفیان بن حرب، عاص بن هشام، ولید بن مغیره، نبیه، منبه او نور د رسول الله صلی الله علیه وسلم تره (ابو طالب) ته ورغلل او ورته ویې ویل، چې وراره دې له دې خبرو منع کړه، زمونږ معبودانو ته بد وایي.... هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم را وغوښت او ددې مشرانو خبره یې ورته وکړه، هغه ورته وفرمایل: آیا زه دوی داسې خبرې ته راو نه بلم، چې دوی لپاره پکې خیر دی؟ هغه وویل: څه ته یې را بلې؟ هغه وفرمایل: دې ته یې را بلم، چې داسې یوه کلمه ووایي، چې د هغې له کبله به عرب ور ته تابع شي او د عجمو واکداران به شي.

ابوجهل وویل: کومه کلمه ده؟ یوه نه چې لس خو به در ته وواېو. رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: (لا اله الا الله) ووایئ. هغوی ورته وویل: له دې پرته نور څه وغواړه. هغه ورته وفرمایل: که فرضا لمر را ته راوړئ او په لاس کې یې را ته کېدئ؛ هم له دې پرته به بل څه ونه غواړم.

هغوی وترېدل، په غوسه ووتل او د بدو ردو په ترخ کې یې داسې وویل:

" أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَهًا وَاحِدًا إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ " [۱]

" ایا ګڼ معبودان یې یو معبود جوړکړ؟ دا خو بې شکه یو عجیبه کار دی! ".

نو ابو جهل او نور د عربو مشران د توحید د کلمې: (لا اله الا الله) په معنی او مفهوم پوهېدل، چې په دې ټول معبودان ړنګېږي او د یو الله تعالی توحید ثابتېږي، نو ځکه یې وویل چې (آیا ګڼ معبودان یې ړنګ کړل او یو معبود یې ثابت کړ ؟!......).

او دا ځکه چې (لا اله الا الله) عربي کلمه ده او هغوی په عربي پوهېدل، نو ځکه ددې کلمې په معنی هم پوهېدل، چې دا زمونږ ټول معبودان، دین، دودونه او عقېدې ړنګوي او یوائې د الله توحید ثابتوي.

---

۱ - سورة ص :۵ . رواه ابو حاتم و ابن جریر و احمد و النسائی و الترمذي.

هغوی د نن زماني د ډېرو هغو مشرکانو په څېر ناپوهه نه وو، چې هم د توحید کلمه: «لا اله الا الله» وایي او هم شرک کوي!!!.

په قرآن باندې د جاهلیت د عربو د پوهې بله بېلګه دا ده، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت په لومړیو او د قرآن د نزول په وخت کې، چې کله د حج ورځې رانږدې شوې، نو د قریشو ځینې خلک ولیدبن مغیره ته را ټول شول او ورته ویې ویل: د حج موسم را نږدې شوی دی، له هر لوري به د عربو وفدونه درته راځي او هغوی ستاسو ددې قومي «محمد» په هکله اورېدلي دي، نو په یوې خبرې متفق شئ، هسې نه چې څوک یوه او څوک بله کوئ، یو بل سره دروغجن کړئ او ستاسو په خبرو کې بیا تناقض وي. هغوی ورته وویل: ته راته یوه خبره وکړه او یوه رایه قائمه کړه، نو مونږ به هماغسې وایو.

هغه وویل: تاسو یې ووایئ، چې زه یې واورم.

هغوی ورته وویل: مونږ به وایو، چې کوډګر دی.

هغه ورته وویل: داسې نه ده، په الله قسم دی، چې کوډګر نه دی، مونږ کوډګر لیدلي دي دا قرآن نه د هغوی د بنګېدو په څېر دی او نه یې د منظومو خبرو غوندې.

هغوی وویل: بیا به ووایو، چې لېونی دی.

هغه وویل: دی لېوني نه دی، مونږ لېونتوب کتلی او پېژنـو یې، دده خبرې او قرآن نه د لېونتوب ګډې وډې دي او نه یـې وسوسه ده.

هغوی وویل: وبه وایو، چې شاعر دی.

هغه وویل: شاعر هم نه دی، مونږ د شعر ټول ډولونه پېژندلي دي، دا یې یو ډول هم نه دی، دا شعر نه دی.

هغوی وویل: وبه وایو، چې جادوګر دی.

هغه وویل: جادوګر هم نه دی، مونږ جادوګر او د هغوی جادو لیدلی دی دا یې یو ډول هم نه دی.

هغوی ورته وویل: نو ته راته ووایه، چې څه ورته ووایو؟.

هغه وویل: په الله قسـم دی، چې دده خبـرې یـو ډول خـوږلني لري، چې بېخ یـې د کجـورې ونـه او ښـاخ دی او څـانګې یـې مېـوې دي. دا هـره خبـره مـو چې وکـړه، دا څرګنـد ېږي، چې باطله ده.

بیا یې له ضد او عناده په دې اتفاق وکړ، چې جـادوګر ورتـه ووایي.۱

په یو روایت کې راځي: په دې یې اعتراف وکړ، چې دا د الله تعالی کلام دی. ۲

---

۱ - السیرة النبویة لابن هشام ۱۰ / ۲۸۸ ـ ۲۸۹

۲ - تفسیر ابن کثیر سورة المدثر: ۱۱.

همدارنګه قریشو چې کله د اسلام خپرېدل او د مسلمانانو زیاتېدل ولیدل، نو عتبه بن ربیعه ورته وویل: زه به ورشم او خبرې به ور سره وکړم؛ کېدی شي، چې ویې مني. هغوی ورته وویل: ور پاڅه خبرې ور سره وکړه. هغه لاړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم په مسجد الحرام کې ناست ؤ، ور سره کېناست او ډېرې خبرې یې ورته وکړې، چې د سیرت کتابونو راخیستې دي.

بیا یې ورته وویل: که ته په دې دین مال غواړې، نو مونږ به درته دومره مال را ټول کړو، چې ته به په مونږ کې تر ټولو زیات مالدار شې، که څه عزت او شرف غواړې؛ مونږ به دې په ځانونو سردار او نواب جوړ کړو او له تا پرته به یوه پرېکړه هم نه کوو. که پاچایي غواړې؛ مونږ به دې په ځان پاچا کړو. که ښځه غواړې؛ خوښه یې کړه، دیوې په ځای به لس درته وکړو...

عتبه چې کله له خبرو فارغ شو؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ابوالولیده! واوره چې زه څه وایم؟.

هغه ورته وویل: وایه چې واورم. رسول الله صلی الله علیه وسلم (بسم الله الرحمن الرحیم) ولوسته او بیا یې د حم السجدې د سورت لومړني څو آیاتونه ولوستل. عتبه لاسونه شاته تکیه کړل او غوږ یې ورته کېښود. له سجدې وروسته ورته رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ابو

الولیده! تا چې څه واورېدل؛ وادې ورېدل، اوس ته پوه شه او دا قرآن. عتبه پاڅېد او خپلو ملګرو ته ورغی؛ هغوی چې کله له ورایه ولید ؛ ویې ویل: مونږ په الله قسم کوو، چې ابوالولید (عتبه) په کوم مخ تللی ؤ؛ په هغه مخ نه دی راغلی (اغېزمن شوی دی).

کله چې هغوی سره کېناست؛ هغوی ورته وویل: څه دې راوړل؟ هغه وویل: په الله قسم دی، داسې وینا مې واورېده، چې دې غوندې مې هیڅکله نه وه اورېدلې. په الله قسم دی، چې دا قرآن نه جادو دی، نه شعر دی، نه کوډې دي...

تاسو پوهېږئ، چې محمد کله څه ویلي، نو دروغ یې نه دي ویلي. زه وېرېږم، چې په تاسو به کوم عذاب نازل شي.[1]

عتبه په عربي پوهېده، نو ځکه د قرآن کریم په اورېدلو اغېزمن شو.

د یو بدوي (کوچي) په مخکې یوچا د توبې د سورت دا آیة ناسم ولوست چې: " أَنَّ اللهَ بَرِیْءٌ مِنَ الْمُشْرِكِیْنَ وَرَسُوْلُهُ "

" الله او دهغه پیغمبر له مشرکانو بېزاره دی " د " وَرَسُوْلُهُ " په ځای یې " وَرَسُوْلِهِ " د (لام زېر) ولوست. که د (لام) پېښ ولوستل شي، نو (رسول) په (الله) عطف دی او معنی یې دا شوه، چې (الله او پیغمبر یې دواړه له مشرکانو بېزاره دي).

او که د (لام) زېر ولوستل شي، نو (رسول) په (المشرکین)

---

۱ - سیرة ابن هشام. تفسیر ابن کثیر.

باندې عطف کېږي او معنی یې داسې کېږي، چې (الله له مشرکانو او خپل پیغمبر دواړو څخه بېزاره دی). نوکوچي چې کله د آیة ناسم لوستل (رسول دلام په زبر) واورېدل، نو ویې ویل:

"أنا أیضا بريء من المشرکین ورسولِه) (ـ که الله له مشرکانو او خپل پیغمبرڅخه بېزاره وي نوــ زه هم له مشرکانو او دهغه له پیغمبره بېزاره یم).

دغه بدوي (کوچي) زمونږ د زمانې (هدایة النحو، کافیه، شرح جامي، الفیه، شرح ابن عقیل، مغني اللبیب ...) نه وو لوستي؛ خو (معطوف او معطوف علیه او اعراب) یې پېژندل، نو ځکه یې په هغه ناسم لوستونکي نیوکه وکړه. او دا یې په سالم چاپېریال کې د سالم او روغ پاتې شوي ژبدود له کبله پېژندل.

په قرآن کریم د عربو د پوهې او په عربیت او ژبې د مهارت بله بېلګه دا ده، چې اصمعي وایي:

زه یوه ورځ ووتم؛ یوه وړه کوچۍ جلۍ مې ولیده، چې یو شعر یې ووایه. ما ورته وویل: څومره ښه فصیح شعر دې ووایه ؟! هغې راته وویل: آیا د الله تعالی له دې وینا نه وروسته به هم دا شعر فصاحت ګڼل کېږي؟ چې فرمایي:

" وَأَوْحَيْنَا إِلَى أُمِّ مُوسَى أَنْ أَرْضِعِيهِ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ فِي الْيَمِّ وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحْزَنِي إِنَّا رَادُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ " [۱]

بیا یې وویل: " فَجَمَعَ فِیْ آیَةٍ وَاحِدَةٍ بَیْنَ أَمْرَیْنِ وَنَهْیَیْنِ وَ خَبَرَیْنِ وَ بِشَارَتَیْنِ " [۲]

" په دې یو آیت کې الله تعالی دوه امرونه، دوه نهې، دوه خبرونه او دوه زېرې را ټول کړي دي ".

نو دوه امرونه: " أَرْضِعِيهِ " او " أَلْقِيهِ " دي.

دوه نهې: " لا تَخَافِي وَلَا تَحْزَنِي " دي.

دوه خبرونه : " إِنَّا رَادُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ " **دي.**

او په یو وخت کې دا دوه خبرونه دوه زېري هم دي . دا کوچنی جلی په عربي پوهېده، نو ځکه د قرآن کریم په فصاحت او د معانیو په استنباط وپوهېده.

په ژبې سربېره دقرآن کریم دپوهې لپاره داهم اړینه ده، چې دقرآن دنزول دزمانې دجاهلیت ګروهې، عادات، دودونه، چاپېریال اوتاریخ هم وپېژندل شي. که داسې نه وي، نو په ډېروآیاتونو پوهېدل به ستونزمن وي. دساري په توګه : الله تعالی فرمایي :

" وَلَيْسَ الْبِرُّ بِأَنْ تَأْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ ظُهُوْرِهَا وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنِ اتَّقَى وَأْتُوا الْبُيُوْتَ مِنْ أَبْوَابِهَا ". [۱]

---

۱ - سورة القصص: ۷.

۲ - تفسیر القرطبي: ۱۳ / ۲۵۲ والبحر المحیط، و التحریر و التنویر و تفسیر الماوردي وروح المعاني وزاد المسیر.

"اوداکومه نېکي نه ده، چې تاسوکورونو ته دشا له پلوه راشئ، بلکه نېکي داده، چې چا له بدو ځان وژغوره. کورونو ته دهغوله دروازو نه راشئ".

دجاهلیت یوناوړه دود داؤ، چې هغوی به له حج کولونه وروسته داښه نه ګڼله، چې له دروازې خپل کورته ننوځي او ویل به یي، چې پـه دې دروازې ګناهګاران ننوتي دي اومونږ اوس پـه حج کولولـه ګناهونوپاک شوي یو، نو دکوردشاله پلوه به کورته دننه کېدل.

نوځکه الله تعالی له دې کاره منع کړل.

کـه دجاهلیت لـه دې دوده څوک خبرنـه وي، نوپـه دې آیـة پوهېدل ورتـه ګران دي اوتعجب بـه وکړي، چې ټول خلک خپلوکورونوتـه ددروازو لـه لارې ننـوځي. دقرآن داحکم بـه ورته دېرساده ښکاره شی. خوکـه دجاهلیت لـه دود اوتاریخ په هکله معلومات ولري، نوبیا پـه آیة پوهېدل ورتـه اسان دي. نوځکـه مونږ وویل، چې پـه قرآن دپوهې لپاره پـه نوروعلوموسرېېره دجاهلیت پـه هکلـه معلومات لرل هم اړین دي.

قرآن کریم د عربو په محاوره نازل شوی دی او هغه عرب، چې په عقېدې کې جاهلان وو، په عربي ژبې کې علماء وو.

[1] - سورة البقرة: ۱۸۹

صحابه کرامو او د اسلام نورو مفسرینو، محدثینو، فقهاؤ، لغویونو او ګڼو علماؤ د قرآن کریم معاني او تفسیر او د اسلامي شریعت د ګڼو مفاهیمو معاني د عربو له اشعارو راخیستي او دلیل یې پرې نیولی دی.

دا توپیر یې هم نه دی کړی، چې شاعر مسلمان دی او که نه؟ او دا ځکه چې د لغت په څېړنې کې یوائې ژبنیو بنسټونو ته پاملرنه کېږي. قرآن کریم د جاهلیت د وخت د عربو په فصیحې محاورې نازل شوی دی، نو ځکه یې معاني د عربو له شعرونو، متلونو او محاورو نه اخیستل کېږي.

په یو روایت کې راځي، چې عمر رضی الله عنه یوه ورځ د خپل مجلس له ملګرو نه د نحل د اوه څلوېښتم آیة ددې عبارت په هکله پوښتنه وکړه چې:

"اَوْ یَاْخُذَ هُمْ عَلی تخَوُف" نو د هُذَیْل قبیلې یو کوچي ورته وویل: دا زمونږ ژبه ده، "تَخَوُفْ" "تَنَقُّصْ" (پوړۍ په پوړۍ کمولو) ته ویل کېږي:

عمررضی الله عنه ورته وویل:

" هَلْ تَعْرِفُ الْعَرَبُ ذَلِكَ فِيْ أَشْعَارِهَا؟".

"آیا عرب دا معني په خپلو شعرونو کې پېژني؟" (استعمال کړې یې ده؟). هغه ورته وویل: هو او بیا یې ورته دا شعر ووایه:

تَخَوَّفَ الرَّحْلُ مِنْهَا تَامِكًا قَرِداً
كَمَا تُخَــوِّفُ عُـوْدَ النَّبْعَةِ السَّفِنُ

" د اوښې کتې لـه بوکـان څخـه وړې داسې ورو، ورو کمې کړې، لکه د ونې له لرګي چې تخز پوستکی ورو، ورو کموي او لغړوي يې ".

نو عمر رضی الله عنه خپلو ملګرو ته وويل:

" عَلَيْكُمْ بِدِيْوَانِكُمْ لَاتَضِلُّوْا " " تاسو خپل دېوان ټينګ ونيسئ چې بې لارې نه شئ " هغوی ورتـه وويـل: زمـونږ دېوان څـه شی دی؟ عمر رضی الله عنه وويل:

"شِعْرُالْجَاهِلِيَّةِ فَإِنَّ فِيْهِ تَفْسِيْرُكِتَابِكُمْ وَمَعَانِىُ كَلَامِكُمْ " ۱

" ستاسـو دېـوان د جاهليـت شـعر دی، پـه دې کـې ستاسـو د کتـاب (قـرآن) تفسـير دی او ستاسـو د خبـرو معنـاوې پـکـې دي".

همدارنګه دقرآن کريم پياوړی مفسراو جليل القدر صحابي: عبدالله بـن عبـاس رضـی الله عنهمـا بـه د عربـو لـه اشـعارو د قرآن کـريم معنـاوې راخيسـتې. يـوه ورځ عبـدالله بـن عبـاس رضی الله عنهما پـه مکـي حـرم کـې لـه کعبـې سره ناست ؤ، خلک ترې را چاپېر وو او د قرآن کريم د تفسـير پـه هکلـه يـې تـرې پوښـتنې کـولې. نـافع بـن الازرق نجـده بـن عـويمر تـه وويل: راځه چې مـونږ هـم تـرې وپوښـتو. څـه مناقشـه يـې ور سره وکړه او بيا يې ترې وپوښتل:

---

۱ - التفسير و المفسرون: ۱ / ۷۴. الموافقات: ۲ / ۸۸.

" يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّنْ نَارٍ " کې د (شُوَاظُ) څه معنی ده؟ هغه ورته وويل : هغه لمبه چې لوږی پکې نه وي . نافع ورته وويل: مخکې له دې، چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندې قرآن نازل شي، آیا عربو دا معنی پېژندله؟ هغه ورته وويل: هو، تا د اُمیه بن ابی الصلت دا شعر نه دی اورېدلی؟:

أَلَامِنْ مُبْلِغٍ حَسَّانَ عَنِّيْ
مُغَـلْغَـلَةً تَـدُبُّ إِلى عُكَا ظِ
أَلَيْسَ أَبُوْكَ قَـيْنًا كَانَ فِيْنَا
إِلَى الْقَيْنَاتِ فَسْلًافِی الْحُفَا ظِ
يَمَـانِيًّا يَظِلُّ يَشُبُّ كِـــيْرًا
وَ يَـــنْـفُخُ دَائِبًا لَهَبَ الشُّوَاظِ

" آیا داسې څوک شته، چې حسان ته زما له پلوه دا خبره ورسوي، چې د عکاظ بازار ته بې پروا ينګرو ښځو ته بې مرو ته ورځې، آیا ستا پلار مونږ کې د یمن ینګر نه ؤ، چې د ینګرۍ نغري کې به یې سکاره بلول او د اور بې لوږي لمبو ته به یې بنۍ وهله ؟! "

نافع ورته وويل: ريښتيا دې وويل.

دا را ته ووايه چې: " وَنُحَاسٌ فَلَا تَنْتَصِرَان" کې د "نُحاس" څه معنی ده ؟. عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ورته وويل: " هغه لوږی، چې لمبه نه لري " هغه ورته وويل: آیا

عربو دا معنی مخکې پېژنده؟ ابن عباس رضی الله عنهما ورته وویل: هو، تا د نابغه ذُبیاني دا شعر نه دی اورېدلی ؟:

يُضِيْءُ كَضَوْءِ السِّرَاجِ السَّلِيْـ ـطِ لَمْ يَجْعَلِ اللهُ فِيْهِ نُحَاسًا

داسې رڼا کوي لکه د تېلو د چراغ چې الله تعالی پکې لوږی نه دی پیدا کړی.

نافع ورته وویل: ریښتیا دې وویل . دا راته ووایه چې: "أَمْشَاجٍ نَبْتَلِيْهِ" کې د "امشاج" څه معنی ده؟.

عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ورته وویل: دا د نارینه او ښځینه اوبه (مني) دي، چې په رحم کې سره ګډې وډې شي.

هغه ورته وویل: آیا عربو دا معنی مخکې له دې پېژنده ، چې الله تعالی په محمد صلی الله علیه وسلم کتاب نازل کړي، ؟.

ابن عباس رضی الله عنهما ورته وویل: هو، تا د ابوذؤیب هذلي دا شعر نه دی اورېدلی چې وایي:

كَأَنَّ النَّصْلَ وَ الْفُوْقَيْنِ مِنْهُ خِلَالَ الرِّيْشِ سِيْطَ بِهِ مَشِيْجُ

" د غشي تېره څوکه او لکی د غشي په پېیلو کې داسې برېښي ته به وایي چې کوم ښه ګډون پرې پوښل شوی دی".

نافع ورته وویل: ریښتیا دي ووېل . دا راته ووایه چې: "وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقْ" کې د "السّاقُ بِالسّاقْ" څه معنی ده؟. ابن عباس رضی الله عنهما ورته وویل: "جنګ". هغه ورته وویل: مخکې له دي چې په محمد صلی الله علیه وسلم کتاب نازل شي، آیا عربو دا معنا پېژندله؟. ابن عباس رضی الله عنهما ورته وویل: هو، تا د ابوذؤیب دا شعر نه دی اورېدلی چې وایي:

أَخُو الْحَرْبِ إِنْ عَضَّتْ بِهِ الْحَرْبُ عَضَّهَا
وَإِنْ شَمَّرَتْ عَنْ سَاقِهَا الْحَرْبُ شَمَّرَا

" د جنګ ورور دی، که جنګ پرې غاښ ولګوي؛ دی یې هم پرې لګوي او که جنګ پنډۍ بډوهي؛ دی یې هم بډ وهي ".
نافع ورته وویل: ریښتیا دي وویل.
دا اوږده مناقشه ده او نافع عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه په قرآن کریم کې د څه له پاسه دوه سوو ځایونو پوښتنه کړې او د ټولو معناوې یې ورته د جاهلیت په شعرونو کړې دي، که خبره ډېره نه اوږدېدی، نو ما به هغه ټول ځایونه راوړي وو؛ خو دلته په همدې بېلګو بسنه کوو.
عبدالله بن عباس رضی الله عنهما به د قرآن کریم معناوې د عربو په اشعارو کولې، په یو روایت کې داسې راځي:

عَنْ عِكْرَمَةَ قَالَ: كَانَ إِذَا سُئِلَ ابْنُ عَبَّاسٍ عَنْ شَيْءٍ مِّنَ الْقُرْآنِ أَنْشَدَ شِعْرًا مِنْ أَشْعَارِ هِمْ. ۱

عکرمه رضی الله عنه نه روایت دی، هغه وایي: عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه به چې د قرآن کریم د کوم عبارت په هکله پوښتنه وشوه، نو هغه به د عربو له شعرونو کوم شعر ورته ووایه.

په بل روایت کې داسې راغلي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: " الزَّنِيْمُ ": اللَّئِيْمُ الْمُلْزَقُ، ثُمَّ أَنْشَدَ هذَا الْبَيْتَ:

زَنِيْمٌ تَدَعَّاهُ الرِّجَالُ زِيَادَةً
كَمَا زِيْدَ فِيْ عِرْضِ الْأَدِيْمِ الْأَكَارِعُ ۲

عبدالله بن عباس رضی الله عنهما د " زنیم " معنی په " ګډوډ حرامي " وکړه او بیا یې دا شعر ولوست:

" حرامي دی، خلک یې داسې بې کاره، خوشې او زیاتي ګڼي، لکه د څارویو د پښو پوستکي کې چې را وتلي ښنګري زیاتي دي ".

عبدالله بن عباس رضی الله عنهما وایي:

" الشِّعْرُ دِيْوَانُ الْعَرَبِ فَإِذَا خَفِىَ عَلَيْنَا الْحَرْفُ مِنَ الْقُرْآنِ الَّذِيْ أَنْزَلَهُ اللّٰهُ بِلُغَةِ الْعَرَبِ، رَجَعْنَا إِلى دِيْوَانِهَا فَالْتَمَسْنَا ذٰلِكَ مِنْهُ " ۳

---

۱ - رواه ابن ابی شیبة و اخرجه ابن سعد فی طبقاته.

۲ - رواه ابن ابي شیبة و اخرجه ابن سعد فی طبقاته.

۳ - الاتقان للسیوطي: ۱ / ۱۱۹ واخرجه الحاکم و عبد بن حمید و ابن المنذرو ابن ابی حاتم و البیهقی فی الاسماء و الصفات و السنن و شعب الایمان و احمد و ابن حبان.

"شعر د عربو دېوان دی، کله چې په مونږ د هغه قرآن کوم توری سخت شي، چې الله تعالی د عربو په ژبه نازل کړی دی، نو مونږ د همدې ژبې دېوان ته ورستنېږو او په همدې کې یې معنی لټوو".

په بل روایت کې راځي، چې عبدالله بن عباس رضی الله عنهما به داسې ویل:

" إِذَا قَرَأْ تُمْ شَيْئًا مِنْ كِتَابِ اللهِ تَعَالى فَلَمْ تَعْرِفُوْهُ فَاطْلُبُوْهُ فِيْ أَشْعَارِ الْعَرَبِ فَإِنَّ الشِّعْرَ دِيْوَانُ الْعَرَبِ " ۱

"کله چې تاسو د الله تعالی له کتابه څه لوستل او پرې ونه پوهېدئ، نو معنی یې د عربو په شعرونو کې ولټوئ، ځکه چې شعردعربو دېوان (لغت پانګه) ده".

د مشهور عالم او لغوي: ابوبکر انباري رحمه الله په نورو سربېره درې لکه (۳۰۰۰۰۰) د شعر داسې بیتونه یاد وو، چې د قرآن کریم دمعانیو لپاره مثالونه جوړېدی شي.

امام ذهبي او ځینې نور علماء وایي:

" قَالَ أَبُوْعَلِيٍّ الْقَالِي: كَانَ شَيْخُنَا أَبُوْبَكْرٍ يَحْفَظُ فِيْمَا قِيْلَ: ثَلَاثَمِائَةِ أَلْفَ بَيْتٍ شَاهِدٍ فِى الْقُرْآنِ " ۲

" ابوعلی القالي ویلي دي: زمونږ استاذ: ابوبکر ته درې سوه زره (درې لکه) (۳۰۰۰۰۰) بیته داسې شعرونه یادوو، چې د

۱ - تفسیر روح المعاني: ۱۹ / ۱۵۰ و المراجع السابقة.
۲ - سیر اعلام النبلاء: ۱۵ / ۲۷۵ . الانساب للسمعاني: ۱ / ۲۱۳ شذرات الذهب: ۲ / ۳۱۶.

قـرآن کـریم د معـانیو، تفسـیر او ترجمـې لپـاره مثالونـه جوړېدی شي ".

امام ذهبي له دې وروسته وايي:

" قُلْتُ: هَذَا يَجِيْءُ فِيْ أَرْبَعِيْنَ مُجَلَّدًا ".

" زه وایم: دا شعرونه په څلوېښتو ټوکونو کې راځي ".

د هغه وخت فطري او طبیعي ژوند او د ابوبکر انبـاري رحمـه الله قوي حافظه که مونږ وڅېړو، نو دا لرې نه ده، چې دومـره شعرونه دې یې یادوي. د هغه پلار به ویل، چې زمـا د زوی د خپل کتابتون ټول کتابونه په یادو یاد دي.

پـه یـو روایـت کـې راځـي، چـې د قـرآن کـریم یـو سـل او شـل (۱۲۰) تفسیرونه یې له سندونو سره یاد وو.

د ابوذر رضی الله عنه د اسلام راوړلـو پـه کیسـه کـې راځـي، چې هغـه وايـي: مـا تـه زمـا ورور: (انـیس) وویـل: زمـا مکـې مکرمې کې څه کار دی، هغه مکې ته لاړ او هلتـه لـږ ایسـار شو، کله چې راستون شو؛ ما ورته وویل: ولې ایسار شـوې؟ هغه وویل: له یو داسې سړي سره مـخ شـوم، چې وايـي: الله تعالی رالېږلی یم. ما ورته وویل: نو خلک د هغه په هکله څـه وايـي؟. هغـه وویـل: هغـوی وايـي، چـې شـاعر، جـادوګر او کوډګر دی. ابـوذر وايـي: انـیس شـاعر ؤ؛ هغـه وايـي: پـه الله قسـم دی، چـې مـا د هغـه وینـا د شـعر ټولـو ډولونـو بانـدې وړاندې کړه؛ هیڅ یوه سره یې سـمون نـه خـوړ. او د کـوډګرو

خبرې مې هم اورېدلې دي، چې دا د هغوی خبرې هم نه دي.
په الله قسم دی، چې دا پېغمبر محمد (صلی الله علیه وسلم) رېښتينی دی او هغوی دروغجن دي. ۱
انيس د خپل سالم فطرت، لغوي پياوړتيا او پاک طبيعت له کبله په دې وپوهېده، چې دا قرآن د الله تعالی معجز کتاب دی.
دا او داسې نورې ډېرې کيسې په دې دلالت کوي، چې ده غه وخت عرب په قرآن پوهېدل.

د قرآن کريم اعجاز

قرآن کريم يو معجز کتاب دی، چې د ګردې نړۍ وګړي ددې په وړاندې بې وسه او عاجز دی. ولې به نه وي ؟! دا ځکه چې قرآن کريم د الله تعالی کتاب دی، نو لکه څرنګه چې د الله تعالی په وړاندې ټول مخلوقات عاجز او بې وسه دي، د هغه جل جلاله د کتاب او کلام په وړاندې هم د هيچا دا وس نشته، چې دا سې يو کتاب وليکي، يا ددې کتاب د يو سورت يا يو آية غوندې سورت يا آية راوړي.
مخکې دا ننګونې په څو آيا تونو کې تېرې شوې او دا هم تېره شوه، چې که انسانان او پېريان ټول راټول شي اودا

۱ - رواه مسلم و ابن سعد فی طبقاته.

هڅه وکړي، چې دقرآن کریم په څېر کتاب رواړي، نودا کار نه شي کولی او ټول بې وسه دي.

د قرآن کریم د اعجاز مساله یوه داسې پلنه او د ډېرو اړخونو او ژوره مساله ده، چې ددې له پوره څېړنې څخه هم انسان بې وسه دی.

یوائځې دا نه ده، چې د عربو فصحاء او بلغاء دقرآن کریم په څېر دفصیح او بلیغ کلام له راوړلو بي وسه وو، بلکې دهرې زمانې د بدلون، انکشافاتو، اختراعاتو او نویوعلومو او اسرارو د رابرسېره کېدلو سره د قرآن کریم اعجاز بیا بیا نوی کېږي، پراخېږي او جو تېږي.

څومره چې انسان د کائناتو اسرار راڅرګندوي او نویو نویو حقیقتونو ته رسېږي؛ همغومره اولازیات دقرآن کریم رېښتینولي او اعجاز راڅرګندېږي، جوتېږي اوحقیقتونه یې را برسېره کېږي.

قرآن کریم د الفاظو او جملو په ترکیب، اسلوب او تنسیق کې معجِز دی، په نظم، بیان، فصاحت او بلاغت کې معجز دی، د علومو او حقائقو په را څرګندولو کې معجز دی، دغیبو او پټو په اِخبار کې معجز دی، په معنا او خوږلنې کې معجز دی، د یو قانون او د ژوند د سمون او د نړۍ درغونې او ښېګړو د بنسټونو د ایښودلو په حیث معجز دی، د یوې مثالي ټولنې د جوړولو په حیث معجز دی،

ددنیوي او اخروي نېکمرغیو د کړنلارې په حیث معجز دی، د دین او تشریع په حیث معجز دی، په هرې زمانې او هر ځای کې په هر ډول ظروفو کې د تطبیق وړ دی، ترمیم او بدلون ته اړتیا نه لري، ددې کتاب د زده کړې او عمل له کبله د عربو شپانه د نړۍ حاکمان او سرکښان شول...

لنډه دا چې قرآن کریم له لغوي پلوه معجِز دی، له علمي اړخه معجز دی، له قانوني او تشریعي پلوه معجز دی، له سیاسي او تاریخي پلوه معجز دی، د ریښتینولۍ او سپېڅلتیا له پلوه معجز دی، له حقیقتونو او واقعیتونو سره د موافقت له اړخه معجز دی، د وړتیا او پیاوړتیا له پلوه معجز دی، او له هر حیثه، له هر اړخه او هر مفهومه معجز دی.

(اِعْجَاز) بې وسه کولو ته ویل کېږي " مُعْجِز " اسم فاعل دی معنا یې " بې وسه کوونکی " ده نو قرآن کریم له هر لحاظه بې وسه کوونکی کتاب دی. مطلب دا چې ددې په وړاندې نور ددې په څېر له راوړلو بې وسه دي.

قرآن د نورو له انده

هغه پوهان، مفکرین، لیکوالان او د ژوند او اند دمختلفو اړخونو پورې اړه لرونکي وګړي، چې خپله مسلمانان نه دي؛ خو د قرآن او اسلام په حقانیت اعتراف

کوي او ډېرو پکې ضد او عناد پرې ایښی او په بصیرت یې اسلام منلی دی؛ دا ډول خلک په مستشرقینو کې ډېر زیات دي. مونږ دلته د بېلګې او ساري په توګه د ځینو هغو پوهانو ویناوې را اخلو چې د اسلام او قرآن د پراخې مطالعې له کبله ورته د قرآن او اسلام حقانیت ښکاره شوی او مسلمانان شوي دي. او یا یې دخپلو ځانګړیو لاملونو یا عناد له کبله اسلام ته غاړه نه ده ایښې؛ خو د اسلام او قرآن په حقانیت یې اعتراف کړی دی، د قرآن مطالعې اغېزمن کړي او دې ته اړ ایستي دي، چې په دې اعتراف وکړي، چې دا قرآن د الله تعالی کتاب او حق دی،له دې سره څوک نه سیالي کولی شي او نه یې پېښې. قران تر ټولو پیاوړی، سپېڅلی، پاک، سوچه او له لاسوهنې ساتل شوی کتاب دی.

کویریم

عبدالله کویریم (Kwerem) یو انګرېز لیکوال او مفکر دی په (۱۸۵۶) م کې زېږېدلی او په (۱۸۸۷) م یې له اسلام قبلولو وروسته نوم عبدالله کویلیام کېښود، څو کتابونه یې لیکلي دي.
نوموړی د قرآن په هکله وایي:

" ما په (دائرة المعارف العامة) (Popural Encyclopedia) کې دا عبارت ولوست، چې په عربي ژبې کې د قرآن ژبه تر ټولو فصیحه ژبه ده، د قرآن د انشاء او پیاوړتیا ښکلاوې ددې لامل دی، چې نه یې څوک پېښې کولی شي او نه یې ساری شته؛ عقلي احکام یې داسې پاک او سوچه دي، چې که انسان ورته د بصیرت په سترګه وګوري او سوچ پکې وکړي، نو ډاډمن ژوند به وکړي...".

او وایي: " د قرآن فصاحت او بلاغت، د بلاغت څښتنان بې وسه کړي او د پخوانیو او اوسنیو فصیحان یې حیران کړي دي. که مونږ د قرآن احکامو او څرګندو حکمتونو ته په دقت وګورو، نو وبه ګورو، چې انسان په خپل ژوند، کمال او د اخلاقو په تهذیب کې څه ته اړتیا لري؛ هغه ټول په قرآن کې شته. همدارنګه کوم ناوړه کارونه او اخلاق، چې د هغو تاوان او بدي په ګڼو تجربو ثابته شوې ده؛ قرآن ترې انسان منع کوي... په دې سربېره پکې د هېوادونو د سیاست او ودانۍ په هکله هم پیاوړي احکام دي....

د قرآن احکام یواځې له ادبي او دیني فرائضو پورې محدود نه دي، بلکه قرآن اسلامي نړۍ لپاره یو عام قانون دی. په قرآن کې ټول مدني، تجارتي، حربي، قضائي او جزائي... قوانین شته، قرآن یو داسې دیني قانون دی، چې ټول امور د همدې په محور را څرخي. که هغه دیني امور دي او که د

ژوند، د نفس د ژغورنې دي او که د بدن د روغتیا، د رعیت حقوق دي او که د هر فرد، د انسان ځانګړې ګټې دي او که د ټولنې، د فضیلت امور دي او که د ګونا، ددې دنیا قصاص دی او که د آخرت... له همدې کبله قرآن په مادي توګه له هغو مسیحي سپیڅلیو کتابونو څخه مختلف دی چې له دیني بنسټونو څخه پکې هیڅ نشته؛ بلکې اکثره پکې کیسې، خرافات او د عبادت په امورو کې ګډوډي ده... چې دا ټول نا معقول او بې اغېزې دي... ". ۱

بروز

ډاکټر میلر بروز (Millar Burrows) د (ییل) پوهنتون کې د ختیزو ژبو د آدابو د قسم رئیس او د انجیل د فقهې استاذ پاتې شوی دی، د بېروت په امریکې پوهنتون کې یې هم استاذي کړې ده، او په قدس کې د ختیزو څېړنو د امریکي ښوونځي مدیر هم پاتې شوی دی. ډېر کتابونه یې لیکلي دي. هغه د قرآن په هکله وایي: " په طبیعي ځواکونو د انسان د لاسرسۍ په زیاتېدو کې کوم داسې څه نشته، چې له دین سره په ټکر کې وي؛ په قرآن کې یو آیة دی؛ مونږ ترې دا پایله اخیستی شو؛ کېدی شي، چې

۱ - العقیدة الاسلامیة. د عبدالله کویلیام لیکنه. احسن الاجوبة. د عبدالله کویلیام لیکنه.

د شمسي مجموعې د پيداوښت له موخو نه دا هم وي، چې د انسان پاملرنه دې ته راواړوي، چې د فلکياتو علم زده کړي او په خپل ژوند کې ترې ګټه واخلي.

هغه آية دا دی:

" هُوَ الَّذِي جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاءً وَالْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوا عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ مَا خَلَقَ اللَّهُ ذَلِكَ إِلَّا بِالْحَقِّ يُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ " ۱

" الله هغه ذات دی، چې لمر يې روښانه او سپوږمۍ يې رڼا کړې ده او ددې لپاره يې پوړۍ په پوړۍ اندازه کړې ده، چې د کلونو او حساب په شمېر و پوهېږئ، الله دا يوائې په رېښتيا پيدا کړي دي. هغو خلکو ته نښې جوتوي، چې پوهېږي"

قرآن دې ته زياتې اشارې کوي، چې طبيعت د انسان تابع دی او دا ځکه، چې د شکر او ايمان لاملونه دي.

لکه چې فرمايي:

" وَالَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُمْ مِنَ الْفُلْكِ وَالْأَنْعَامِ مَا تَرْكَبُونَ لِتَسْتَوُوا عَلَى ظُهُورِهِ ثُمَّ تَذْكُرُوا نِعْمَةَ رَبِّكُمْ إِذَا اسْتَوَيْتُمْ عَلَيْهِ وَتَقُولُوا سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ " ۲

" الله هغه ذات دی، چې ټولې جوړې يې پيدا کړې دي او هغه بېړۍ او څاروي يې درته پيدا کړي دي، چې پرې سپرېږئ. دا ددې لپاره، چې په شاګانو يې سپاره شئ او کله

---

۱ - سورة يونس: ۵.

۲ - سورة الزخرف: ۱۲ / ۱۳.

چې پرې سپاره شئ، نو د خپل رب لورېنه رایاده کړئ او وواییئ: هغه ذات ډېر پاک دی، چې مونږ ته یې دا تابع کړی د؛ که نه نو مونږ ورته نږدې کېدونکي نه وو ".

قرآن یوائې د څارویو تابع کول او په کار راوړل نه یادوي، بلکه بېړۍ هم یادوي. نو کله چې اوښ او بېړۍ د الله له لویو لورېنو او نعمتونو څخه وي، نو آیا اورګاډی، موټر او الوتکه به له دې هم زیات نه وي ؟ ". ۱

بروز وایي: " د علم ډېرې لویې پایلې دا دي، چې یا د رڼکوونکیو او یا د رغوونکیو موخو لپاره ترې کار واخیستل شي؛ په قرآن کې د همدې موخو لپاره د اوسپنې د استعمال په هکله داسې راغلي دي:

" وَأَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ مَنْ يَنْصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ " ۲

" مونږ اوسپنه پیدا کړې ده، چې سخت جنګ او د خلکو لپاره پکې ګټې دي او ددې لپاره ده، چې الله هغه څوک په ګوته کړي، چې په نالیدلو د هغه او د هغه د پېغمبرانو مرسته کوي؛ الله بې شکه ځواکمن او پیاوړی دی ".

---

۱ - الثقافة الاسلامية: ۵۱.

۲ - سورة الحديد: ۲۵.

ایروینج

واشنګټن ایروینج (W. Irving) امریکي مستشرق دی، ډېر کتابونه یې لیکلي دي لکه: (د عربي پېغمبر سیرت) او داسې نور.

ایروینج د قرآن په هکله داسې وایي: " یو وخت داسې ؤ، چې تورات د انسان لارښود او د تګلارې بنسټ ؤ، تر دې چې کله مسیح علیه السلام را څرګند شو، نو مسیحیان د انجیل لارښوونو پسې لاړل، بیا قرآن ددې دواړو ځای ونیو؛ قرآن له مخکنیو دواړو کتابونو نه زیات بشپړ او مفصل ؤ. همدارنګه قرآن هغه تغیر او تبدیل هم صحیح کړ، چې په دواړو مخکنیو کتابونو کې ننوتی ؤ.په قرآن کې هر څه شته او ټول قوانین پکې پراته دي. دا ځکه چې دا د اسماني کتابونو وروستنی کتاب دی ".

او وایي: " قرآن مهربانی،سپېڅلتیا او پیاوړیو اخلاقي کړنلارو ته بلنه ورکوي". ۱

۱ - د محمد ژوند د ایروینج لیکنه.

بلاچير

بلاچير (Blachere) پاريس ته نږدې زېږېدلى دى، ثانوي زده کړې يې په (دارالبيضاء) کې کړې دي، د الجزائر په پوهنتون کې د ادب له پوهنځي فارغ شوى دى، په رباط کې د يوسف په معهد او نورو کې مدير، استاذ او په پاريس کې د ختيزو ژبو په ښوونځي کې د عربي ادب استاذ پاتې شوى دى، د پاريس له پوهنتون څخه يې دکتورا اخيستې ده، په سوربون کې يې استاذي کړې ده، په عربي او فرانسي مجلو کې يې کار کړى او ډېرې ليکنې يې کړې دي. فرانسي ته يې قرآن کريم ژباړلى او (تاريخ الادب العربي) کتاب يې ليکلى دى.

نوموړى د قرآن کريم په هکله وايي:

" قرآن يوائې د محتوا او ښوونې له مخې معجزه نه ده، بلکه تر ټولو مخکې دا يوه پياوړې ادبي ډالۍ ده او له هغو ټولو انساني شاهکارونو څخه لوړه ده، چې انسانيت منلي دي... ".

مارسيل بوازار

مارسيل بوازار يو فرانسوي قانونپوه او مفكر دی، نړيوالو اړيکو او د انسان د حقوقو مسائلو ته يې زياته پاملرنه کړې ده او په دې هکله يې ډېرې څېړنې کړې دي. (د اسلام انسانيت) کتاب يې ليکلی دی.
نوموړی د قرآن کريم په هکله وايي:
" قرآن يوائځې د جاهليت د عربو د اخلاقي اصلاح لپاره نه دی راغلی، بلکه يو داسې بشپړ او تلپاتې شريعت يې راوړی دی، چې په هرې زمانې او هروخت کې له بشري حقيقتونو او ټولنيزو غوښتنو سره سمون خوري ".
همدارنګه وايي:
" په دې کې هيڅ شک نشته؛ هغه توکي، چې قرآن يې برابروي؛ کولی شي چې نوې بريالۍ او پرمختللې ټولنه جوړه کړي ". ۱

ډيبورا پوټر

ډيبورا پوټر (D. Potter) يوه امريکنۍ قلمواله او ژورنالسته ده، د اسلام له مطالعې نه وروسته ورته دا جوته شوه، چې له اسلام پرته بل داسې دين نشته، چې دهر نارينه

---

۱ - د اسلام انسانيت.

او ښځينه انسان غوښتنو ته مثبت ځواب ووايي. (۱۹۸۰) م کې يې اسلام ومانه او يو مسلمان داعي سره يې نکاح وکړه.

نومورې د قرآن کريم په هکله وايي: " ما چې کله قرآن بشپړ ولوست؛ په دې وپوهېدم؛ دا هغه حق کتاب دی، چې د پيداوښت او نورو مسائلو په هکله پکې ډاډمن ځوابونه شته او مونږ ته د پېښو په هکله داسې منطقي ځوابونه را کوي، چې په نورو ديني کتابونو کې يو تر بله سره په ټکر کې دي. خو قرآن د هغو په هکله په داسې يو پياوړي ترتيب او جوت اسلوب خبرې کوي، چې په دې کې شک ته هيڅ لار نه پرېږدي، چې دا يو حقيقت دی او دا خبرې هرو مرو د الله تعالی له پلوه دي".

او وايي: " محمد صلی الله عليه وسلم، چې يو نالوستی سړی ؤ او په جاهلي چاپېريال کې را لوی شوی ؤ، څرنګه يې وکولی شو، چې د کائناتو هغه معجزې خلکو ته وروپېژني، چې قرآن کريم څرګندې کړې دي او تر ننه نوی علم د هغو د راښکاره کولو کوښښ کوي!؟ له دې پرته بل هيڅ نه شي کېدی، چې دا قرآن د الله تعالی کلام دی" ۱.

---

۱ - رجال و نساء اسلموا.

موريس بوكايلي

ډاکټر موريس بوکايلي (Maurice Bucaille) يو مشهور فرانسوي ډاکټر او عالم دی، په نورو ليکنو سربېره يې د " قرآن کريم، تورات، انجيل او علم " په نامه کتاب ليکلی دی، چې په خپلې موضوع کې ډېر ژور او هر اړخيز دی.

نوموړی د قرآن په هکله وايي: " بې له دې چې د قرآن په هکله کوم مخکنی نظر ولرم، د قرآن مطالعه مې وکړه، په بشپړې پاملرنې مې دا پلټنه وکړه، چې قرآن د نوي علم له څېړنو سره څومره سمون خوري؟ له دې مخکې څرنګه د ژباړو له لارې دا وپېژنم، چې قرآن د ډېرو ګڼو طبيعي حقيقتونو يادونه کوي؟. کله مې چې د عربي ژبې ژوره مطالعه وکړه؛ ومې کولی شو؛ دا ثابته کړم، چې په قرآن کې هيڅ داسې کومه خبره نشته، چې په اوسني عصر کې د علم له نظره پرې کره کتنه وشي. په همدې ترتيب مې په عهد قديم او انجيلونو کې هم پلټنه وکړه، د عهد قديم په هکله خو له لومړني کتاب: " سفرالتکوين " نه وړاندې تللو ته هيڅ اړتيا نشته، په دې کې مې داسې خبرې وموندلې، چې هغه او زمونږ د نوي عصر علمي څېړنې سره سمون نه خوري. او د انجيلونو ترمنځ خو زيات ټکر دی.

مـونږ وينـو، چـې د "متـي" انجيـل يـوه خبـره د "لوقـا" لـه انجيل سره څرګنده په ټکر کې ده. او دا وروستنی مـونږ تـه ښکاره داسې يوه خبره را وړاندې کوي، چې لـه نويـو علمـي څېړنو سره هيڅ سمون نه خوري".

او وايي: "د قرآن ځانګړيو علمي اړخونو پـه لومړيـو کـې زه ډېر ژور حيران کـړم. مـا داګمـان نـه کـاوه، چـې لـه ديـارلس پيړيو پخواني کتاب کې دې داسې ډېـر مهـم حقيقتونـه وي، چـې د نويـو علمـي څېړنـو سـره دې بشـپړ سـمون ولـري. مـا مخکې په اسلام هيڅ عقيده نه لرله او ايمان مې نه ؤ راوړی. مخکې له دې، چې د قرآن په هکله څه نظر او عقيـده ولـرم؛ پـه بشـپړ ازاد روح او پـوره ترکيـز مـې د قـرآن د نصوصـو مطالعه او څېړنه وکړه...".

او وايي: "دا څرنګه کېدی شي، چې يو نا لوستی انسـان دې د ځينو داسې علمي حقيقتونو پـه هکلـه څرګنـدونې وکـړي، چې نه په هغه زمانه کې د چا له وسه دا کـار پـوره ؤ او نـه يـې تر اوسه په څرګندونو کې کومه غلطي پيدا شوې ده؟!...".

بشيربيکارډ

ويليـم بـيرشل بشـير بيکـارډ (W.B. Beckard) يـو مشهور انګرېز ليکوال دی، ډېر ادبي او علمـي کتابونـه يـې

ليکلي دي، په لومړني نړيوال جنګ کې يې ونډه اخيستې وه او بندي شوی ؤ. په ۱۹۲۲ م کې په اسلام مشرف شو.
نوموړی د قرآن کريم په هکله وايي:
"د فرانسوي سافاري د قرآن يوه ژباړل شوې نسخه مې واخيسته، چې دا زما يوه ارزښتناکه اخيستنه وه، د قرآن له مطالعې راته ډېره لويه ګټه را ورسېده او ډېر پېرې خوشحال او نېکمرغه شوم. تر دې چې دا مې محسوسه کړه، چې د تلپاتې حقيقت د مبارک نور وړانګې رابانـدې را خپرې شوې".

فيليپ هيټي

ډاکټر فيليپ هيټي (P. Hitti) يو امريکي عالم دی، په ۱۸۸۶ م کې زېږېدلی دی، بيروت کې له امريکي پوهنتون څخه فارغ شوی دی او په ۱۹۱۵م يې د کولمبيا له پوهنتون دکتورا اخيستې ده. له ۱۹۱۹ نه تر ۱۹۲۹ م په همدې پوهنتون کې د عربي تاريخ استاذ پاتې شوی دی، دبرنسون په پوهنتون کې له (۱۹۲۶ – ۱۹۲۹ م) پورې استاذ او د شرقي آدابو او لغاتو د قسم رئيس پاتې شوی دی، ځو کتابونه يې ليکلي دي او په ډېرو ټولنو کې يې کار کړی دی.

نوموړی د قرآن کریم په هکله وایي:
" قرآني اسلوب له نورو مختلف دی، قرآن په بل اسلوب نه پرتله کېږي او نه دا امکان لري، چې څوک د قرآن پېښې وکړي. همدا د قرآن بنسټیز اعجاز دی...
قرآن تر ټولو ستره معجزه ده " . ۱

هوني

بریجټ هوني (Bridget Honey) په یوې مسیحي انګرېزي کورنۍ کې زېږېدلې ده، کاناډا کې د فلسفې له څانګې فارغه شوې ده.
کله یې چې د اسلام مطالعه وکړه، نو د اسلام حقانیت ورته ثابت شو، مسلمانه شوه او په ځان یې " عائشه " نوم کېښود.
هغه د قرآن په هکله وایي:
" هر څومره هڅه چې وکړم، زه هغه اغېز نه شم ستایلی، چې قرآن زما په زړه کې پرې ایښی دی. زه د قرآن د دریم سورت له لوستلو لا فارغه شوې نه وم، چې د کائناتو خالق ته مې ځان په سجده ومونده، دا زما په اسلام کې لومړنی لمونځ وُ".۲

۱ الاسلام منهج حیاة.
۲ - رجال و نساء اسلموا.

جورج حنا

ډاکټر جورج حنا یو لبناني مسیحي مفکر دی، ډېرې لیکنې یې کړې دي، هر څه ته یوائخې له طبیعي او مادي نظره کتنه کوي. هغه د قرآن په هکله وایي:

" په دې اعتراف اړین دی، چې ووایو: سرېېره پر دې، چې قرآن د یو دین او قانون کتاب دی، دا د فصیحې عربي ژبې کتاب هم دی، د عربي ژبې په غوړېدو د قرآن د ژبې لوی احسان دی، ډېر ځله د ژبې امامان - که مسلمانان وي او که مسیحیان - د یوې کلمې د بلاغت او بیان په هکله قرآن ته رجوع کوي.

که مسلمانان دا ګڼي، چې د قرآن د ژبې د سمون اړینه پایله دا ده، چې قرآن نازل شوی او د خطا احتمال نه لري، نو مسیحیان هم په همدې اعتراف کوي... ". ۱

پروفیسر جیب

سیل هامیرټون الکساندر روسکین جیب (Prof Sil Hamirton. A. L. Gibb) (۱۸۹۵ - ۱۹۶۷) م د انګرېزي مستشرقینو امام ګڼل کېږي، د لندن او اکسفورډ په

۱ " قصة الانسان " د جورج حنا لیکنه.

پوهنتونونو کې استاذ پاتې شوی دی، عربي ادب، اسلام او مشرقیاتو کې پراخه مطالعه لري. ډېر کتابونه یې لیکلي دي او د " دائرة المعارف الاسلامیة " له لیکوالانو څخه هم دی. نوموړی د قرآن په هکله وایي:

" که څوک دا ګڼي، چې ګڼي قرآن د خیر په کارونو ډېر ټینګار نه دی کړی، نو مونږ به د هغه دا غلطي په جوت دلیل ثابته کړو او د نېکۍ هغه بشپړ تعریف به ورته رامخې ته کړو، چې په دې ستر آیة کې راغلی دی:

" لَيْسَ الْبِرَّأَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ أُوْلَئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ " ۱

" دا نېکي نه ده، چې د ختیز او لوېدیز لور ته خپل مخونه واړوئ، نېکي دا ده، چې څوک په الله، د آخرت په ورځ، ملائکو، کتاب او پېغمبرانو ایمان راوړي او له مینې سره سره یې خپلوانو، یتیمانو، بې وزلو، مسافرو، سوالګرو او د غلامانو، وینځو او بندیانو په ازادولو کې مال ورکړي، کره پوره لمونځ یې وکړي، زکات یې ورکړي، او کله چې ژمنې وکړي د خپلو ژمنو پوره کوونکي، په ولږو، ناروغیو او د

---

۱ - سورة البقرة: ۱۷۷.

جنګ په وخت کې صبر کوونکي وي؛ همدا خلک هغه څوک دي، چې رښتيا يې ويلي او همدوی پرهېزګاران دي".
" نو جوته شوه چې نېکي د ايمان او د حق تاج دی. دا هغه پيغام دی، چې له پيله قرآن د مسلمانانو لومړني کول ته رسولی دی او ټولو کولونو او پرګنيو ته يې رسوي".
او وايي : " حقيقت دا دی، چې د لوړ شعر په څېر په بنستيزه توګه د قرآن ژباړه ناشونې ده، ځکه چې د قرآن د خزانو تعبير په عادي ژبه نه شي کېدی او د قرآن د انځورونو او مثالونو سم تعبير په بله ژباړه نه شي کېدی. دا ځکه، مخکې له دې چې لوستونکي ته د قرآن معنی څرګنده شي؛ دا اړينه ده، چې د هر عطف، مجاز او لغوي بڼکلا په هکله ورته اوږد درس ورکول شي.
همدارنګه قرآن يوه داسې خوږلني، تازګي او نا اشنا پېيلی نظم لري، چې بريد يې نه شي څرګندېدی، ځکه چې څوک په قرآن پوهېږي او غوږ ورته کېدي، نو د زده کړې منلو ته يې داسې اغېزمن کوي، ته به وايې چې کوډې دي!! ۱
په دې کې هيڅ شک نشته، چې بلې ژبې ته د قرآن ژباړه هغه اصلي بڼکلا له منځه وړي او نږه سره زر په کردونې بدلوي".۲

۱ - د راسات فی حضارة الاسلام.
۲ - الاتجاهات الحديثة فی الاسلام.

امیل ډریمینګم

امیـــل ډریمیـــنګم (E.Dremenghem) فرانســـوي مستشـرق لیکـوال او مفکـر دی، ډېـرې لیکنـې یـې کـړي او ډېرې څېړنې یې په ګڼو مجلو کې خپرې شوې دي.
" د محمد ژوند " او نـور کتابونـه یـې لیکلي دي. نومـوړی د قرآن په هکله وايي:
" په قرآن کې د مسیح علیه السلام ډېر لوړ مقام دی، د هغـه زېږېدنه د نورو وګړو د عادي زېږېدنې په څېـر نـه وه... قـرآن چې کله د مسیح علیه السلام په هکله څه وايي چې: " هغـه د الله کلمه او د الله له پلوه روح ؤ، چې مریم ته یې ور کـړی ؤ او هغه بشر ؤ... " قرآن د نصرانیت الحادي او خرافـي مذهبونـه غندي او صحیح نصرانیت په ګوته کوي... ".
او وایـي: " هـر پیـغمبـر لپـاره د هغـه پـه پیغمبـرۍ دلیـل او ننګوونکې معجزه اړینه ده... قـرآن د محمـد صـلی الله علیـه وسلم ځانګړې معجزه ده، دا یـو معجزکتـاب دی او د څېړنـو غښتلتیا یې تلپاتې ده... " ۱

۱ - حیاة محمد (د محمد ژوند) د ډریمینګم لیکنه.

ارنلد

سیرتوماس ارنلد (Sir Thomas Arnold) (۱۸۶۴ - ۱۹۳۰)م د برتانیې له لویو او مشهورو مستشرقینو څخه دی، "کمبردج" کې یې زده کړې کړې دي او د هند دعلیګړ په اسلامي پوهنتون کې څو کاله استاذ پاتې شوی دی، د لندن د ختیزو ژبو د زده کړو د عربي ژبې لومړنی استاذ پاتې شوی دی، مشهور برتانوي مستشرق : "جب" د هغه په هکله وایي : "څه چې لیکي، نو د ژور علم په مټ یې لیکي... " ډېر کتابونه یې لیکلي دي لکه "اسلام ته بلنه"، "خلافت" او داسې نور... ارنولد د قرآن په هکله وایي : "مونږ د مسیحیانو په منځ کې ډېر داسې خلک مومو لکه : اسپانوي "الفار" چې د اسلام په خلاف تعصب کې ډېر مشهور دی؛ خو په دې اعتراف کوي، چې قرآن په ډېر ښکلي او بلیغ اسلوب پیل شوی دی، چې مسیحیان یې هم لولي او خوښوي یې... "[۱]

کاستریز

کونت هنري دي کاستریز (Conte. H. de Castries) (۱۸۵۰ - ۱۹۲۷) م یو فرانسوي لیکوال او د فرانسې یو

---

۱ - الدعوة الی الاسلام. د ارنولد لیکنه.

پوځي افسردی، شمالي افریقا کې يې ډېر وخت تېر کړی دی او ډېرې ليکنې يې کړې دي.
نومورې د قرآن کريم په هکله وايي:
" عقل حيرانېږي؛ څرنګه کېدی شي، چې يو نالوستی سړی دې داسې آياتونه راوړي، چې د ختيز ټول وګړي په دې اعتراف کوي، چې د انسان فکر دا وس نه لري، چې لفظا او معنا دې داسې آياتونه راوړي، داسې آياتونه، چې عقبه بن ربيعه کله واورېدل، نو پياوړتيا ته يې ګوته په غاښ شو، لوړو عبارتونو يې عمربن الخطاب دې ته قانع کړ، چې ددې په ويونکي رب ايمان راوړي، د حبشي نجاشي له سترګو هغه وخت اوښکې وڅڅېدې، چې جعفر بن ابي طالب پرې د ذکريا (مريم) سورت ولوست او د يحی د زېږېدو کيسه پکې راغله... خو مونږ لوېديزوال د قرآن په سمې معنی نه پوهېږو. او دا ځکه چې زمونږ د افکارو او هغو موازينو خلاف دی، چې زمونږ ولسونه پرې روزل شوي دي... (جان جاک روسو) ريښتيا ويلي چې: " ځينې خلک لږه غونډې عربي ژبه زده کړي، بيا قرآن لولي او ور پورې خاندي؛ که دوی د عربي په ژورو پوهېدی او محمد صلی الله عليه وسلم نه يې هغه وخت دا قرآن اورېدلی وای، چې په فصيحې نرمې ژبې او هغه قانع کوونکې او مړوونکې ژبې يې په خلکو لوسته، چې غوږونه مستوي او په زړونو اغېز کوي...

نو په ځمکې به په سجده پرېوتي وو او غږ به يې پرې کړی ؤ، چې: "ای د الله پيغمبره! مونږ د شرف او وياړ او يا د هلاکت او خطر ځايونو ته بوځه، ځکه چې مونږ تا لپاره فتحه او يا دخپلو ځانونو مړينه خوښوو... ".
او وايي: "محمد صلی الله عليه وسلم چې قرآن راوړ، دا د هغه د پيغمبرۍ په ريښتينولۍ دليل دی، دا تر ننه له هغو رازونو څخه دی، چې را سپړل يې ناشوني دي او ددې پټ راز ژورو ته يواځې هغه څوک رسېدی شي، چې دا ريښتيا وګڼي، چې دا قرآن د الله له پلوه نازل شوی دی... ".
او وايي: "مونږ په ځينو ځايونو کې د قرآن او تورات ترمنځ ورته والی مومو؛ خو ددې لامل پېژندل اسانه دي.... ځکه مونږ ګورو؛ لکه څرنګه چې محمد صلی الله عليه وسلم خاتم الانبياء والمرسلين دی، همدارنګه قرآن د مخکنيو کتابونو د بشپړولو لپاره راغلی دی". ۱

ايتين ډينټ

ايتين ډينټ (Et. Dinet) (۱۸۶۱ - ۱۹۲۹) م يو فرانسوي ليکوال او مفکر دی، ډېر کتابونه يې ليکلي دي، د ډېرې مطالعې له سوبه د اسلام په حقيقت او حقانيت پوه

---

۱ - الاسلام خواطر و سوانح.

او مسلمان شو، له مسلمانېدو وروسته یې نوم ناصرالدین ته واړا وه، د بیت الله حج یې هم وکړ.
هغه د قرآن په هکله وایي:
"قرآن یوه داسې معجزه ثابته کړه، چې د ډېرو سترو علمي ټولنو له وسه پوره نه ده، چې سیالي ور سره وکړي....".
او وایي: "له محمد (صلی الله علیه وسلم) نه چې مخکې کوم پېغمبران تېر شوي دي، د هغوی معجزې د یو وخت لپاره وې، چې ډېرې زر هېرېدې. خو مونږ ویلی شو، چې د قرآني آیاتونو معجزه "تلپاتې معجزه" ده او دا ځکه چې، ددې اغېز تلپاتې او جاري دی، او هر مؤمن هر وخت په اسانۍ کولی شي، چې یوازې د قرآن په لوستلو دغه معجزه وویني. او مونږ کولی شو، چې د قرآن د هغه حیرانوونکو خپرېدو لامل و مومو، چې یوازې د اسلام په برخه دی. دا هغه لامل دی، چې اروپایان یې نه شي موندلی؛ دا ځکه چې هغوی په قرآن نه پوهېږي، او یا پرې یوازې د هغو ژباړو له لارې پوهېږي، چې نه پکې روح شته او نه ژورې دي".
او وایي: "د قرآن حیرانوونکی اسلوب او د معانیو ښکلا چې کله د هغو عالمانو په زړونو اغېز کوي، چې نه عربو او نه اسلام سره کوم تړاو لري، نو د هغو ځواکمنو ولولو به څه حال وي، چې د حجاز د هغو عربو په زړونو کې دي، چې

قرآن د هغوی په ښکلې ژبې نازل شوی دی ؟!... هغوی به چې کله هم قرآن وا ورېد ، نو یو زړه راښکونکي اغېز به د هغوی زړونه ونیول او په خپل ځای به داسې حیران پاتې شول، لکه چې هلته بې خوبه شوي او نشه شوي وي .
نو آیا داسې نا اشنا آیاتونه د هغه امي محمد صلی الله علیه وسلم له پلوه له ځانه جوړېدی شي، چې له دې مخکې یې هیڅ علم په برخه نه وُ؟... دا کار بېخي ناشونی دی، چې داسې قرآن دې د محمد صلی الله علیه وسلم له پلوه جوړ شوی وي . بې له دې اعتراف بله هیڅ لار نشته، چې یوائې لوړ او په هر څه بر لاسي الله دا معجز آیاتونه رالېږلي او لوستي دي..... " ۱

ول ډیورانټ

ول ډیورانټ (W. Durant) یو امریکي لیکوال دی، چې څو کتابونه یې لیکلي دي، د هغه مشهور کتاب " قصة الحضارة " دی، چې په دېرش (۳۰) ټوکو کې یې لیکلی دی او ډېر کلونه یې پرې لګولي دي.
نوموړی د قرآن کریم په هکله وایي: "... له څوارلسو پېړیو راهیسې قرآن د مسلمانانو په سینو کې محفوظ دی، چې

---

۱ - محمد رسول الله.

خیالونــه یــې رڼــوي، ښــه خویونــه پکــې پیــدا کــوي او د میلیونونو وګړو ورتیاوې پیاوړې کوي. قرآن پـه زړونـو کـې ډېرې اسـانه ګروهې پنځـوي، چې نـه ډېرې پېچلې او نـه د رواجونــو او دودونــو تــابع دي او لــه بــوت پرســتۍ او وهــم پرستۍ نه هم ازادې دي.

د مسلمانانو د اخلاقو او ثقافت پـه لوړولـو کې د قـرآن ډېـر لوی لاس دی. همدا قرآن دی، چې پـه مسـلمانانو کـې یـې د ټولنیز نظـام او ټـولنیز یـووالي بنسـټونه ایښـې دي، د سمو بنسټونو منلو ته یې هڅولي دي، د دوی عقلونه یې لـه ډېـرو خرافــاتو او وهمونــو څخــه ازاد کــړي دي، لــه ظلــم او تــاو تریخوالي یې ژغورلي دي، د غلامانو ژونـد تـه یـې سـمون ښـلی دی، د خوارو او بې وزلو په زړونو کې یې پت او عـزت پنځولی دی، او د مسلمانانو ترمنځ یـې داسې برابـري او لـه شهواتو لـرې والـی پیـدا کړی دی، چې د هغې نـړۍ پـه هیـڅ ګوټ کې یې ساری نه موندل کېږي، چې سپین وګـړي پکـې اوسېږي... " ۱

لیوبولډویس

لیوبولـډویس (L. Weiss) یـو نمسـاوي لیکـوال دی، ډېر کتابونه یې لیکلي دي او کله چې د مطـالعې پـه پـایلې

---

۱ - قصة الحضارة.

کې ورته د اسلام حقانیت څرګند شو، نو مسلمان شو او خپل نوم یې " محمد اسد " کېښود.

ډېر کتابونه یې لیکلي دي. لکه : (الطریق الی مکة)، (د صحیح بخاري ژباړه او تعلیق)، (اصول الفقه الاسلامي)، (منهاج الاِسلام فی الحکم)، (الاِسلام علی مفترق الطرق) او داسې نور. د نوموړي یو بل ملګري هم اسلام قبول کړی، چې (ولیم بکتهول) نومېږي، دواړو د هند په حیدرآباد کې د یوې مجلې بنسټ کېښود، چې (الثقافة الاسلامیة) نومېږي. نوموړی د قرآن په هکله وایي:

" زه اوس بې له کومې اندېښنې په بشپړ ډاډ وپوهېدم، چې ما په خپل لاس کې کوم کتاب نیولی ؤ، هغه داسې کتاب دی، چې د الله له پلوه یې وحې شوې ده.... ما ته له قرآنه داسې غږ راته، چې د محمد (صلی الله علیه وسلم) له غږه ډېر ستر ؤ... ". ۱

نصري سلهب

نصري سلهب (N. Sulhab) یو لبناني مسیحي لیکوال دی، کتابونه یې لیکلي او څېړنې یې کړې دي، هغه

۱ - الطریق الی مکة. دلیوبولډویس (محمد اسد) لیکنه.

خپله مسلمان نه دی؛ خو د قرآن او اسلام په حقانیت اعتراف کوي.

نوموړی د قرآن په هکله وایي:

" محمد (صلی الله علیه وسلم) امي ؤ، چې نه یې لوستل کولی شول او نه لیکل؛ خو د همدې امي په وسیله انسانیت ته په خپل تاریخ کې ډېره پیاوړې ډالۍ د کتابي اثر په جامه کې وړاندې کېږي، چې هغه قرآن کریم دی، هغه کتاب چې الله په خپل پیغمبر نازل کړی دی او د پرهېزګارانو لپاره لارښوونه ده....".

او وایي:

" که زمونږ قلم هر څومره بلیغ شي؛ خو اسلام زمونږ قلم ته اړتیا نه لري، بلکه زمونږ قلم اسلام ته اړتیا لري، د اسلام روحي او اخلاقي پنګې ته اړتیا لري، د اسلام هغه پیاوړي قرآن ته اړتیا لري، چې مونږ کولی شو چې ډېر څه ترې زده کړو ".۱

ستریز یوسکا

بوزیناګایان ستریز یوسکا (Bozena Gaiane Stryzewska) یوه بولوني ښځه‌ونکې ده، د ازهر په پوهنتون

---

۱ - لقاء المسیحیة و الاسلام. د نصري سلهب لیکنه.

کې یې په (۱۹۶۱ – ۱۹۶۵م) کې اسلامي زده کړې وکړې او عربي ژبه يې هم ښه زده کړه، د بولونيا له پوهنتون څخه فارغه شوې ده. هغه د قرآن په هکله وايي:

" سره له دې، چې قرآن کريم په يو داسې نالوستي عربي سړي نازل شوی دی، چې په نالوستي امت کې را لوی شوی ؤ؛ خو داسې قوانين يې راوړي دي، چې انسان يې له پرمختلليو پوهنتونونو پرته نه شي زده کولی. همدارنګه مونږ په قرآن کريم کې داسې علمي حقيقتونه مومو، چې نړيوالو له ډېرو اوږدو پېړيو وروسته وپېژندل" ۱

جورج سارټون

جورج سارټون (G.Sarton) (۱۸۸۴ – ۱۹۵۶م) يو بلجيکي عالم دی، په (۱۹۱۱) م کې يې په طبيعي او رياضي علومو کې دکتورا واخيسته، انګلترا کې د جنګ له کبله امريکا ته لاړ، هلته يې جنسيت واخيست، په (۱۹۱۶) م کې د واشنګټن په پوهنتون کې د علم د تاريخ استاذ پاتې شو، په (۱۹۱۷ - ۱۹۴۹) م د هارډ فورډ په پوهنتون کې استاذ پاتې شوی دی، عربي ژبه يې ښه زده کړه او په ډېرو اعزازي دکتوراؤ نازول شوی دی، دلسو علمي او نړيوالو ټولنو غړی

۱ - تاريخ الدولة الاسلامية و تشريعها.

پاتې شوی دی، د ډېرو علمي مجلو سرپرستي يې کړې ده، له پنځو سوو زياتې څېړنې يې کړې دي، (المدخل الی تاريخ العلم) يې مشهور کتاب دی، چې په پنځو ټوکو کې يې ليکلی دی.

نوموړی د قرآن په هکله وايي:

"عربي ژبه له دې امله يوه بشپړه ژبه ده، چې الله تعالی د قرآن لپاره غوره کړې ده، له همدې کبله د قرآن په دې کې لوی لاس دی، چې عربي ژبه د مقاصدو په تعبير کې يو لوړ مقام لري.

او له همدې کبله د ژوند د ډېرو ارزښتناکو غوښتنو په تعبير کې عربي ژبه يوه نړيواله وسيله ده." ۱

کاټ ستيفنز

کاټ ستيفنز (C.Stephens) يو برتانوي سندر غاړی دی، چې په اصل کې د "نمسا" دی، په (۱۹۷۶) م کې هغه وخت مسلمان شو، چې کله يې د خپل ورور له لارې قرآن ولوست، هغه اوس په لندن کې يو سرګرم مسلمان داعي دی او زيات وخت په جومات کې تېر وي.

نوموړی د قرآن په هکله وايي:

۱ - الثقافة الغربية فی رعاية الشرق الاوسط.

" له اسلام قبلولو نه مخکې ژوند کې ما داسې ګڼله، چې ما هر څه کړي دي، خپل ځان لپاره مې بریا ، شهرت، مال او ښځې ګټلې دي.... دا هر څه وو؛ خو زه د یوې داسې بېزو غوندې وم، چې له یوې ونې بلې ته ټوپونه وهي او په خپل ژوند کې ډاډمن او خوشحاله نه وم . کله مې چې قرآن ولوست، په زړه کې مې یوه ریښتینې پیاوړتیا او خوښي وموندله، زه له حقیقت سره مخ شوم.... قرآن کریم د واده، د سړي او ښځې ترمنځ د اړیکو او د ژوند د هر اړخ لپاره پیاوړي بنسټونه ایښي دي... ". ۱

ریزنتال

فرانز ریزنتال (F.rsenthal) یو مشهور امریکي لیکوال او څېړونکی دی، ډېرې څېړنې او لیکنې یې کړې دي، د اسلام او مسلمانانو په هکله ډېره مطالعه لري او کتابونه یې هم پرې لیکلي دي .

نوموړی د قرآن کریم په هکله وایي :

" د تاریخ د مطالعې او څېړنې له عملي هڅونو څخه په قرآن کریم کې د تاریخي واقعیتونو شتون دی، چې د قرآن مفسرین یې د قرآن د تاریخي واقعاتو په تفسیرکې د

---

۱ - رجال و نساء اسلموا.

تاریخي معلوماتو پلټنې ته هڅولي دي. د وخت په تېرېدو سره د تاریخ اهمیت د علم هغه څانګه شوه، چې له قرآن سره د تړاو له کبله ورته اړتیا لیدل کېږي. پیغمبر صلی الله علیه وسلم چې ځینې تاریخي کیسې او معلومات اورېدلي دي، ددې دا معنی نه ده، چې هغه تاریخي کتابونه لوستي دي، لکه د تورات عربي ژباړه یا داسې نور. ځکه، په قرآن کې داسې تاریخي معلومات شته، چې له هغو معلوماتو بېخي مختلف دي، چې یهود یې په تورات کې د شتون دعوه کوي. او پیغمبر صلی الله علیه وسلم دا هم ویلي دي، چې یهودو او نصرانیانو په تورات کې تحریف او بدلون کړی دی. مسلمانان یوازې هغه څه مني، چې په قرآن کې راغلي دي...". ۱

ډاکټر سوسه

ډاکټر احمد نسیم سوسه (Dr. A. N. Sousa) یو عراقي یهودي عالم، لیکوال او انجنیر ؤ، د عراق د علمي مجمع غړی پاتې شوی دی، ځینې کتابونه یې لیکلي دي لکه: (مفصل العرب والیهود فی التاریخ)، (فی طریقي الی الاِسلام) او داسې نور.

---

۱ - (علم التاریخ عند المسلمین) د روزنتال لیکنه.

نوموړی د قرآن له مطالعې د اسلام په حقانیت وپوهېد او مسلمان شو. هغه د قرآن په هکله وایي:

" زه هغه وخت اسلام ته را مات شوم، چې کله مې د لومړي ځل لپاره د قرآن په مطالعې پیل وکړ..... ډېر پرې مېین شوم..... کله به مې چې د قرآن آیاتونه لوستل، نو ولولې به مې را پارېدلې.....".

او وایي:

" حقیقت دا دی، چې زمونږ د اوسني عصر د پلټنو او سپړنو په پایلو کې علماؤ په دې اتفاق کړی دی، چې د یهودو په کتابونو کې اړول او تبدیل شوی دی. دا د هغو رباني وینا و پخلی دی، چې د څه له پاسه دیارلسو پېړیو پخوا د عربي پېغمبر صلی الله علیه وسلم په ژبه یې وحې شوې ده. خو قرآن مجید هغه کتاب دی، چې مسلمانانو په ډېر حرص او رېښتیني امانت بشپړ ساتلی دی.

نو قرآن بې شکه هغه یوائینی سپېڅلی کتاب دی، چې ټول دا مني، چې له ګوتوهنې او اړولو نه پاک ساتل شوی دی.....".

او وایي: " حقیقت دا دی؛ داسې تاریخي څرګند، پاخه او جوت دلیلونه شته، چې په دې کې هیڅ شک نه پرېږدي، چې په فرقان کریم کې هیڅ ډول تحریف او ګوتوهنه نه ده شوې او د الله تعالی دغه کلام د هغه د پېغمبر محمد صلی الله

علیه وسلم په ژبه داسې بشپړ راغلی دی، چې یو توری هم پکې نه دی بدل شوی".

او وایي: " حقیقت دا دی، چې څوک چې عربي ژبه ښه نه وي زده کړې او ددې په آدابو نه وي پیاوړی شوی؛ هغه نه شي کولی چې ددې الهي فرقان مرتبه او لوړوالی وپېژني او هغه حیرانوونکې معجزې ورته معلومې شي، چې ددې قرآن په ترڅ کې پرتې دي. په قرآن کې د اند او تشریع ټول ډولونه رانغښتي دي، نو ځکه یو انسان لپاره دا ستونزمنه ده، چې ددې په ټولو اړخونو پرېکړه وکړي. هغه څوک چې د اسلام د پېغمبر په امیتوب کې ژور فکر وکړي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند له رازونو خبر شي؛ هغه به هرومرو بې له دې نه پاتې کېږي، چې د قرآن معجزه یې ځان ته را کاږي... د قرآن معجزه او د محمد صلی الله علیه وسلم امیتوب الله تعالی د پېغمبر په ریښتینولۍ او د قرآن په صحت او الله ته په نسبت، څرګند دلیل ګرځولی دی." ۱

هنري سیرویا

هنري سیرویا (H.Serouya) یو فرانسوي مستشرق دی، چې ډېرې لیکنې یې کړې دي.

۱ - فی طریقي الی الاسلام. د ډاکټر سوسه لیکنه.

نوموړی د قرآن په هکله وايي :

" قـرآن د الله لـه پلـوه وحـې ده، د بشـر کـړنلاره ورسـره هـيڅ سـيالي نـه شـي کـولی. او پـه همـدې وخت کـې د ګروهـې يـو انقلاب هم دی، داسـې انقـلاب، چـې نـه پـه (پـاپ) اعتـراف کوي او نه د کهنوت او کشيشانو په ټولنې.... کله چې مـونږ اسلام له يهوديت او نصرانيت سره پرتله کړو، نو تـرمنځ يـې بېلوونکې ليکې مومو، چې هيڅ سـمون سـره نـه خـوري، پـه ځانګړې توګـه مسـيحيت سـره... مسـيحي يهـودي نظـام لـه اسلام سره مخالفت لري، ځکه چې په اسلام کې د الله تعـالی او د بنـده تـرمنځ تشـه نشـته او دا تشـه لـه يهوديـانو او مسيحيانو سره په واسطو ډکه ده، چې لـه اسـلام سـره هـيڅ اړخ نه لګوي .

سره له دې، چې محمـد صـلی الله عليـه وسـلم د الله لـه پلـوه رالېـږل شـوی پېغمبـر دی؛ خـو هغـه هيڅکلـه د موسـی او عيسی له پېغمبرۍ څخه انکـار نـه دی کـړی، بلکـې دا هڅـه يـې کـړې ده، چـې د هغـوی دواړو بلنـه پـه هغـه ډول پاکـه او سوچه کړي، لکه چې په قرآن کې راغلې ده.... " ۱

---

۱ - فلسفة الفکر الاسلامي. د هنري سيرويا ليکنه.

لویس سیډیلوټ

لویس سیډیلوټ (L.Sedillot) (۱۸۰۸ - ۱۸۷۶)م یو فرانسوي مستشرق دی، ډېرې لیکنې یې کړې دي.

نوموړی د قرآن په هکله وايي:

" د قرآن هر آیة له الله سره د پیاوړې مینې حکم کوي... په ځانګړیو اخلاقي کړنلارو سربېره په قرآن کې سپېڅلتیا ته ډېره هڅونه ده. په قرآن کې یو تر بله د مینې، ښو خویونو او له کنځلو د ځان ژغورنې لویه بلنه ده، په قرآن کې کبر او غوسه غندل شوي دي، قرآن وايي چې کله له اند اولیدلو نه هم ګونا جوړېږي.

په قرآن کې په ژمنو او تړونونو د وفا کولو هڅونه ده، تر دې چې له کافرانو سره هم. په قرآن کې په خاکسارۍ او تواضح کولو حکم شوی دی، قرآن وګړي دې ته هڅوي، چې څوک ور سره بد وکړي، نو ښه ورته وکړي او لعنت پرې ونه وايي...".

دا ټولې جامعې او له حکمت او لارښوونو نه ډکې خبرې ددې دلیل او اثبات دی، چې د قرآن اخلاقي بنسټونه ډېر سپېڅلي دي... قرآن هر څه لیدلي او ښه یې څېړلي دي..." ۱

---

۱ - (تاریخ العرب العام) د لویس سیدلوټ لیکنه.

جاک ریسلر

جاک. س. ریسلر (J.S.restler) یو فرانسوي څېړونکی او د پاریس په یو اسلامي معهد کې استاذ دی.
هغه د قرآن کریم په هکله وایي:
" په دې سرېبره چې قرآن یو دیني کتاب دی، د ټولو علمونو نچوړ هم دی..." او وایي: " په قرآن کې د ټولو ستونزو حل موندل کېږي، قرآن دیني او اخلاقي قوانین سره نښلوي، یو نظام او ټولنیز یو والی منځ ته راوړي، د بې وزلۍ، سختۍ او خرافاتو د له منځه وړلو هڅه کوي، د کمزورو لاسنیوی کوي، په نېکۍ کولو او مهربانۍ امرکوي او په تشریع کې یې بشپړ قوانین ایښي دي..." ۱

فاغلیر

لورا ویسیا فاغلیر (L. Veccica Vaglier) یوه ایټالوي څېړونکې او لیکواله ده، د اسلام په هکله ډېره مطالعه لري او عربي ژبه او د ژبې آداب یې ښه زده کړي دي، د عربي ژبې په قواعدو کې یې دوه ټوکه کتاب لیکلی دی چې (قواعد العربیة) نومېږي. (الاسلام)، (دفاع عن

---

۱ - الحضارة العربیة.

الاسلام) او نور کتابونه یې لیکلي دي. او په استشراقي ګڼو مجلو کې یې لیکنې او څېړنې خپرې شوې دي .

نومورې د قرآن په هکله وایي :

" د اسلام ستره معجزه هغه قرآن دی، چې په پاخه پرله پسې روایت مونږ ته را نقل شوی دی، د قرآن له مطالعې مونږ ته په بشپړ باور دا جوتېږي: دا داسې یو کتاب دی، چې هیڅ سیالي ورسره نه شي کېدی. ددې ټول تعبیرونه جامع او شامل دي، مناسب حجم لري، چې نه ډېر اوږد او نه ډېر لنډ دی، یوه ځانګړې اصیله کړ نلاره لري.... څرنګه کېدی شي، چې دا معجز کتاب دې د هغه امي عربي محمد صلی الله علیه وسلم د خپل لاس کار وي، چې د خپل ژوند په اوږدو کې یې یوائې دوه یا درې بیته داسې شعر ویلی دی، چې له معمولي شعري استعداد سره هم سمون نه خوري... د الهي قرآن په حقانیت باندې بل دلیل دا دی، چې د نزول له وخته تر ننه په دې اوږدو پېړیو کې د قرآن نص پاک او بې له کوم بدلون سوچه ساتل شوی دی. تر څو چې دا نړۍ وي د الله په حکم به دا قرآن همداسې له لاسوهنې پاک و ساتل شي.

قرآن هغه کتاب دی، چې په ټولې اسلامي نړۍ کې هره ورځ لوستل کېږي او د مؤمن په زړه کې هیڅ ستړیا نه پنځوي، بلکې د بیا بیا تلاوت له کبله له یوې ورځې تر بلې خپل ځان لا زیات په مؤمنانو ګرانوي، څوک چې قرآن لولي یا

یې اوري؛ د هغه په زړه کې د الله د وېرې یو ژور احساس پیدا کوي، بې له کومې سختۍ یې خلک یادولی شي، سره له دې چې د ایمان د څپو مخنیوی کېږي؛ خو مونږ نن بې شمېره خلک مومو، چې د زړه له کومي یې یادوي، یوائې په مصر کې د قرآن د حافظانو شمېر د ټولې اروپا د هغوټولو خلکو نه زیات دی، چې انجیلونه لولي..." ۱

شاد

بشیر احمد شاد (Basheer. A. Shad) په (۱۹۲۸) م کې د هندوستان په یوې نصراني کورنۍ کې زېږېدلی دی. پلار یې نصراني مبشر ؤ. په (۱۹۴۷) م یې زده کړې پای ته ورسولې او په لاهور کې یې د یو مبشر په توګه کار پیل کړ. خو د نورو ډېرو په څېر شاد په نصرانیت قانع نه ؤ او شل کاله وروسته ورته د مطالعې او پلټنې په پایلې کې د اسلام حقانیت معلوم او په (۱۹۶۸)م کې مسلمان شو.

نوموړی د قرآن په هکله وایي:

" کله چې ما په توحید ایمان راوړ، د هغو دلیلونو په لټه کې شوم، چې دا ثابتوي، چې قرآن د الله تعالی کتاب او د اسماني کتابونو وروستنی کتاب دی. زه د الله تعالی ډېر

---

۱ - (دفاع عن الاسلام). د فاغلیر لیکنه.

حمد وایم، چې دا ستونزه یې راته حل کړه . قرآن یوائینی هغه کتاب دی، چې په نورو اسماني کتابونو اعتراف کوي . خو دا نور یو د بل رد کوي.... په حقیقت کې دا د اسماني کتابونود اخري کتاب قرآن د ځانګړتیاو څخه یوه ځانګړتیا ده ".

او وايي: " قرآن یوائیني اسماني کتاب دی، چې د ځمکې په ګډو برخو کې یې په زرونو او بې شمېره وګړي په ډېرې مینې په خپلو سینو کې یاد ساتي، خو نور سپېڅلي کتابونه مونږ مومو، چې یوائې په چاپ شوي کتابي شکل کې ساتل شوي دي. له همدې ځایه که چېرته د کوم لامل له کبله دا چاپ شوي کتابونه له منځه لاړ شي، نو یوائې قرآن به د الله تعالی هغه کتاب وي، چې په سینو کې به ساتل شوی وي. له همدې کبله قرآن دا حق لري، چې په دې و ویاړي: له هغه وخته چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم د وحې په توګه نازل شوی دی، تر اوسه له لاسوهنې او بدلون څخه ژغورل شوی دی، نه ترې کوم توری کم شوی او نه پکې کوم توری زیات شوی دی. نو ځکه په قرآن کې هیڅ کوم ډول تناقضات او غلطۍ تر اوسه نشته .

خو د نورو اسماني کتابونو په موجودو نسخو کې ډېر زيات تغير او تبديل شته. دا هم له هغو لاملونو څخه دی، چې زه يې دې ته اړ کړم، چې په اسلام ايمان راوړم". ۱

ابراهيم خليل احمد

ابراهيم خليل احمد د مصر يو مشهور نصراني عالم ؤ، چې اسکندريې کې زېږېدلی دی، د امريکا دبرنستون له پوهنتون نه يې د لاهوت په پوهنځي کې لوړې زده کړې کړې دي. په اسيوط کې د لاهوت د پوهنځي استاذ پاتې شوی دی او د اسلام په خلاف يې په تنصيري حلقو کې ډېر کار کړی دی.
خو کله يې چې د اسلام ژوره مطالعه وکړه، نو حقيقت ورته څرګند او په اسلام مشرف شو. په ۱۹۵۹ م کال يې د اسلام د قبلولو اعلان وکړ.
ډېر کتابونه يې ليکلي دي لکه: (محمد صلی الله عليه وسلم په تورات،انجيل او قرآن کې)، (د بني اسرائيلو تاريخ)، (په عربي او اسلامي نړۍ کې مستشرقين او مبشرين) او داسې نور....
ابراهيم خليل احمد د قرآن کريم په هکله وايي:

---

۱ - رجال و نساءاسلموا.

" د مسیح علیه السلام دا وینا ، چې د محمد صلی الله علیه وسلم په هکله وایي :

" د راتلونکیو پیښو په هکله به مو خبروي " دا پیغمبر د تل پاتې اعجاز پورې تړي . او هغه اعجاز قرآن کریم دی، چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم داسې معجزه ده، چې تل به پاتې وي . قرآن کریم له نوي علم نه له هره پلوه وړاندې دی. لکه طب، فلکیات، جغرافیه، جیالوجي، قانون، ټولنه، تاریخ او داسې نور.... زمونږ په دې اوسني عصر کې علم وکولی شو؛ هغه څه ووینې، چې قرآن یې مخکې وړاندوینه کړې او راپېژندلي یې دي...." .

همدارنګه وایي: " زه باور لرم، چې که چېرته زه یو داسې انسان وای، چې په هیڅ اسماني دین ایمان نه لري او څوک ماته راغلی وای او هغه څه یې راته ویلي وای، چې له نوي علم نه وړاندې قرآن ویلي دي، نو ما به د عزت او پیاوړتیا په رب او د اسمانونو او ځمکې په خالق ایمان راوړی وای او هیڅوک به مې ور سره شریک کړی نه ؤ..." .

همدارنګه ابراهیم خلیل احمد زیاتوي: " ای مسیحیانو! په دې تیپې تیارې کې قرآن د الله په پیغمبر ددې لپاره نازلیږي، چې تاسو ته د الله تعالی له پلوه حقیقتونه څرګند کړي...." .

او وايي: " هر مسلمان ته په کار دي، چې په خپل قرآن وویاړي، ځکه؛ دا قرآن د اوبو په څېر دی، چې هر چا وڅښلې؛ هغه ته پکې ژوند دی " ۱

ډاکټر فيشر

ډاکټر سيډني فيشر (Sydney Fisher) د امريکا د " اوهايو " په پوهنتون کې د تاريخ استاذ پاتې شوی دی. يو ليکوال او مفکر دی. د اسلام او شرقي شئونو په هکله مطالعه لري...
نوموړی د قرآن په هکله وايي:
" قرآن د الله (تعالى) خبرې دي، چې د مسلمان زړه راټولوي، کله چې په لوړ غږ لوستل کېږي؛ پياوړتيا يې زياتېږي... قرآن د روزنې او پوهې کتاب دی، قرآن چې مسلمانان کومو ښو کارونو ته هڅوي؛ هغه د ښو خويونو په تلو کې ډېر ښکلي کارونه دي. لکه څرنګه چې د قرآن لارښوونې په اوامرو کې ځلېږي؛ په نواهيو کې هم هماغسې ځلېږي... " ۲

---

۱ - محمد (صلى الله عليه وسلم) په تورات، انجيل او قران کې.
۲ - الشرق الاوسط فى العصر الاسلامي. د ډاکټر فيشر ليکنه.

داود

عــامر علــي داود (A.Ali. David) د هندوســتان د برهمي هندوانو يو مفكر دی، د اديانو پراخه مطالعـه لـري، کله يې چې د قرآن مطالعه وکړه، نو ورته راستون شو.
نوموړی د قرآن کريم په هکله وايي:
" زه پوهېدم، چې د مسلمانانو سپېڅلی کتاب قرآن دی، نـو ځکه مې په انګلېسي ژبه ژباړل شوی يو قـرآن راواخيسـت، په لوستلو او پـه معنـاؤ کـې پـه سـوچ کولـو مـې پيـل وکـړ او زياته پاملرنه مې ورته وکړه.
زه هغه وخت ډېر حيران شـوم، چـې د قـرآن کـريم پـه لومړيـو پاڼو کې مې ددې پوښتنې ځواب ومونـد، چـې: د پيداوښـت موخه څه ده؟.
د بقـرې د سـورت (۳۰ - ۳۹) آياتونـه مـې ولوسـتل... دا هغـه آياتونه دي، چې هر منصف پلټونکي ته په ښه توګه حقيقـت ښکاره کوي... د قرآن کريم لوستلو زما په مخکې ډېرې فکري ستونزې حل کړې او ډېـر هغـه تناقضـات يـې راتـه سـم کـړل، چې په مخکنيو اسماني کتابونو کـې مـې مطالعـه کـړي وو "
۱

۱ رجال و نساء اسلموا.

رامداول

رامداول (Ramdaul) یو انګرېزي لیکوال او کره کتونکی دی. په سان فرانسسکو کې استاذ پاتې شوی دی، د امریکا په ګڼو پوهنتونونو کې یې محاضرې ور کړې دي او ګڼ کتابونه یې لیکلي دي.
نوموړی د قرآن په هکله وایي:
" له دې امله چې بلې ژبې ته د قرآن بشپړه ژباړه دې ته اړتیا لري، چې یو سړی دې هم شاعر وي او هم عالم، نو موږ تر دې نږدې وخت پورې داسې کره ژباړه ونه موندله، چې د محمدي وحې د روح څه ناڅه خواږه را څرګند کړي. حقیقت دا دی، چې لومړني ډېر ژباړونکي یوازې دا نه، چې د قرآن د اصلي ښکلا له ژغورلو بې وسه شوي دي، بلکه په دې سربېره یې له اسلام سره داسې ژوره کینه لرله، چې له کبله یې په ژباړو کې خپل ناوړه غرضونه برېښي... حقه خبره دا ده، چې په عربي بنسټ د قرآن د سورتونو اورېدل د انسان په زړه کې ژور اغېز پرېږدي. قرآن چې کله په لوړ غږ لوستل کېږي، نو اورېدل یې اړین دي.
او دا ددې لپاره، چې په هکله یې د عدل پرېکړه وکړي او هغه درناوی یې وکړي، چې کوم یې حق دی... له دې امله، چې قرآن د الله حقیقي خبرې دي؛ دا یو معجز کتاب دی،

هیڅوک یې پېښې نه شي کولی او ددې ساری هیڅ نه لیدل کېږي " ۱.

ډاکټر لیبون

ډاکټر ګوستاف لیبون (Dr.G.Lebon) یو فرانسوي طبي ډاکټر او تاریخپوه لیکوال دی. نوموړی د قرآن په هکله وایي:

"... ډېره مهمه پایله، چې مونږ یې لاس ته راوړی شو؛ داده چې کومو ولسونو قرآن ته غاړه ایښې ده؛ په هغو کې د قرآن عظیم اغېز ډېر زیات دی. د اسلام چې څومره اغېز په خلکو دی؛ هغومره د نورو دینونو نشته. داسې دین به پیا نه مومې، چې د اسلام په څېر تلپاتې اغېز ولري.... " ۲

ډاکټره لیکټنستاډټر

ډاکټره ایلس لیکټنستاډټر (llse Lictenstadter) یوه الماني ډاکټره ده، د فرانکفورت په پوهنتون کې یې اسلامي او عربي علوم لوستي او د لندن په پوهنتون کې یې هم زده کړې کړې دي. ځینې لیکنې یې هم کړې دي.

۱ - الاسلام و العرب.
۲ - (حضارة العرب). د لیبون لیکنه.

نوموړې د قرآن په هکله وايي :
" دا چې قرآن يو ديني او ټولنيز کتاب دی، ددې د عمل د پېژندلو لپاره بايد د مسلمان ريښتينولي وپېژني، چې هغه په ټينګار وايي او ريښتيا وايي، چې قرآن د نوي عصر د ستونزو د حل بنسټ دی... " ۱

مونټايګو

فنسای مونټايګو (F.Montague) يو فرانسوي څېړونکی او پلټونکی دی، د پراخې مطالعې په پايلو کې په (۱۹۷۷)م مسلمان شو او خپل نوم يې (منصور بالله) ته واړاوه. ډېر کتابونه او بحثونه يې ليکلي دي . نوموړی د قرآن په هکله وايي :
" زه يوه شېبه هم د محمد صلی الله عليه وسلم په پېغمبرۍ کې شک نه کوم او په دې ګروهمن يم، چې هغه خاتم الانبياء والمرسلين دی، ټولو خلکو ته رالېږل شوی دی او د هغه پېغمبري د هغې وحې د پای ته رسولو لپاره راغلې ده، چې په تورات او انجيل کې نازله شوې ده او په دې تر ټولو پياوړی دليل د قرآن معجزه ده " ۲.

---

۱ - (الاسلام و العصر الحديث). د نوموړې ډاکټرې ليکنه.
۲ - رجال و نساء اسلموا.

جمال یوګنډي

جمال د یوګنډا په یوې نصراني کورنۍ کې زیږېدلی او د لندن په پوهنتون کې یې لوړې زده کړې کړې دي. نوموړی د اسلام د مطالعې په پایلو کې مسلمان شوی ؤ او بیا د طالبانو د حکومت په آخري ورځو کې د افغانستان د لیدلو اوپکې د اسلامي ژوند د تېرولو لپاره پاکستان ته راغلی ؤ، په دغو ورځو کې په افغانستان امریکایې بریدونه پیل شول، نو پاکستاني استخباراتو (ISI) ته ښکار په لاس ورغی، د ټګۍ برګۍ لارې ورته خلاصې شوې اودمکرغوایې لنګه شوه .
مخکې له دې، چې جمال یوګنډي افغانستان ته داخل شي، د (آی ایس آی) مجرمانو په پاکستان کې نیولی او په امریکانو یې د القاعدې په تور پلورلی ؤ. حال دا چې جمال له القاعدې سره هیڅ اړیکې نه لرلې، امریکایانو ګوانتنامو ته ورساوه او مونږ د ګوانتنامو په پنجرو کې ولید . نوموړي هلته قرآن کریم په یادو یاد کړ او ډېر ښه سړی ؤ. جمال له ما سره هلته په زندان کې نږدې پاتې شو او ماته یې د خپلو مسلمانېدو کیسه وکړه . جمال یوګنډي مونږ ته د " لیما " په بلاک کې امامت هم را کاوه، بیا په

ځلورم کمپ کې د " زولو " په بلاک کې هم زمونږ امام ؤ. نوموړي د اسلام او قرآن په هکله ما ته داسې وویل :
ما د لندن په پوهنتون کې لوړې زده کړې کړې وې او د لوړو رتبو ماموریتونه مې هم کړي دي، د ژوند ټولې اسانتیاوې زما په واک کې وې او هیڅ کمی مې نه محسوساوه، خو په ژوند کې خوشحاله نه وم او زما ځانګړې اړتیا ډاډمن ژوند ؤ. ما د اسلام په هکله مطالعه پیل کړه او په پای کې د اسلام حقانیت راته جوت شو، نو ځکه مسلمان شوم. جمال زیاتوي : کله چې زه مسلمان شوم او قرآن مې ولوست، نو داسې یو ډاډ او خوشحالي مې محسوسه کړه، چې تعبیر یې نه شم کولی، لکه چې له اوږو مې د غرونو په څېر درانه بارونه لرې شول، لکه چې داسې یوه ورکه مې موندلې وي چې ټول عمر ورپسې ګرځېدم. ما په خپل ټول ژوند کې داسې خوشحالي او ډاډ نه دی محسوس کړی، لکه په اسلام کې مې چې محسوس کړ. زه وپوهېدم، چې قرآن د الله تعالی ریښتینی سپېڅلی او له ګوتوهنې ژغورل شوی کتاب دی. ما دا ګڼله، چې د نړۍ نامسلمانه وګړي د اسلام له لوی نعمت نه ځکه محروم دي، چې د اسلام او قرآن په هکله معلومات یا نه لري او یا یې معلومات نیمګړي دي؛ اوس چې زه د اسلام او قرآن له حقیقته خبر شوم، نو زما په لاس به ډېر نصرانیان او نور خلک مسلمانان شي.

خو عنا د او ضد د شیطان هغه وسلې دي، چې د حق د منلو مخکې لوی خنډونه دي.

اسان کتاب

قرآن کریم هغه پېچلی، سخت او ستونزمن کتاب نه دی، چې مغلق عبارتونه یې وي او په احکامو پوهېدل، لارښوونه او پند اخیستل ترې ناشوني او یا له کړاوه ډک وي، بلکه د هغو خلکو لپاره ډېر اسانه او روان دی، چې د عربي ژبې اړین بنسټونه پېژني او له غوښتنو او ادب سره یې روږدی او پرې پوه وي. الله تعالی فرمايي:
" وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ" [۱]
" مونږ بې شکه قرآن د پند اخیستلو لپاره اسانه کړی دی، نو آیا څوک پند اخیستونکی شته ؟ ".
بلکه د قرآن کریم په احکامو سر خلاصېدل او له آیاتونو یې پند اخیستل دومره اسانه دي، چې که یو عالم یې په نالوستو ولولي، نو هم به ترې په ډېرې اسانۍ پند واخلي، په احکامو به یې وپوهېږي، مفاهیم به یې په ذهن کې کېني او زده به یې کړي.
دا له محسوسو مشاهداتو او تجربو څخه ده، چې د قرآن کریم حفظ ډېر اسان دی. د عربي ژبې یو بل کتاب یا

۱ - سورة القمر: ۲۲ / ۴۰.

عبارت که څوک په یادو یادوي، نو هغه دومره زړنه یاد ېږي لکه قرآن کریم چې یادېږي.
د عجمو عوام او شپانه د قرآن کریم ځینې سورتونه او یا ټول په یادو یادوي او ډېر ښه یې لولي. حال دا چې که ویې پوښتې، نو د عربي د یوې کلمې معنی هم نه پېژني.
دا د قرآن کریم هغه اعجاز، سپېڅلتیا، پیاوړتیا، فصاحت، بلاغت او ځانګړنې دي، چې بل هیڅ کتاب یې نه لري.

د قرآن کریم نومونه

د قرآن کریم ډېر نومونه دي، چې خپله په قرآن کریم او نبوي حدیثونو کې راغلي دي. او دا هم د قرآن کریم د فضیلت، شرف، عزت، سپېڅلتیا او پیاوړتیا ښکارندویي کوي.
د قرآن کریم ځینې نومونه دا دي:

قرآن

د قرآن کریم یو نوم " قرآن " دی، چې په همدې نوم مشهور دی او همدا نوم ددې سپېڅلي کتاب لپاره اسم علم (بنستیز نوم) جوړ شوی دی.

" قرآن " مصدر دی، ماضي يې " قَرَاَ " او مضارع يې " يَقْرَؤُ " ده . په عربي کې ډېر داسې مصدرونه شته، چې هغه اسم علم جوړ شوي دي.

لکه:" وَعْدٌ "، " رَعْدٌ "، " سَدَادٌ "، " تَغْرِيْدٌ "، " سَعْدٌ " او داسې نور.

" قرآن" دوه معناوې لري :

لومړی : "مَقْرُوْءٌ " (لوستل شوی). نو دا کتاب هم لوستل شوی دی، الله تعالی د جبرائيل په واسطه په محمد صلی الله عليه وسلم نازل کړی دی، نو جبرائيل لوستی دی، محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم لوستی دی، بيا ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم او نورو مسلمانانو او انسانانو لوستی او تر قيامته به يې انسانان او پېريان لولي.

او تر ټولو دمخه الله تعالی لوستی دی. لکه چې فرمايي :

" فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ " ۱

" نو کله چې مونږ ولوست؛ بيا ته د هغه لوستل شوي پسې لاړ شه"

او پېغمبر صلی الله عليه وسلم ته فرمايي :

"فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ " ۲

" کله دې چې قرآن لوست، نوله رټل شوي شيطانه په الله پنا غواړه ".

---

۱ - سورة القيامة: ۱۸.

۲ - سورة النحل: ۹۸.

دویم : د قرآن دویمه معنی: (را ټول شوی او ساتل شوی) ده.
نو قرآن کریم هم را ټول شوی او هم ساتل شوی دی.
همدارنګه قرآن کریم د ډېرو آیاتونو، سورتونو، احکامو، حکمتونو، علومو .... مجموعه او را ټولوونکی دی.
دا دواړه معناوې د قرآن کریم په هکله سمې او موافقې دي. ځکه چې هم لوستل شوی دی، هم ساتل شوی، را ټول شوی او هم را ټولوونکی او ساتونکی دی .
" قرآن " نوم په قرآن کریم کې په ګڼو آیاتونو کې راغلی دی لکه چې الله تعالی فرمایي:
" إِنَّهُ لَقُرْآنٌ كَرِيمٌ فِي كِتَابٍ مَكْنُونٍ لَا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ " ۱
" دا بې شکه عزتمند قرآن دی، په ساتل شوي کتاب کې دی، یوازې پاکان لاس وروړي ".
او فرمایي: " بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَجِيدٌ فِي لَوْحٍ مَحْفُوظٍ " ۲
" بلکې دا د لوی شان والا قرآن دی، په ساتل شوې دړې (تختې) کې دی ".
او فرمایي: " وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْآنَ مِنْ لَدُنْ حَكِيمٍ عَلِيمٍ " ۳
" او تا ته بې شکه د حکمت له خښتن او د ډېر پوه ذات له لوري قرآن درکول کېږي ".
او فرمایي: " الرَّحْمَن عَلَّمَ الْقُرْآنَ " ۱

۱ - سورة الواقعة: ۷۷ - ۷۹.
۲ - سورة البروج: ۲۱ – ۲۲.
۳ - سورة النمل: ۶.

" ډېر زيات لوروونکي ذات قرآن ښوولی دی ".
او فرمايي: " إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ " ۲
" دا قرآن بې شکه هغې لارې ته خلک ورسموي، چې ډېره سمه ده".
د قرآن کريم په نورو ډېرو آياتونو کې هم د قرآن نوم راغلی دی.
چې د قرآن حافظانو او لوستونکيو ته معلوم دی.

الکتاب

د قرآن کريم له نومونو څخه يو نوم " الکتاب " دی.
الله تعالی فرمايي: " ذَلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ " ۳
" دا کتاب دی، چې هيڅ شک پکې نشته ".
په قرآن کريم کې د کتاب نوم په (۲۳۰) دوه سوه او دېرشو ځايونو کې راغلی دی، چې په ځينو ځايونو کې ترې مراد قرآن دی، په ځينو ځايونو کې نور کتابونه، عملنامه، ليک او نورې معناوې مراد دي.
کتاب مصدر دی، ماضي يې " كَتَبَ " او مضارع يې " يَكْتُبُ " ده.

---

۱ - سورة الرحمن ۱ – ۲.
۲ - سورة الاسراء ۹.
۳ - سورة البقرة: ۲.

کتاب په لغت کې په ګڼو معناو راځي لکه : د څو پاڼو مجموعه، چې عامه د کتاب کومه معنی ده. همدارنګه د لیک، پرېکړې، عملنامې، نېټې، لیکل شوي، اثبات، ثبوت، پیغام، راټولولو، تقدیر، فرض، حکم، قضاء... په معناؤ راغلی دی.

په اصطلاح کې هم کتاب د عام کتاب او د هر علم د علماؤ په اصطلاح په ځانګړیو معناو راغلی دی.

قرآن کریم ته هم ځکه کتاب ویل کېږي، چې هم په لوح محفوظ کې لیکل شوی دی، هم په پاڼو کې د دوه پوخونو په منځ کې لیکل شوې مجموعه ده، هم د احکامو او علومو مجموعه ده، هم د حروفو، کلماتو، جملو، عبارتونو، آیاتونو او سورتونو مجموعه ده او هم د الله تعالی را ټول شوی کلام دی.

قرآن کریم ته د قرآن په ګڼو ځایونو کې د کتاب نوم ورکول شوی دی، چې مونږ یې تل لولو او تلاوت یې کوو، د بېلګې په توګه مو مخکې د بقرې د سورت آیة یاد کړ او په همدې بسنه کوو.

فرقان

د قرآن کریم بل نوم " فرقان " دی.

" فرقان " مصدر دی ماضي یې " فَرَقَ " او " فَرّقَ " دی.

" فرقـان " د بېلتـون، جلاوالـي، پرېکـړې، دليـل، حجـت، برهان، توپير او ځرګندوالي په معناؤ راځي.
نـو قـرآن کـريم د حـق او باطـل تـرمنځ توپيرکـوونکی، جلاکـوونکی او ځرګنـدوونکی دی، او قـرآن کـريم دليـل، حجت او برهان دی.
" فاروق " د جلا کوونکي او بېلوونکي په معناؤ راځي.
د " بـدر " دغـزوې ورځـې تـه د " فرقـان " ورځ ويـل شـوي دي. ځکه چې په دغه ورځ د حق او باطل صفونه سره جلا، ځرګند او بيل شول.
الله تعالی فرمايي:
"وَمَا أَنزَلْنَاعَلَى عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ" ۱
" او مونږ چې پـه توپيرکـوونکې ورځ پـه خپـل بنده څه نـازل کړي، هغه ورځ چې دوه ډلې سره مخامخ شوې".
د قرآن کريم په هکله الله تعالی فرمايي:
" تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَى عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا " ۲
" هغـه ذات د برکـت څښـتن دی، چې پـه خپـل بنده يـې ددې لپاره توپيرکوونکی کتاب نازل کړی دی، چې د ټولو خلکو لپاره وېروونکی شي".
سـورة الفرقـان هـم د همـدې آيـة لـه کبلـه سـورة الفرقـان بلـل کېږي، چې د فرقان يادونه پکې شوې ده.

---

۱ - سورة الانفال: ۴۱.
۲ - سورة الفرقان: ۱.

او الله تعالی فرمايي: " وَأَنْزَلَ الْفُرْقَانَ "[۱]

" او توپير کوونکی کتاب يې نازل کړی دی ".

لـه همـدې امله د مخکنيو پيغمبرانو دليلونو او کتابونو باندې هم د " فرقان " اطلاق شوی دی. او دا ځکه چې ټول اسماني کتابونه او دليلونه د حق او باطل ترمنځ توپير کوونکي دي.

" فرقان " د دليل، خلاصون، توپير او بېلتون په معنی په قرآن کريم کې داسې راغلی دی:

" يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَتَّقُوا اللَّهَ يَجْعَلْ لَكُمْ فُرْقَانًا وَيُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ "[۲]

" ای مؤمنانو! که له الله ځانونه وژغورئ، نو د خلاصون لار او توپير به درته پيدا کړي، ګناوې به مو و رژوي او بښنه به درته وکړي. الله د لويې مهربانۍ څښتن دی ".

برهان

" برهان " مصدر دی ماضي يې " بَرْهَنَ " او مضارع يې " يُبَرْهِنُ " ده. برهان دليل، دلالت، حجت، څرګندوی، ښکارندوی، جوتوونکي او بيان ته ويل کېږي. قرآن ته ځکه

۱ - سورة ال عمران: ۴.

۲ - سورة الانفال: ۲۹.

برهــا ن ویــل کېـږي، چــې دا دحــق، حقیقــت او رېښــتیا ځرګندوونکی، دلیل او ښکارندوی دی .

" برها ن " د جوتې پایلې عقلي او نقلي دلیـل تـه ویـل کېـږي.

الله تعالی د یوسف علیه السلام په کیسې کې فرمایي :

" وَلَقَدْ هَمَّتْ بِهِ وَهَمَّ بِهَا لَوْلَا أَنْ رَأَى بُرْهَانَ رَبِّهِ "[۱]

" هغې (زلیخې) پـرې تکـل کـړی ؤ او کـه یوسـف د خپـل رب دلیل نه وای لیدلی، نو هغه به هم پرې تکل کړی ؤ ".

دلته له برها ن نه مراد عقلي او نقلـي دلیـل دی، چـې یوسـف علیه السلام ته د زنا د ناوړتیا عقلي او نقلي دلیلونه معلـوم وو، نو ځکه یې پرې تکل و نه کړ او ځان یې ترې وژغوره.

د قرآن کریم په هکله الله تعالی فرمایي :

" يَاأَيُّهَا النَّـاسُ قَدْ جَـاءَكُمْ بُرْهَـانٌ مِنْ رَبِّكُـمْ وَأَنزَلْنَـا إِلَـيْكُمْ نُـورًا مُبِينًا" [۲]

" ای خلکو! تاسو ته بـې شـکه ستاسـو د رب لـه لـوري دلیـل راغی او تاسو ته مو ځرګنده رڼا در ولېږله ".

دلته د برها ن معنی پیغمبر هم ده او قرآن هـم ، چـې وروسـته " نورا مبینا " یې بیا ن او عطف تفسیر جوړېږي .

---

۱ - سورة یوسف: ۲۴.

۲ - سورة النساء: ۱۷۴.

الحكيم

د قـرآن كـريم بـل نـوم " الحكـيم " دى. حكـيم صـفت مشبه دى مصدر يې "حكماً" او "حكمـةً" راځي : د " حكمـا " ماضي " حَكَمَ " ده او د "حكمة " ماضي: " حَكُمَ " ده. " حكـيم" د فعيل په وزن دى، چې په عربي ژبې كې " فعيـل" د " فاعـل" او "مفعول" په معناؤ راځي.

الله تعالى فرمايي: " يس وَالْقُرْآنِ الْحَكِيمِ "[1]

" يس" او په پياوړي قرآن قسم دى ".

دلته " حكيم " د " مفعـول " پـه معنـى راغلـى دى لكـه شـهيد ، چې د مشهود په معنى او " قتيل" د " مقتول" په معنى راځي.

" حكيم " د الله تعالى له ښكليو او پياوړيو نومونـو څخـه هـم دى. او د قرآن كريم نوم هم دى .

" حكيم " پياوړي، له علم او حكمت نه ډك، كره پوره پرېكړه كوونكي، او غښتلي عالم او پوه ته ويل كېږي .

حكمت هغه علم ته ويل كېږي، چې انسا ن له نـاپوهۍ او هـر ډول ناوړه كړو څخه منع كوي .

الله تعالى فرمايي :

" يُـؤْتِي الْحِكْمَـةَ مَـنْ يَشَـاءُ وَمَـنْ يُـؤْتَ الْحِكْمَـةَ فَقَـدْ أُوتِـيَ خَيْـرًا كَثِيرًا"[2]

---

۱ - سورة يس: ۱ – ۲.

۲ - سورة البقرة: ۲۶۹.

" چا ته چې یې خوښه شي حکمت ورکوي او چا ته چې حکمت ورکول شو، نو بې شکه ورته ډېر خیر ور کول شو ".

نو حکمت له هر ډول ناوړه خویونو او کړو وړو، تېکي او دروغو څخه پاک او سپېڅلي علم او عمل ته ویل کېږي.

نبوي حدیثو ته هم حکمت ویل شوی دی او دا ځکه چې هغه هم سپېڅلی علم دی. الله تعالی فرمايي:

" هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ "[۱]

" او الله هغه ذات دی، چې په نالوستو کې یې د هغوی له منځه پېغمبر لېږلی دی، چې په هغوی د الله آیاتونه لولي، پاکوي یې او کتاب (قرآن) او حکمت (نبوي حدیث) ور زده کوي. دوی بې شکه له دې مخکې په څرګندې بې لارې کې وو ".

نو د کتاب (قرآن) په خوا کې چې حکمت راشي مراد ترې نبوي حدیثونه دي.

همدارنګه هره له علم ډکه کره پوره د هوښیارۍ خبره حکمت دی. لقمان حکیم ته هم ځکه حکیم ویل شوی دي، چې الله تعالی حکمت ورکړی ؤ. مطلب دا چې سپېڅلی او کره علم یې ور کړی ؤ. ځینې خلک دسوند اوسپېرکې طبیب ته حکیم

---

۱ - سورة الجمعة: ۲.

وايـي اوګمـا ن کـوي، چـې ګنـې لقمـا ن حکـيم هـم دسـونډ اوسپېرکی، حکيم ؤ؛ خودانا سمه ده .
رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي :
" الحِكْمَةُ ضَالَّةُ الْمُؤْمِنِ حَيْثُمَا وَجَدَهَا فَهُوَ أَحَقُّ بِهَا "[١]
" د پوهې او هوښياری، خبره، يـا پوهـه او علـم د مـؤمن ورکـه ده، هر ځای کې يې چې ومونده، نو هغه يې ډېر حقدار دی ".
او يو روايت کې راځي، چې " أَنَّى وَجَدَهَا إلْتَقَطَهَا ".
" هر ځای يې چې ومونده نو را وادې يې خلي "
همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :
" إِنَّ مِنَ الشِّعْرِلَحِكْمَةَ "[٢]
" ځينې شعر بې شکه حکمت وي ".
يعنې ځينـې شعر لـه علـم، پـوهې، هوښـياری، او سـپېڅلتيا ډک وي. نو " حکيم " د قرآن کريم صفتي نـوم دی او دا ځکـه چې دا محکم کتاب دی، د علم او پـوهې کتـاب دی، د عمـل او سـپېڅلتيا کتـاب دی . ولـې بـه نـه وي ؟ ځکـه چـې دا د "حکيم " ذات : الله تعالی کتاب دی.او د هغه جل جلاله کـلام او خبرې دي. د حکيم خبـرې هـم لـه حکمـت نـه ډکـې وي، نـو ځکه " حکيم " هم د الله سبحانه و تعـالی نـوم دی او هـم يـې د کتاب او کلام نوم دی .

---

١ - رواه الترمذي و ابن ماجه و ابن ابی شيبة و الروياني في مسنده.
٢ - رواه ابن ماجه و البيهقی فی السنن الصغری.

المجید

" مجید " د الله تعالی له سپېڅلیو نومونو څخه هم دی او د هغه جل جلاله د کتاب او کلام: " قرآن کریم " نوم هم دی .

" مجید" د فعیل په وزن صفت مشبه دی، دلته د فاعل په معنی راغلی دی. لکه شهید ، چې د مشهود په معنی هم راځي او د شاهد په معنی هم. د شاهد په معنی په دې آیة کې راغلی دی :

" وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِنْ رِجَالِكُمْ... "[۱]

" او ستاسو له سړیو دوه ګواهان ونیسئ... ".

نو دلته " شهیدین " د " شهید " تثنیه ده، چې د " شاهدینو " په معنی راغلی دی.

د "مجید" ماضي "مَجَدَ " او " مَجُدَ " راځي، مصدر يې "مجداً" دی. او د مجد جمع "امجاد " ده.

مجید هغه چا ته ویل کېږي، چې د مجد څښتن وي. مجد لوی شرف، لوړوالي، برم، فضیلت او نومیالیتوب ته ویل کېږي .مجد هغو ښو خویونو، لوړوالي او شرف ته هم ویل کېږي، چې له پلرونو او نیکونو نه په میراث را پاتې وي .

---

۱ - سورة البقرة: ۲۸۲.

همدارنګه سخاوت، مېلمه پالنې، د کهول او قوم لپاره د تاوانونو ګاللو او د لګښت په ځای کې لګولو او نورو د پیاوړتیا کارونو ته هم " مجد" ویل کېږي.

" تمجید " د چالوړوالی، لوی والی، شرف او پیاوړتیا څرګندولو او ستایلو ته ویل کېږي .

نو په هر ځای کې ترې خپله مناسبه معنی اخیستل کېږي. " مجید " د الله تعالی نوم دی لکه چې فرمایي: " ذُوالْعَرْشِ الْمَجِيدُ "۱

" (الله) د عرش څښتن او په لوړو او پیاوړیو صفتونو ستایل شوی دی ".

دلته "المجید " مرفوع او د الله تعالی صفت دی.

او د قرآن کریم نوم هم دی، لکه چې الله تعالی فرمایي:

" بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَجِيدٌ " ۲

" بلکه دا پیاوړی، ستایل شوی او د شرف والا قرآن دی ".

همدارنګه په قرآن پوهه او عمل هم لوړوالی، فضیلت، پیاوړتیا ، عزت او شرف دی .

۱ - سورة البروج: ۱۵.

۲ - سورة البروج: ۲۱.

الذکر

" ذکر" مصدر دی ماضي یې " ذَکَرَ " او مضارع یې " یَذکُرً " ده. په لغت کې ذکر یادولو، پند، ویلو او لوستلو ته ویل کېږي.
یادول په دوه ډوله دي: یو د ژبې او بل د فکر او سوچ. او ذکر په دې دواړو معناؤ راغلی دی.
الله تعالی فرمايي: " وَاذْكُرْ اسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً وَأَصِيلًا "[1]
" د خپل رب نوم سبا او بېګا یاد کړه ".
په اصطلاح کې ذکر د الله تعالی د سپېڅلیو نومونو او صفتونو یادولو ته هم ویل کېږي، ځانګړیو وردونو او دعاؤ ته هم ویل کېږي، د قرآن تلاوت، د حدیثو او نورو علومو لوستل او تدریس ته هم ویل کېږي، په یادو یادولو او حفظ ته هم ویل کېږي، لمانځه کولو ته هم ویل کېږي، بیان او موعظې ته هم ویل کېږي، علم ته هم ویل کېږي، تورات ته هم ذکر ویل شوي دي، د شرف او شهرت په معنی هم راځي، د ثناء او شکر په معنی هم راغلی دی، د تسبیح په معنی هم راغلی دی او د وحې په معنی هم.
" ذکر" د قرآن په معنی په ډېرو ځایونو کې راغلی دی.

۱ - سورة الانسان (الدهر): ۲۵.

لکه چې الله تعالی فرمايي: " إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ "[۱]

" همدا مونږ بې شکه د پند کتاب نازل کړی دی او همدا مونږ ددې ساتونکي يو ".

او فرمايي:

" ذَلِكَ نَتْلُوهُ عَلَيْكَ مِنَ الْآيَاتِ وَالذِّكْرِ الْحَكِيمِ "[۲]

" مونږ په تا دقرآن دا آياتونه او د حکمت او پند والا کتاب لولو".

النور

" نور" مصدر دی ماضي يې " نَارَ" او مضارع يې "يَنِيرُ " ده.

" نور" رڼا، ښکلا، روښانتيا او وضاحت ته ويل کېږي.

" نور" د الله تعالی له سپېڅليو نومونو څخه هم دی او د قرآن کريم نوم هم دی. الله تعالی فرمايي:

" وَأَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ نُورًا مُبِينًا "[۳]

" او مونږ تاسو ته څرګنده رڼا درلېږلې ده ".

نو دلته له " نور" نه مراد قرآن کريم دی.

---

۱ - سورة الحجر: ۹.

۲ - سورة ال عمران: ۵۸.

۳ - سورة النساء: ۱۷۴.

قرآن یو چراغ او رڼا ده، چې ګروهې، عقلونه، دماغونه او زړونه روښانوي، انساني نړۍ، ټولنه او ژوند په پیاوړیو احکامو او لارښوونو روښانوي، دنیا او آخرت په نېکمرغۍ او خوشحالۍ روښانوي. قرآن لارښوونه، رڼا، چراغ او نور دی.

الحق

"حق" مصدر دی، ماضي یې "حَقّ" او مضارع یې "یَحِقُّ" ده. "حق" د اسم فاعل او صفت مشبه په معنا هم راځي.

"حق" په لغت کې ثابت، مطابق، موافق، څرګند، جوت، پیاوړي، واجب، غښتلي، وړ، ونډې او ریښتیا ته ویل کېږي.

حق د الله تعالی له سپېڅلیو نومونو څخه هم دی.

قرآن ته ځکه حق ویل کېږي، چې ثابت دی، ریښتیا دی، پیاوړی دی، له واقع سره مطابق او موافق دی، څرګند او جوت دی. د منلو، ستایلو، درناوي او نفاذ وړ دی...

الله تعالی فرمایي:

" بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ..."[1]

" مونږ باطل په حق وهو، نو باطل ماتوي او له منځه وړي...".

---

۱ - سورة الانبیاء: ۱۸.

او فرمايي:

"وَإِذَاقِيلَ لَهُمْ آمِنُوابِمَا أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا نُؤْمِنُ بِمَا أُنزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُونَ بِمَا وَرَاءَهُ وَهُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِمَا مَعَهُمْ "[1]

" او کله چې دوی ته وويل شي؛ په هغه قرآن ايمان راوړئ، چې الله نازل کړی دی،نو وايي: مونږ په هغه کتاب ايمان راوړو، چې په مونږ نازل شوی دی او په هغه کتاب انکار کوي، چې له هغه وروسته راغلی دی. حال دا چې دا کتاب رښتيا او د هغه کتاب رښتيا ګڼونکی دی، چې له دوی سره دی ".

نَبَأُ

" نبأ " مصدر دی. او په لغت کې خبر ته ويل کېږي. په اصطلاح کې رښتيا، لوی او مهم خبر ته " نبأ " ويل کېږي. پېغمبر ته ځکه نبي ويل کېږي، چې د الله له لوري خلکو ته خبر ورکوي.

قرآن ته هم ځکه " نبأ " ويل شوی دی، چې يو لوی، رښتينی او مهم خبر دی، دروغ پکې نشته، د ګټې خبر دی، د علم خبر دی، دشريعت خبردی، دقيامت، جنت، دوزخ اونورو احکامو او مسائلو خبر دی.

الله تعالی فرمايي:

"قُلْ هُوَ نَبَأٌ عَظِيمٌ أَنْتُمْ عَنْهُ مُعْرِضُونَ"[1]

---

۱ - سورة البقرة: ۹۱.

"ورته ووايه: قرآن يو لوی خبر دی، چې تاسو ترې سرغړوونکي ياست". عبدالله بن عباس، قتاده، مجاهد او ځيني مفسرين دلته له (نبأعظيم) نه مراد قرآن اخلي. ځينو ترې، پيغمبر اخيستی او ځينو ترې قيامت. چې دا ټولې معناوې سمې دي او دا ټول لوی لوی خبرونه دي .

بلاغ

"بلاغ" مصدر دی، ماضي يې "بَلَغَ" او مضارع يې ي"يَبلُغُ" ده.

بلاغ په لغت کې رسېدلو، توښې او هغه څه ته ويل کېږي، چې مقصد او هدف ته پرې رسېږي. بلاغ د اړتيا بسنې ته ويل کېږي.

د "بَلُغَ" مصدر "بَلاغَةٌ" دی او د "اَبْلَغَ" مصدر "تَبْلِيغٌ" دی.

قرآن ته ځکه بلاغ ويل شوی دی، چې دا د دنيا اوآخرت توښه ده.

الله تعالى فرمايي: " هَذَا بَلَاغٌ لِلنَّاسِ وَلِيُنذَرُوا بِهِ "[۲]

" دا د خلکو لپاره توښه ده او ددې لپاره دی، چې خلک پرې له عذابه و وېرول شي ".

---

۱ - سورة ص: ۶۷ – ۶۸.

۲ - سورة ابراهيم: ۵۲.

بُشْرى

" بُشْرى " مفرد مؤنث اسم تفضيل دى، چې د ېر ښه زېري او د خوشحالۍ خبر ته ويل کېږي. قرآن کريم هم د خوښۍ، نېکمرغۍ او خوشحالۍ زېرى دى.

الله تعالى فرمايي: " هُدًى وَبُشْرَى لِلْمُؤْمِنِينَ "[۱]

" قرآن د مؤمنانو لپاره لارښوونه او زېرى دى ".

او فرمايي: " وَهُدًى وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ "[۲]

" قرآن د مسلمانانو لپاره لارښوونه او زېرى دى ".

شِفَاء

" شِفاء " مصدر دى، ماضي يې " شَفى " او مضارع يې " يَشْفِي " ده.

" شِفاء " درملو، روغتيا ، دواء، يخوالي اوخوشحالۍ ته ويل کېږي.

قرآن ته ځکه شفاء ويل شوي دي، چې په دې کې د هر ډول کفر، شرک، ظلم، فساد او نورو تاوړو او ناروا وشفاء ده. په

۱ - سورة النمل: ۲.

۲ - سورة النحل: ۱۰۲.

دې ګروهې او اندونه رغېږي، نړۍ او ټولنه پرې رغېږي، دنيا او اخرت پرې رغېږي .

الله تعالى فرمايي :

"وَنُنَزِّلُ مِنْ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ الظَّالِمِينَ إِلَّا خَسَارًا " ۱

" مونږ له قرآن څخه هغه څه نازلوو، چې هغه د مؤمنانو لپاره روغتيا او پېرزوينه ده او ظالمانو ته يوازې تاوان زياتوي ". او فرمايي :

" يَاأَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُمْ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ "۲

" اى خلكو ! تاسو ته د خپل رب له پلوه پند او د هغو ناروغيو درمل راغلل، چې په سينو كې دي،او د مؤمنانو لپاره لارښوونه او پېرزوينه ده ".

او فرمايي: " قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ آمَنُوا هُدًى وَشِفَاءٌ " ۳

"ورته ووايه : " دا د مؤمنانو لپاره لارښوونه او شفاء ده ".

نو شفاء مادي او معنوي روغتيا ته ويل كېږي .

او قرآن د هغو معنوي ناروغيو شفاء ده، چې په زړه كې دي .

د شفاء معنى دا نه ده، چې په تعويذونو كې وليكل او په غاړو كې واچول شي، يا په څاښتونو كې ويلې او وڅښل شي .

۱ - سورة الاسراء: ۸۲.

۲ - سورة يونس: ۵۷.

۳ - سورة فصلت: ۴۴.

بلکه قرآن ددې خرافي کارونو د رد لپاره راغلی دی. البته په قرآن دم کول روا او مسنون دي .

علامه آلوسي او حسن بصري رحمهما الله په هغه چا رد کوي، چې دلته له شفاء نه بدني شفاء اخلي. ځکه چې " لما فی الصدور" راغلی دی. او په سینو کې شرکي او کفري ګروهې، شکونه، حسدونه، کینې، ناپوهي، نفاق او داسې نورې معنوي ناروغۍ وي، چې قرآن ددې ټولو لپاره شفاء ده. او د بدني ناروغیو لپاره مسنون دم کول، د ګبیني خوړل او نور درملونه دي .

بیان

" بیان " مصدر دی، ماضي یې " بَانَ" او مضارع یې "یَبِیْنُ" ده.

" بیان" څرګند، جوت او ښکاره ته هم ویل کېږي او په دلیل څرګندولو او ښکاره کولو ته هم .الله تعالی فرمایي :

" هَذَا بَيَانٌ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةٌ لِلْمُتَّقِينَ "[١]

" دا قرآن د خلکو لپاره څرګندوونکی دی او د پرهېزګارانو لپاره لارښوونه او پند دی " .

نو قرآن حق او حقیقت، دین او احکام او ټولې دنیوي او اخروي نېکمرغۍ په دلیل را څرګندوي، او ددې ټولو خلاف

---

١ - سورة ال عمران: ١٣٨.

او عکس هم را ښکاره کوي. سمه او کږه لار دواړه څرګندوي، حق او باطل دواړه را ښکاره کوي، ریښتیا او دروغ دواړه په ګوته کوي، لارښوونه او بې لاري دواړه جوتوي....

مبارک

" مُبارک " میمي مصدر دی، له بَارکَ یُبَارِکُ برکة نه دی. " برکت" خیر، زیاتوالي، نېکمرغۍ، ګټې، عزت او سخا ته ویل کېږي.
قرآن کریم ته ځکه مبارک ویل شوي دي، چې په دې کې تلپاتې خیر، نېکمرغي او مخکنۍ ټولې معناوې پرتې دي.
الله تعالی فرمایي: " وَهَذَا كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ مُبَارَكٌ... "[۱]
" دا د خیر او نېکمرغۍ کتاب دی، چې مونږ نازل کړی دی".
هر هغه شی، چې الله تعالی پکې تلپاتې خیر اچولی وي، هغه مبارک دی. له همدې امله قرآن کریم کې ډېرو شیانو ته مبارک ویل شوي دي.

---

۱ - سورة الانعام: ۹۲ – ۱۵۵.

الهُدی

" هُدًی" مصدر دی، چې په عربي ژبې کې يې بېلګې او ساري ډېر لږ دي.

دا مصدر د اسم فاعل په معنی دی، چې " هَادِیٌ" دی. دا قرآن هدايت او لارښوونه ده، لارښوونکی دی. هادي د الله تعالی له سپېڅليو نومونو څخه دی.

هُدی: هدايت، ورځې، رڼا، لارښوونې، لارې، پوهې، څرګندولو، د دين بيان او ښوولو ته ويل کېږي.

" الهُدی " په قرآن کريم کې قرآن، تورات، انجيل او نور و د حق خبرو، ګروهو او دين ته ويل شوي دي.

الله تعالی فرمايي:

" ذَلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ "[۱]

" دا قرآن حق کتاب دی، هيڅ شک پکې نشته، د پرهېزګارانو لپاره لارښوونه ده".

په دې معنی د قرآن په ډېرو ځايونو کې راغلی دی.

---

۱ - سورة البقرة: ۲.

رحمت

"رَحْمَةٌ" مصدر دی، ماضي يې " رَحِمَ" او مضارع يې " يَرْحَمُ" ده. (رحمت) لورېني، پېرزوينې، مهربانۍ، ښېګړې، زړه سوي، خواخوږۍ، خير او نعمت ته ويل کېږي.
قرآن د الله تعالى پېرزوينه، مهرباني، ښېګړه، خير او نعمت دی. د قرآن زده کړه، تلاوت او په قرآن عمل د الله تعالى د رحمت لامل دی، قرآن په ښېګړې او مهربانۍ امر کوي.
او قرآن د ټولو دنيوي او اخروي نېکمرغيو ضامن دی، چې همدا يو ستر رحمت دی. د اسلام دين يو لوی رحمت دی، ايمان رحمت دی، جنت رحمت دی، د الله تعالى روزي رحمت دی، ژوند رحمت دی، باران رحمت دی، د الله تعالى مرسته رحمت دی، مينه رحمت دی، اساني رحمت دی، ښېنه رحمت دی، روغتيا او عافيت رحمت دی...
اوترټولو ستر رحمت قرآن دی. الله تعالى فرمايي:
" وَنُنَزِّلُ مِنْ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ وَلَا يَزِيدُ الظَّالِمِينَ إِلَّا خَسَارًا "[۱]
" مونږ له قرآن څخه هغه څه نازلوو، چې هغه د مؤمنانو لپاره روغتيا او پېرزوينه ده او ظالمانو ته يوائې تاوان زياتوي".
او فرمايي:

۱ - سورة الاسراء: ۸۲.

" يَاأَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُمْ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ "١

" ای خلکو ! تاسو ته د خپل رب له پلوه پند او د هغو ناروغيو درمل راغلل، چې په سينو کې دي،او د مؤمنانو لپاره لارښوونه او پېرزوينه ده ". او الله تعالی فرمايي :

" وَإِنَّهُ لَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ "٢

" او دا قرآن بې شکه د مؤمنانو لپاره لارښوونه او پېرزوينه ده ".

المُصَدِّقُ

" مُصَدِّق" اسم فاعل دی . ريښتيا ګڼونکي ته ويل کېږي . قرآن کريم د مخکنيو اسماني کتابونو ريښتيا ګڼونکی دی . الله تعالی فرمايي :

" وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنْ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ..."٣

" مونږ تا ته په ريښتيا کتاب نازل کړی دی، د هغه کتاب ريښتيا ګڼونکی دی، چې له دې مخکې راغلی دی او په هغه ساتونکی او ګواه دی ".

او فرمايي:

" وَآمِنُوا بِمَا أَنزَلْتُ مُصَدِّقًا لِمَا مَعَكُمْ وَلَا تَكُونُوا أَوَّلَ كَافِرٍ بِهِ "٤

---

١ - سورة يونس: ٥٧.

٢ - سورة النمل: ٧٧.

٣ - سورة المائدة: ٤٨.

٤ - سورة البقرة: ٤١.

" تاسو په هغه کتاب ایمان راوړئ، چې ما نازل کړی دی او د هغه کتاب ریښتیا ګڼونکی دی، چې له تاسو سره دی. او تاسو پرې لومړني انکار کوونکي مه کېږئ ".

الْمُهَيْمِن

" مُهَيْمِنُ " اسم فاعل دی، ماضي يې " هَيْمَنَ " او مضارع يې " يُهَيْمِنُ " ده. "مُهيمن" ساتونکي، څارونکي، ګواه، امین، او امانتدار ته ویل کېږي. قرآن د مخکنیو کتابونو ساتونکی، څارونکی، امین او په هغو ګواه دی.
مهیمن د الله تعالی له سپېڅلیو نومونو څخه هم دی.
نو قرآن د مخکنیو هغو کتابونو ریښتیا ګڼونکی دی، چې لاسوهنه او تحریف پکې نه دی شوی. او په هغو ګواه دی، چې د الله له پلوه نازل شوي دي، د هغو نامنسوخ او منسوخ احکام او مسائل يې په ګوته کړي دي.
مخکې د مائدې د سورة (۴۸)آیة تېر شو، چې قرآن ته پکې مهیمن ویل شوي دي.

اَحسَنُ الحَدیِث

د قرآن کریم بل نوم " احسن الحدیث " دی، "اَحسَن" اسم تفضیل دی، معنی یې ده: " ډېر ښه، ډېر کره، ډېر ښکلی ". او (حدیث) خبرې ته ویل کېږي. نو احسن الحدیث دا معنی، چې " تر ټولو ښې، کره اوښکلې خبرې" قرآن کریم د الله تعالی کتاب او د هغه جل جلاله خبرې دي، نو ځکه تر ټولو ښې، غوره، پیاوړې،کره، ښکلې، خوږې، پاکې او سپېڅلې خبرې دي . الله تعالی فرمایي :

" اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُتَشَابِهًا مَثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ ذَلِكَ هُدَى اللَّهِ يَهْدِي بِهِ مَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُضْلِلْ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ "[۱]

" الله تر ټولو ښې خبرې نازلې کړې دي، داسې کتاب، چې سره ورته دی او بیا بیا راغبرګېږي، د هغو خلکو غونې ترې زیږېږي، چې له خپل رب نه وېرېږي، بیا یې پوستکي او زړونه د الله یادولو ته نرمېږي . دا د الله لار ښوونه ده، چا ته چې وغواړي؛ په دې ورته لار ښوونه کوي. او الله چې څوک بې لارې کړي، نو هغه لپاره بل هیڅ لارښوونکی نشته " .

په قرآن کریم کې د قرآن نور صفتي نومونه هم راغلي دي لکه:

---

۱ - سورة الزمر: ۲۳.

" کتاب مبین "، " القرآن العظیم "، " قرآن کریم "، " الذکر الحکیم "، " کلام الله "، "موعظة"، " ام الکتاب "، " حبل الله"، " الصراط المستقیم"، " قیم "، "القول الفصل "، " الکتاب المتشابه"، " المثاني"، " الروح "، " الوحی "، "العلم "، "القصص الحق "، " قرآنا عجبا "، " التذکرة "، " العروةالوثقی"، "الصدق "، " العدل"، " امرالله"، " البشیر"، "النذیر"، " الکتاب العزیز"، "احسن القصص "، " صحف "، "مکرمة "، " مرفوعة "، " مطهرة " او داسې نور...

اونبوي حدیثوکې هم دقرآن کریم ګڼ نومونه راغلي دي. لکه:

" حبل الله المتین"، " الذکرالحکیم"، " الصراط المستقیم" الفصل ... اوداسې نور.

د قرآني دلیلونو ډولونه

د اسلامي شریعت احکام د څلورو دلیلونو له لارې پېژندلی شو، چې قرآن، نبوي حدیث، د اسلامي امت د علماؤ اجماع او صحیح قیاس دی . ددې څلورو وارو تفصیل زمونږ په کتاب : " د اسلام پوهنیز بنسټونه " کې وګورئ. دلته ترې د قرآني استدلال ډولونه او ځینې اړخونه را اخلو.

د قرآن کريم د پېژندنې او ځينو اړوندو مسائلو په هکله مو مخکې ليکنې وکړې. اوس د دليل او استدلال ځينې ډولونه او ورپورې اړوند مسائل څېړو.
د قرآن کريم او نبوي سنتو دليلونه ډېر ډولونه لري، چې په لاندې توګه يې څرګندوو:

متقابلات

(يو تربله څېرمه)

متقابلات هغه اته ډولونه دي، چې څلور د نورو څلورو په مقابل کې ګډل کېږي او هغه دا دي :

(۱) ظاهر ....او مقابل يې.... (۲) خفي دی .
(۳) نص ....او مقابل يې ....(۴) مشکل دی .
(۵) مفسر ....او مقابل يې.... (٦) مجمل دی .
(۷) محکم ....او مقابل يې ....(۸) متشابه دی .

(١) ظاهر (څرګند)

ظاهر هغې څرګندې او ښکاره خبرې ته ویل کیږي، چې اوریدونکی یې یوائې په اوریدلو په مراد پوهیږي او څه فکر ته اړتیا نه لري، خو د بلې معنی احتمال لري .
د ظاهر حکم دا دی، چې عمل پرې اړین دی، خو بل احتمال نه شي رد کیدی . او مثال یې وروسته رائي.

(٢) نص (جوت)

نص د یو شي ببخي ډېر جوتوالي او څرګند والي ته ویل کیږي. په شریعت کې هغه څه ته ویل کیږي، چې خبره د هغه په هکله وي او حکم یې جوت او څرګند وي؛ خو لفظ یې د بل مراد احتمال هم لري . حکم یې دا دی، چې عمل پرې اړین دی او بل احتمال نه شي رد کیدی .
د ظاهر او نص مثال دا دی چې الله تعالی فرمایي :
" وَأَحَلَّ اللهُ الْبَيْعَ وَ حَرَّمَ الرِّبَا ".١
" الله سوداګري روا کړې او سود یې حرام کړی دی ".

١ - سورة البقرة: ٢٧٥.

دا عبارت د سوداګرۍ په روا کېدو او د سود په حراموالي کې ظاهر دی. او د سوداګرۍ او سود ترمنځ په توپیر کې نص دی ځکه، چې د همدې توپیر په هکله راغلی دی.
نص تل په ظاهر وړاندې ګڼل کېږي.

(۳) مفسر (شنل شوی)

مفسر هغې خبرې ته ویل کېږي، چې پخپله خپل مراد ښکاره کوي، معنی یې له لفظ څخه پېژندل کېږي او د ویونکي له پلوه یې مراد داسې څرګند شوی وي، چې د کوم بل تاویل او تخصیص احتمال پکې نه پاتې کېږي.
مثال یې دا دی چې الله تعالی فرمایي:
" فَسَجَدَالْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُوْنَ ".[۱]
" نو ټولو ملائکو په یو ځای سجده وکړه ".
د ملائکو نوم څرګند دی؛ خو د تخصیص احتمال پکې شته چې ګنې کېدی شي، چې ځینو نه وي کړې، نو د تخصیص مخنیوی په (کلهم) وشو. بیا پکې دا احتمال پاتې ؤ، چې هرې یوې بیله بیله او ځانته سجده کړې وي او یو ځای نه وي، نو د دې تاویل مخنیوی په (اجمعون) وشو.

---
۱ - سورة ص: ۷۳.

(۴) محکم (پیاوړی او غښتلی)

محکم په لغت کې پیاوړي او غښتلي ته ویل کېږي. او شرعي معنی یې دا ده، چې مراد یې په څرګند ډول او د معنی په کولو پېژندل شوی وي، حکم یې تلپاتې وي او له یوې معنی او یو مخ پرته بل هیڅ احتمال پکې نه وي.
محکم تر مفسر هم ډېر پیاوړی وي او خلاف یې ببخي ناروا دی.
محکم په دوه ډوله دی:
(۱) هغه څرګند آیاتونه او حدیثونه، چې هغه عام وګړي پرې پوهېږي، چې په عربي ژبه پوهېږي.
(۲) هغه آیاتونه او حدیثونه، چې یوازې هغه علماء پرې پوهېږي، چې د عربي ژبې ژور بنسټونه پېژني او د استنباط فقهي بنسټونه ورته معلوم وي.
د محکم مثالونه ډېر زیات دي، لکه د حلالو او حرامو په هکله آیاتونه او حدیثونه او د نورو ډېرو احکامو په هکله د قرآن او نبوي حدیثونو زیاته برخه محکم دي.
د مفسر او محکم حکم دا دی، چې په دواړو عمل کول هرو مرو اړین دي.

د دې څلورو په مقابل کې نور څلور دا دي:

(۵) خفي (پټ)

دا هغې خبرې ته ویل کېږي، چې د ریښې له پلوه نه بلکې د کومې پېښې له کبله یې مراد پټ وي. لکه چې الله تعالی فرمايي:

" السَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا أَيْدِيَهُمَا ". ۱

"د غله او غلې دواړو لاسونه ترې پرې کړئ".

دا د غله او غلې په هکله څرګند دی، خو د کیسه بر (جېب وهونکي) او کفن ایستونکي په هکله خفي (پټ) دی.

همدارنګه الله تعالی فرمايي:

" الزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَحِدٍ مِّنْهُمَامِائَةَ جَلْدَةٍ ".۲

"زنا کوونکی او زنا کوونکې دواړه هر یو سل درې ووهئ".

دا د زنا کوونکي سړي او ښځې په هکله څرګند دی؛ خو د لوطي (بچه باز) په هکله پټ دی. نو د نورو نصوصو او دلیلونو په پلټنه څرګندېږي، چې جېب وهونکی او کفن ایستونکی په غله کې حساب دی او بچه باز لیاره وژنه ده، چې فاعل او مفعول به دواړه وژل کېږي.

د خفي حکم دا دی، چې تر هغه پکې پلټنه وشي، چې پټوالی یې له منځه لاړ شي.

---

۱ - سورة المائده: ۳۸.

۲ - سورة النور: ۲.

(۶) مشکل (ستونزمن)

دا هغې خبرې ته ویل کېږي، چې له خفي نه هم زیاته پټه او حل طلب وي.
دا د نص مقابل او ضد دی، مشکل دې ته ویل کېږي، چې له نورو اشکالو او امثالو سره ورته شوی وي او داسې دلیل ته اړتیا وي، چې له نورو ورته امثالو یې راییل او په ګوته کړي. مثال یې دا دی لکه: د عربي ژبې (طعام) "خواړه" کلمه، دا ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې د طعام له ډولونو یواځې غنم، وربشې، پنېر، خورما او ممیز پېژندل کېدل، نو په دې هکله څرګند دی؛ خو د نورو خوړو او طعام په ډولونو کې مشکل دی لکه: نورې غلې دانې، غوښې، هګۍ او داسې نور. نو دا له پلټنې وروسته ثرګند بدی شي، چې ټول خواړه پکې داخل دي.
یا لکه دا چې الله تعالی فرمایي:
" نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ ".[۱]
"ستاسو ښځې ستاسو کښتونه دي، نو خپلو کښتونو ته مو چې له کومه خوښه وي، ورشئ".

۱ - سورة البقرة: ۲۲۳.

دا ددې احتمال لري، چې خپلې ښځې سره په مخکې او وروسته دواړو کې ورتلل ترې واخېستل شي او په وروسته (مقعد) ورتللو کې خفي دی .
خو کله چې نور دليلونه او د "حرث" (کښت) کلمه وڅېړو، نو د کښت ځای هغه دی، چې زرغونه (د بچي زېږېدل) ترې کېږي او بچی له وروسته ځای (مقعد) څخه نه پيدا کېږي، نو ځکه دا جوتېږي، چې وروسته ځای (مقعد) ترې مراد نه دی او دا کار په حديثو کې هم منع دی اولويه ګونا ده .

(۷) مجمل (ناشنلی)

دا هغې خبرې ته ويل کېږي، چې تفصيل او شننه يې نه وي څرګنده ، د ډېرو اړخونو احتمال پکې وي او د خبرې کوونکي له څرګندولو يا له بل دليل پرته يې مراد نه شي جوتېدی .
مثال يې دا دی چې الله تعالی فرمايي:
" قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ ".[١]
"ورته وايه : په ميرات کې الله تعالی تاسو ته حکم څرګندوي".

١ - سورة النساء: ١٧٦.

نو دلته "كلالة" (ميرات) مجمل دی او وروسته يې خپله په قرآن کې شننه راغلې ده.
يا لكه د لمونځ، روژې، زكات، حج، جهاد، سوداګرۍ، نكاح، طلاقو، سود او نور احكام، چې په قرآني نصوصو کې مجمل راغلي دي او تفصيل (شننه) يې په حديثو کې راغلی دی.

(۸) متشابه (سره ورته)

متشابه له مجمل نه هم زيات پټ، ناڅرګند او پنا وي. دا هغې خبرې ته ويل كېږي، چې نه يې مراد څرګند وي او نه پکې شننه او معنی کېدی شي، د ډېرو اړخونو احتمال لري او يوازې الله جل جلاله پرې پوهېږي. مونږ بايد ايمان پرې ولرو او نورې شننې ته يې مونږ اړتيا نه لرو.
لكه د قرآن كريم د ځينو سورتونو په پيل کې مقطعات توري لكه: الم، الر، كهيعص او داسې نور.
يا لكه د الله تعالى د نومونو او صفتونو څرنګوالی، چې اثبات يې له محكماتو څخه دی؛ خو كيفيت (څرنګوالی) يې يوازې الله تعالى ته معلوم دی او دا كيفيات (څرنګوالي) يې له متشابهاتو څخه دي.

لکه چې امام مالک رحمه الله د استواء علی العرش په هکله وايي:
" الاستواء معلوم والکيف مجهول والايمان به واجب والسؤال عنه بدعة "
"استواء (په عرش د الله تعالی پورته والی) څرګند دی، څرنګوالی یې ناڅرګند دی، ایمان پرې اړین دی او د څرنګوالي په هکله یې پوښتنه کول بدعت دی".
همدارنګه د قیامت او آخرت علم هم له متشابهاتو نه دی او یوازې الله تعالی پرې خبر دی.
متشابه په دوه ډوله دی:
(۱) هغه چې د لفظ له پلوه پکې پټوالی او ورته والی پیدا شوی وي.
(۲) هغه چې د لفظ او معنی دواړو له پلوه پکې پټوالی او ورته والی راغلی وي.
محکم او متشابه دوه معناوې لري: یوه عامه او بله خاصه. په عامه معنی قرآن هم محکم او هم متشابه دی. محکم پیاوړي، کره، غښتلي او ځواکمن ته ویل کیږي، نو په دې معنی ټول قرآن محکم دی، چې هیڅ ډول کمی او ټکر پکې نشته او سر تر پایه یو ډول دی. دا یې عامه معنی ده او په همدې معنی الله تعالی فرمايي:

" كتَابٌ اُحْكِمَتْ ايَاتُهُ ثُمّ فُصِّلَتْ مِنْ لَدُنْ حَكِيْمٍ خَبِيْرٍ ". [۱]
" قرآن داسې يو كتاب دی، چې آياتونه يې پياوړي دي او بيا د حكيم او خبردار ذات (الله) له پلوه شنل شوی دی".
همدارنګه په عامه معنی قرآن ټول متشابه (سره ورته) دی. مطلب دا چې په ريښتينولۍ، كمال، حق، اعجاز، فصاحت، بلاغت، هدايت او خير كې ټول سره ورته دی او يو د بل تصديق كوي.
په همدې معنی الله تعالی فرمايي:
" اَللّٰهُ نَزّلَ اَحْسَنَ الْحَدِيْثِ كِتَابًا مُتَشَابِهًا مّثَانِيَ ". [۲]
"الله ښې خبرې نازلې كړې دي، سره ورته كتاب، چې بيا بيا راغبرګېږي".
نو دا دواړه معناوې عامې معناوې دي او په همدې عامو معناوو ټول قرآن هم محكم او هم متشابه دی.
خو په خاص (ځانګړې) معنی قرآن څه محكم او څه متشابه دی، چې د دواړو معناوې مخكې تېرې شوې، الله تعالی فرمايي:
" هُوَالّذِيْ اَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ اٰيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنّ اُمُّ الْكِتَابِ وَ اُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ ". [۳]

---
۱ - سورة هود: ۱.
۲ - سورة الزمر: ۲۳.
۳ - سورة ال عمران: ۷.

"الله هغه ذات دی، چې په تا يې کتاب نازل کړی دی ځينې يې محکم (پياوړي) آياتونه دي، چې هغه د کتاب بنسټ دی او نور يې سره ورته (متشابهات) دي".
نو په دې معنی د قرآن زياته برخه محکم دی او لږ آياتونه يې متشابه دي، چې مخکې مو په مثالونو کې وويل.
د فقهې اصول د همدې خاصو معناؤ په هکله څېړنه کوي.
په متقابلاتو سربېره د قرآن او سنت د دليلونو نور ډولونه دا دي:

عام

هغه لفظ چې ډېر افراد ورلاندې راځي؛ عام بلل کېږي. دا عموم په دوه ډوله دی:
(۱) هغه چې له لفظ نه يې عموم څرګندېږي. لکه: مسلمانان، عرب، عجم، افغانان، پښتانه او داسې نور.
(۲) هغه عام چې له معنی يې عموم څرګندېږي. لکه: "مَنْ" (څوک) يا "مَا" (څه) او داسې نور...
عام بيا په دوه ډوله دی:
(۱) هغه عام، چې څه ترې ځانګړي شوي وي. دا (عام مخصوص عنه البعض) بلل کېږي يا (عام خص عنه البعض).
(۲) هغه عام، چې هيڅ ترې نه وي ځانګړي شوي دا (عام لم يخص عنه شئ) بلل کېږي.

د (عــام مخصــوص عنــه الــبعض) مثــال دا دی لکــه چــې الله تعالی فرمايي: " فَانْكِحُواْ مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنى وَثُلُاثَ وَرُبَاعَ "[1]

"څــومره مــو چــې خوښــې وې؛ دوه دوه، درې درې او څلــور څلور ښځې په نکاح کړئ".

دا عام دی، چې ټولې ښځې پکې داخلې دي؛ خو په دې آيت خاص شوی دی چې:

" حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ امَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ..... ".تر اخره. [2]

نو دا ترې راځانګړې شوې.

ځينې علماء يو دريم ډول عام هم ګڼي. چې (العـام المـراد بـه المخصوص) بلـل کېـږي (هغـه عـام چـې مـراد تـرې ځـانګړی وي).

مثال يې دا دی، چې الله تعالی فرمايي:

" اَلَّذِيْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُواْ لَكُمْ ". [3]

"هغه خلک، چې خلکو ورته وويل: تاسو ته خلک راټـول شـوي دي".

دلته له دواړو " الناس" نه عام خلک مراد نـه دي، بلکـه خـاص خلک ترې مراد دي.

---

۱ - سورة النساء: ۳.

۲ - سورة النساء: ۲۳

۳ - سورة ال عمران: ۱۷۳.

دا په اصل کې معهود او معلوم خلک وو، چې له عهدي الف او لام نه معلومېږي.

خاص (ځانګړی)

خاص هغه لفظ ته ویل کېږي، چې یوائې د ځانګړې معنی او یا ځانګړي نوم لپاره ټاکل شوی وي. یوائې یوه معنی ترې اخېستل کېږي او نورې معناوې پکې ګډون نه لري.

دا تخصیص او ځانګړتیا په درې ډوله ده:

(۱) تخصیص الفرد (یوائې د یو ځانګړتیا).

(۲) تخصیص النوع (د ډول ځانګړتیا).

(۳) تخصیص الجنس (د جنس ځانګړتیا).

د تخصیص الفرد مثال لکه: احمد نسبت عامو سړیو ته.

د تخصیص النوع مثال لکه: سړی نسبت عامو انسانانو ته.

د تخصیص الجنس مثال لکه: انسان نسبت عامو ژویو ته.

مطلق

دا هغه حقیقت یا جنس ته ویل کېږي، چې کوم قید ونه لري. لکه: " تحریر رقبة " د څټ (شخص) ازادول.

په دې کې د ایمان قید نشته چې "مؤمنة ".

مقید

دا هغـه حقیقـت یـا جـنس تـه ویـل کېـږي، چـې قیـد ورسره وي ، لکه : "تحریر رقبة مؤمنة " د مؤمن څټ (شـخص) ازادول، چـې دلتـه ورسـره د (مؤمنـة) قیـد یادشـو . دمطلـق اومقید نور مثالونه به د تفسیر په څېړنې کې راشي .

مشترک

دا هغه لفظ یا عبارت ته ویـل کېـږي، چـې د دوه یـا ډېرو معناؤ ترمنځ شریک وي . لکـه : " جاریـة " چـې وینځـې، جلـۍ او بېـړۍ درې واړو تـه ویـل کېـږي . یـا "مشـتري" چـې اخېستونکي ته هم ویل کېږي او د یو ستوري نوم هم دی.
یـا "قـروء" چـې حـیض او پـاکۍ دواړو تـه ویـل کېـږي . د مشترک حکـم دا دی، چې کلـه د کـومې قرینـې یـا دلیـل پـه بنسټ یې کومه معنی وټاکل شوه، نو نورې معناوې یـې بیـا اعتبار نه لري .

مؤول

چې د کوم دلیل، قرینې، نښې او غالبې رایې په بنسټ له مشترک نه یوه معنی او یو لور واخیستل شي، نو بیا هغه مؤول (د ټاکلې معنی لرونکی) شي . لکه : " نصاب " د غلو دانو، نغدو او څارویو په نصابونو کې مشترک دی کله چې کوم یو ترې وټاکل شي، نو مؤول ګڼل کېږي .
د مؤول حکم دا دی، چې کله یو لور په غالبې رایې وټاکل شي، نو عمل پرې اړین دی او د خطا احتمال لري .

صریح (ښکاره)

دا هغې خبرې ته ویل کېږي، چې مراد یې ښکاره وي لکه : (قال الله) (الله فرمایلي دي)، (محمدرسول الله) (محمد دالله پیغمبردی)، (لاتشرکوا بالله شیئا) (له الله سره هیڅ مه شریکوئ) او نور دقرآن اوسنت اکثره نصوص .
یالکه په عاموخبروکې، چې دیومعلوم شي په هکله وایې :
ومې پلوره، وامې خیسته، رامې وړ او داسې نور...
حکم یې دا دی، چې له هرې لارې وي د معنی ثبوت یې اړین دی لکه: په خبر ورکولو، ستاینې، غبږ او داسې نورو...

کنایه

کنایه هغه لفظ یا هغې خبرې ته ویل کېږي، چې اصلي معنی یې پټه وي او حال دا وایي، چې بله معنی ترې اخیستل شوې ده، یا نیت کې دا وي، چې بله معنی ترې اخیستل شوې ده، خو اصلي معنی هم ترې اخیستل کېدی شي. حکم یې دا دی، چې کله نیت وي یا حال پرې دلالت کوي، نو حکم پرې ثابتېږي.
مثال یې دا دی، چې د "بینونت" اصلي معنی بېلېدل او جلا کېدل دي او د "تحریم" اصلي معنی حرام ګڼل دي؛ خو د کنایې په ډول دا دواړه کلمې د طلاقو لپاره استعمالېږي.
همدارنګه د "لمس" اصلي معنی د لاس ایښودل او لګول دي؛ خو په قرآن کریم کې د کنایې په ډول د جماع (کوروالي) په معنی راغلی دی لکه: (او لامستم النساء) "یا مو له خپلو ښځو سره کوروالی کړی وي".

حقیقت

هر لفظ چې له خپلې هغې معنی لپاره استعمال شوی وي، چې کومې لپاره ټاکل شوی دی؛ حقیقت بلل کېږي.

مجاز

هر لفظ چې له خپلې اصلي او ابښودل شوې معنی نه پرته د بلې معنی لپاره استعمال شوی وي؛ مجاز بلل کېږي.
په مجاز کې داسې کومه قرينه، نښه او دليل وي، چې اصلي معنی ترې نه شي اخيستل کېدی او کنايې کې دا نه وي، نو ځکه ترې کله کله اصلي معنی هم اخيستل کېږي.
د حقيقت او مجاز مثال دا دی، چې د "لِسان" حقيقي، اصلي او ابښودل شوې معنی هغه ژبه ده، چې په خولې کې ده؛خو په قرآن کريم کې د ښې ستاينې په معنی هم راغلې ده لکه چې داسې راځي:
" وَاجْعَل لِّي لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْآخِرِينَ ".[۱]
"او ما ته په وروستيو راتلونکيو نسلونو کې ښه ستاينه پرېږده".
نو دلته د "لسان صدق" معني (ښه ستاينه) ده او دا مجازي معني ده.
همدارنګه "عمی" په لغت کې د سترګو ړوندوالي ته ويل کېږي او دا يې حقيقي معني ده، خو په قرآن کريم کې د مجاز په ډول د زړه د ړوندوالي لپاره راغلی دی. لکه چې فرمايي:

۱ - سورة الشعراء: ۸۴.

" فَانّهَا لاتَعْمَى الْاَبْصَارُوَلكِنْ تَعْمَى الْقُلُوْبُ الّتِيْ فِي الصُّدُوْرِ ".[۱]

"سترګې نه ړندېږي؛ خو هغه زړونه ړندېږي، چې په سينو کې دي".

د حقيقت ډولونه

د اخيستلو او پرېښودلو په اعتبار شرعي حقيقت په درې ډوله دی:

(۱) متعذر (نه کېدونکی یاناشونی) حقيقت.

(۲) مهجور (پرېښودل شوی) حقيقت.

(۳) مستعمل (استعمال شوی) حقيقت.

۱ - متعذر حقيقت

متعذر یا نه کېدونکی حقيقت هغه دی، چې د اصلي معنی اخيستل ترې نه کېدونکي اوناشوني وي.

لکه یو څوک قسم وکړي، چې له دې ونې یا له دې کټوې به هيڅ نه خورم، د ونې او د کټوې خوړل خو نه کېدونکي دي، نو مراد ترې د ونې مېوه او د کټوې پخکړی او ينګولی دی.

---

۱ - سورة الحج: ۴۶.

که فرضا په تکلف يې له ونې څه پاڼه يا ښاخ ماخ وخوري، يا يې له کټوې څه کردوني وخوري،نو حانث نه دی .

۲ - مهجور حقيقت

مهجور حقيقت دې ته ويل کېږي، چې اصلي معنى يې پرېښودل شوې او مجازي معنى يې مشهوره وي . لکه : د " غائط " اصلي معنى د ځمکې يو ډاډمن ځای ده؛ خو دا معنى يې پرېښودل شوې او مجازي معنى يې مشهوره ده، چې ډکو ميتيازو ته ويل کېږي .

۳ - مستعمل حقيقت

مستعمل حقيقت دې ته ويل کېږي، چې په اصلي ايښودل شوې معنى کې استعمال شوی وي او په اصلي معنى کې استعمال يې نه متعذر (نه کېدونکی) او نه مهجور (پرېښودل شوی) وي.
په الفاظو او خبرو کې تل حقيقي معنى اخيستل کېږي او له حقيقي معنى نه پرته بله معنى اخيستل يوائې په هغه ځای کې روا دي، چې حقيقي معنى اخيستل نه کېدونکي وي، يا کوم دليل ولري .

د حقيقت د پرېښودلو ډولونه

په تعذر او هجر (نه کېدلو او پرېښودلو) سربېره په پنځو ځايونو کې حقيقت پرېښودل کېږي.

لومړی: دلالة العرف

(د دود په دليل)

کله کله حقيقت په دوديز ډول او د دود په دليل پرېښودل کېږي. لکه چې يو څوک قسم وکړي، چې سر به نه پېرم (نه اخلم) او بيا د چينچڼې سر واخلي، نو حانث نه دی. ځکه چې په دود او عرف کې د چينچڼې د سر پېرل او پېرودل نه وي، بلکه د څارويو سرونه پېرل کېږي او پېرودل کېږي؛ نو که نيت يې د ټولو ژويو د سرونو و، نو بيا حانث دی.

دویم: دلالة نفس الکلام

(خپله د خبرې په دلیل)

کله کله خپله په خبرې کې داسې دلیل وي، چې حقیقت پرې پرېښودل کېږي. لکه یو څوک ووایي: زما هر کور د الله تعالی په نوم خیرات شو.
نو هغه ټول کورونه پکې راغلل، چې دی یې بشپړ واک لري؛ خو هغه کور پکې نه راځي، چې نور ورسره پکې شریک وي. خو که په هغه کور کې یې هم د خپلې برخې نیت کړی و، نو بیا هغه هم پکې داخل دی.

درېم: دلالة الحال

(د حال په دلیل)

کله کله حقیقت په دلالة الحال یا دلالة سیاق الکلام پرېښودل کېږي. د حال دلیل یا د سیاق الکلام (د خبرې چلښت) د دلیل مثال دا دی، چې الله تعالی فرمایي:

" فَمَنْ شَاءَ فَلْيُؤْمِنْ وَمَنْ شَاءَ فَلْيَكْفُرْ ".[۱]

"د چا چې خوښه وه؛ ایمان دې راوړي او د چا چې خوښه وه؛ کافر دې شي".

د حال دلیل او د خبرې چلښت په دې دلالت کوي، چې دلته حقیقي معنی مراد نه ده، چې ګنې انسان ته اختیار دی، چې ایمان راوړي او که کفر کوي؛ هیڅ پرې نشته، بلکه دلته مراد مجازي معنی ده، چې زجر او رټنه ده .

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :

" إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِيْ إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَامْقُلُوْهُ ثُمَّ انْقُلُوْهُ، فَإِنَّ فِيْ أَحَدِ جَنَاحَيْهِ دَاءٌ،وَفِي الْآخَرِدَوَاءٌ وَإِنَّهُ لَيُقَدِّمُ الدَّاءَ"[۲]

"کله چې له تاسو څخه د یو چا په لوښي کې مچ وغورځېد ، نو پکې ډوب يې کړئ او بیا يې ترې لرې کړئ، ځکه چې په یو وزر کې يې ناروغي او په بل کې يې دارو دي او هغه د ناروغۍ وزر وړاندې کوي".

دلته په ډوبولو امر داسې خامخا اړین نه دی، چې ګنې چا ډوب نه کړ او له لوښي يې خواړه یا څښاک توی کړ او ویې نه خوړ، یا ویې نه څښه، نو ګناهګار دی .

بلکه که خوړ يې پکې ډوب دې يې کړي او که زړه يې نه منل او لرې کاوه يې، نو بیا پرې ډوبول نشته. او دا ځکه چې

---

۱ - سورة الکهف: ۲۹.

۲ - رواه البخاری و احمد و ابوداود والنسائي والدارمی وابن خزیمة وابن حبان والبیهقي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ له ژبې نه د ژغورلو لپاره وفرمایل. او په ټولو کې یې بدني زیان نشته .

څلورم : دلالة من قبل المتکلم

(د خبرې کوونکي له پلوه دلیل)

کله کله د خبرې کوونکي له پلوه یو داسې دلیل وي، چې حقیقت پرې پرېښودل کېږي . مثال یې سمدستي قسم (یمین الفور) دی. که یو څوک چا ته ووایي: راشه له ما سره ډوډۍ وخوره، یا سبناري راسره وکړه، او هغه قسم وکړي، چې نه یې خورم یا نه یې کوم، نو دلته ترې همدغه بلل شوي خواړه اخیستل کېږي. که بل ځای یې ډوډۍ وخوړه، یا یې سبناري وکړ، حانث نه دی .

پنځم: دلالة المحل

(د ځای دلیل)

کله کله حقیقت په دلالة المحل (د ځای په دلیل) پرېښودل کېږي. یعنې هغه ځای داسې وي، چې حقیقت نه مني. لکه یو څوک یو داسې کشر ته زوی ووایي، چې مور، پلار او نسب یې معلوم وي؛ خو هسې د مهربانۍ له مخې

يې زوی وبولي، نو په دې دواړو د پلار او زوی احکام نه پلي کېږي او دلته ترې مجازي معنی اخیستل کېږي .

د نص ډولونه

ښکاره خبره یا نص په څلور ډوله دی :
(۱) عبارة النص (د نص عبارت).
(۲) اشارة النص (د نص نغوته).
(۳) دلالة النص (د نص دلالت).
(۴) اقتضاء النص (د نص غوښتنه).

لومړی: عبارة النص
(دنص عبارت)

عبارة النص یا د نص عبارت دې ته ویل کېږي چې د کوم ځانګړي مراد لپاره خبره راغلې وي. مثال یې وروسته راځي.

دويم: اشارة النص

(د نص نغوته)

دا هغه نص دی، چې بې له کوم زياتوالي د خبرې له پېيلو ثابتېږي، له هره اړخه څرګند نه وي او نه خبره د هغه لپاره چلېدلې وي؛ خو يوه نغوته (اشاره) پکې وي.

د عبارة النص او اشارة النص مثال دا دی چې الله تعالی فرمايي:

" لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ ".[1]

"د هغو بې وزلو مهاجرو لپاره، چې له خپلو کورونو او مالونو نه ايستل شوي دي".

دا د دې لپاره راغلی او چلېدلی دی، چې د مهاجرو بې وزلو حق څرګند وي، نو په دې هکله نص شو. خو د خبرو له نظم او نغوتې نه د مهاجرو بې وزلي هم ثابته شوه، نو په دې هکله اشارة النص يا د نص نغوته شوه.

---

۱ - سورة الحشر: ۸.

دریم: دلالة النص

(د نص دلالت)

دا د خبرې هغه لامل دی، چې د کوم حکم لپاره خبره راغلې وي؛ خو دا له لغت څخه څرګندېږي، په اجتهاد او استنباط نه څرګندېږي.
مثال يې دا دی، چې الله تعالی فرمايي:
" فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا ".[1]
"نو مور او پلار ته اوف مه وايئ او مه يې رټئ".
په لغت پوهان په دې پوهېږي، چې له "اوف" ويلو منع، هغوی نه ځورول دي.

څلورم: اقتضاء النص

(د نص غوښتنه)

دا په خبرې يا نص داسې زياتوالی دی، چې بې له دې يې معنی نه جوتېږي. داسې شوه، لکه دا خبره د دې غوښتنه کوي، چې په دې يې معنی جوته شي.
مثال يې دا دی: لکه چې يو څوک چا ته ووايي: دا ستا اس زما له پلوه په پور کې فلاني ته په سل زره افغانۍ ورکړه.

---

۱ - سورة الاسراء: ۲۳.

هغه وويل: وربه يې کړم. نو د پوروړي پور لنډ شو؛ خو په ترخ کې په دې ويونکي د اس ييه (سل زره افغانۍ) هم ثابته شوه.

بيان

بيان د معنى څرګندوالي او مخاطب ته ښكاره كېدلو ته ويل كېږي. په شرعي اصطلاح كې بيان هغې معنى ته ويل كېږي، چې الله تعالى خپلو بنده ګانو ته څرګنده كړې وي. لكه: لمونځ، روژه، زكات، حج او جهاد يې چې پرې فرض كړي دي، زنا، لواطت، د شرابو څښل، سود اخيستل، غلا او دروغ يې پرې حرام كړي دي.
ځينې هغه حكمونه دي، چې په خپل كتاب (قرآن) كې يې فرض كړي دي او د خپل پېغمبر په ژبه يې د هغو تفصيل څرګند كړى دى. لكه: د لمونځونو د ركعتونو شمېر، د زكات، حج، روژې، جهاد، نكاح، طلاقو، سوداګرۍ او نورو احكامو تفاصيل.
همدارنګه ځينې يې هغه دي، چې الله تعالى پكې په خپلو بنده ګانو اجتهاد او كوښښ لازم كړى دى. لكه چې فرمايي:
" عَسَى رَبُّكُمْ اَنْ يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ".[1]

۱ - سورة الاعراف: ۱۲۹.

" نږدې ده، چې ستاسو رب ستاسو دښمن هلاک کړي او تاسو په ځمکې کې خليفه ګان کړي، نو وګوري، چې تاسو څرنګه عمل کوئ؟ ".

مطلب دا چې د وګړو او ځمکې د خوشحالۍ، ودانۍ، سولې، ښېرازۍ او هر ډول نېکمرغيو په هکله کوم کوښښ، هڅې او اجتهاد کوئ؟ د الله تعالی حقونه څرنګه پر ځای کوئ؟.....

له دې جملې نه د قبلې لور هم دی. الله تعالی خپلو بنده ګانو ته قبله ښوولې او فرمايي:

" وَعَلَامَاتٍ وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ ".[۱]

"او نښې دي او په ستورو دوی لار مومي".

نو له نښو او ستورو نه يوه ګټه د قبلې معلومول هم دي، چې په کوښښ، سوچ او اجتهاد کېږي.

د بيان ډولونه

د بيان لارې او ډولونه اوه (۷) دي:

(۱) بيان التقرير (د ټاکلو بيان).

(۲) بيان التفسير (د شنني بيان).

(۳) بيان التغيير (د بدلون بيان).

---

۱ - سورة النحل: ۱٦.

(۴) بیان الضرورة (د اړتیا بیان).
(۵) بیان الحال (د حال بیان).
(٦) بیان العطف (د عطف بیان).
(۷) بیان التبدیل (د بدلولو بیان).

لومړی: بیان التقریر

(د ټاکلو بیان)

دا دې ته ویل کېږي، چې د یو لفظ معنی څرګنده وي؛ خو د بلې معنی احتمال پکې وي، نو د مراد د ټاکلو لپاره یې بیان او څرګندونه وکړي.

مثال یې دا دی چې الله تعالی فرمايي:

" فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ اَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ اِذَا رَجَعْتُمْ ".[۱]

"نو په حج کې درې ورځې روژې دي او کله چې کورونو ته ستانه شوئ؛ اوه دي".

بیا د دې لپاره، چې خبره ښه څرګنده شي، چې دا ټولې د حج د قربانۍ د نه درلودلو دي، ویې فرمایل:

" تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ".[۲] " دا پوره لس دي ".

یا لکه چې فرمايي:

۱ - سورة البقره: ۱۹٦.
۲ - سورة البقره: ۱۹٦.

" وَوَاعَدْنَا مُوسَى ثَلَاثِينَ لَيْلَةً وَأَتْمَمْنَاهَا بِعَشْرٍ ".[۱]
"مونږ له موسی سره د دېرشو شپو ژمنه کړې وه او په لسو مو پوره کړې".
بیا یې د بیان القریر په ډول څرګنده کړه او ویې فرمایل:
" فَتَمَّ مِيقَاتُ رَبِّهِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً ".[۲]
"نو د خپل رب وخت یې څلوېښت شپې پوره شو".
یا لکه څوک وایي: د عبد الله په احمد زر نغدې پور دی او بیا یې څرګندې کړي چې: افغانۍ.

دویم: بیان التفسیر

(د شنني بیان)

د تفسیر بیان دې ته ویل کېږي، چې د یو لفظ مراد څرګند نه وي او په دې بیان څرګند شي. لکه د مجمل او مشترک څرګندونه وشي.
لکه یو څوک وایي: د محمود په ما پور دی. بیا یې څرګند کړي او وایي: سل افغانۍ.

۱ - سورة الاعراف: ۱۴۲.
۲ - سورة الاعراف: ۱۴۲.

یا لکه د ډېرو شرعي احکامو اجمال په قرآن کې راغلی دی لکه: لمونځ، روژه او نور احکام. او تفسیر یې په حدیثو کې راغلی دی.

درېم: بیان التغییر
(د بدلون بیان)

بیان التغییر دې ته ویل کېږي، چې په بیان یې د خبرې معنی بدله شي. خو دا بیان باید له خبرې سره پیوست او جوخت وي، که په منځ کې جلاوالی راشي؛ بیا ناسم دی.
د تغییر بیان په تعلیق او استثناء کې راځي.
د تعلیق مثال لکه چې الله تعالی فرمایي:
" وَاِنْ كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَاَنْفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتّٰى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ".[۱]
"که امیداورې وې، نو تر هغه پرې لګښت وکړئ، چې خپل بار (بچی) وزېږوي".
که امیدوارې نه وې، نو بیا شرط له منځه ځي. خو په دې کې اختلاف دی. د امام شافعي رحمه الله په نزد د شرط نشتوالی حکم منع کوي.
او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد یې نه منع کوي.
د استثناء مثال دا دی، چې په حدیث کې داسې راځي:

۱ - سورة الطلاق: ٦.

عَنْ عُبَادَةَ بْنَ الصّامت قَالَ سَمعْتُ رَسُولَ اللّه -صلى الله عليه وسلم- يَنْهَى عَنْ بَيْعِ الذّهَبِ بِالذّهَبِ وَالْفضّةَ بِالْفضّةَ وَالْبُرّ بِالْبُرّ وَالشّعِيرِ بِالشّعِيرِ وَالتّمْرِ بِالتّمْرِ وَالْمِلْحِ بِالْمِلْحِ اِلاّ سَوَاءً بِسَوَاءٍ.[1]

"عباده بن صامت رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اورېدلي دي، چې سره زر په سرو زرو ،سپين زر په سپينو زرو ،غنم په غنمو، اوربشې په اوربشو، خورما په خورماو او مالګه په مالګې له پلورلو يې منع کوله؛ خو که سره برابر وي، نو بيا خير دی"

دلته له لومړۍ جملې (ينهى عن بيع ...) دا ثرګندېده، چې دا کار مطلق ناروا دی؛ خو په (الا سواء بسواء) باندې خبره بدله شوه او دا ډول ترې جلا شو.

خلورم : بيان الضرورة

(د اړتيا بيان)

دا هغه بيان ته ويل کېږي، چې په ثرګندولو يې يو بل اړين شی يا حکم ثرګند شي . لکه چې الله تعالی فرمايي:

" فَاِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ اَبوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ ".[2]

---

۱ - رواه البخاري ومسلم والنسائي واحمد والبيهقي وابن حبان .

۲ - سورة النساء : ۱۱.

"که د مړه بچي نه وو او مور او پلار يې په ميراث يوړ، نو مور ته يې دريمه برخه ده".
دلته د مور برخه "دريمه" څرګنده شوه او په دې څرګندولو د پلار برخه هم څرګنده شوه، چې هغه پاتې ټول ميراث دی.
همدارنګه که څوک ووايي: د احمد او محمود په ما دوه زره افغانۍ پور دی. بيا ووايي: د احمد پکې زر دي، نو په دې بيان د محمود برخه (پاتې زر) پخپله څرګنده شوه.

پنځم: بيان الحال

(د حال بيان)

د حال بيان دې ته ويل کېږي، چې حال په حکم کې رانغوځي او په حال حکم څرګند شي. دې ته په اصول الحديث کې تقريري سنت وايي.
لکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په صحابه کرامو رضي الله عنهم کې کوم کار لېدلی وي او پرې چپ پاتې شوی وي او نه يې وي منع کړی، نو دا د شارع د چپ کېدو حال د دې کار د مشروعيت او روا کېدو لپاره تقرير او بيان شو.
همدارنګه کله چې له حياناکې پېغلې څخه د نکاح په وخت کې وپوښتل شي، چې فلانې سره واده کوې؟ او هغه چپ

شوه، نو دا د سکوت او چپ والي حال د هغې د رضا څرګندول دي او همدا بیان الحال دی.

شپږم: بیان العطف

(د عطف بیان)

دا دې ته ویل کېږي، چې یو مبهم او ناڅرګند شی یاد کړي او بیا ورپسې د هغه څرګندوونکی او شنونکی ورپورې وتړي.
لکه چې یو څوک ووایي: په ما د شین ګل دوه سوه او درې مېږې پور دی. نو دلته "درې" دوه سوو پورې وتړل شوې.
مخکې دوه سوه ناڅرګندې وې، چې څه شی دی؛ خو په (او درې مېږې) باندې خبره څرګنده شوه.

اوم: بیان التبدیل

(د بدلولو بیان)

د بدلولو بیان نسخ هم بلل کېږي. او نسخ دې ته ویل کېږي، چې مخکنی حکم په وروستني بدل شي.
الله تعالی فرمایي:

" مَا نَنْسَخْ مِنْ ايَةٍ اَوْ نُنْسِهَا نَاْتِ بِخَيْرٍ مِنْهَا اَوْ مِثْلِهَا ".[۱]
"مونږ چې کوم آیت بدلوو یا یې وروسته کوو، نو له هغه غوره یا د هغه په څېر بل راوړو".

د نسخې ډولونه

نسخ په شپږ ډوله ده :

لومړی : هغه چې لوستل او حکم دواړه یې منسوخ شوي وي. دا ډول منسوخ له منځه تللی او مثال یې نشته .

دویم : هغه چې لوستل او لیک یې منسوخ شوی وي او حکم یې پاتې وي. لکه د رجم آیة.

دریم : هغه چې حکم یې منسوخ وي او لوستل یې پاتې وي. لکه چې الله تعالی فرمايي:

" وَاللّاتِي يَاْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِنْ نِسَائِكُمْ فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ اَرْبَعَةً مِنْكُمْ فَانْ شَهِدُوا فَاَمْسِكُوهُنَّ فِي الْبُيُوتِ حَتَّى يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ اَوْ يَجْعَلَ اللّهُ لَهُنَّ سَبِيلًا وَاللَّذَانِ يَاْتِيَانِهَا مِنْكُمْ فَاذُوهُمَا ...".[۲]

" او ستاسو په ښځو کې چې کومې زنا کوي، نو له تاسو څلور ګواهان پرې ونیسئ ، که هغوی ګواهي ورکړه، نو په

۱ - سورة البقره : ۱۰٦.
۲ - سورة النساء : ۱۵_۱٦.

کورونو کې یې تر هغه بندې کړئ، چې مړینه یې له منځه یوسي او یا ورته الله لاره را اوباسي. او هغه دوه نارینه، چې دا ناوړه کار (لواطت) کوي، نو زیان ور ورسوئ ... ".

دا بند او زیان رسول بیا الله تعالی منسوخ کړل او ویې فرمایل:

" الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ". [1]

"زنا کاره او زناکار دواړه سل سل درې ووهئ او که په الله او د قیامت په ورځ ایمان لرئ، نو د الله په دین کې دې تاسو په دوی نرمي منع نه کړي. او د دوی عذاب (حد) ته دې دمؤمنانو یوه ډله حاضره شي".

د واده کړي سړي او ښځې رجم په صحیحو حدیثونو کې راغلی، چې په بخاري، مسلم او نورو ګڼو کتابونو کې یې وینو. او رسول الله صلی الله علیه وسلم د لواطت په هکله وفرمایل:

"مَنْ وَجَدْتُمُوْهُ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ، فَاقْتُلُوا الْفَاعِلَ، وَالْمَفْعُولَ بِهِ".[2]

---

۱ - سورة النور : ۲.

۲ - رواه ابوداود والترمذی و ابن ماجه و احمد والنسائي والبزار والدار قطني والبيهقی فی السنن و ابو يعلى والحاكم والطبرانى و سعيد بن منصور وابن حبا ن.

"که داسې څوک مو ومونـدل، چې د لـوط د قـوم عمـل يـې کـاوه، نـو فاعـل او مفعـول بـه (پاسـنی او لانـدينی) دواړه ووژنئ".

پـه دې سـره مخکنـی د زيـا ن رسـولو حکـم منسـوخ شـو او سزايې معلومه شوه.

څلورم : سخت په اسانه منسوخېدل.

مثال يې د الله تعالی دا قول دی چې فرمايي:

" انْ يَكُنْ مِنْكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ وَاِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ مِائَةٌ يَغْلِبُوا اَلْفًا مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا ".[۱]

"که له تاسو شـل کسـه صـبر نـاک مجاهدين وي، نـو پـه دوه سوو به غالب شي او که له تاسو سل کسه وي، نـو د کـافرانو په زرو به غالب شي".

د دې آية له نازلېدو وروسته يو له لسو نه تېښـتېدل ګناه وه؛ خو بيا دا حکم منسوخ شو او په دې آية اساني راغله چې:

" الْاٰنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنْكُمْ وَعَلِمَ اَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا فَاِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ مِائَةٌ صَابِرَةٌ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ وَاِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ اَلْفٌ يَغْلِبُوا اَلْفَيْنِ بِاِذْنِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ مَعَ الصَّابِرِينَ ".[۲]

"اوس الله په تاسو اساني وکړه او پوهېږي، چې پـه تاسـو کـې کمزوري ده؛ که له تاسو سل کسه صبر ناک وي؛ په دوه سوو

---

۱ - سورة الانفال : ٦٥.

۲ - سورة الانفال : ٦٦.

به غالب شي او که له تاسو زر کسه وي، نو د الله په حکم به په دوه زرو غالب شي. او الله د صبر کوونکيو ملګرى دى ".

له دې آية وروسته اساني شوه او يو له دوه وځخه تښتېدل ګناه شوه.

په حديث کې داسې راځي :

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: {إِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ} كُتِبَ عَلَيْهِمْ أَنْ لَا يَفِرَّ الْعِشْرُونَ مِنَ الْمِائَتَيْنِ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: {الْآنَ خَفَّفَ اللَّهُ عَنْكُمْ وَعَلِمَ أَنَّ فِيكُمْ ضَعْفًا،... فَكُتِبَ أَنْ لَا يَفِرَّ مِائَةٌ مِنْ مِائَتَيْنِ.[۱]

له عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دى، هغه وايي: کله چې دا آية نازل شو: (که له تاسو شل کسه صبر ناک وي، نو په دوه سوو به غالب شي). نو دا پرې فرض شو، چې شل کسه به له دوه سوو ځخه نه تښتي . بيا الله تعالى دا آية نازل کړ: (اوس الله په تاسو اساني وکړه او پوهېږي، چې په تاسو کې کمزوري ده....) بيا دا فرض شو، چې سل به له دوه سوو ځخه نه تښتي".

نو دلته سخت حکم په اسانه منسوخ شو.

پنځم : له وس سره سم سخت باندې د اسانه منسوخېدل .

لکه : له ماښام پرته ټول لمونځونه لومړى دوه دوه رکعته فرض وو؛ بيا د ماسپښين، مازيګر او ماسختن لمونځونه

---

۱ - رواه البخاري والشافعي.

په سفر کې هماغه دوه رکعته پاتې شول ، په کور کې دوه دوه زيات شول او څلور څلور شول .

لکه چې په حديث کې داسې راغلي :

" فُرِضَتِ الصَّلَاةُ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ فَأُقِرَّتْ صَلَاةُ السَّفَرِ، وَزِيدَتْ فِي الْحَضَرِ ".۱

" لمونځونه دوه دوه رکعته فرض شوي وو، بيا په سفر کې هماغه دوه دوه پاتې شول او په حضر (کور) کې زيات شول ".

نو دلته دوه رکعته اساني وه او دا اساني په سختۍ منسوخ شوه؛ خو داسې سختي ده، چې له وسه دباندې نه ده.

شپږم : هغه حکم دی، چې د ځينو په هکله منسوخ او د ځينو په هکله پاتې دی.

لکه چې الله تعالی فرمايي :

" وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ ".۲

"د کومو خلکو چې وس وي، نو بې وزلي ته د خوړو ورکولو فديه پرې لازمه ده".

دا حکم پخوا د ټولو هغو خلکو په هکله ؤ، چې وس يې ؤ، نو د هرې ورځې د روژې په بدل کې ورته روا وو، چې يو مسکين ته دوه وخته ډوډۍ ورکړي . بيا دا حکم د روغو خلکو په هکله منسوخ شو او د شيخ فاني (ډېر بوډا او

۱ - متفق عليه .
۲ - سورة البقرة : ۱۸۴.

بوډۍ) ، امیدارويږ، تي ورکوونکي او هغه ناروغ په هکله پاتې دی، چې ناروغي يې د رغېدو وړ نه وي .
نو دا څلور ډوله خلکو ته اوس هم روا دي، چې روژې وخوري او د هرې روژې په بدل کې يو بې وزله ته دوه وخته منځکوره خواړه ورکړي.
عبادت هغه دی، چې د الله تعالی طاعت او منل وګڼل شي، هغه جل جلاله ته د نږدې کېدو لامل شي او د هغه جل جلاله د حکم ښکارندوی وي .
دا په کولو او پرېښودلو دواړو کې کېدی شي.
د قرآن کریم احکام په اجمال راغلي دي ،تفسير او تفصيل يې په حديثو کې راغلی دی . نو له همدې امله حدیث د قرآن تفسیر او تفصیل دی او سنت یا حدیث د اسلام دویم پیاوړی ماخذ دی، نو ځکه باید رڼا پرې واچوو.

دویم دلیل: سنت (حدیث)

سنت یا حدیث د اسلامي شریعت دویم مصدر او دلیل دی .
سنت یا حدیث د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا ، کړه، صفت او هغه کار دی، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم

په وخت کې شوی وي او هغه پرې چپ پاتې شوی وي. او دا (تقرير) بلل کېږي.

په سنت کې کول او پرېښودل دواړه راځي.

لکه مخکې مو چې وويل، دغه ياد شوي احکام، مفاهيم او ډولونه هم په قرآن کريم او هم په حديثو کې راځي. لکه ظاهر، نص، مفسر، مؤول او محکم يا د دې مقابل يا عام او خاص... يا عبارة النص، دلالة النص، اشارة النص، اقتضاء النص... او نور ټول مخکې ياد شوي ډولونه په قرآن او حديثو دواړو کې شته او د هغو بيا تکرار ته اړتيا نشته.

سنت يا حديث هم د قرآن تفسير کوي، هم يې تاييد کوي او هم خپله ځانګړی او مستقل دليل دی. په قرآن کريم کې د شرعي احکامو اجمال راغلی دی او په حديثو کې يې تفسير دی. لکه د لمانځه، روژې، زکات، حج، جهاد، بيوع، نکاح او نورو احکامو تفاصيل، چې د حديثو په کتابونو کې راغلي دي او د اسلام علماؤ يې د روايت او درايت څېړنې کړې دي.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم طاعت فرض دی او مونږ ته د شريعت د احکامو زياته برخه د نبوي حديثو له لارې راغلې ده.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم د طاعت او اتباع په هکله ډېر آياتونه او حديثونه راغلي دي، چې ځينې يې دا دي:

الله تعالی فرمايي :

(وَ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَ اَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ) [۱]

"**د الله او د پيغمبر ومنئ**".

اوفرمايي :

(مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ) [۲]

"**چا چې د پيغمبر ومنل؛ هغه بې شکه د الله ومنل**".

او فرمايي :

(وَ مَا اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَ مَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا) [۳]

"**او پيغمبر چې څه درکړي دي؛ هغه واخلئ او له څه يې چې منع کړي يئ؛ له هغو منع شئ** ".

او فرمايي :

(قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِىْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ) [٤]

"**ورته ووايه : که له الله سره مينه کوئ، نو له ما پسې راشئ؛ الله به درسره مينه وکړي** ".

او فرمايي :

(لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَ يُزَكِّيْهِمْ وَ يُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَ الْحِكْمَةَ وَ اِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِىْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ). [٥]

---

[۱] - سورة التغابن : ۱۲. سورة المائدة: ۹۲

[۲] - سورة النساء: ۸۰

[۳] - سورة الحشر: ۷

[٤] - سورة ال عمران: ۳۱

[٥] - سورة ال عمران: ۱٦۴

" الله بې شکه هغه وخت په مؤمنانو احسان وکړ، چې په دوی کې یې له همدوی پیغمبر ولیږه، چې د هغه آیاتونه پرې ولولي، پاک یې کړي او کتاب او حکمت ور وښیي، دوی بې شکه له دې مخکې په ځرګندې بې لارۍ کې وو".

دلته کتاب قرآن دی او حکمت د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سنت او حدیث دي. لکه چې امام شافعي رحمه الله نه یې داسې تفسیر راغلی دی:

قال الشَّافِعِيُّ رحمه الله: سمعت من أرضى من أهل العلم بالقرآن يقول: الحكمة سنة رسول الله صلى الله عليه وسلم. وقال: لأن القرآن ذكر وأتبعته الحكمة وذكر الله مَنَّه على خلقه بتعليم الكتاب والحكمة فلم يجز ـ والله أعلم ـ أن يقال هاهنا اِلا سنة رسول الله، وذلك لأنها مقرونة مع كتاب الله وأن الله افترض طاعة رسوله وحتّم على الناس إتباع أمره فلايجوز أن يقال لقول: فرض، إلا لكتاب الله ثم سنة رسوله، لما وصفنا من أن الله جعل الإيمان برسوله مقرونا بالإيمان به. وسنة رسول الله صلى الله عليه وسلم مبينة عن الله ما أراد. دليلا على خاصه وعامه، ثم قرن الحكمة بكتابه فأتبعها إياه ولم يجعل هذا لأحد من خلقه غير رسوله. ۱

امام شافعي رحمه الله وايي: " ډیر داسې علماء چې زما خوښ دي او په قرآن ښه پوهیږي؛ ما ترې اوریدلي دي، چې حکمت د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت دي. او وايي: ځکه چې قرآن یاد شوی دی، وریسې حکمت راغلی دی او الله تعالی په خپل مخلوق دا احسان یاد کړی دی، چې کتاب او حکمت یې ورزده کړي دي. ـ الله ښه پوهیږي ـ نو

---

۱ - الرسالة للامام الشافعي.

دا روا نه دي، چې دلته د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حدیثو پرته بل څه ترې واخیستل شي. دا ځکه چې دا حکمت د الله تعالی له کتاب سره راغبرګ شوی دی، الله تعالی د خپل پیغمبر طاعت فرض کړی دی او په خلکو یې د هغه د حکم تابعداري لازمه کړې ده، نو دا روا نه دي، چې د الله تعالی له کتاب او بیا د هغه د پیغمبر له سنتو پرته بلې وینا ته فرض وویل شي. دا ځکه، مونږ وویل، چې الله په پیغمبر ایمان راوړل په ځان باندې له ایمان سره یو ځای یاد کړي دي. او د الله د پیغمبر حدیث د الله تعالی د غوښتنو څرګندوی دي، خاص او عام یې په ګوته کوي.

بیا یې حکمت له خپل کتاب سره غبرګ کړ او وروسته یې راوړ او له خپل پیغمبر پرته یې په خپل مخلوق کې هیچا ته دا مرتبه نه ده ورکړې".

رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی له پلوه د دین په رسولو مکلف ؤ او هغه خپل دغه مسئولیت په ډېرې امانتدارۍ اداء کړی دی.

په یو حدیث کې داسې راځي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

"مَا تَرَكْتُ شَيْئًا مِمَّا أَمَرَكُمُ اللَّهُ بِهِ إِلَّا قَدْ أَمَرْتُكُمْ بِهِ، وَلَا تَرَكْتُ شَيْئًا مِمَّا نَهَاكُمْ عَنْهُ إِلَّا قَدْ نَهَيْتُكُمْ عَنْهُ".[۱]

۱ - رواه الشافعي في مسنده. ۲ - رواه البخاري.

"الله تعالی چې تاسو ته په څه امر کړی دی؛ په هغو کې ما هیڅ نه دي پرې ایښي او تاسو ته مې پرې امر کړی دی او الله تعالی چې تاسو له څه شي منع کړي یئ؛ په هغو کې ما هیڅ نه دي پرې ایښي او ترې منع کړي مې یئ".

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طاعت کې داسې حدیث راغلی دی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبَى"، قَالُوا: وَمَنْ يَأْبَى؟ قَالَ: " مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى ".[1]

له ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "زما ټول امت جنت ته ننوځي، پرته له هغه چا چې انکار وکړي" صحابه وو وویل: څوک جنت ته له ننوتلو انکار کوي؟ هغه وفرمایل: "چا چې زما ومنل؛ جنت ته ننواته او چا چې له ما سرغړونه وکړه؛ هغه جنت ته له ننوتو انکار وکړ".

په بل حدیث کې داسې راځي:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بُعِثْتُ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ بِالسَّيْفِ حَتَّى يُعْبَدَ اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَجُعِلَ رِزْقِي تَحْتَ ظِلِّ رُمْحِي، وَجُعِلَ الذِّلَّةُ وَالصَّغَارُ عَلَى مَنْ خَالَفَ أَمْرِي، وَمَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ".[2]

---

۱ - رواه البخاري واحمد وابن حبان والحاکم والبزار.

۲ - رواه البخاري معلقا و وصله غیره فاخرجه احمد والترمذي والبیهقي فی شعب الایمان والبزار وعبد بن حمید فی مسنده والطبراني وابن ابی شیبة وعبدالرزاق وابو نعیم فی تاریخ اصفهان وابویعلی وابن عساکر والهروي فی ذم الکلام وصححه العراقي وشیخ الاسلام والالباني.

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی، هغه وايي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: " زه د قيامت ترمخه له توري سره رالېږل شوی يم، ترڅو د الله عبادت وشي، چې يو دی او هيڅ شريک نه لري. زما روزي زما د نېزې له سيوري لاندې تاکل شوې ده، خواري او سپکاوی د هغه چا لپاره دی، چې زما له حکم يې سرغړونه وکړه. او چا چې له کومو خلکو سره ځان ورته کړ، نو هغه له همغوی ګڼل کېږي".

په يو روايت کې داسې راځي:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: " إِتَّبِعُوا وَلَا تَبْتَدِعوَا فَقَدْ كُفِيتُمْ".[۱]

له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی، هغه وايي: " تاسو د پېغمبر تابعداري وکړئ او بدعت مه کوئ، ځکه چې تاسو لپاره دين بشپړ شوی دی او همدا تاسو لپاره بس دی".

په بل روايت کې داسې راځي:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ أَنَّهُ قَالَ: إِنَّا نَقْتَدِيْ وَلَا نَبْتَدِئُ، وَنَتَّبِعُ وَلَا نَبْتَدِعُ، وَإِنَّ أَفْضَلَ مَا تَمَسَّكْنَا بِالْأَثَرِ".[۲]

له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی، هغه وايي: " مونږ له پېغمبر پسې اقتدا کوو او په دين کې نوي کارونه نه راپېدا کوو، د پېغمبر تابعداري کوو او بدعت نه

---

۱ - رواه الدارمي.

۲ - الفقيه والمتفقه للخطيب البغدادي.

کوو. تر ټولو ښه شی، چې مونږ پرې منګولې لګولې دي؛ هغه احادیث دي".

په بل روایت کې داسې راغلي:

عَنْ سَفْيَان قَالَ: " مِلَاكُ الْأَمْرِ الْإِتِّبَاعُ ".١

له سفیان رحمه الله نه روایت دی، هغه وایي: " د دین پیاوړی کار او ساتونکی ضامن د پیغمبر تابعداري ده".

په بل روایت کې داسې راغلي:

عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ رَحِمَهُ اللهُ، قَالَ: " مَا قَلَّتِ الْآثَارُ فِيْ قَوْمٍ إِلَّا كَثُرَتْ فِيهِمُ الْأَهْوَاءُ ".٢

امام مالک بن انس رحمه الله وایي: " په هر قوم کې چې حدیثونه لږ شوي دي؛ په هغوی کې نفسي غوښتنې زیاتې شوې دي".

امام شافعي رحمه الله وایي:

" لَقَدْ ضَلَّ مَنْ تَرَكَ حَدِيثَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِقَوْلِ مَنْ بَعْدَهُ ". ٣

"چا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث له هغه وروسته د چا د وینا لپاره پرېښود، نو هغه بې شکه بې لارې شو". په بل روایت کې داسې راغلي:

عَنْ نُعَيْمَ بْنِ حَمَّادٍ، قَالَ: " مَنْ تَرَكَ حَدِيثًا مَعْرُوفًا فَلَمْ يَعْمَلْ بِهِ، وَأَرَادَ لَهُ عِلَّةً أَنْ يَطْرَحَهُ فَهُوَ مُبْتَدِعٌ ".٤

---

١ - الفقیه والمتفقه للخطیب البغدادي.

٢ - الفقیه والمتفقه.

٣ - اخرجه الخطیب فی الفقیه والمتفقه.

٤ - اخرجه الدارمي فی السنن والبیهقي وابن بطة فی الابانة والهروي فی ذم الکلام والمروزي فی السنة والخطیب فی الکفایة وصححه ابن حجر فی الفتح.

نعیم بن حماد وایي : "چا چې په صحت پېژندل شوی حدیث پرېښود ، عمل یې پرې ونه کړ او د غورځولو لپاره یې خامخا په لوی لاس لامل لټاوه، نو هغه بدعتي دی".

امام اوزاعي رحمه الله وایي :

" الْكِتَابُ أَحْوَجُ إِلَى السُّنَّةِ مِنَ السُّنَّةِ إِلَى الْكِتَابِ ". ۱

"حدیث قرآن ته دومره اړتیا نه لري، لکه قرآن یې چې حدیثو ته لري".

او دا ځکه چې قرآن کریم کې د احکامو اجمال دی او په حدیثو کې یې تفصیل او تفسیر دی .

په بل روایت کې داسې راځي :

عن مَخْلد بن الحسين قال: قالَ لِيَ الأوزاعِيُّ: " يَا أَبَا مُحَمَّد! إِذَا بَلَغَكَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيْثٌ فَلَا تَظُنَّنَّ غَيْرَهُ وَلا تَقُوْلَنَّ غَيْرَهُ فَإِنَّ مُحَمَّدًا إِنَّمَا كَانَ مُبَلِّغًا عَنْ رَبِّهِ ". ۲

له مخلد بن حسین نه روایت دی ، هغه وایي: ما ته اوزاعي وویل : " ای د محمد پلاره! کله چې تا ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم حدیث ورسېد ، نو بیا نور ګمانونه مه کوه او له حدیث دباندې خبرې مه کوه، ځکه چې محمد صلی الله علیه وسلم د خپل رب له پلوه د دین د رسولو دنده لرله".

له عمر بن عبدالعزیز رحمه الله نه داسې روایت راغلی دی :

---

۱ - اخرجه الدارمي فی السنن والبیهقي وابن بطة فی الابانة والهروي فی ذم الکلام والمروزي فی السنة والخطیب فی الکفایة وصححه ابن حجر فی الفتح.

۲ - الفقیه والمتفقه.

عن عِتاب بن منصور قال: قال عمرُ بْنُ عبدِ العزيزِ. " لا رَأْيَ لأحَدٍ مَعَ سُنَّةٍ سَنَّهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" ۱

عتاب بن منصور وايي : عمر بن عبد العزيز وويل : "رسول الله صلى الله عليه وسلم چې كومه طريقه مونږ ته پرې ايښې وي؛ له هغې سره د هيچا لپاره د رايې حق نشته".

ابن شهاب وايي : "سَلِّمُوْا لِلسُّنَّةِ وَلا تُعَارِضُوْهَا". ۲

"د پيغمبر حديثو ته غاړه كېږدئ او ټكر ورسره مه كوئ".

په بل روايت كې داسې راغلي :

عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: إِذَا رَمَيْتُمُ الْجَمْرَةَ وَذَبَحْتُمْ وَحَلَقْتُمْ، فَقَدْ حَلَّ لَكُمْ كُلُّ شَيْءٍ حُرِّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا النِّسَاءُ وَالطِّيبُ. قَالَ سَالِمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ: فَقَالَتْ عَائِشَةُ: " أَنَا طَيَّبْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحَرَمِهِ حِينَ أَحْرَمَ وَلِحِلِّهِ بَعْدَ مَا رَمَى الْجَمْرَةَ قَبْلَ أَنْ يَزُورَ " قَالَ سَالِمٌ: وَسُنَّةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَقُّ أَنْ تُتَّبَعَ ". ۳

سالم بن عبد الله له خپل پلار عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت كوي، هغه وايي: عمر بن الخطاب رضي الله عنه ويلي دي: " كله مو چې جمره وويشته، حلاله مو وكړه او سرونه مو وخرييل، نو له ښځو او خوشبويي پرته نور ټول هغه څه درته روا شو، چې درباندې حرام شوي وو. سالم بن عبد الله وايي: عائشې رضي الله عنها وويل : رسول الله صلى الله عليه وسلم چې كله احرام تاړه؛ هم ما ورته

---

۱ - اخرجه الخطيب فى الفقيه والمتفقه.

۲ - نفس المرجع.

۳ - المرجع السابق.

خوشبويي لګولې وه او کله يې چې جمره وويشته، نو له طواف زيارت نه مخکې مې هم ورته خوشبويي استعمال کړې وه. سالم وايي: د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت د دې ډېر وړ دي، چې تابعداري يې وشي".

امام شافعي رحمه الله وايي:

" وماسَنّ رسول الله فيما ليس لله فيه حكم فبحكم الله سنّهُ". ۱

"په کومه مساله کې، چې د الله تعالى حکم نه وي او د الله پيغمبر پکې يوه لاره پرې ايښې وي، نو د الله په حکم يې پکې جوړه کړې ده".

په بل روايت کې داسې راځي:

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حَرْمَلَةَ، أَنَّ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيّبِ، نَظَرَ إِلَى رَجُلٍ صَلَّى بَعْدَ النِّدَاءِ مِنْ صَلاَةِ الصُّبْحِ، فَأَكْثَرَ الصَّلاَةَ فَحَصَبَهُ، ثُمَّ قَالَ: " إِذَا لَمْ يَكُنْ أَحَدُكُمْ يَعْلَمُ فَلْيَسْأَلْ، إِنَّهُ لَا صَلاَةَ بَعْدَ النِّدَاءِ إِلَّا رَكْعَتَيْنِ " قَالَ: فَانْصَرَفَ فَقَالَ: يَا أَبَا مُحَمَّدٍ! أَتَخْشَى أَنْ يُعَذِّبَنِيَ اللَّهُ بِكَثْرَةِ الصَّلَاةِ؟ قَالَ: " بَلْ أَخْشَى أَنْ يُعَذِّبَكَ اللَّهُ بِتَرْكِ السُّنَّةِ ". ۲

عبد الرحمن بن حرمله وايي، چې سعيد بن مسيب يو سړی وليد، چې د سهار د لمانځه له اذانه وروسته يې نفلي لمونځ کاوه، نو ډېر زيات لمونځ يې وکړ. سعيد هغه په کاڼي وويشت او بيا يې ورته وويل: ستاسو کوم کس چې نه پوهېږي، نو پوښتنه دې وکړي، د سهار د لمانځه له اذانه وروسته يوازې دوه رکعته سنت دي. هغه سړی له لمانځه راوګرځېد

۱ - الرسالة للامام الشافعي.

۲ - المصدر السابق.

او ويې ويل : اى د محمد پلاره! آيا ته وېرېږې، چې الله به ما ته په ډېرو لمونځونو عذاب راکړي؟ سعيد ورته وويل: داسې نه ده، بلکه زه له دې وېرېږم، چې الله به تاته د سنت طريقې په پرېښودلو عذاب درکړي".

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د پيغمبر صلى الله عليه وسلم يوه طريقه وښوده، نو عروه بن زبير وويل: ابوبکر او عمر رضي الله عنهما له دې منع کړې ده، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وويل: عروه ګی څه غواړي چې ويې وايي؟ هغه وويل: وايي چې ابوبکر او عمر له دې نه منع کړې ده. عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وويل: " اَرَاهُمْ سَيَهْلكُونَ، اَقُولُ: قَالَ النَّبِيُّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، وَيَقُولُ : نَهَى اَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ!!! ". ۱

"زه وينم چې دوی به هلاک شي؛ زه وايم پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي او دوی وايي ابوبکر او عمر ترې منع کړې ده".

په يو روايت کې راځي چې ويې ويل :

"يُوْشِكُ أَن تُنَزَّلَ عَلَيْكُمْ حِجَارَة مِنَ السَّمَاء أَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ الله صلى الله عليه وسلم وَتَقُوْلُوْنَ: قَالَ أَبُوْبَكْر وَعُمَرْ !!! ".

" نږدې ده چې په تاسو له اسمانه تيږې را و ورېږي، زه وايم، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي او تاسو وايئ، چې ابوبکر او عمر داسې ويلي دي!!! ".

۱ - المرجع السابق.

په بل روایت کې داسې راځي:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: " قَالَ رَجُلٌ: الْمَسْحُ حَسَنٌ، وَمَا أَمْسَحُ، أَوْ مَا تَطِيبُ نَفْسِي بِهِ، فَقَالَ لَهُ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَاللَّهِ مَا لَكَ ذَلِكَ حَتَّى لَا يَكُونَ فِي نَفْسِكَ حَرَجٌ مِمَّا قَالَ، وَتُسَلِّمَ تَسْلِيمًا ".[1]

له ابو سعید خدري رضي الله عنه نه روایت دی، هغه وایي: یو سړي وویل: په موزو او جرابو مسح کول ښه دي؛ خو زه مسح پرې نه کوم، یا زما زړه یې نه غواړي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم له صحابهؤ نه ځینو خلکو ورته وویل: "په الله قسم، چې تا لپاره دا اختیار نشته؛ ستا مسلماني تر هغه سمه نه ده، ترڅو چې ستا په زړه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وینا په هکله څه تنګي هم پیدا نه شي او پوره ورته غاړه کې نه ږدې".

په بل روایت کې داسې راځي:

وَرُوِيَ أَنَّ طَاوُساً كَانَ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ فَقَالَ لَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ: أُتْرُكْهُمَا، فَقَالَ: إِنَّمَا نَهَى عَنْهُمَا أَنْ تُتَّخَذَا سُنَّةً، فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: قَدْ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَلَاةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ فَلَاأَدْرِي أَتُعَذَّبُ عَلَيْهِمَا أَمْ تُؤْجَرُ؟ لِأَنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ قَالَ: {وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ}.[2]

روایت شوی دی، چې طاوس به د مازیګر له لمانځه وروسته دوه رکعته نفلي لمونځ کاوه؛ عبد الله بن عباس رضي الله

---

۱ - المرجع السابق.

۲ - اخرجه الحاکم فی المستدرک والبیهقي فی السنن والمعرفة والشافعي فی الرسالة والدارمي في السنن وعبدالرزاق في المصنف وابن عبدالبر في جامع بیان العلم.

عنهما ورته وويل: دا لمونځ پرېږده. هغه وويل: دې نه له دې امله منع شوې ده، چې سنت ونه ګڼل شي. عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ورته وويل : "رسول الله صلى الله عليه وسلم د مازيګر له لمانځه وروسته له لمانځه کولو نه منع کړې ده، نو زه نه پوهېږم، چې آيا تا ته به پرې عذاب درکول شي او که ثواب؟ ځکه چې الله تعالى فرمايي: مؤمن او مؤمنې ته دا روا نه دي، چې کله الله او د هغه پېغمبر څه پرېکړه وکړي، نو دوى لپاره دې پکې څه اختيار وي".

لکه مخکې مو چې وويل، د قرآن او سنت د قطعي دليلونو ترمنځ هيڅ تعارض نشته.

امام احمد رحمه الله وايي :

"لَيْسَ فِي نَصِّ الْقُرْآنِ وَلَا نَصِّ الْحَدِيثِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَعَارُضٌ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: {وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا}، وَقَالَ مُخْبِرًا عَنْ نَبِيِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: {وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى ، إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى}، فَأَخْبَرَ أَنَّهُ لَا إِخْتِلَافَ فِي شَيْءٍ مِنَ الْقُرْآنِ ، وَأَنَّ كَلَامَ نَبِيِّهِ وَحْيٌ مِنْ عِنْدِهِ...". [1]

" نه د قرآن د نصوصو ترمنځ کوم ټکر شته او نه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د حديثو ترمنځ؛ الله تعالى فرمايي:

"که دا قرآن له الله پرته د بل چا له لوري واى، نو دوى به پکې ډېر اختلاف موندلى وُ" او د خپل پېغمبر (صلى الله عليه وسلم) په هکله فرمايي : " او پېغمبر له ځانه خبره نه

۱ - اخرجه الخطيب فى الفقيه والمتفقه.

کوي، دا یوائځې وحې ده، چې ورته کېږي". نو الله تعالی مونږ ته خبر راکړ، چې په قرآن کې هیڅ اختلاف نشته او د هغه د پېغمبر خبرې وحې ده".

تفسیر او تاویل

تفسیر په لغت کې څرګندولو، ښکاره کولو، شننې، بېلولو او بربنډولو ته ویل کېږي.

الله تعالی فرمایي:

(وَ لَا يَأْتُوْنَكَ بِمَثَلٍ اِلَّا جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ وَ اَحْسَنَ تَفْسِيْرًا) [1]

"او دوی چې هر مثال تا ته راوړي؛ مونږ درته حق او ښه څرګندونه راوړو".

په اصطلاح کې تفسیر هغه علم ته ویل کېږي، چې په واسطه یې د الله تعالی د کلام (قرآن کریم) الفاظ، معناوې، احکام، مسائل او مراد راڅرګندېږي او په قرآن پوهېدل پرې اسانېږي.

تاویل له (اَولٌ) څخه اخېستل شوی دی، چې په لغت کې ستنېدلو، راګرځېدلو، تاکلو، اندازه کولو او تعبیر ته ویل کېږي.

---

[1] - سورة الفرقان: ۳۳

په قرآن کريم کې تاويل په څلور معناؤ راغلی دی. لکه چې د تاکلو او تفسير په معنی په دې آية کې راغلی دی:
(فَاَمَّا الَّذِيْنَ فِىْ قُلُوْبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُوْنَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَآءَ الْفِتْنَةِ وَ ابْتِغَآءَ تَأْوِيْلِهِ وَ مَا يَعْلَمُ تَأْوِيْلَهُ اِلَّا اللّٰهُ).[1]
"هغه خلک چې په زړونو کې يې کوږوالی دی؛ له هغو آياتونو پسې ننښتي وي، چې سره ورته دي. او دا د فتنې او تفسير د لټولو لپاره کوي، د دې په تفسير له الله پرته بل هيڅوک نه پوهېږي".
همدارنګه د پايلې په معنی په دې آية کې راغلی دی:
(فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِىْ شَىْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ وَ الرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّ اَحْسَنُ تَاْوِيْلًا).[2]
"که په کوم شي کې مو شخړه وکړه، نو که په الله او د قيامت په ورځ ايمان لرئ؛ الله او پېغمبر ته يې پرېکړه يوسئ، دا غوره او د ښو پايلو کار دی".
همدارنګه تاويل د راتللو او واقع کېدلو په معنی په دې آياتونو کې راغلی دی: الله تعالی فرمايي:
(هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا تَاْوِيْلَهُ يَوْمَ يَاْتِىْ تَاْوِيْلُهٗ).[3]
"دوی يوازې د دې د راتللو انتظار کوي، هغه ورځ چې واقع به شي...".
او فرمايي:

[1] - سورة ال عمران: ۷
[2] - سورة النساء: ۵۹
[3] - سورة الأعراف: ۵۳

(بَلْ كَذَّبُوْا بِمَا لَمْ يُحِيْطُوْا بِعِلْمِهِ وَلَمَّا يَاْتِهِمْ تَاْوِيْلُهُ).[۱]

"بلکې دوی هغه څه دروغ ګڼي، چې بشپړ پرې نه پوهېږي او د هغې واقع کېدل نه دي راغلي".

د تعبیر په معني په دې آیاتونو کې راغلی دی: الله تعالی فرمايي:

(وَ كَذٰلِكَ يَجْتَبِيْكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِنْ تَاْوِيْلِ الْاَحَادِيْثِ).[۲]

"همداسې ستا رب تا غوره کوي او د خبرو تعبیر درزده کوي". او فرمايي:

(قَالَ لَا يَاْتِيْكُمَا طَعَامٌ تُرْزَقٰنِهِ اِلَّا نَبَّاْتُكُمَا بِتَاْوِيْلِهِ).[۳]

"تاسو ته به لا هغه خواړه نه وي راغلي، چې درکول کېږي؛ زه به تاسو د دې په تعبیر خبر کړم".

او فرمايي:

(وَ مَا نَحْنُ بِتَاْوِيْلِ الْاَحْلَامِ بِعٰلِمِيْنَ).[٤]

"مونږ د ګډو وډو خوبونو په تعبیر پوهېدونکي نه یو".

او فرمايي:

(اَنَا اُنَبِّئُكُمْ بِتَاْوِيْلِهِ).[۵]

"زه تاسو د دې په تعبیر خبروم".

او فرمايي:

(هٰذَا تَاْوِيْلُ رُءْيَایَ مِنْ قَبْلُ).[۱]

---

[۱]- سورة يونس: ۳

[۲]- سورة يوسف: ٦

[۳]- سورة يوسف: ۳۷

[٤]- سورة يوسف: ۴۴

[۵]- سورة يوسف: ۴۵

"دا له دې مخکې زما د خوب تعبير دی".
په دې ټولو کې تاويل د تعبير او مدلول په معنی راغلی دی.
همدارنګه تاويل د يو کار د موخې په معنی په دې آياتونو کې راغلی دی: الله تعالی فرمايي:
(سَأُنَبِّئُكَ بِتَأْوِيْلِ مَا لَمْ تَسْتَطِعْ عَّلَيْهِ صَبْرًا).[2]
"تا به زه ډېر زر د هغه څه له موخې خبر کړم، چې صبر دې پرې ونه شو کولی".
او فرمايي:
(ذٰلِكَ تَأْوِيْلُ مَا لَمْ تَسْطِعْ عَّلَيْهِ صَبْرًا).[3]
"دا د هغو کارونو موخې وې، چې تا پرې صبر ونه شو کولی".
په دې کې د تاويل معنی د هغو کارونو د موخو څرګندول دي، چې خضر د موسی عليهما السلام په مخکې کړي وو، چې هغه د بېړۍ سوري کول، د هلک وژل او د دېوال سمول وو.
په اصطلاح کې تاويل له پخوانيو علماؤ او سلفو نه د تفسير، د معنی او مراد د څرګندولو په معنی راغلی دی.
ابن جرير طبري رحمه الله وايي:
"أَمَّا مَعْنَى التَّأْوِيلِ فِي كَلَامِ الْعَرَبِ فَإِنَّهُ التَّفْسِيرُ وَالْمَرْجِعُ وَالْمَصِيرُ".[1]

---

[1] - سورة يوسف: ۱۰۰
[2] - سورة الكهف: ۷۸
[3] - سورة الكهف: ۸۲

"د عربو په ژبه کې د تاویل معنی تفسیر، د راستنېدو او راګرځېدو ځای دی".

ابوعبیده او نور ډېر علماء وايي:

"التأويل والتفسير بمعنى واحد".

"تاويل او تفسیر په یوه معنی دي".

مخکې په حدیث کې تېر شول، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ته دعاء وکړه او په هغې کې داسې راغلي وو: " اللهم فقهه فى الدين وعلمه التأويل ".

"ای الله! په دين يې پوه کړه او د قرآن تفسير ورزده کړه".

دلته هم تاويل د تفسیر په معنی دی. د وروستنيو علماؤ په تعريف کې: د دليل له کبله له یوې راجحې معنی نه مرجوحې معنی ته اړولو او بدلولو ته تاويل ويل کېږي.

د تاويل د دې ډول معنی لپاره که څوک من دليل وي، نو دا تفسير ګڼل کېږي؛ خو که دليل ونه لري او بې دليله يوه معنی له راجحې نه اړوي، نو دا بيا فاسد تاويل ګڼل کېږي.

په وروستنيو کې ځينې بدعي عقيدو ته منسوب علماء د خپلو بدعتونو د اثبات لپاره د قرآن او سنت په دليلونو او نصوصو کې تحريف کوي او هغه تاويل ګڼي. دا د نصوصو بدلول، له منځه وړل او معطل پرېښودل دي.

---

۱ - تفسير الطبري.

راغب اصفهاني او ځينې نور علماء وايي، چې تفسير عام او تاويل خاص دی، تفسير په الفاظو کې استعمالېږي او تاويل په معناؤ کې، تاويل د اسماني کتابونو په معناؤ کې استعمالېږي او تفسير په اسماني او نورو ټولو کې استعمالېږي. ځينې وايي: تفسير د الفاظو معناوې ښکاره کوي او تاويل يې مراد او موخې ښکاره کوي.

ځينې وايي: تفسير هغو معناؤ ته ويل کېږي، چې روايت پورې اړه لري. او تاويل هغو معناؤ ته ويل کېږي، چې درايت پورې اړه لري.

معنی دا چې په تفسير کې د روايت پورې تړلې معناوې څرګندېږي او په تاويل کې په معناؤ پوهه او فقهي اړخونه څېړل کېږي، مطلب او لارښوونه يې څرګندېږي.

لنډه دا چې تفسير عام دی؛ لغوي څېړنه، معناوې، تفاصيل او ګڼ اړخونه پکې داخل دي. او تاويل خاص دی، چې مطلب، موخه او لارښوونه څرګندوي؛ خو دا دواړه په يوې معنی هم استعمال شوي دي. په هر ځای کې دلائلو، قرائنو، اشارو، سياق او سباق ته په پام کولو له هغه ځای سره مناسبه معنی ترې اخيستل په کار دي.

د قرآن کریم د تفسیر ډولونه

د قرآن کریم تفسیر په څلور ډوله دي:
(۱) په قرآن د قرآن تفسیر.
(۲) په حدیثو د قرآن تفسیر.
(۳) د صحابه ؤ تفسیر.
(۴) په عربي لغت تفسیر.

لومړی: په قرآن د قرآن تفسیر

د قرآن کریم تر ټولو ښه او پیاوړی تفسیر دا دی، چې د قرآن تفسیر په قرآن وشي، ځکه چې په قرآن کې یو ځای اجمال راغلی وي او بل ځای یې تفسیر. یو ځای اختصار وي او بل ځای یې تفصیل.

د بېلګې په توګه:

د آدم او حوا علیهما السلام هغه دعاء او کلمې، چې الله تعالی ورته ورښوولې وې او د هغو په ویلو الله تعالی پرې لورېنه وکړه؛ د بقرې په سورت کې په اجمال راغلې دي او تفصیل یې د اعراف په سورت کې راغلی دی.

الله تعالی فرمایي:

(فَتَلَقّٰى اٰدَمُ مِنْ رَّبِّهٖ كَلِمٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ). [1]

"آدم له خپل رب نه څه کلمې واخیستې، نو هغه پرې لورېنه وکړه".

د دې تفصیل چې دا کلمې او ویونه څه وو؟ په سورت الاعراف کې داسې راځي:

(قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَا اَنْفُسَنَا وَ اِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَ تَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ). [2]

"دواړو (آدم او حوا) وویل: ای زمونږ ربه! مونږ په خپلو ځانونو تېری کړی دی؛ که ته مونږ ته بخښنه ونه کړې او لورېنه راباندې ونه کړې؛ مونږ به هرومرو له تاوانیانو څخه وګڼل شو".

بله بېلګه یې داده، چې د فاتحې په سورت کې راځي:

" صِرَاطَ الَّذِيْنَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّيْنَ".

" د هغو خلکو لار راوښیه، چې تا پرې لورېنه کړې ده؛ د هغو په لار مو مه روانوه، چې غوسه پرې شوې ده او نه د بې لارو په لار".

نو د " اَنۡعَمۡتَ عَلَیۡهِمۡ " تفسیر د نساء په سورت کې داسې راغلی دی:

(وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَأُولٰئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِيْنَ وَحَسُنَ أُولٰئِكَ رَفِيْقًا). [3]

---

[1] - سورة البقره: ۳۷

[2] - سورة الاعراف: ۲۳

[3] - سورة النساء: ٦٩.

" چاچې دالله او دهغه دپېغمبر ومنل، نو هغوی به له هغو خلکو سره وي، چې الله پرې لورېنه کړې ده. چې هغوی پېغمبران، رېښتيني، شهيدان او نېکان دي. او همدوی ښه ملګري دي".

همدارنګه د " الْمَغْضُوْب عَلَيْهِمْ " تفسيردمائدې دسورت په (۶۰) اود " الضَّالِّيْن " تفسير د مائدې په (۷۷) کې راغلی دی.

او حديث هم دهمدې تفسير پخلی کوي.

همدا رنګه الله تعالی فرمايي:

" أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيْمَةُ الْأَنْعَامِ إِلَّا مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ " [1]

" له هغو پرته چې دربانديې لوستل کېږي؛ نور ټول څاروي تاسو لپاره حلال شوي دی "

ددې: " اِلا مَا يُتْلَى عَلَيْكُمْ " تفسير په همدې سورت کې لږ وروسته داسې راځي:

" حُرِّ مَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيْرِ ". [2]

" په تاسو مرداره، وينه، د بد ځناور غوښه... حرام شوي دي".

همدارنګه الله تعالی فرمايي:

" إِنَّ الْإِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوْ عًا " [3]

" انسان بې شکه حرصناک پيدا شوی دی "

ددې حرصناک تفسير ورپسې داسې راځي:

" إِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوْعًا وَ إِذَامَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوْعًا " [1]

---

[1] - سورة المائده: ۱

[2] - سورة المائده: ۳

[3] - سورة المعارج: ۱۹

" کله چې ورته څه زیان ورسېږي، نو فریاد کوونکی وي او کله چې ورته خیر ورسېږي، نو منع کوونکی وي " [1].
په قرآن کریم کې (تفسیرالقرآن بالقرآن) په ډېرو ځایونو کې راغلی دی، چې وروسته به یې په تفسیر کې ان شاء الله ځای په ځای وڅېړو.

دویم: په حدیثو د قرآن تفسیر

د قرآن کریم بل ډول اړین او پیاوړی تفسیر په نبوي سپېڅلیو حدیثو د قرآن تفسیر دی. او دا ځکه چې قرآن کریم د الله تعالی په آخری پېغمبر محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوی دی او هغه د قرآن په تفسیر تر ټولو ښه پوهېده. د همدې قرآن د تفسیر، عملي کولو او رسولو لپاره رالېږل شوی دی . الله تعالی فرمایي :
(لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ اَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَ يُزَكِّيْهِمْ وَ يُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَ الْحِكْمَةَ وَ اِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ) [2].
"الله بې شکه هغه وخت په مؤمنانو احسان وکړ، چې په دوی کې یې له همدوی پېغمبر ولېږه، چې د هغه آیاتونه پرې

---
[1] - سورة المعارج: ۲۰ – ۲۱
[2] - سورة ال عمران: ۱۶۴

ولولي، پاک يې کړي، کتاب او حکمت ورته وښيي، دوی بې شکه له دې مخکې په ښکاره ګمراهۍ کې وو".
دلته له حکمت نه مراد د پيغمبر صلی الله عليه وسلم سنت (طريقې) او حديث دي، چې د هغه قولي، فعلي، ترکي، تقريري او صفتي حديثونه ټول پکې داخل دي.
پيغمبر صلی الله عليه وسلم د قرآن او سنت (حديث) دواړو په رسولو مکلف ؤ. الله تعالی فرمايي:
(وَاَنْزَلْنَا اِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ اِلَيْهِمْ وَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ).[۱]
"مونږ درته پياره تاته د نصيحت کتاب نازل کړی دی، چې دوی ته هغه احکام ښکاره کړې، چې دوی ته نازل شوي دي او د دې لپاره، چې دوی فکر وکړي".
د رسول الله صلی الله عليه وسلم احاديث د اسلام د شريعت دويم بنسټ او مصدر دی. الله تعالی په خپل کتاب کې ځای په ځای د خپل پيغمبر طاعت او تابعداري په خپلو بندګانو فرض کړې ده، چې ځينې بېلګې يې دا دي:
الله تعالی فرمايي:
(وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْل).[۲]
"د الله او د هغه د پيغمبر ومنئ".
او فرمايي:
(مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ).[۱]

[۱] - سورة النحل: ۴۴
[۲] - سورة التغابن: ۱۳

"چا چې د پېغمبر ومنل؛ هغه بې شکه د الله ومنل".[1]
او فرمايي:
(وَمَا اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا). [2]
"پېغمبر چې څه درکړي دي؛ هغه واخلئ او له څه يې چې منع کړي يئ؛ له هغو منع شئ".
او فرمايي:
(قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِىْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ). [3]
"ورته ووايه: که تاسو له الله سره مينه کوئ، نو زما تابعداري وکړئ؛ الله به له تاسو سره مينه وکړي".
په دې هکله قرآني نصوص ډېر زيات دي. نو د پېغمبر طاعت د الله تعالی طاعت دی او د پېغمبر حديثونه خپله هم مستقل دليل دی او د قرآن تفسير او بيان هم دی. پېغمبر صلی الله عليه وسلم چې څه وايي؛ په وحې يې وايي، الله تعالی فرمايي:
(وَ مَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْىٌ يُّوْحٰى). [4]
"هغه له ځانه خبرې نه کوي، دا يوازې وحې ده، چې ورته کېږي".

---

[1] - سورة النساء: ۸۰
[2] - سورة الحشر: ۷
[3] - سورة ال عمران: ۳۱
[4] - سورة النجم: ۳-۴

قرآن او سنت دواړه د اسلامي شريعت مصدرونه او دليلونه دي او دواړه يو له بله نه شي بېلېدى. مونږ په دې مامور او مکلف يو، چې دواړه ومنو او په دواړو پرېکړې وکړو.

الله تعالى فرمايي:

(فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ). ۱

"که په کوم شي کې مو شخړه وکړه، نو الله او پېغمبر ته يې پرېکړه يوسئ".

د دې په تفسير کې داسې روايت راځي:

عَنْ مَيْمُونِ بْنِ مِهْرَانَ، فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: (فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ) قَالَ: " الرَّدُّ إِلَى اللَّهِ: إِلَى كِتَابِهِ، وَالرَّدُّ إِلَى الرَّسُولِ إِذَا قُبِضَ: إِلَى سُنَّتِهِ ". ۲

ميمون بن مهران د الله تعالى د دې وينا په هکله چې: "که په کوم شي کې مو شخړه وکړه، نو الله او پېغمبر ته يې پرېکړه يوسئ" وايي: الله تعالى ته پرېکړه وړل د هغه کتاب ته وړل دي او پېغمبر ته پرېکړه وړل د هغه له مړينې وروسته د هغه حديثو ته وړل دي".

همدا معنى له مجاهد نه داسې راغلې ده:

فَرُدُّوْهُ إِلَى اللّٰهِ وَالرَّسُوْلِ، قَالَ: " إِلَى كِتَابِ اللّٰهِ وَسُنَّةِ نَبِيِّهِ صلى الله عليه وسلم". ۳

---

۱ - سورة النساء: ۵۹

۲ - اخرجه الخطيب فى الفقيه والمتفقه وابن عبدالبر فى الجامع والطحاوي فى المشكل وابن جرير فى تفسيره وابن بطة فى الابانة واللا لكائي فى شرح اصول اعتقاد اهل السنة والهروي فى ذم الكلام وابن شاهين فى السنة والبيهقي فى الاعتقاد وفى المدخل.

۳ - نفس المراجع.

"الله او پېغمبر ته يې ور وګرځوئ، دا معنی، چې د الله کتاب او د هغه د پېغمبر صلی الله عليه وسلم سنت ته".

قرآن په رسول الله صلی الله عليه وسلم نازل شوی دی، د الله تعالی له پلوه جبريل عليه السلام د قرآن ستر معلم او مفسر ؤ، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې د قرآن ښوونه کړې ده او د همغې ښوونې په رڼا کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د حديثو په صورت د قرآن تفسير مونږ ته د هغه له عمل او سيرت نه راپاتې دی.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

" ألا إني أوتيت القرآن ومثله معه ".[۱]

"تاسو په دې وپوهېږئ، چې ماته قرآن او د دې غوندې نور هم راکول شوي دي".

نو د قرآن غوندې نور نه مراد د رسول الله صلی الله عليه وسلم احاديث دي.

حافظ ابن کثير د "مثله معه" په تفسير کې وايي:

" يَعْنِي: السُّنَّةَ. وَالسُّنَّةُ أَيْضًا تَنْزِلُ عَلَيْهِ بِالْوَحْيِ، كَمَا يَنْزِلُ الْقُرْآنُ؛ إِلَّا أَنَّهَا لَا تُتْلَى كَمَا يُتْلَى الْقُرْآنُ ".[۲]

"له (مثله معه) نه مراد د پېغمبر سنت (حديث) دي، لکه څرنګه چې قرآن په رسول الله صلی الله عليه وسلم نازلېده؛ همداسې سنت (حديث) هم په هغه د وحې په واسطه نازلېدل؛

---

۱ - رواه احمد وابوداود والترمذي والمروزي فی السنة والطبراني فی مسند الشاميين.

۲ - تفسير ابن کثير.

خو دومره توپیر لري، چې حدیث د قرآن په څېر د قرآن په حیث نه لوستل کېږي".

په یو روایت کې داسې راځي:

عَنْ حَسَّانَ بْنِ عَطِيَّةَ، قَالَ: " كَانَ الْوَحْيُ يَنْزِلُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيَحْضُرُهُ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ بِالسُّنَّةِ الَّتِي تُفَسِّرُ ذَلِك ".[۱]

"له حسان بن عطیه نه روایت دی هغه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې د قرآن وحې راتله او جبریل به ورسره په حدیثو کې حاضرېده، چې د قرآن تفسیر کوي".

نو څرګنده شوه، چې حدیث هم وحې ده. او دا ځکه چې پېغمبر صلی الله علیه وسلم له ځانه خبره نه کوي؛ هغه تل د وحې تابع ؤ او هره خبره او تړول کړه وړه یې له وحې سرچینه اخلي.

که یو څوک وایي، چې یوازې قرآن بس دی او حدیثو ته اړتیا نشته؛ هغه د اسلام له روح څخه ناخبره دی.

په یو روایت کې داسې راځي:

عَنِ المقْدَاد بن معد يكرب رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رسولُ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ألا هل عسى رَّجُلٌ يبلغه الحديث عني وهو متكئٍ على أَرِيكَتِهِ، فيقول: بَيننا وبينَكُم كِتابُ الله، فما وجدنا فيه حلالاً

---

۱ - اخرجه الدارمي فی السنن والهروي فی ذم الکلام وابن المبارک فی الزهد والمروزي فی السنة واللالکائي فی شرح اعتقاد اهل السنة وابن بطة فی الابانة والخطیب فی الکفایة وصححه ابن حجر.

استحللناه، وما وجدنا فيه حراماً حرَّمناه، وإنَّ ما حَرَّمَ رسولُ الله كما حرَّمَ الله". [۱]

له مقداد بن معديكرب رضي الله عنه نه روايت دی، هغه وايي : رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : " تاسو خبر اوسئ؛ داسې يو وخت به راشي، چې يو سړي ته به زما حديث ورسيږي؛ هغه به په خپلې صوفې تکيه وهلې وي او وايي به : زمونږ او ستاسو ترمنځ د الله کتاب دی؛ په دې کې مو چې کوم حلال ومو ندل؛ حلال به يې ګڼو او کوم مو چې پکې حرام ومو ندل؛ حرام به يې ګڼو. په دې کې شک نشته، چې د الله پيغمبر څه حرام ګڼلي دي؛ هغه داسې دي، لکه الله چې حرام کړي دي".

عمران بن حصين رضي الله عنه هغه څوک کم عقل وګاڼه، چې وايي: يوائې قرآن بس دی او حديثو ته اړتيا نشته. لکه چې داسې روايت راځي:

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّهُ قَالَ لِرَجُلٍ: إِنَّكَ امْرَؤٌ أَحْمَق أَتَجِدُ فِي كِتَابِ اللَّهِ الظُّهْرَ أَرْبَعًا، لَا تَجْهَرُ فِيهَا بِالْقِرَاءَةِ ؟، ثُمَّ عَدَّدَ إِلَيْهِ الصَّلَاةَ وَالزَّكَاةَ وَ نَحْوهَذَا،ثُمَّ قَالَ: أَتَجِدُ هَذَا فِي كِتَابِ اللَّهِ مُفَسَّرًا؟، إِنَّ كِتَابَ اللَّهِ أَبْهَمَ هَذَا وَإِنَّ السُّنَّةَ تُفَسِّرُ ذَلِكَ. [۲]

---

۱ - رواه ابوداود والترمذي وابن ماجه واحمد وابن حبا ن وابو يعلی والبزار والدار قطنی والبيهقي والحاکم والطبراني والمروزي والدارمي والطحاوي فی شرح معناني الاثار وابن ابي شيبة والشافعي في مسنده.

۲ - اخرجه سعيد بن منصور فی سننه وابن بطة فی الابانة والاجري فی الشريعة وابن عبد البر فی الجامع.

له عمران بن حصين رضي الله عنه نه روايت دی، چې هغه يو سړي ته وويل: ته کم عقل يې، آيا تـه د الله پـه کتـاب کـې دا مومې، چې د ماسپښين لمونځ ځلور رکعته دی، چې قرائت به پکې په زوره نه وايې؟ بيا يې ورتـه لمونځ، زکـات او نـور احکام وشمېرل، بيا يې وويل: آيـا د الله پـه کتـاب کـې د دې ټولو تفصيل مومې؟ د الله تعالی په کتـاب کـې دا پـه اجمـال ياد شوي دي او حديث يې تفسير کوي.

په بل روايت کې داسې راځي:

قِيْلَ لِمُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الشِّخِّيرِ: لَا تُحَدِّثُونَا إِلَّا بِالْقُرْآنِ. فَقَالَ لَهُ مُطَرِّفٌ: وَاللَّهِ مَا نُرِيدُ بِالْقُرْآنِ بَدَلًا وَلَكِنْ نُرِيدُ مَنْ هُوَ أَعْلَمُ بِالْقُرْآنِ مِنَّا ".[١]

مطرف بن عبد الله بن الشخير ته چا وويل: " مونږ تـه يـوازې له قرآن نه خبرې کوئ. مطرف ورتـه وويـل: پـه الله قسـم دی، چې د قـرآن پـه بـدل کـې بـل څـه نـه غـواړو؛ خـو هغـه څـوک غواړو، چې هغه له مونږ په قرآن ښه پوهېده ".

مطلب دا چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له مونږ پـه قـرآن ښه پوهېده، نو مونږ د هغه د حديثو لـه لارې پـه قـرآن ځـان پوهوو.

په بل روايت کې داسې راځي:

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: " سَيَأْتِيْ قَوْم يُجَادِلُوْنَكُمْ بِشُبُهَاتِ الْقُرْآنِ فَخُذُوْهُمْ بِالْأَحَادِيْثِ، فَإِنَّ أَصْحَابَ السُّنَنِ أَعْلَمُ بِكِتَابِ اللَّهِ ".[١]

---

١ - اخرجه ابن عبدالبر فی الجامع وابوخيثمة فی العلم والهروي فی ذم الکلام.

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه نه روايت دی، هغه وايي: "داسې خلک به راپيدا شي، چې له تاسو سره به د قرآن په شبهاتو جګړې او بحثونه کوي؛ تاسو يې په حديثو راونيسئ، ځکه چې د حديثو علماء د الله تعالی په کتاب تر ټولو ښه پوهېږي".

صحابه کرام رضي الله عنهم هم په دې ډېر ښه پوهېدل، چې د پيغمبر منل د الله تعالی منل او د قرآن منل دي .

په يو روايت کې داسې راځي :

عَنْ عَبْدِ اللهِ بنِ مَسْعُوْد أَنَّهُ قَالَ: " لَعَنَ اللهُ الْوَاشِمَاتِ، وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ ، وَالْمُتَنَمِّصات وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ الله " فَبَلَغَ ذَلكَ امْرَأَةً مِنْ بَنِي أَسَد فَقَالَتْ: يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ ! بَلَغَنِي عَنْكَ أَنَّكَ لَعَنْتَ كَيْتَ وَكَيْتَ، فَقَالَ: وَمَا لِي لَا أَلْعَنُ مَنْ لَعَنَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُوَ فِي كِتَابِ الله؟! فَقَالَتْ المرأَة: لَقَدْ قَرَأْتَ مَابَيْنَ لَوْحَي الْمَصْحَفِ فَمَا وَجَدته. فَقَالَ: لَئِنْ كُنْتِ قَرَأْتِيْه لَوْجَدتيه قَالَ اللهُ عزوجل: (وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا). ۲

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وويل : " الله دې په ستنو خالونو وهونکيو اودخالونو غوښتونکيو ښځو، له مخ نه د وېښتانو ويستونکيو ښځو، په غاښونو کې د ښکلا لپاره په توږلو فاصلې پيدا کوونکيو ښځو، د الله تعالی په

---

۱ - اخرجه احمد والدارمي وابن عبدالبر فی الجامع والاجري فی الشريعة واللالکائي في شرح اصول اعتقاد اهل السنة والهروي فی ذم الکلام وابن بطة فی الابانة وابن حزم فی الاحکام والبيهقي فی المدخل وذکره ابن القيم فی اعلام الموقعين.

۲ - رواه البخاري ومسلم والترمذي وابن ماجه واحمد والنسائي فی المجتبی.

پېداوښت کې بدلون راوړونکيو ښځو لعنت ولېږي؛ دا خبره د بني اسد د قبيلې يوې ښځې ته ورسېده؛ هغې ورته وويل: اى د عبدالرحمن پلاره! ماته دا خبره رارسېدلې ده، چې تا په داسې ښځو لعنت ويلى دى. هغه وويل: زه ولې په هغه چا لعنت ونه وايم، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پرې لعنت ويلى دى او د الله تعالى په كتاب كې دى؟! هغې ښځې وويل: ما د دواړو پوښونو ترمنځ ټول قرآن لوستى دى؛ خو دا خبره مې پكې نه ده موندلې. هغه ورته وويل: كه تا لوستى وي، نو هرومرو به دې پكې لېدلې وي، چې الله تعالى فرمايلي دي: " پيغمبر چې څه دركړي دي؛ هغه واخلئ او له څه يې چې منع كړي ياست؛ له هغو منع شئ ".

نو د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه مقصد دا ؤ، چې مونږ په قرآن كې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په طاعت مامور شوي او مكلف شوي يو، نو په حديثو كې چې كومه خبره او حكم راغى، دا داسې شو لكه په قرآن كې چې راغلى وي".

په بل روايت كې داسې راځي:

عَن ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: " سَلِّمُوا لِلسُّنَّةِ وَلَا تُعَارِضُوهَا ".[1]

ابن شهاب رحمه الله وايي: " احاديثو ته غاړه كېدئ او ټكر ورسره مه كوئ".

په بل روايت كې داسې راځي:

---

۱ - اخرجه الخطيب فى الفقيه والمتفقه.

قَالَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ: " لَا رَأْيَ لِأَحَدٍ مَعَ سُنَّةٍ سَنَّهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ".۱

عمر بن عبد العزيز رحمه الله وايي: " رسول الله صلى الله عليه وسلم چې كوم سنت تاكلي وي؛ هيچاته دا حق نشته، چې هغه په خپلې رايې رد كړي".

امام شافعي رحمه الله وايي :

" وَمَا سَنَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا لَيْسَ لِلَّهِ فِيهِ حُكْمٌ، فَبِحُكْمِ اللَّهِ سَنَهُ ".۲

"په كومې مسالې كې، چې د الله تعالى حكم نه وي او رسول الله صلى الله عليه وسلم پكې لار ټاكلې وي، نو هغه يې د الله تعالى په حكم ټاكلې ده".

د قرآن كريم تفسير په سنتو كې په ګڼو ډولونو راغلى دى، چې څو بېلګې يې په لاندې ډول څرګندوو:

د مراد څرګندونه (۱)

كله كله يو څوک د قرآن كريم د الفاظو په مراد كې خطا شي او لبس (ګډوډي) ورپاندې راشي، نو سنت د هغه مراد څرګندونه او د لبس ازاله كوي. لكه چې په يو روايت كې داسې راغلي :

۱ - نفس المرجع.
۲ - الرسالة للامام الشافعي.

عن عدي بن حاتم رضي الله عنه قال: لما نزلت: "حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ ". عمدت إلى عقال أسود و إلى عقال أبيض فجعلتهما تحت وسادتي فجعلت أنظر في الليل فلا يستبين لي ، فغدوت على رسول الله صلى الله عليه وسلم فذكرت له ذلك فقال: إنما ذلك سواد الليل وبياض النهار". [۱]

له عدی بن حاتم رضي الله عنه نه روایت دی، هغه وايي: کله چې دا آیة نازل شو: " تر هغې چې تاسو ته سپین تار له تور تار نه څرګند شي" نو ما د اوښ د ګونډې کولو تور او سپین پړي راواخیستل، خپل بالخت لاندې مې کېښودل او د شپې به مې کتل، هغه به نه ښکاره کېدل. نو په سهار کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغلم او د دې کار یادونه مې ورته وکړه؛ هغه وفرمایل : " له دې تارونو نه مراد د شپې تور والی او د ورځې سپینوالی دی".

دلته عدی بن حاتم رضي الله عنه د سپین او تور تار په مراد کې خطا شوی ؤ او رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته د قرآن مراد څرګند کړ، چې له تور تار نه مراد د شپې تیاره او له سپین نه مراد د سهار رڼا ده .

همدارنګه عائشه رضي الله عنها یو ځل د یو آیة په مراد کې خطا شوې وه او رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته د آیة مراد څرګند کړ. په حدیث کې داسې راځي :

عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، أَنَّ النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنْ حُوسِبَ عُذِّبَ" قَالَتْ عَائِشَةُ رضي الله عنها: فَقُلْتُ: أَوَلَيْسَ يَقُولُ

---

۱ - رواه البخاري ومسلم.

اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: (فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا)؟ قَالَ: " إِنَّمَا ذَلِكَ الْعَرْضُ وَلَكِنْ مَنْ نُوقِشَ الْحِسَاب يهلَك ". ۱

ابن ابي مليكه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "له چا سره چې حساب وشو؛ عذاب به ورکول شي". عائشې رضي الله عنها وويل: آيا الله تعالى نه فرمايي، چې " زرده چې اسان حساب به ورسره وشي " ؟. رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دا وړاندې وړاندې کول او وړيادول دي؛ چاته چې حساب کې دا وويل شو، چې ولې دې داسې کول؟ نو هغه هلاکيږي ".

(۲) د عام تخصيص

کله کله په قرآن کريم کې يو عام حکم راغلى وي او د هغه تخصيص په حديث شوى وي. لکه چې يو په روايت کې داسې راغي:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بن مَسْعُوْد رضي الله عنه، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ (الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيْمَانَهُمْ بظُلْمٍ) شق ذلك على المسلمين فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ! أَيُّنَا لَمْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ؟ قَالَ: " لَيْسَ ذَلكَ إِنَّمَا هُوَ الشِّرْكُ، أَلَمْ تَسْمَعُوا مَا قَالَ لُقْمَانُ لابْنِهِ وَهُوَ يعظه: (يَا بُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ).۲

---

۱ - رواه البخاري ومسلم.

۲ - رواه البخاري.

له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت دی، هغه وایي: کله چې دا آیة نازل شو: " هغه خلک چې ایمان یې راوړی او خپل ایمان یې له ظلم سره نه وي ګډ کړی" دا خبره په مسلمانانو ډېره سخته شوه او ویې ویل: ای د الله پیغمبره! زمونږ کوم یو به ظلم نه وي کړی؟ هغه وفرمایل: دا مراد نه دی، دلته له ظلم نه مراد شرک دی، آیا تاسو د لقمان هغه وینا نه ده اورېدلې، چې خپل زوی ته نصیحت کوي او ورته وایي: " ای زما زویکه! له الله سره شریک مه ګڼه؛ شرک بې شکه ډېر لوی ظلم دی".

دلته صحابه کرامو رضي الله عنهم ګومان کړی ؤ، چې له ظلم نه مراد عام ظلم دی، چې ټولې غټې او وړې ګناوې پکې راځي؛ خو رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې عام ظلم تخصیص په شرک وکړ.

(۳) د مطلق تقیید

کله کله په قرآن کریم کې یو حکم مطلق یاد شي او د هغه تقیید په حدیث شوی وي. د دې مثال داسې دی:

الله تعالی د میراث ونډې څرګندوي او بیا فرمایي:

(مِنۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصِىْ بِهَآ اَوْ دَيْنٍ).[۱]

"وروسته له وصیت نه، چې کوي یې یا وروسته له پوره".

[۱]- سورة النساء: ۱۱

د دې وصیت په درېمې تقیید په حدیث کې داسې راغلی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه وویل: زه د خپل ټول مال په خیرا تولو وصیت کوم. هغه ورته د ټول او یا د نیم هم اجازه ورنه کړه بلکه د درېمې برخې اجازه یې ورکړه او ورته ویې فرمایل:

" الثُّلْثُ وَالثُّلْثُ كَثِيرٌ إِنَّكَ أَنْ تَدَعَ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَدَعَهُمْ عَالَةً يَتَكَفَّفُونَ النَّاس ".[1]

"د درېمې برخې وصیت وکړه او درېمه هم ډېره ده؛ دا چې ته خپل وارثان غنیان پرېږدې؛ له دې ښه ده، چې بې وزلي یې پرېږدې او له خلکو سوالونه کوي...".

حافظ ابن حجر رحمه الله له دې حدیث لاندې وایي:

" فيه تقييد مطلق القرآن بالسنة ".[2]

"په دې کې د قرآن کریم د مطلق تقیید په حدیث وشو".

(۴) د مجمل تفصیل او تفسیر

کله کله د قرآن کریم د اجمال تفسیر په حدیث وشي. لکه چې الله تعالی فرمایي: (وَ اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ).[3]

" کره پوره لمونځونه وکړئ "

۱ رواه البخاري ومسلم ومالک وابوداود والترمذي والنسائي وابن ماجه واحمد.

۲ - فتح الباري: ۳۶۸/۳.

۳ - سورة البقره: ۴۳

د دې تفسیر په حدیثو کې راغلی، چې پنځه وخته، د جمعې، اخترونو، جنازې، استسقاء، خوف، کسوف او خسوف او ټول لمونځونه، د هغو رکعتونه او ټول احکام پکې په تفصیل راغلي دي او د احادیثو په کتابونو کې د لمونځونو په ځانګړیو کتابونو، بابونو او فصلونو کې یې کتلی شو.

همدارنګه فرمايي: (وَ اٰتُوا الزَّكٰوةَ).[1]

" زکات ورکړئ ". د دې تفصیل په احادیثو کې مومو، چې د نغدو، غلو دانو او څارویو نصابونه او د زکات ټول احکام او تفاصیل پکې بیان شوي دي.

همدارنګه الله تعالی فرمايي: (كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ).[2]

" په تاسو روژه فرض شوې " او فرمايي:

(ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ اِلَى الَّيْلِ).[3]

" بیا تر شپې پورې روژه پوره کړئ ".

او فرمايي:

(فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ).[4]

"څوک چې په تاسو کې د رمضان میاشت ته حاضر شو، نو روژه دې یې ونیسي".

نور د روژې ټول تفاصیل د حدیثو په کتابونو کې شته.

---

[1] - سورة البقره: ۴۳

[2] - سورة البقره: ۱۸۳

[3] - سورة البقره: ۱۸۷

[4] - سورة البقره: ۱۸۵

همدارنګه حج، بیوع، نکاح، طلاق، مساقات، جهاد، میراث او نور د اسلام ګڼ احکام په قرآن کریم کې په اجمال راغلي دي، تفسیر او تفصیل یې په حدیثو کې مومو.

(۵) د هغه منطوق بیان، چې مفهوم نه لري

کله کله د قرآن کریم یو حکم راغلی وي؛ خو دا معلومه نه وي، چې مخالف مفهوم لري او که نه؟ لکه چې الله تعالی فرمايي:

(وَ اِنْ كُنْتُمْ عَلٰى سَفَرٍ وَّ لَمْ تَجِدُوْا كَاتِبًا فَرِهٰنٌ مَّقْبُوْضَةٌ). [۱]

"که سفر کې وئ او لیکونکی مو ونه مونده، نو ترلاسه شوې ګاڼه (ګروي) ده".

دا د پور ورکولو د لیکلو لپاره د لیکونکي د نه موندلو په هکله راغلی دی. دلته (وَ اِنْ كُنْتُمْ عَلٰى سَفَرٍ) مفهوم المخالفة نه لري، چې ګڼې دا حکم یوازې مسافر لپاره دی او مقیم په پور کې څه شی ګرو (ګاڼه) نه شي ورکولی. د دې تفسیر په دې حدیث څرګندېږي:

عَنْ أَنس رضي الله عنه أَنْ رسول الله صلى الله عليه وسلم تُوُفِّي وَ دِرْعُهُ مَرْهُونَةٌ عِنْدَ يَهُودِيٍّ عَلَى ثَلاثِينَ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ، رَهَنَهَا قوتا لأهله.[۲]

---

[۱]- سورة البقره: ۲۸۳

۲ - رواه البخاري و مسلم.

له انس رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په داسې حال کې ومړ ،چې زغره یې له یو یهودي سره د دېرشو وسقو اوربشو په پور کې ګرو وه؛ دا یې د خپل کور د خلکو د خوړو لپاره ګرو کړې وه. دا رسول الله صلی الله علیه وسلم د اقامت په وخت کې ګرو کړې وه، نو څرګنده شوه، چې آیة کې د سفر قید مخالف مفهوم نه لري.

(۶) د الفاظو تفسیر

په حدیثو کې د قرآن کریم د ډېرو الفاظو تفسیر راغلی دی. لکه چې الله تعالی فرمایي:

(وَاَعِدُّوْا لَهُمْ مَّا اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ قُوَّةٍ). [1]

"څومره مو چې له وسه پوره وي؛ کافرانو ته د ځواک تیاری ونیسئ".

دلته د "قوت" تیاری راغلی دی او "قوت" ځواک ته ویل کېږي. د دې تیاري او قوت تفسیر په حدیث کې داسې راغلی دی:

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رضی الله عنه، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "(وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ) أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ، أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ، أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ". [2]

---

[1] - سورة الانفال: ۶۰

۲ رواه مسلم وابوداود والترمذي واحمد وابن حبان والبیهقي والحاکم وابن ماجه والطبراني فی الکبیر وسعید بن منصور والدارمي وابو عوانة وابویعلی والطیالسي.

عقبه بن عامر رضي الله عنه وايي : رسول الله صلى الله عليه وسلم په منبر باندې ؤ او ما ترې واورېدل، چې دا ایة یې ولوست: (څومره مو چې له وسه پوره وي ؛ کافرانو ته تیاری ونیسئ)؛ ویې فرمایل: "په دې وپوهېږئ، چې قوت د نښې ویشتل دي، په دې وپوهېږئ، چې قوت د نښې ویشتل دي، په دې وپوهېږئ، چې قوت د نښې ویشتل دي".

او الله تعالی فرمایي :

(وَ اَذَانٌ مِّنَ اللّٰهِ وَ رَسُوْلِهِ اِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْاَكْبَرِ). ۱

"د الله او د هغه د پېغمبر له پلوه د لوی حج په ورځ خلکو ته اعلان دی".

د دې "یوم الحج الاکبر" (د لوی حج ورځ) تفسیر او تاکنه په حدیث کې داسې راغلې ده :

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضى الله عنهما، قَالَ: وَقَفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ النَّحْرِ بَيْنَ الْجَمَرَاتِ فِي الْحَجَّةِ الَّتِي حَجَّ بِهَا، وَقَالَ: " هَذَا يَوْمُ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ ". ۲

عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی، هغه وایي: دالله پېغمبر صلی الله علیه وسلم د لوی اختر په ورځ په هغه حج کې، چې کړی یې ؤ، د جمرو په منځ کې ودرېد او ویې فرمایل : " دا د لوی حج ورځ ده".

په بل روایت کې داسې راځي :

۱- سورة التوبه: ۳

۲ - رواه البخاري والبيهقي والحاكم.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَفَ يَوْمَ النَّحْرِ بَيْنَ الْجَمَرَاتِ فِي الْحَجَّةِ الَّتِي حَجَّ، فَقَالَ: " أَيُّ يَوْمٍ هَذَا؟ " قَالُوا: يَوْمُ النَّحْرِ. قَالَ: "هَذَا يَوْمُ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ". ۱

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغه حج کې، چې کړی یې ؤ، د لوی اختر په ورځ د جمرو په منځ کې ودرېد او ویې فرمایل: "دا کومه ورځ ده؟" صحابه ؤ وویل: د لوی اختر. هغه وفرمایل: " دا د لوی حج ورځ ده ".

په بل روایت کې داسې راځي:

عَنْ علی رضی الله عنه قَالَ: سَأَلْتُ رسول الله صلى الله عليه وسلم عَنْ يَوْمِ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ، فَقَالَ: "يَوْمُ النَّحْرِ". ۲

له علي رضي الله عنه نه روايت دی، هغه وايي: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د لوی حج د ورځې په هکله وپوښتل؛ هغه وفرمایل: " د لوی اختر ورځ ده ".

نو په ایة کې د (یوم الحج الاکبر) تفسیر په حدیثو وشو، چې د لوی اختر ورځ ده.

په بل روایت کې د "کوثر" په تفسیر کې داسې راځي:

عَنْ أنَسَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "... أَتَدْرُونَ مَا الْكَوْثَرُ؟ فَقُلْنَا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ: فَإِنَّهُ نَهَرٌ وعَدَنِيهِ رَبِّي عَزَّوَجَلَّ عَلَيْهِ خَيْرٌ كَثِيرٌ...". ۳

---

۱ - رواه ابوداود والبيهقي والحاكم.

۲ - رواه الترمذي.

۳ - رواه مسلم وابوداود والترمذي والنسائي واحمد وابويعلى والبيهقي والحاكم.

له انس رضي الله عنه نه روايت دی، هغه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: "... آيا تاسو پوهېږئ، چې کوثر څه شی دی؟ مونږ وويل: الله او د هغه پيغمبر ښه پوهېږي. هغه وفرمايل: "کوثر يوه وياله ده، چې زما رب عزوجل يې له ما سره ژمنه کړې ده؛ په هغې کې ډېر خير دی...".

دريم: د صحابه ؤ تفسير

د صحابه کرامو رضي الله عنهم هغه زمانه، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم پکې ژوندی ؤ، د قرآن د نزول زمانه وه؛ د صحابه کرامو او د رسول الله صلی الله عليه وسلم ترمنځ کومه بله واسطه نه وه، بلکه پخپله يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له مبارکې ژبې اورېده، زده کاوه او عمل يې پرې کاوه.

د پياوړيو صحابه ؤ رضي الله عنهم د تفسير په هکله لنډه څېړنه او د هغوی د تفسير شپږ لوی لوی پوهنتونونه يا مدرسې به له دې لاندې سرليک لاندې وکړو.

د تفسیر پړاوونه

د قرآن کریم لومړی مفسر په مخلوق کې جبریل علیه السلام دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې وحې راوړه او د قرآن ښوونه یې ورته کوله.

بیا به رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه ؤ ته قرآن ورزده کاوه او تفسیر به یې ورته کاوه. صحابه کرام رضي الله عنهم د سالم فطرت، پیاوړي عقل، ځواکمنې حافظې، ویښ ذهن، فطري او طبیعي چاپېریال او په عربي ژبې د ښو پوهېدو له کبله په قرآن کریم ډېر ښه پوهېدل؛ خو کله به چې ونه پوهېدل، یا به ورته په پوهېدو کې کومه ستونزه پیدا شوه، نو له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه به یې پوښتنې کولې او هغه به ورته په اړین تفسیر کولو هغه ستونزه حلوله.

دا ډول ستونزې ډېرې لږې پېښېدې. وروسته چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له زمانې څخه وګړي څومره لرې کېدل؛ په همغه کچ د قرآن کریم تفسیر ته اړتیا هم زیاتېده.

په ټولیز ډول ټول صحابه رضي الله عنهم د قرآن په تفسیر له وروستنیو ښه پوهېدل؛ خو لکه په هر څه کې چې ټول انسانان توپیر لري؛ د صحابه ؤ فهم، درک او علم هم په توپیر سره ؤ او ټول په علم او فهم کې یو ډول نه وو. په

صحابه ؤ رضي الله عنهم کې چې د قرآن په تفسير کې تر نورو ښه پوهېدل او مشهور وو هغه دا دي :
څلور خلفاء : ابوبکر، عمر، عثمان او علي رضي الله عنهم.
په دوی سربېره عبد الله بن مسعود ، عبد الله بن عباس، ابی بن کعب، زيد بن ثابت، ابو موسی اشعري او عبد الله بن الزبير رضي الله عنهم د قرآن په تفسير کې ډېر مشهور وو.
په دوی سربېره له نورو صحابه کرامو نه هم تفسير نقل شوی دی لکه: انس بن مالک، ابوهريره، عبد الله بن عمر، جابر بن عبد الله، عبد الله بن عمرو بن العاص، عائشه او نور رضي الله عنهم اجمعين .
په دې ټولو کې له عبد الله بن عباس، عبد الله بن مسعود ، علي بن ابی طالب او ابی بن کعب رضي الله عنهم نه تر نورو زيات تفسير رانقل شوی دی .

شپږ لويې مدرسې

هسې خو صحابه کرامو هر يو د يوې مدرسې حيثيت لاره؛ خو ځينو يې د پوهنتون مرتبه درلوده. له رسول الله صلی الله عليه وسلم راوروسته د اسلامپوهنې او قرآنپوهنې شپږ لويې مدرسې او مرکزونه وو :

(۱) پـه مکـې مکرمـې کـې د عبـد الله بـن عبـاس رضـي الله عنهما مدرسه .
(۲) پـه مـدينې منـورې کـې د ابـی بـن کعـب رضـي الله عنـه مدرسه .
(۳) په عراق کې د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه مدرسه .
(۴) پـه شـام کـې د ابـودرداء انصـاري خزرجي رضـي الله عنـه مدرسه .
(۵) په يمن کې د معاذبن جبل او ابو موسی اشعري رضـي الله عنهما مدرسه .
(۶) په مصرکې دعبـدالله بـن عمـروبن العـاص رضـي الله عنـه مدرسه.

(۱) د مکې مکرمې مدرسه

په مکې مکرمې کـې د حبرالاُمـة او د قـرآن کـريم تـر ټولو لوی مفسر عبد الله بن عبـاس رضـي الله عنهمـا مدرسـه وه، چې تابعينو رحمهم الله بـه تـرې تفسـير او نـور علـوم زده کول. عبد الله بن عبـاس رضـي الله عنهمـا پـه تفسـير، عربـي لغت، عربي شعر او نورو شرعي علومو کې ښه برلاسی عـالم ؤ . د عبد الله بـن عبـاس رضـي الله عنهمـا مشـهور شـاګردان دادي:

سعيد بن جبير، مجاهد بن جبر، عطاء بن ابی رباح، طاووس بن كيسا ن اليماني الحِمْيَري، ابو الشعثاء رحمهم الله، د ابن عباس خپل غلام : عكرمه رحمه الله تعالی او داسې نور وو .

عبد الله بن عباس د رسول الله صلی الله عليه وسلم د تره زوی ؤ، نـو د نبـوت د كـورنۍ ذهـين، ويښ، پرهېزګـار او پياوړی عالم ؤ.

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د پياوړي ذهن، د قرآن په تفسير د پوهې او كره علم لـه كبلـه بـه عمر رضي الله عنـه هغه د كشرتوب او هلكتوب په وخت كې د شوری په مجلس كې له ځان سره كېناوه . په يو روايت كې داسې راځي :

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضی الله عنهما قَالَ: كَانَ عُمَرُ يُدْخِلُنِي مَعَ أَشْيَاخِ بَدْرٍ، فَكَأَنَّ بَعْضَهُمْ وَجَدَ فِیْ نَفْسِهِ فَقَالَ: لِمَ تُدْخِلُ هَذَا مَعَنَا، وَلَنَا أَبْنَاءٌ مِثْلُهُ؟. فَقَالَ عُمَرُ: إِنَّهُ مِنْ حيث عَلِمْتُمْ، قَالَ: فَدَعَاهُمْ ذَاتَ يَوْمٍ فأدخلني معهم فما رؤيت أنـه دَعَانِي يَوْمَئِذٍ إِلَّا لِيُرِيَهُمْ. قَالَ: مَا تَقُولُونَ فـی قـولِ الله تعالی: {إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ}؟. فَقَالَ بَعْضُهُمْ: أَمَرَنَا أَنْ نَحْمَدَ اللهَ وَنَسْتَغْفِرَهُ إِذَا نُصِرْنَا وَفُتِحَ عَلَيْنَا. وسكت بَعْضُهُمْ فَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا، فَقَالَ لِي: أَكَذَاكَ تَقُولُ ياابن عباس؟ قُلْتُ: لَا، قَالَ: فَمَا تَقُولُ؟ قُلْتُ: هُوَ أَجَلُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أعلمَهُ لَـهُ . قَالَ: إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ، وَذَلِكَ عَلَامَةُ أَجَلِكَ، فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا، فَقَالَ عُمَرُ: مَا أَعْلَمُ مِنْهَا إِلَّا مَا تَقُوْلُ". ١

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی، هغه وايي: عمر رضي الله عنـه بـه زه د بدرلـه مشرانو او بوډاګانو سره

---

١ - رواه البخاري والبيهقي فی دلائل النبوة والطبراني.

دننه (دشوری مجلس ته) بوتلم. ځینې کسان په دې خپه شول او ویې ویل: دا هلک ولې له مونږ سره رادننه کېږي؟ مونږ د ده غوندې زامن لرو. عمر رضي الله عنه ورته وویل: دا د هغې علمي مرتبې له کبله، چې تاسو پرې پوهېږئ. یوه ورځ یې زه راوبللم او له هغوی سره یې دننه کړم. زه په دې وپوهېدم؛ د دې لپاره یې راوبللم، چې هغوی ته زما په هکله څه وروښيي؛ عمر رضي الله عنه هغوی ته وویل: تاسو د الله تعالی د دې وینا په هکله څه وایئ، چې فرمايي: " کله چې د الله مرسته او فتحه راغله...؟" ځینو یې وویل: مونږ ته امر شوی دی، چې کله له مونږ سره مرسته وشي او فتحه راشي، نو د الله ستاینه وکړو او بخښنه ترې وغواړو. ځینې یې چپ پاتې شول او هیڅ یې ونه ویل. ما ته یې وویل: د عباس زویه! ته هم همداسې وایې؟ ما ورته وویل: نه. هغه وویل: نو څه وایې؟ ما ورته وویل: دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم اجل ته اشاره ده؛ پوهولی یې دی، چې کله د الله مرسته او فتحه راغله؛ دا ستا د اجل نښه ده، نو د خپل رب په ستاینې د هغه ثناء ووایه او بښنه ترې وغواړه، هغه بې شکه ډېر ښه توبه قبلوونکی دی. عمر رضي الله عنه وویل: زه هم یوازې همداسې پرې پوهېدلی یم، چې ته یې وایې.
په بل روایت کې داسې راځي:

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: ضَمَّنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ: " اللَّهُمَّ عَلِّمْهُ الْكِتَابَ ". ١

له عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی، هغه وايي: "ماته رسول الله صلی الله علیه وسلم په غېږ کې زور راکړ او ويې فرمايل: ای الله ! ده ته کتاب (قرآن) ورزده کړه".

پە بل روايت کې داسې راځي :

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي بَيْتِ مَيْمُونَةَ فَوَضَعْتُ لَهُ وَضُوءًا مِنَ اللَّيْلِ قَالَ: فَقَالَتْ مَيْمُونَةُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! وَضَعَ لَكَ هَذَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبَّاسٍ، فَقَالَ: " اللَّهُمَّ فَقِّهْهُ فِي الدِّينِ، وَعَلِّمْهُ التَّأْوِيلَ ". ٢

له عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د میمونې رضي الله عنها په کور کې ؤ او ما ورته د شپې له پلوه اوداسه لپاره اوبه کېښودې. میمونې رضي الله عنها ورته وويل : ای د الله پېغمبره! دا اوبه درته عبد الله بن عباس ايښې دي . هغه وفرمايل : ای الله! په دين يې پوه کړه او د قرآن تفسير ورزده کړه".

نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعاوې قبولې شوې وې او عبد الله بن عباس رضي الله عنهما يو لوی مفسر ؤ.

بل روايت داسې راځي :

١ - رواه البخاري واحمد والترمذي وابن ماجه وابن حبا ن والنسائي والطبراني والطبري فی تهذيب الاثار.

٢ - رواه احمد والبزار والطبراني والحاكم والطبري فی تهذيب الاثار والبيهقي فی دلائل النبوة وابن حبا ن واسحاق بن راهويه فی مسنده والبزار وابن ابی شيبة.

عَنْ أبى وائل قال: إستخلف عليٌّ عبد الله بن عباس على الموسم فخطب الناس فقرأ فى خطبته سورة البقرة وفى رواية سورة النور ففسرها تفسيرا لو سمعته الروم والترك والديلم لأسلموا". ۱

له ابو وائل نه روایت دی، هغه وايي: " علي رضي الله عنه عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د حج په ورځو کې امير وټاکه؛ هغه خلکو ته خطبه ورکړه او په خطبه کې يې د (بقرې) يا د (نور) سورت ولوست؛ داسې تفسير يې وکړ، چې که روميانو، ترکانو او ديلميانو اورېدلی وای، نو هرومرو به يې اسلام قبول کړی وُ".

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ته چې کوم تفسير منسوب دی او د " تنوير المقياس" په نامه يادېږي؛ هغه ناسم دی، هغه محمد بن مروان السدي له کلبي نه هغه له ابو صالح نه هغه له ابن عباس نه روايت کوي.

دا د دروغو سلسله او ناسم سند دی، دا تفسير فيروز آبادي راټول کړی دی او د باور وړ نه دی. خو له عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه چې کوم تفسير د حديثو په کتابونو کې په صحيح سند راغلی دی؛ هغه د باور او اعتبار وړ دی.

په يو روايت کې داسې راځي:

عَنْ ابن مسعود رضى الله عنه قَالَ: " نِعْمَ الترْجُمانُ لِلْقُرْآنِ ابْنُ عَبَّاسٍ". ۲

---

۱ - اخرجه الطبري باسناد صحيح. وابن كثير فى البداية والنهاية.

۲ - اخرجه ابن جرير الطبري.

لـه عبـد الله بـن مسـعود رضـي الله عنـه نـه روايـت دى، هغـه وايي: "عبد الله بن عباس د قرآن ډېر ښه ترجمان دى".

په تابعينو كې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما شـاګرد:

مجاهد بن جبررحمه الله د قرآن كريم لوى مفسر ؤ، له هغه نـه داسې روايت راغلى دى، چې وايي:

"عرضتُ المصحف على ابن عباس ثلاث عَرَضات من فاتحته إلى خاتمته، أوقفُه عند كل آية وأسألُه عنها". ۱

"ما په عبـد الله بـن عبـاس رضـي الله عنهمـا بانـدې درې ځل قـرآن كـريم وړانـدې كـړ، چـې لـه فـاتحې تـر اخـره مـې پـرې ولوست؛ له هر آية سره به مې ودراوه او ترې پوښتل به مې".

سفيان ثوري رحمه الله وايي:

"إذا جاءك التفسير عن مجاهد فحسبك به". ۲

"له مجاهد نه چې درته تفسير راغى، نو همدا درته بس دى".

(۲) د مدينې منورې مدرسه

په مدينې منورې كې د اُبى بـن كعـب رضـي الله عنـه مدرسه وه، چې ډېرو تابعينو رحمهـم الله پكـې شـرعي علـوم او د قرآن تفسير زده كاوه.

د ابى بن كعب رضي الله عنه ځينې مشهور شاګردان دا دي:

---

۱ - اخرجه الطبري وابن ابى حاتم والسيوطي فى الدر المنثور واحمد والطبراني.

۲ - اخرجه الطبري.

زيد بن اسلم العدوي، محمد بن كعب القرظي، ابوالعاليه رفيع بن مهران الرياحي رحمهم الله او داسې نور...

د زيد بن اسلم مشهور شاګردان د هغه خپل زوی عبد الرحمن، امام مالک، عبد الله بن وهب رحمهم الله او داسې نور وو. چې امام مالک پکې د مشهور فقهي مذهب امام دی او په "امام اهل المدينه" (د مدينې د خلکو امام) باندې مشهور دی، چې په مدني نبوي جومات کې يې د حديثو درسونه ورکول، په حديثو کې يې تر ټولو لومړنی کتاب ليکلی دی، چې په "موطا" باندې يادېږي او له بخاري مخکې ټولو علماؤ تر ټولو صحيح کتاب ګاڼه، د حديثو ډېر معتبر او پياوړی کتاب دی.

د مدني مدرسې او نبوي جومات د پوهنتون شاګردان هغه خلک دي، چې ټولې نړۍ ته يې د علم او ايمان وړانګې ورسېدې.

(۳) د عراق مدرسه

د عراق په کوفې کې د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه مدرسه وه، چې ډېرو تابعينو پکې شرعي علوم او د قرآن تفسير زده کړی دی.

د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ځينې مشهور شاګردان دا دي:

علقمة بن قيس، مسروق بن الاجدع، اسود بن يزيد النخعي، مرة بن شراحيل الهمداني، عامربن شراحيل الشعبي، حسن بصري، قتادة بن دعامة السدوسي، ضحاك بن مزاحم رحمهم الله او داسې نور، چې ځينې يې مباشر او ځينې بالواسطه شاګردان دي. او ځينې شاګردان يې د فقهي مذهب د مشهور امام: ابوحنيفه رحمه الله استاذان دي، چې د علم او فضل وړانګې يې په اسلامي نړۍ کې خپرې شوې دي.

د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قرآنپوهنه لـه دې روايت نه هم ښه څرګندېږي:

عن عبد الله بن مسعود رضى الله عنه أنه قال: "والذي لاإله غيره مانزلت آية من كتاب الله إلا وأنا أعلم فيمن نزلت و أين نزلت ولو أعلم مكان أحد أعلم بكتاب الله مني تنا له المطايا لأتيته". ۱

له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی، چې وايي: "په هغه ذات قسم کوم، چې له هغه پرته بل معبود نشته، چې د الله تعالی د کتاب هر آية نازل شوی دی؛ زه پرې پوهېږم، چې د چا په هکله راغلی دی او چېرته نازل شوی دی؟. که ما داسې څوک پېژندی، چې د الله په کتاب له ما ښه پوهېږي او سپرلۍ هلته رسېږي، نو زه به هرومرو ورغلی وای".

۱ - اخرجه ابن جرير الطبري.

صحابه کرامو ځانونه په قرآن پوهول او بیا یې پرې عمل هم کاوه.

په یو روایت کې داسې راځي:

عن ابن مسعود، قال: "كانَ الرجل مِنَّا إذا تعلَّم عَشْر آياتٍ لم يجاوزهُنّ حتى يعرف معانيهُنَّ، والعملَ بهنَّ". ۱

له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی، هغه وايي: "له مونږ نه به چې چا لس آياتونه زده کړل، نو تر هغه به ترې نه تېرېده، چې د هغو معناوې او په هغو عمل کول به يې زده کړل".

(۴) د شام مدرسه

شام هم په اسلامي تاريخ کې دعلم ځانګو اود علماؤ له مراکزوڅخه ګڼل کېږي. په شام کې دابودرداء انصاري خزرجي رضي الله عنه اونوروعلماؤ پياوړی پوهنتون ؤ. دوهم عادل خليفه: عمربن الخطاب رضی الله عنه عبدالرحمن بن غنم اشعري دشاميانو دپوهولواودقرآن اوسنت درښا دخپرولولپاره شام ته ولېږه. معاويه رضی الله عنه اودبنی اميه و اتم خليفه: عمربن عبدالعزيز بن مروان رحمهم الله دشام له پياوړيو استاذانو څخه وو.مجاهد رحمه الله د زاهد، عادل، فقيه اومجتهد امام: عمربن عبدالعزيز

۱ - اخرجه ابن جرير الطبري وابن كثير.

رحمه الله په هکله وايي: " أتيناه لنُعَلِّمَهُ، فَمَابَرِحْنَاحَتَّى تَعَلَّمْنَامِنْهُ "[۱].

" مونږ (عمربن عبدالعزيز) ته ددې لپاره شام ته ورغلو، چې علم ورزده کړو؛ خو تر هغه هلته پاتې شو، ترڅو چې موله هغه ډېرڅه زده کړل ".

دشام دمدرسې له استاذانو څخه تميم داري رضی الله عنه اونورډېرعلماء اوفقهاء مشهوردي لکه: رجاء بن حيوه کندي، کعب احبار اوداسې نور. دشام مدرسه دقرآن اوسنت دعلوموغښتلې مدرسه وه.

(۵) د يمن مدرسه

يمن هم دعلم اوادب ځانګو پاتې شوی دی. په يمن کې دمعاذبن جبل او ابوموسی اشعري رضی الله عنهماپوهنتون ؤ، چې اسلامي امت ته يې ډېر لوی لوی علماء وړاندې کړي دي. رسول الله صلی الله عليه وسلم خپله معاذبن جبل، ابوموسی اشعري اونورصحابه کرام رضی الله عنهم اسلام ته دبلنې اودعلم دخپرولو لپاره يمن ته لېږلي وو،چې دمعاذرضی الله عنه دلېږلوحديث مشهور دی او دحديثو، سيرت اوتاريخ ګڼو کتابونو رانقل کړی دی.

۱ - البداية والنهاية لابن كثير، تهذيب التهذيب، الاثارالواردة.

د یمن له مدرسې څخه طاووس بن کیسان اونورګڼ علماء مشهوردي . دا مدرسه هم د تفسیراوحدیثو دعلومویوه پیاوړې مدرسه وه .

(۶) د مصر مدرسه

دمصر سیمه په تاریخ کې دپام وړ شهرت لري.
دمصر په اسلامي تاریخ کې دعبداالله بن عمروبن العاص رضی الله عنه مشري، اداره اومدرسه دیادولو وړده، چې دحکومت دنظام اوشریعت دنفاذ په ترڅ کې یې دقرآن اوحدیثو دعلومودخپرولولپاره دقدر وړ خدمتونه کړي دي اوډېر علماء یې روزلي دي. ددې مدرسې له نومیالیو څخه یزیدبن ابي حبیب، ابوالخیرمرثدبن عبد الله الیزني رحمهم الله او داسې نوردي .

څلورم: په عربي لغت تفسیر

قرآن کریم په فصیحې، بلیغې او څرګندې عربي ژبې نازل شوی دی. الله تعالی فرمایي:
(اِنَّا اَنْزَلْنٰهُ قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا) [۱]
"مونږ بې شکه دا قرآن په عربي ژبه نازل کړی دی".

[۱] - سورة يوسف: ۲

(بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِيْنٍ). [۱]
"په څرګندې عربي ژبې".
د قرآن د نزول په وخت کې عربي ژبه نږه، څرګنده او پیاوړې وه، د هغه وخت کوچیان په عربي ژبې تر ټولو ښه پوهېدل، ځکه چې قرآن د همغوي په ژبه او په اوه (۷) لهجو نازل شوی دی.
د قرآن څلورم ډول تفسیر دا دی، چې د عربي ژبې د پخو بنسټونو او ضوابطو له مخې وشي. د صرف، نحوې، معانیو، بیان، بدیع، شعر، متلونو، د جاهلیت تاریخ او چاپیریال په پېژندلو او د سپېڅلي نبوي سیرت په پېژندلو د عربي ژبې ژورو ته ورښکته کېدل اسانېږي او د قرآن کریم تفسیر پرې پېژندل کېږي.
د قرآن کریم تفسیر د عربي ژبې د علمي ضوابطو سره پخې اړیکې لري، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د قرآن تفسیر په څلور ډوله بولي، لکه چې له هغه داسې روایت راغلی دی:
عن أبي الزناد، قال: قال ابن عباس: "التفسيرُ على أربعةِ أوجهٍ: وجهٌ تعرفه العربُ من كلامها، وتفسير لاَ يُعذرأحدٌ بجهالته، وتفسير يعلمه العلماء، وتفسير لاَ يعلمه إلا الله". [۲]
ابو الزناد وايي: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وويل:
" تفسیر په څلور ډوله دی:

---

[۱]- سورة الشعراء: ۱۹۵
۲ اخرجه ابن جرير الطبري.

(۱) يو هغه چې عرب يې له خپلو خبرو (لغت) پېژني .
(۲) بل هغه چې هيڅوک يې په نه پوهېدو معذور نه ګڼل کېږي .
(۳) بل هغه چې يوازې علماء پرې پوهېږي .
(۴) بل هغه چې يوازې يو الله تعالی پرې پوهېږي .

نو لومړی ډول تفسير هغه دی، چې عرب يې د خپلې ژبې د لغتونو په معناؤ د پوهېدو په مټ پېژني، ځکه چې قرآن د عربو په ژبه نازل شوی دی .

دويم ډول تفسير د قرآن په هغو احکامو پوهېدل دي، چې هر مسلمان او مسلمانې باندې يې پېژندل فرض او اړين دي، چې هغه د الله تعالی د يو والي، ايمان او د اسلام د اړينو مسائلو پېژندل دي .

درېيم ډول د قرآن د هغو احکامو او مسائلو تفسير دی، چې له علمي بنسټونو پورې اړه لري او يوازې علماء پرې پوهېږي.

څلورم ډول د قرآن کريم هغه برخه ده، چې متشابهات بلل کېږي او يوازې الله تعالی پرې پوهېږي. لکه د مقطعاتو تورو معناوې، د الله تعالی د صفاتو کيفيات او د قيامت، جنت، دوزخ او داسې نورو بشپړ معلومات .

مخکې مونږ دا خبره څېړلې ده، چې قرآن په عربي ژبې نازل شوی او عرب پرې ښه پوهېدل؛ "په امي پېغمبر نازل شوی کتاب" تر سرلیک لاندې د دې شننه او څېړنه ولولئ.
له تابعینو را وروسته محدثینو د حدیثو د راټولولو او تدوین په ترڅ کې د "کتاب التفسیر" تر عنوان لاندې په خپلو جوامعو کې د تفسیر احادیث هم راټول کړل، د نورو احکامو او مسائلو په ترڅ کې هم د ځینو آیاتونو تفسیر رانقل شوی دی اومحدثینومفسرین هم معلوم وو. لکه:
یزید بن هارون السلمي، شعبة بن الحجاج، وکیع بن الجراح، سفیان بن عیینه، روح بن عبادة البصري، عبد الرزاق بن همام، آدم بن ابي ایاس، عبد بن حمید، اسحاق بن راهویه، امام مالک، امام بخاري، ترمذي، ابن ماجه، ابوبکر بن المنذر نیسابوري، ابن ابي حاتم، ابن حبان، حاکم، ابوبکر بن مردویه او نور ګڼ محدثین مفسرین هم وو.

دوه ډوله تفسیر

دځانګړیو موضوعاتو په ځانګړیو تفسیرونو او جامعو علمي تفسیرونو سربېره تفسیر او مفسرین په دوه ډوله دي:
۱ – تفسیر بالماثور.
۲ – تفسیر بالرای.

تفسير بالماثور

تفسير بالماثور هغه تفسير ته ويل کېږي، چې د قرآن تفسير په قرآن د رسول الله صلی الله عليه وسلم په احاديثو او د صحابهٔ او تابعينو په آثارو شوی وي .
د رسول الله صلی الله عليه وسلم، صحابهٔ او تابعينو په وخت کې دقرآن کريم تفسير له سينو يو بل ته نقلېده، بيا د حديثو د تدوين په وخت کې محدثينو د حديثو په ترڅ کې د قرآن کريم د تفسير احاديث هم راټول کړل .
په لومړيو کې څه پاڼې او اجزاء ځينو راټول کړي وو.
وروسته د تدوين په پړاوونو کې ځانګړي تفسيرونه وليکل شول؛ خو ډېرو پکې د صحيح، ضعيف، موضوع او اسرائيلياتو ترمنځ توپير ونه کړ. نو په ماثور تفسير کې هغه د باور وړ دي، چې په صحيح سند رانقل شوي دي. لکه دامام بخاري، ابن جرير، بغوي،ابن عطيه، ابن کثير، قاسمي، شنقيطي .... رحمهم الله تفسيرونه .
تفسير بالماثورکې ځينو محدثينو دنوروحديثو په ترڅ کې د"کتاب التفسير " په نامه د تفسيراحاديث راټول کړي دی.
لکه : دصحيح بخاري (کتاب التفسير) اوځينو ځانګړي تفسيرونه هم ليکلي دي .

د تفسیر بالماثور په لومړنیو کې دالاندې مفسرین اوتفسیرونه مشهور دي:

۱ـ دسفیان ثوري رحمه الله تفسیر.
۲ـ دسفیان بن عیینه رحمه الله تفسیر.
۳ـ د وکیع بن الجراح رحمه الله تفسیر.
۴ـ د شعبة بن الحجاج رحمه الله تفسیر.
۵ـ د یزید بن هارون رحمه الله تفسیر.
۶ـ د عبدالرزاق صنعاني رحمه الله تفسیر.
۷ـ د آدم بن ابي ایاس رحمه الله تفسیر.
۸ـ د اسحاق بن راهویه رحمه الله تفسیر.
۹ـ د روح بن عباده رحمه الله تفسیر.
۱۰ـ د عبد بن حمید رحمه الله تفسیر.
۱۱ـ د ابوبکربن ابي شیبه رحمه الله تفسیر.

له دوی وروسته بیا دالاندې مفسرین دتفسیر بالماثور نومیالي امامان دي:

۱ـ امام احمدبن حنبل رحمه الله.
۲ـ امام بخاري رحمه الله.
۳ـ بقی بن مخلد رحمه الله.
۴ـ ابن ماجه رحمه الله.
۵ـ محمدبن جریر رحمه الله.
۶ـ ابن ابي حاتم رحمه الله.

۷ـ حاکم رحمه الله.
۸ـ ابن مردویه رحمه الله.
۹ـ ابوالشیخ ابن حبان رحمه الله.

په تفسیر بالماثورکې ځینې ځانګړي تفسیرونه دادي :
۱ـ جامع البیان في تفسیرالقرآن ـ د ابن جریرطبري رحمه الله .
۲ـ بحرالعلوم ـ دابولیث سمرقندي رحمه الله .
۳ـ الکشف والبیان من تفسیرالقرآن ـ دابواسحاق ثعلبي رحمه الله .
۴ـ معالم التنزیل ـ دابومحمد حسین بغوي رحمه الله .
۵ـ المحررالوجیزفي تفسیرالکتاب العزیز ـ دابن عطیه اندلسي رحمه الله .
۶ـ تفسیرالقرآن العظیم ـ د حافظ ابوالفداء عمادالدین اسماعیل بن عمربن کثیر دمشقي قرشي رحمه الله .
۷ـ الجواهرالحسان في تفسیرالقرآن ـ د عبدالرحمن ثعالبي رحمه الله .
۸ـ الدرالمنثورفي التفسیرالماثور ـ د جلال الدین سیوطي رحمه الله .
۹ـ زادالمسیر ـ د ابن الجوزي رحمه الله .
۱۰ـ فتح القدیر ـ دشوکاني رحمه الله .

۱۱ـ محاسن التاويل ـ د قاسمي رحمه الله.
۱۲ـ اضواء البيان ـ د شنقيطي رحمه الله.
۱۳ـ فتح البيان ـ د صديق حسن خان قنوجي هندي رحمه الله.

په دې کې نسبتا ترټولوښه اوله خرافاتو او بدعي تفسير نه پاک تفسيرونه، دابن جرير، ابن عطيه، بغوي، ابن كثير، قاسمي، شنقيطي اوصديق حسن خان تفسيرونه دي.

تفسير بالراى

تفسير بالراى هغه تفسير ته ويل کېږي، چې په اجتهاد او قياس شوى وي. د دې دا مطلب نه دى، چې يوائې په خپلې شخصي رايې وي او نور د علمي بنستونو هيڅ دخل پکې نه وي. بلکه تفسير بالراى د روايت له تفسير نه دومره توپير لري، چې د عربي لغت او دلالت، د نزول اسباب، ناسخ او منسوخ او داسې نورو فنونو ته پکې زياته پاملرنه شوې وي.

تفسير بالراى دوه ډوله دى:

يو هغه چې د عربي ژبې له قواعدو سره سمون خوري او له صحيح تفسير بالماثور نه خلاف نه وي. دا ډول تفسير روا دى؛ خو د بالماثور په څنګ او تاييد کې.

دویم هغه دی، چې دشخصي او بدعي مذهبي غوښتنو په بنسټ وي، له شرعي دلا ئلو او تفسیر بالماثور سره سمون نه خوري، بلکه ترې خلاف وي او د عربي ژبې له بنسټونو سره اړخ نه لګوي. دا ډول تفسیر ناروا او بېخي ناسم دی.

له لومړي روا ډول تفسیربالراي ځینې تفاسیر دالاندې دي خوددې معنی دانه ده، چې ګنې په دې کې هرڅه سم دي اوناسم پکې نشته. بلکه په تولیز ډول ښه دي او وچ لانده دواړه پکې شته.

۱ ـ مفاتیح الغیب ـ د فخر رازي رحمه الله.
۲ ـ انوارالتنزیل واسرار التاویل ـ د بیضاوي رحمه الله.
۳ ـ مدارک التنزیل و حقائق التاویل ـ د نسفي رحمه الله.
۴ ـ لباب التاویل في معاني التنزیل ـ د خازن رحمه الله.
۵ ـ غرائب القرآن ورغائب الفرقا ن ـ دنیسابوري رحمه الله.
۶ ـ البحرالمحیط ـ د ابوحیا ن رحمه الله.
۷ ـ تفسیرالجلالین ـ د جلال الدین محلي او جلال الدین سیوطي رحمهما الله.
۸ ـ السراج المنیرفي الاعانة علی معرفة بعض معاني کلام ربنا الحکیم الخبیر ـ د خطیب شربیني رحمه الله.
۹ ـــ ارشادالعقل السلیم الی مزایاالکتاب الکریم د ابوالسعود رحمه الله.

۱۰ ـ روح المعاني في تفسيرالقرآن العظيم والسبع المثاني ـ د آلوسي رحمه الله.

تفسيرونه اومفسرين ډېرزيات دي، چې د ټولو راوړل اوپرې بحث کول ډېرې اوږدې څېړنې ته اړتيا لري . مونږ دساري اوبېلګو په توګه ډېرنوميالي پکې ياد کړل اوکه وخت مو ومونده، نو ان شاء الله په دې هکله به ځانګړې ليکنه وکړو.

له خيرالقرون نه را وروسته اوبيا په وروستنيو پېړيو کې فقهي اختلافونه اومذهبونه رامنځ ته شول، مذهبي تعصب زيات شو، دلغت، صرف اونحوې تدوين وشو، کلامي څېړنې اوشخړې رامنځ ته شوې، دفلسفې کتابونه راوژباړل شول، په مختلفوعلومو اوفنونوکې علمي مصطلحات رواج شول، يبا تصوف راپيداشو، اعتقادي اوبدعي فرقې پيداشوې اوهرچا هڅه کوله، چې دخپل فن، اند ، ګروهې، تمايلا تو اورجحاناتو ترسيوري لاندې تفسير اونور کتابونه وليکي . دچاپه تفسيرکې دلغوي تحقيق رنګ زيات دی، چافلسفي تفسير وليکه، چادتصوف لورته توتمې ووهل،چاعقلاني لورته ترجيح ورکړه، ځينوبدعي فرقوته منسوبوعلماؤ بدعي تفسيرونه وليکل...

خوله دې ټولوسره سره يې څه ناڅه چا ن هم شوی اولا روان دی.که کره تفسيرونه ولولو، نونه دناکره ؤ چا ن ته اړتيا شته

اونه يې مطالعې ته . بلکه د اسلامي امت اړتياوې په پاکو اوکره تفسيرونوکې بشپړېږي، چې مخکې يې مونږ دځينو يادونه وکړه.

نورو ژبو ته د قرآن ژباړه

يوې ژبې نه بلې ته ژباړه دوه ډوله ده :
(۱) حرفي (ټکي په ټکي) ژباړه.
(۲) معنوي (روانه) ژباړه.

دا خبره مو په مخکې بحثونو کې وځېړله، چې قرآن په عربي ژبه نازل شوی دی او د قرآن ژبه هغه فصاحت، بلاغت او اعجاز لري، چې د عربي ژبې ټول پوهان يې په مقابل کې بې وسه دي.

نو کله چې په عربي ژبې کې د قرآن په نظم، ترتيب او معنی د عربو پوهان د داسې کلام له راوړلو څخه بې وسه دي، نو په نورو ژبو کې خو بېخي ناشوني دي . ټکي په ټکي ژباړه که د قرآن کريم وي او که د بل کتاب او کلام وي، د خبرې اصلي ښېره، ښکلا او معنی ړنګوي، نو ځکه په کار نه ده. يوازې د دې لپاره، چې مسلمانان د قرآن په الفاظو او کلماتو وپوهېږي؛ د الفاظو له نقل سره يو ځای دا هڅه کېدی شي . خو د مطلب او موخې د څرګندولو، لارښوونې او احکامو د زده کولو لپاره بايد روانه ژباړه وشي . په

خطبو، موعظو، تبلیغ، کتابونو او رسنیو کې تکي په تکي ژباړه بېخي ناسمه ده او باید ونه شي. په دې ټولو کې باید د نص له راوړولو وروسته روانه ژباړه وشي او د قرآن کريم مطلب د بلې ژبې په قالب کې د هغې له علمي بنسټونو سره سم ورواچول شي. ترڅو لوستونکي او اورېدونکي د قرآن کريم له هدايت او احکامو نه خبر شي، ګټه ترې واخلي او عملي يې کړي.

خو دا به د الله تعالی د کلام د څرګندولو يوه هڅه او مسئوليت ګڼي. له همدې کبله هغه خوند او اغېز، چې د قرآن کريم په الفاظو او ترکيب کې دی؛ نه د عربي ژبې په نورو عبارتونو کې شته او نه د بلې ژبې په ژباړه او اصل کې.

د قرآن کريم ژباړه او تفسير بايد يوازې هغه څوک وکړي، چې د عربي ژبې علمي بسټونه ورمعلوم وي. لکه: صرف، نحو، لغت، شعر، معاني او داسې نور. په دې سربېره بايد د اسلامي شريعت دليلونه، علمي بنسټونه، د رسول الله صلی الله عليه وسلم احاديث او سيرت، د صحابه ؤ اقوال، د جاهليت او اسلام تاريخ او نور اړين اړخونه، بنسټونه او ضوابط وپېژني.

همدارنګه کومې ژبې ته چې ژباړه او تفسير کوي؛؛ د هغې ژبې علمي بنسټونه او اړين اړخونه پېژندل هم همدومره اړين دي لکه د عربي.
همدارنګه دقرآن کريم په ژباړې کې به خپلونفسي غوښتنو او ميلان ته ځای نه ورکوي. او عقيده به يې هم د قرآن له غوښتنو خلاف نه وي.

له ځانه تفسير

د قرآن کريم په تفسير کې بې دليله او بې علمه څه ويل ډېره لويه ګناه ده، چې د کفر تر بريده رسېږي. په يو روايت کې داسې راغلي:
عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قَالَ فِي الْقُرْآنِ بِغَيْرِ عِلْمٍ، فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ".[۱]
له عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی، هغه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "چا چې په قرآن کې بې له علمه څه وويل، نو په اور کې دې ځان لپاره ځای تيار کړي". په بل روايت کې داسې راغلي:
عَنْ جُنْدُب قَالَ: قَالَ رسول الله صلى الله عليه وسلم: "من قال في القرآن برأيه فأصاب، فقد أخطأ".[۲]

۱ - اخرجه الطبري وابو يعلى والثوري فى تفسيره واحمد.
۲ - اخرجه الطبري وابوداود والترمذي.

له جندب رضي الله عنه نه روايت دی، هغه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: "چا چې په قرآن کې له ځانه څه وويل او سم وختل؛ هم خطا شوی دی".
دا ځکه؛ دا خو د ړانده ګوزار ؤ، چې سم وخاته. په قرآن کې له ځانه او بې دليله خبره کول ډېره لويه ګناه او په الله تعالی دروغ تړل دي.
په بل روايت کې داسې راځي:
عَنْ أَبي بَكْرٍ رضي الله عنه قال: "أَيُّ أَرْضٍ تُقِلُّنِي، وَأَيُّ سَمَاءٍ تُظِلُّنِي، إِذَا قُلْتُ فِيْ كِتَابِ اللهِ مَا لم أَعْلَمْ؟ ".[1]
له ابوبکر رضي الله عنه نه روايت دی، هغه وايي: "که زه د الله د کتاب په هکله هغه څه ووايم، چې پرې نه پوهېږم، نو کومه ځمکه به مې بار کړي او کوم اسمان به رابانديې سيوری وکړي؟".
په بل روايت کې داسې راځي:
عَنْ ابن أبي مُليكة: "أنّ ابن عباس سُئل عن آية لو سئل عنها بعضكم لقال فيها، فأبى أن يقول فيها".[2]
ابن ابي مليکه وايي: له عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه د يو آية په هکله وپوښتل شول، که په تاسو کې له چا د هغه په هکله پوښتل شوي وای، نو هغه به يکې خامخا څه ويلي وای؛ خو عبد الله بن عباس رضي الله عنهما له دې نه انکار وکړ، چې د هغه په هکله څه ووايي".

---

۱ - اخرجه الطبري وابو عبيد وابن ابي شيبة وعبد بن حميد وابن عبد البر فی الجامع.
۲ - اخرجه ابن جرير الطبري.

پـه بل روايت کې داسې راځي :

عَنْ عُبيد الله بن عمرو قال: "لقد أدركت فقهاء المدينة، وإنهم ليعظمون القول في التفسير؛ منهم: سالم بن عبد الله، والقاسم بن محمد، وسعيد بن المسيَّب، ونافع". ۱

له عبيد الله بن عمرو نه روايت دی، هغه وايي : " ما د مدينې منورې فقهاء ليدلي وو، چې هغوی به د قرآن په تفسير کې څه ويل ډېر لوی ګڼل؛ په هغوی کې سالم بن عبد الله، قاسم بن محمد ، سعيد بن مسيب او نافع هم وو".

کله چې د مذهبونو تعصب،بدعي فرقې،کلامي شخړې،ګڼ مشربونه، تمايلات، رجحانات او نفسي غوښتنې زياتې شوې او پرهېزګاري لږه شوه، نو ډېرو وګړو د قرآن کريم په تفسير کې له ځانه خبرې او بې دليله تفسيرونه وکړل .

ځينو مفسرينو داسې خبرې راخيستې دي، چې نه صحيح سند لري، نه ورپورې د دين څه مساله او حکم تړلی دی او نه کومه ګټه لري . لکه د اصحاب کهفو نومونه، د هغوی د سپي نوم او رنګ، دا چې د موسی عليه السلام امسا د کومې ونې وه؟ د هغو مرغانو نومونه، چې الله تعالی ابراهيم عليه السلام ته راژوندي کړي وو، هغه ونه چې موسی عليه السلام ترې الله تعالی سره خبرې کړې وې کومه وه؟، اسرائيلي کيسې، د ابجدو په حساب له قرآن کريم نه د ځينو معلوماتو استنباط او داسې نورې له ځانه او بې دليله

---

۱ - اخرجه ابن جرير الطبري.

خبرې، چې د قرآن له روح سره هیڅ اړیکې نه لري او نه د دین کومه مساله یا کوم حکم ورپورې تړلی دی. نو ځکه له داسې خبرو ځان ژغورل اړین دي.

دا وه زمونږ د تفسیر: "تفسیر الاسیر" سریزه، چې دسیپېڅلي قرآن له خوږو سره دروږ دي کولو اوځه ناځه څکلولپاره موولیکله. له دې وروسته د قرآن کریم په تفسیر پیل کوو، الله سبحانه وتعالی مو دې د قرآن کریم له دې چوپړه په بریالیتوب فارغ کړي او مونږ ټولو ته دې په قرآن پوهه او عمل کول راپه برخه کړي.

سبحانك اللهم وبحمدك أشهد أن لاإله إلا أنت أستغفرك وأتوب إليك . ۷ /۱/۱۴۳۱ سپوږمیز هجري.

مراجع

١) قرآن كريم.
٢) تفسير الطبري.
٣) تفسير ابن كثير.
٤) تفسير قرطبي.
٥) تفسير الإتقان- د سيوطي.
٦) تفسير الدر المنثور- د سيوطي.
٧) تفسير روح المعاني.
٨) تفسير سفيان الثوري.
٩) صحيح البخاري.
١٠) صحيح مسلم.
١١) سنن أبي داود.
١٢) سنن الترمذي.
١٣) سنن النسائي.
١٤) سنن ابن ماجه.
١٥) موطأ د إمام مالك.
١٦) سنن الدارمي.
١٧) مسند أحمد.
١٨) صحيح إبن خزيمه.
١٩) صحيح إبن حبان.
٢٠) سنن الدار قطني.
٢١) مسند الشافعي.
٢٢) الرسالة- د شافعي.
٢٣) المستدرك – د حاكم.
٢٤) السنن الكبرى – د بيهقي.
٢٥) شعب الإيمان – د بيهقي.
٢٦) المعرفة – د بيهقي.
٢٧) المدخل – د بيهقي.
٢٨) الإعتقا د– د بيهقي.
٢٩) الأسماء والصفات – د بيهقي.
٣٠) دلائل النبوة – د بيهقي.
٣١) مشكل الآثار – د طحاوي.
٣٢) شرح معاني الآثار – د طبراني.
٣٣) المعجم الكبير – د طبراني.
٣٤) المعجم الأوسط – د طبراني.
٣٥) المعجم الصغير – د طبراني.
٣٦) مسند الشاميين – د طبراني.
٣٧) السنن الصغرى – د بيهقي.
٣٨) مصنف إبن أبي شيبة.
٣٩) مصنف عبد الرزاق.
٤٠) كتاب إبن عساكر.

٤١) مسند إسحاق بن راهويه.
٤٢) مسند البزار.
٤٣) مسند أبي يعلى.
٤٤) مسند سعيد بن منصور.
٤٥) مسند أبي عوانه.
٤٦) مسند عبد بن حميد.
٤٧) مسند أبي عبيد.
٤٨) فضائل القرآن – د أبوعبيد.
٤٩) فضائل القرآن – د قاسم بن سلام.
٥٠) السيرة النبوية– د ابن هشام.
٥١) البداية والنهاية – د ابن كثير.
٥٢) التفسيروالمفسرون– د محمد حسين ذهبي.
٥٣) تهذيب الآثار – د طبري.
٥٤) تاريخ أصفهان – د أبونعيم.
٥٥) شرح أصول إعتقاد أهل السنة – د لالكائي.
٥٦) الشريعة – د آجري.
٥٧) كتاب الزهد – د عبد الله بن مبارك.
٥٨) السنة – د ابن شاهين.
٥٩) السنة – د مروزي.
٦٠) الإبانة – د ابن بطه.
٦١) جامع بيان العلم – د ابن عبد البر.
٦٢) مسائل الإمام أحمد.
٦٣) العلم – د أبوخيثمه.
٦٤) الفقيه والمتفقه – د خطيب بغدادي.
٦٥) الكفاية – د خطيب بغدادي.
٦٦) سيرأعلام النبلاء – د ذهبي.
٦٧) الطبقات – د ابن سعد.
٦٨) الأنساب – د سمعاني.
٦٩) شذرات الذهب.
٧٠) ذم الكلام – د هروي.
٧١) الإحكام – د ابن حزم.
٧٢) فتح الباري – د ابن حجر عسقلاني.
٧٣) إعلام الموقعين – د ابن القيم.
٧٤) قالوا عن القرآن.
٧٥) د اسلام پوهنيز بنسټونه – د مسلم دوست.

لړليک

د قران څواره

قـران علـم دی رڼـا ده هـدایت دی   ښه سمون ددې دنیا اواخرت دی

د قران خواږه، خواږه له ګبیني دي   هرایة کې حکمتونـه بصـیرت دی

د قرآن خواږه

عبدالرحیم مسلم دوست

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم :	د قرآن خواږه .
لیکوال :	عبد الرحیم مسلم دوست .
د چاپ وار :	دویم .
د چاپ کال :	۱۳۹۵ لمریز هجري .
د چاپ شمېر :	۱۰۰۰ ټوکه .
خپروونکی :	سپین غر خپرندویه ټولنه .

سپېڅلی قرآن

قرآن لـه علمونـو او حکمتونـو ډک ځـخـه ډک دی، کـه څـوک یـې ټول عمر په ژور فکر او تـدبر تـلاوت او مطالعـه وکړي؛ هـر ځل به پکې نوي علمونه او نوي حکمتونه ومومي او هـر ځل به ورته د اند، فهم، ادراک او پوهې نوې دروازې بېرته شي.
قـرآن دلیـل او حجـت دی، فراسـت او بصـیرت دی، دیـن او شریعت دی، هـدایت او معرفـت دی، حقیقـت او درایـت دی.
قرآن کریم د عرب او عجم، تور او سپین، نارینـه او ښـځینه، ختیـز او لوېـدیز، شـمال او جنـوب ټـولې نـړۍ لپـاره دی، د کومې ځانګړې ژبې، قوم، قبیلې، خېل، رنګ او نسـل لپـاره نه دی راغلی، د کوم ځانګړي وخت او زمانې لپاره نـه دی، د کوم خاص وطن، طرف او سیمې لپاره نه دی. د هر وخت، هـر ځای او هر چا لپاره راغلی دی.
قـرآن کـریم نړیـوال کتـاب دی، د نـړۍ نېکمرغـي د دې پـه منلو، په دې عمل کولو او د دې په بشپړ نفـاذ او پلي کولـو کې نغښتې ده. او ټوله بدمرغي له دې سپېڅلي کتاب نـه پـه سر غړونه کې ده.
د نړۍ د ټولو ستونزو حل په همدې سـپېڅلي قـرآن کـې دی. او دا ځکه، چې دا د کائنـاتو او موجوداتـو د خـالق، مـالک، مدبر، قیوم او لارښوونکي الله تعالی کتاب دی.

د کتاب له منځه

دا کتاب

دا کتاب (دقرآن خواږه) د قرآن کریم د تفسیر د سریزې په توګه لیکل شوی دی، چې د سپیڅلي قرآن د خوږې ژبې، خواږه نظم، خوږو احکامو او خوږو مسائلو د څکلو په لور دیوې کړکۍ د پرانستلو هڅه کوي.

د قرآن د ټولو خوږو رابرسېره کول د انسان له وسه دباندې دي. خو که یو څوک وغواړي، چې د قرآن څه ناڅه خواږه ورمعلوم شي، نو دا کېدی شي؛ خو له خپلو لارو او خپلو بنسټونو سره سم. چې دا کتاب هغه لارې او بنسټونه راپه ګوته کوي.

د کتاب محتوی په لړلیک کې څرګند یږي؛ خو لکه د هر کتاب په څېر، قضاوت یوائې هغه څوک کولی شي، چې په پوره پاملرنې یې بشپړه مطالعه وکړي.

هیله لرم چې ښاغلیو لوستونکیو ته مې یوه ارزښتناکه او په زړه پورې ډالۍ وړاندې کړې وي.

مسلم دوست

د قرآن رڼا

نړۍ په جهالت او په تیارو کې اوسېده
د ظلم تورتمونو باندې ځمکه تورېده
په منځ د ناهیلۍ کې یوه هیله راپیدا شوه
له عرشه رڼا راغله په حِرا وځلېده
ځلا وه د قرآن چې په شغلو وه راروانه
هر چا ته له مشرقه تر مغربه ښکارېده
په لاس د جبرائیل کې مشالونه آیاتونه
نازل په محمد شو نړۍ ټوله رڼېده
توپیر له منځه لاړ د انسان عزت په ځای شو
سینې کې د بلال د خوښۍ سا وچلېده
له سر او مال نه تېرؤ پوهېده یې په حکمونو
رګونو د خُبیب کې ولوله وه تودېده
مسلم سره دوستي مې له قرآنه ده زده کړې
قرآن که چېرته نه وای دا دنیا به نړېده